ناول: خوږ عذاب

ليکوال:

ژباړونکي: خواجه_زي خپروندیه اداره.

نشرکونکې چينل: https://t.me/pashtoonovels0

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

"بِسمِ أَلَّلهِ أَلرحمَنٰ أَلرحِيم"

@shuhab09

ځمکي سپيني جامې پر تن کړې وه شاوخوا چوپتيا ښوره وه، د کړکی تر څنګ ولاړه وم او د واوري د سپينو ملغلرو د دانه، دانه غورځيدو  ننداره مې کوله، څومره په زړه پوري منظره وه د سپين وريځو د تل څخه سپينه واروه وريده؟  د هغه صحنو په ليدلو کی ورکه وم. د ځمکی دا چوپتيا می خوښيده،لکه ځمکه چې په دې دومره چوپتيا سربيره بيا هم ډيری خبري درلود د ويلو لپاره او زه په کامل هوش او حواس کې غوږ وم د ځمکی نا ويل شوي خبرو ته. د ځمکي څومره د زړه خبري زما د حال په شان وه؟

ناڅاپه می سترګو ته د چاي پياله ونيول شوه.
- ولی دومره خاموش يې؟ طبعيت خو دې ښه دې حرم؟
ژوره ساه می واخيسته، او په خفګان سره می وويل: نه پوهيږم کله ناکله د داسي منظرې په ليدو سره می زړه خفه کيږي.
- د څه په اړه خبری کوي؟  ماته هم ووايه.

— پوهيږې ما خو پخوا له دې ژوند ته ماته خوړلې وه، زما ژوند بلکل د دې موسم په څير ده. وګوره زړه می د دې اسمان په څير وريځ ده، سترګی می د ملغلرو په څير اوښکی تويوې، زړه می د اور د لمبو په شأن سوځيږي، وجود مې لکه د دې بې ثمره او بې روح ونې په څير بی ځانه ده، لکه زما روح يی چی له ما اخيستی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- غوارې ما خپل د دردونو هم راز وګرځوي؟
شیبه غلی وم او بیا می وویل: آیا ستا په نظر امکان لرې ته دې زما هم راز نه شې؟
عایشې نن شپه راسره پاتې شه ترڅو هر څه درته ووایم .
عایشه- امممم که ته غوارې نو زر شپی به درسره پاتی شم، پوهیږی ته راته له خور هم نږدې یې.
– نو صبر وکړه چی بخارۍ کی لرګۍ واچوم.

" د نن څخه څوارلس کاله مخکې"

د ژمی د زړه په یخ موسم کی په تنور کی اور لګیده.مور می ( فاطمه) چی د خسو پنډوکی یی پر سر ایښی وه د تنور په سر یی کیښوده او خس یی تری په تنور کی واچول. زه می له ورور عثمان سره چی لا یی شپږ کاله عمر درلوده له واورو سره مو لوبي کول،هغه وخت زما عمر اته کاله وه .که څه هم ښوونځي ته د تلو ډیره لیواله وم خو وخت راته مناسب نه وه، نو ځکه مې له پلار څخه به مې زده کړه کول. پلار می چی ټول کلي کی به ورته د نواب کاکا په نوم غږ کیده د پولې پخولو یوه کوچني کراچی درلوده که څه هم چندان ښه روزګار مو نه درلوده خو بیا هم خوشحاله کورنی می درلوده!!

هغه شپه مورې ټول د تل پشان د تېلو د بخارۍ تر څنګ چی څاڅکي، څاڅکي تېل یې په اور غورځیده ناست وو، مور مې د لاسي شیانو په اوبدلو کې ډیره ورټیا درلوده د کال په اوږدو کی به یی مورې ته جاکټونه اوبدل .اه چی څه په زړه پورې رنګونه به یی پکی کارول. هغه  کال می د ژوند تر ټولو بد کال وه عثمان مو د سختي تنفسي ناروغی له امله له لاسه ورکړ. هغه وخت می احساس وکړ چی د پلار قامت مې رنګ شو او ملا یې ماته شوه، یوازی درې میاشتي له دې پیښې تېر شوي وه چې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ په ماښام د پلار سره د مرستې لپاره تللی وم چې یو موټر ناڅاپه بی کنټرول شو او زما پلار یی خپل هدف ونیوه.

پلار مې زما د سترګو په وړاندې پر ځمکه پریوته، هغه ورځ پوهه شوم چې ژوند څومره ظالم دي،د ګاونډیانو په مرسته مو پلار خاورو ته وسپاره، د پلار د مړینې وروسته د جمعی لومړی سهار وه.
- حرم....!! حرم لورې پاڅیږه دروازه ټکیږي
— اه موري په دی شین سهار به څوک وې؟ فکر کوم د ګاونډیانو دروازه به وي؟
مور- حرم!

— اه موری سمه ده ګورم یی!!
هوا دومره سړه وه چې د سترګو په رپ کې مې ځان دروازی ته ورسوه د یخنۍ په وجه لرزې نیولی وم،مخکې د دروازی له خلاصولو می څو خبري ور حواله کړې او ومې ویل: ټوله شپه به دې په ویښه تېره کړې وي چې پدې شین سهار مزاحم شې!

بی له ځنډه مې دروازه خلاصه کړه چې د لوړ قد او طلایي ویښتانو ولا سړی چې زما د مور په عمر وه مخ ته مې ودریده.
— مهربانې کاکا جانه؟
— فاطمی ته غږ کړه.
د مور د نوم په اوریدو مې ځاې په ځاې ودریدم په فکر کې شوم چې دا سړی به څوک وي چې زما د مور په نوم خبر دې او پیژني ؟
په ډیر حیرت یې زما خواته را کتل چې ما په بنده، بنده ژبه وویل: م ... مو... مور خو مې د قران مجید په تلاوت بوختہ ...

لا مې خبره پوره شوې نه وه چې سړی په ګړندي ګامونو کور ته را دننه شو او په داسی اواز چی کنټرول شخه وتې وه په چیغو یې پیل کړه.
— فاطمي ... فاطمي ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه سړی په دې کار فکر مې کاوه د زيات غوسي څخه مې وينه په جوش کې راغې، کوم ورځ چې پلار مې خاورو ته وسپاره همغه ورځ ما ځان سره ژمنه کړی وه چې زه به خپل د مور لپاره هر.. څوک.. جوړېږم د عثمان په څير زوی . د پلار په څير مي پياوړی او ځواکمن سړی چې تر څنګ يی اوسم. ناڅاپه مې خپل ژمنه ياد ته راغلل او لياده مې ووتل چې جنۍ يم د هغه سړی د اواز څخه مې په لوړ اواز ووېل: اووو کاکا په کراره،فکر کوي چې دا ځاي کاروان سراي ده چې داسې رانوځې؟ ته څوک يې؟ څه کاره يې؟

– ماما د دې حرم لوری!

د مور د اواز په اوريدو ولرزيدم، ماما ...

څومره دا کلمه راته نا ..آشنا.. وه! په حيرانتيا سره مې مور ته وکتل او دوه ځلي مې دا کلمه د شونډو لاندې تکرار کړه: ماما؟؟

تاسو ورور هم درلوده؟؟

رښتيا ويل چې بده ورځ ورور نلرې، دا سړی لکه تر ننه د ځمکي لاندې بند وه چې نن د سمارق"مرخيړی، پوسهکې" په شان زموږ د سترګو په وړاندی را شين شو.

سړی- جينۍ د عمر په برابر دې خبري کوه تاته يی د خپلوانو احترام نه دې درښودلې؟ وګوره فاطمي ستا په څېر ده، ياغي او سرکښ جينۍ ...

د سرکښ د نوم په اوريدو می وينه په جوش راغله يوه شيبه خو مې داسې فکر وکړ لکه د اور د لمبو پشان سوځيږم، مور مي زما په حس پوهه شوی وه چې د سترګو په اشاره يی پوهه کړم چې بايد چپ پاتې شم.

بيا يی په پوره جديت زما د مور خواته مخ کړ او وې ويل: يو ساعت وخت درکوم! شيان مو راټول کړې چې له دې ځايه ځو.

د دې خبرې په اوريدو مې نور طاقت ونشو

د غاښونه په چيچلو سره مي وويل: څه؟ تاسو څه ووېل؟

هغه سړی په داسي حال کې چې خپل لاسونه يې شاته يو پر بل ترلي وه وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې ته فکر کوې چې ماماګان دې بیغرت دي؟د یوازې ژوند کولو فکرونه دې له سره لرې کوه، مورې له ځانه غیرت لرو پوهه شوې؟ ته دې حال ته وګوره، یوه خاشه جنۍ ماته را زده کول کوې.

د دغه بني بشر خبرو ته حیرانه وم!
دوی د کوم ننګ او غیرت په اړه خبرې کوي؟
لکه چې د دوي غیرت له مړیني وروسته را ژوندي کېږي؟
مور می د شیانو په را ټولولو بوخته شوه د هر څیز په ټولولو به یې لپه،لپه اوښکي تویولې، که څه هم نیم ساعت د کور د څیزونو ټولو لپاره بس وو! ځکه دومره شیان مو نه درلود غریبانه ژوند وو یوازیني څیز چی لږ قیمت یې درلوده هغه د تیلو بخارۍ وه چې پلار مې په پور اخیستی وه.

ټول شیان مو حویلۍ ته وویستل کله چې ماما مې زمونږ د کور په شیانو نظر ولګېده نو شیطاني خندا یی وکړه او زما مور ته یې وویل: اه فاطمه خاتون! په څومره مردارخوري سره دې ژوند کوه، کاش چې د حاجي صبور سره دې واده کړې وای نو اوس به د کور او ځاي څښتنه وای.

نور راته د دې خبرو زغمل له حد سخته وه، حاجي صبور څوک و؟ زما د مور په تېر وخت کې څه تېر شوي؟په خپلو فکرونو کې ډوبه وم چې د مور په غږ مې ځان ته راغلم.
مور- حرم لورې د ماما سره دې مرسته وکړه!

هغه وخت، که څه هم ماشومه وم خو د خپلې وسې څخه د درنو بارونو په پورته کولو سره مې غوښتل خپل ماما ته دا وښایم چې زه کمزوري نه یم.
د کور شیانو مو موټر کې ځاې پرځاې کړل، او د اخري ځل لپاره خپل د مور سره خپل وړوکي کور شاوخوا ته مو وکتل، د دی ژوند ټولې ښکلی شیبې لکه د یو فلم پشان زما د سترګو پر وړاندې تېر شو.
مور به مې چې د تناره و څنګ کې ناسته وه او مورې ته به یې اوازونه کول او مورې به

(c) ketabton.com: The Digital Library

له واورو څخه د واوري سرې جورو ، چاي به مو دم کاوه، لرګی به مو ماتول او غم به مو خپل حویلۍ ته راغوښت او بیا به مو داسې ورپورې خندل چې زمونږ له ژوند څخه به ووت.

مورې به په ډېر شوق سره یو ځای سره راټولیدو او یو دبل په څنګ کې د اوسیدو څخه به مو خوند اخیست، ماما په ځېر، ځېر زمونږ د دواړو ننداره کوله، ما خپل د سترګو د اوښکو د پټ کولو لپاره په زوره خپل د ستونی اوبه تېري کړې. هغه وخت ما خپل د ژوند د لومړۍ درد خوند وڅښه،مور مې چادري په سر کړه او د موټر په لور روان شو.په حقیقت کې مونږ نامعلوم لوري ته روان وو. د یوه ساعت تیریدو وروسته موټر د یو کور تر څنګ ودرید، او زه پدې پوهه شوم چې څومره فاصله چې د دوي د زړونو ترمنځ وه هغومره واټن د دوي د کورونو ترمنځ نه وه!

لاس می د خپلې مور په لاس کې کلک ترلې وو، دواړه انګړ ته ننوتو مور مې چې کله خپل د چادري پېڅکه له مخ څخه پورته کړه نو د هغې د سترګو حالت ته مې پام شو، چې سري اوښتې وه او پوهه شوم چې دغه یو ساعته فاصله د هغې لپاره لکه د زر ساعتونو پشان تېر شوي. دواړه په کرار، کرار ګامونو سره انګړ ته دننه شو، دهلیز ته په ننوتلو سره د لوړ قد، باریک اندام، د شنو سترګو لرونکي یوه ښځه په ورین تندی زمونږ ښه راغلاست ته راغله.

زما مور یې په غیږه کې ونیوله او په ژړغونې اواز یې وویل: فاطمې جانې خدای دې دغه غم اخري غم کړه.
مور- ژوندی اوسې صنوبر.
مور مې زما خواته اشاره وکړه او ویې ویل: دا حرم ده! زما لور.
بیا یې زما خواته مخ کړو او ویې ویل: حرم جانې صنوبر دې د نعمت ماما میرمن ده همغه چې زمونږ پسې راغلو او مونږ یې راوستو!

ښاا نو د دې ابلیس نوم نعمت دی؟ البته د نعمت څخه زیات زحمت او غضب دې، په داسې حال کې چې د ځان سره په خبرو بوخته وم هغه ښځې ته مې یوازې د سر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوځولو سلام وکړو.
مورې یې د یوي کوټې خواته رهنمایي کړو لکه چې هلته یې د میلمنو لپاره ځاې و؟
دومره می ځان پردي محسوس کاوه چې د میلمتوب احساس مې هم له منځه لاړ.
د کوټې یخنۍ مې بدن لرزوه، مور مې په غیږ کې ونیولم او څادر یی راباندې تاوو کړو

لا یوه شپېه هم نه وه تېره چې یوه ښځه کوټې ته رادننه شوه، نس یې راوتلې و ورځې یې سره نښتي وې او سترګې یې داسې وې لکه د غوسی تور سیورې، مور مې یوه شپېه زه پریښودم او د درناوي په نیت مخکې لاړه لا یې قدم نه و پورته کړې چې یو دروند غږ ځاي پر ځای و دره وله.
– فاطمي هېڅ ارتیا نشته چې ځان و ماته وښایې.
مور- خو مسعودي خورې.....
مسعوده- خو مو نشته شکر وباسه چې نعمت ورور د ملایکي په څیر پاک زړه لرې، چې ته یې راوستي کنه هغه بې نر کور کې بدنامه کېدې.

نور می د دې ښځې د خبرو زغم نه درلوده، هغه وخت مې سلګي پورته شوی د لومړۍ ځل لپاره د ژوند د تریخ والي له لاسه مې وژړل او ومې ویل: مورې هیله کوم راځه خپل کور ته لاړشو
ما په ژړا خپلې مور ته زارۍ کولې. په داسې غږ چې ډیر د غوسي په انداز وه غلې شوم
مسعوده- ای مکارې نجلۍ! شکر اوباسه چې ماما دې دلته راوستلې، دا ژړا او ماتم دې بس کړه ماما دې داسې حق او ناحق ژړا نه خوښوئ..

هغه شپه زما مور خپل د زړه ټول حال ماته بیان کړو.
زما مور د دوي سکنی خور وه! دا یوه خور یې د مسعودي په نوم او یو ورور یې د نعمت په نوم درلوده د بل مور څخه. زما مور په پیغلتوب کې ډېر خواستګاران درلودل خو د هغې میرې" ناسکه مور" به د هغې د واده کولو اجازه نه ورکوله. هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواستګار چې به راغې زما مور به یې خوښه کړه او دا کار به د مسعودې غوسه زیاتوله، مسعوده زما په پلار مینه وه، خو پلار مې په مور زړه بایللې وو..

قسمت ...! زما مور زما د پلار سره یوځاې کړل او دغه کار د مسعودي د غوسي او غضب سبب جوړ شو چې تر ننه یې درلود.

حاجی صبور د کلې ملک او خان و د ډېر مال او جایداد خاوند وه، زما نیکه د حاجی صبور د باغونو ساتنه کوله همدلته یې زما مور لیدلې وه او زړه یې ورباندې بایللې و، سره له دې چې هغه میرمن او دوه اولادونه درلودل خو بیا هم زما د مور خواستګار وه نعمت د ډېرو پیسو د اخیستو په بدل کی دې واده ته ډېر لېوال وه خو مور مې په هیڅ ډول دی واده ته رضایت نه ورکو، زما نیکه چې هم د مور ناخوښې ولېده نو د خان لځایه زما مور زما پلار ته په نکاح ورکړه.د هغه وختونو څخه اته کاله تېر شوې وه ...

دوه شپې موږ په دې دوزخ کې ژوند وکړ، دا دوه شپې د دوزخ د اوه دروازو د خوند څکلو په څېر وو.دقیقاً درېمه ورځ وه چې صنوبر مې مور بلې خونې ته دعوت کړه څو ساعتونه وروسته مور مې بېرته راستانه شوه که څه هم هغې هڅه کوله چې موضوع پټه کړې خو زه دومره وړوکي نه وم چې د هغې د خپګان لامل ونه پوهېږم. په بله ورځ درې ښځې له څو نارینه وو سره راغلل هغوي زما د مور په سر شین شال واچوهغه ورځ ماما مې مور د یو لک او اتیا زرو افغانیو په بدل کې د حاجي صبور په نکاح ورکړه. په پای کې زما ماما خپل د زړه ارمان ته ورسېد.

په همغه ورځ موږ د ماما د کور څخه د حاجی صبور د کور خواته روان شو. ډېر واټن مو و واهه او بلاخره موټر د دوه منزله کور تر څنګ ودرید،کور طلایی رنګ درلوده چی اوسپنی لویه دروازه یی په شین روغنی رنګ جوړه شوی وه. مور سره می انګړ ته دننه شوم،د حویلۍ څلور خواوې د مڼو او بادامو ونو په سیوري پوښل شوې وې څو ښځې چې په پټه یې خبرې کولې زموږ مخې ته ولاړې وې د هغوی له منځه یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه چې نږدې زما د مور په عمر وه په سستو ګامونو را وړاندې شوه او زما د مور په سر یې د موسکا په کولو سره څو چاکلیټونه وشیندل.

که څه هم ښځه ځوانه او ښکلې وه خو د سترپیا ځپې یې په مخ داسې خپرې وې چې د هغی احساس می په ټول وجود درک کړو، د هغې ترځنګ درې قد او نیم قد ماشومان ولاړ وو. هغه ښځې په زیتوني سترګو سره زما خواته مخ کړ او ویې ویل: ګرانی وګوره دا ستا خویندې او وروڼه دي. نارون، هیله او مسیح. ته هم نژدی راشه زما لوری..

د هغې خبرې په اوریدو حیرانه شوم.
خور او ورور؟؟
د پوښتونو څخه په ډک نظر مې خپل مور ته وکتل خو مور می هیڅ د خبرو توان نه درلودو، شیبه وروسته یو اوږد قد او اندام لرونکی سړی چې تور ویښتان یی درلودل. په سترګو کی یی د خوشحالی ځپې ښکاره کېدې زموږ ترځنګ ودرېد.
ښکلی او نورانی څهره یی درلوده. ټولو ته د سلام په ورکولو سره یی زما د مور لاس په خپلو لاسونو کی ونیول.

د دی صحنې لېدل داسې وه راته لکه خپل د مرګ لیدل په خپلو سترګو، په سترګو می ناڅاپه تیاره راغله د مور اواز می واوریده: حرم لوری په هوښ راشه زما ګرانۍ.

شپې خپل په تیارو او وحشتونکو کې زه رانیولې وم، هغه شپه زما د ژوند بدترینه شپه وه یو ناشناس وېره مې زړه کې ولېدلې وه چې هسې نه زما مور زما څخه لرې شې؟ او همدې خبرو زه د مریضې پر بستری وغورځولم.

د هغه ورځ په سبا حاجي صبور زما احوال وپوښتلو، په ډېره مهربانۍ یې پوښتنه وکړه.
هغه دومره د شفقت او مهربانۍ لاس راباندې تېر کړ چې د پلار یاد مې په زړه کې ژوندی شو.لا شېبه نه وه تېره چې یوه مهربانه ښځه، د سوپ لوښی په لاس، کوټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته راغله.په نرۍ موسکا سره زما تر څنګ کښېناسته او په مهربانۍ یې زما مور ته مخ واړاوه:فاطمې جان! ته ټوله شپه ویښه وې، لاړ شه لږ استراحت وکړه، زه به له حرم سره یم.

مور مې، که څه هم، نه غوښتل ما یواځې پرېږدي، خو د هغې ښځې په ډېر ټینګار لاړه.هغې لاس زما پر تندي کېښود، موسکۍ شوه او ویې ویل: الحمدلله، بالکل تبه نه لرې، اوس باید دا سوپ وخورې.

زه حیرانه وم!
دا ښځه څوک ده؟ د دې ټولې مهربانۍ دلیل څه دی؟
هغې ژور ساه واخیسته، د سوپ لوښی یې په دواړو لاسونو ونیو، قاشغه یې ډکه کړل او زما خولې ته یې رانژدې کړ.
بیا یې موسکا وکړه او وویل: زه پوهېږم، حرم، ته ما نه پېژنې. زه مهرماه یم.
ما احساس کړه چې هغې زما ذهن ولوست.
ریښتیا هم، د هر چا شخصیت د نوم سره تړاو لري.
دا واقعاً ډېره مهربانه ښځه وه.
بیا یې، په یو ډول خواشینۍ سره، وویل: زه د حاجي صبور لومړنۍ ښځه یم.

او له دې جملې سره یې ترخه موسکا وکړه.
لږه شېبه چوپه شوه او بیا یې وویل: لومړۍ ښځه څومره جالبه ده، کنه؟
ما په بشپړه توګه د هغه خبرو ته غوږ نیولی و.
ـ حرم زه مړ کیږم.........
په دې کلمه یې زړه راډک شو او اوښکې یې پر مخ ولویدلې.
په لړزونکې غږ سره یې وویل: څومره دردونکی دې چې یوه، یوه ورځ خپل د خوړو خپلوانو څخه د جلا کیدو په خاطر وشمارې.

کرار مې وویل: ورور او پلار مې چې کله مړه شول نو مورې ته خو یې څه ونه ویل.
په کرس یې وخندل او دوام یې ورکړ:آه نجلۍ ډېره هوښیاره یې ، مګر ګرانۍ زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګ تر هغوی توپیر کوی.
ومی ویل: څرنګه توپیر؟ مګر مرګ کی هم جلا ډولونه شته؟
– لری ګرانی توپیر لری ، هغوی د ژوند په امید کی له نړی څخه لاړل ، مګر زه د مرګ په امید هره ورځ ژوند کوم، د ابدیت د مسافری کیدلو لپاره هره ورځ شیبی شمارم او ژوند کوم، زه سرطان لرم؛هغه هم د هډوکو سرطان چی لکه د اور سکارو پشان مې ټول بدن کی خپریږی.

هغه وخت پوهه شوم یعنی ددی میرمنی د مړاویتوب لامل دا ناعلاجه ناروغی ده.
بیاځلی یی وویل: حرم پوهیږم هوښیاره نجلی یی ، مور دی اوس د حاجی صیب نکاح کړی ښځه ده،حاجی صیب زړه سواندی سړی دی ستا لپاره ښه پلار او د مور لپاره دی مهربانه خاوند کیدلی شی وروسته له دی ته زما او له خویندو سره دی ویده کیږی.......

څو ورځی زموږ له دلته راتللو تیریدلې، هر څو زما لپاره عادت کول ګران ول مګر داسی می ښودل چی ګواکی هر څه می په راحتی منلی! ورځ تر بلی د اغلی مهر ماه صحی حالت بدتر کیده.د ډاکترانو له وینا سره سم د تللو وخت یی نږدی وو.مور می له ما سره سم د مهر ماه د دری اولادونه هم لکه سترګو ساتل.نور می حاجی صبور ته پلار غږ کاوه.. په رښتیا یی راته د پلارتوب حق ادا کړی وو......!!!

"څو کاله وروسته."

لمر خپلی وړانګې پر ځمکی خوری کړی وی. د دروازه او کړکی نه خوږ باد لګېده.
څومره می زړه ددی ورځو ارمان درلود.نو ولی دومره شور او ګډوډی ده؟؟ داسی نه چی لومړی ازموینه می ده!!ما چی هره شیبه ددی ژوند می یوه ازموینه کی تیر کړی.
ـ حرم......
ټول تاته په تمه دی لوری زر کوه..
ــــ راغلم موری......

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره شیبه چی می د مور غږ زما غوږونه نازول،ځان می د نړۍ تر ټولو بختوره نجلی حس کاوه،هغه مور چې خپل ټول ارمانونه یې خپل د خاوند په ارمانونو کې لیاده وویستل، او خپل ځان یې خپل د درې ماشومانو په روزولو کې وقف کړو، او ځان لیاده وویست......

نارون- حرم جانی که یو ورځ په وخت تیاره شی پوه شه هغه ورځ به قیامت وی.

دا ده زما صبرناکه او با وقاره خور نارون،د پلار ښی لاس او د مسیح او هیلی کنټرول کوونکی هغه کار چی آن پلار می له توان یې وتلې دې.د پوهنتون دویم کال یی وو اقتصاد یی ویل یوه میاشت مخکی له هغه هلک سره چی مینه یی لرله کوژده یی وکړه. باید ووایو چی ښکلا یی د میرمن مهرماه نه په میراث وړی وه.

حرم- زه تیاره یم.

هیله- اوه نو باید له الله نه شاکره ووسو چی زموږ د کور تکړه نجلی حاضره شوله.

دا هیلی ده په پوره توګه له نارون سره فرق کوی مغروره، زړه راښکونکي هر رنګه چی ښکلی او له مینی ډک زړه یی لره مګر ژبی یی ځینی وخت دا ټوله ښکلا تری غصب کوله.ګندمی پوستکی او چنچنګی ویښتو یی ښکلا لا زیاته کړې وه.

حرم- هیلی! خوری یواځی 3 دقیقی ناوخته شوه مګر آسمان ځمکی ته راغی ها؟ مګر دروغ وایم نارووو؟

نارون- اوووف ستاسو له لاسه هله موټر ته پورته شي.

په ارامه فکر د بهر په لور روانه شوم. نن موږ دری واړه د کانکور ازموینې ورکوو.

عجیبه ډار زما او د هیلی له څېرې برڅېره ده دا یو طبیعی امر دی. یواځینی کس چی په دی ازموینې کی بی علاقی دی هغه دی مسیح .هغه څوک چی ځان ته یی یو قلمرو جوړ کړی او په هغه کی غرق دی.خوشحاله پر خپلو خواهشاتو......!! مغروره او په ټوله کی په خپله وېنا یی د پلار د پیسو د مصرف کولو لپاره نړی ته راغلی .....!!

پلار می حاجی صبور یو لوی شخصیت او متین انسان..!! ډیر وخت کیږی تجارت کی مصروف دی د کابل ښکلی او بهترینه هوټل څیښتن ، او یوه برخه د تجارت یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورګرځي هند ته د وچې میوی صادر کول . هلته یی وروکی ورور رحمت کنټرول کوی.

او تاکل شوی ده چې دا ځل د پارلمان د څوکی لپاره د کابل منتخب وکیلی ته ځان کاندید کړی.وروسته له څه ځنډه موټر د کابل پوهنتون ترڅنګ ودرید.دری واړه د نارون په لارښوونه له موټر نه ښکته او د پوهنتون حویلی ته ننوتلو.
خپل لومړی ګامونه می ښه صحی په یاد لرم. نظر می څلورو خواوو ته واړوه.
ځوانی نجونی او هلکان سره له زرو هیلو دلته راغلی ول.کټ مټ لکه د حشر میدان چې ټول د الله په غږ سره راټولیږی د آزموینې د پیل کیدلو د غږ په تمه ول.
بالاخره آزموینه پای ته ورسیده....!

کور د بیرته راستنیدو په وخت هیله له مسیح سره په ټوکو کولو بوخته وه مګر ما خپل ټول فکر د آزموینې پارچی پر سر پریښودلی وو او راغلی وم. اصلا سکون می نه درلوده.اندیښنه می دی ته وه چې خدای نه کړی خپل انتخاب ته بریالی نشم.
هغه هم څه انتخاب! وروسته له ځنډه موټر زموږ د کور تر څنګ ودرید،پلار می هغه وخت تر ډېرو خپل د کمپاین په کارونو کی بوخت وو. ټاکل شوی وه چې ورور یی او یو له شریکانو نه یی کابل ته ورته میلمانه شي. لکه څنګه چې حاجی رحمت کله ناکله کابل ته راچکر کیده مګر میرمن یی له نن نه پنځه کاله پخوا موږ کره میلمه شوی وه

هغه وخت پوه شوم چې زما څخه یې ښه نه راځې، او دلیل یې هم دا وو چې هغوي زه د دي کورنۍ پر تندي د بدنامي داغ بللم، لا تر اوسه می هم د رحمت کاکا خبری په غوږونو کی دی،لومړی ورځ چې دی کور کی می پښه کېښوده زما پلار یی زما په سرپرستی محکوم کړ.یواځینی لامل چې زه یی تر اوسه نه وم منلې ددی کورنی وینه وه چې زما په رګونو کې نه وه.ځینی وخت د رحمت کاکا له فکر نه حیرانه کیږم ځان سره وایم آیا د ده په زړه کی هیڅکله رحم غوټی نده کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی لپاره وینه مهمه ده مګر زما لپاره مینه چې په رګونو کې مې ګرځي او د وجود زره زره یې راته رانغاړلې ده او ددې کورنۍ په اولاد اوسیدو یې یقیني کړې یم.....!
مګر زه څوک یم؟
حرم هغه نجلۍ چې لوړه ونه ، سپین پوستکې او داسې سترګې لري چې ټول یې جذب کړي غیر له مانه.....!
هغه جنۍ چې د ژوند درد او غم یې ژوند ورتنګ کړې.
یواځې یوه اونۍ ټاکنو ته پاتې وه.نن ټاکل شوې وه چې رحمت کاکا سره له کورنۍ یې له هند نه راشي. په کور کې عجیبه شور او شوق وه. ټول د میلمستیا په کارونو بوخت وه.

له ټولو ډیر د هیلي حال زه ځان خواته جذب کړې وم، سترګې یې لکه ستورې ځلیدلې او په شونډو یې پټه مسکا وه،ټول په دهلیز کې ناست وو . یو غږ د ټولو نظر ځان خوا واړوه.
— میرمن فاطمه، نارون لوری میلمانه راغلل.
د پلار غږ مې وو لا پلار نه وه ښکاره شوی چې نارون چغه کړه.
- اه کاکا جانه.....
یوه شیبه نه وه تیره شوې چې کاکا رحمت سره له میرمنې یې او یو هلک او یوه نجلۍ چې د مسیح په عمر ول پلار څنګ ته ودریدل.

د نارون او هیلي په غیږ کې نیولو سره یې اوښکو مخونه ورته لانده کړل د هغوی نه د جلا کیدو ورسته نظر یې زما او د مور په لور شو په ډیر سوړ انداز یې سلام علیکي وکړه.دا لومړی ځل وه چې د بیګانه اوسیدلو حس مې په دې کور کې وکړ.
چې یو چا لاس زما پر اوږې کیښود.
په مهرباني یې کرا وویل: حرم لوری ښه یې؟
حرم- هو پلاره بیخي ښه یم.
حاجي صبور- ښه ده لورجانې راځه چې د کاکا له اولادونو سره دې وپیژنم.
سوسن دي د کاکا لور ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ښکلی نجلی سره له لوړی ونې ، شنی سترګی ، ژیړ ویښتان چی له سترګو سره یی په تضاد کی ول نری پوزه او نازکې شونډی ، په رښتیا ډېره ښکلی وه. لاس مې د هغې خواته اوږود کړ. مګر هغه خپل د مور برعکس چې ډیر سوړ چلند یې راسره کړې و زه یې خپل خواته کش کړم او غیږ کی یی ونیولم.

سوسن- حرم جانی سمده چی ټول عمر می له دی هېواد نه بهر تیر شوی مګر ددی هیواد په رواجونو ښه بلده یم.
د سوسن نه په جلا کیدو له هغه هلک سره چی ترڅنګ یی ولاړ وو پلار معرفي کړم.
حاجی صبور- د کاکا دویم زوی دی عمر.
یواځی په یوه مسکا می بسنه وکړه،هغه شپه ټول په دهلیز کی ناست ول په خوړو او ترخو کیسو یی د پخوا یادونه تازه کول.

په دی منځ کی یواځی هیلی وه چی غلی ناسته وه. اصلا د څو شیبو مخکی خوشحالی یی په څهره کی نه وه او د دهلیز په یو کنج کی غلی ناسته وه.
دی حالت ته یی اندیښنه می شوه کرا می ورته وویل: څه خبره ده چې داسې په فکرونو کې غرق یې؟
هیله- موخه دی څه ده؟
حرم- ګرانی خور یې اندیښنه می درته شوه، ستا دا ارام حالت اصلا ښه نده.
هیله- حرررررررم هیله کوم...

د خپل نوم په اورېدو هغه هم په داسی اندار یوه شوم چی باید تیښتی ته په پاتی کیدو ترجیح ورکړم.د خپلو اوږو په پورته اچولو سره د پخلنځي په لور لاړم.
زموږ کور تر ډیره د بهر د ژوند سبک"طریقه"لرله له ماڼۍ نه یی نیولی تر ژوند کولو یی.حویلی سره له لوړو دیوالونو چی په سر یی اغزن سیمونه چی د مانی د محافظت لپاره یی جوړ کړی ول. ځینی وخت می فکر کول زما لپاره د زندان نه کم نه وه.مګر دننه یی بل ډول لید لره. لومړی منزل کی یی دهلیز ، پخلنځي او یوه کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدمتګارانو لپاره لرله چې ورېه کرکې يې د بڼ په لور لرله. نورې کوټې په پورته منزل کې وې.

زموږ د کور قصه د مور لطيفه روح او سالمه ذوق او سليقه وه.پلار مې چې د هنر او شاعرۍ شوقي وه ډېر وخت به يې مطالعه کوله ، هره څنډه يې په خپلې خوښې جوړه کړې وه. مګر د ميرمن حميدې ډېر زيار هم نبايد هيڅ ونيسو. هغه دوه ميرمنې چې څو کاله کيږي دې کور کې په کار کولو بوختې دې. لومړۍ‌حميده ترور.......
هغه ميرمن چې تقريبا اته کاله کيږي په دې کور کې په صداقت کار کوي مهربان او ښکلې زړه لرونکې ميرمن ده. زما په آند ددې کور مهمه غړې ده. او بل مرجان! ځوانه نجلې چې تقريباً دوه کاله کيږي د حميده ترور د لاس لاندې کار کوي. د نن شپې د ميلمستيا سليقه د ميرمن نور ماه په خواست وه، ځينې وخت مې خوښېدل د پخلنځي کارونه وکړم نن شپه مې هم سالاد د خپل په خوښي جوړ کړل.

ځينې وخت خاله حميده زما د لاس د ذايقې صفتونه به يې کول، نن شپه هم په ماړه نس د هغې له صفتونو برخمنه شوم، د ماکاروني سالاد هغه سالاد چې پلار مې تر ټولو زيات خوښوي په سالاد کې مې ساس ګډول چې له شا مې غږ وشو.
– له تانه هم دوې ته خير رسيږي نجلې؟
د ميرمن نورماه غږ وه.........
په هغه حال کې چې په زړه کې مې ورته کنځل کول د شونډې لاندې وويل: الهی ژبه دې ګنګې شه......
د ځوانو نجونو په څېر يې خپل غږ وويست او ويې ويل: وګورم کوم څه دې وويل نجلۍ؟

– هغه ومې ويل د کاکا ښځې په سالاد کې د مڼې سرکه واچوم کنه؟
نور ماه- هر رنګه غواړې لورې.
او ددې خبرې په ويلو له پخلنځي ووتله.
ټول خوارېه د ميز پر سر ايښې ول، سوسن د سالاد په خوړلو د حميدې ترور په خير

(c) ketabton.com: The Digital Library

صفتونه کول،د پوړی د خوړلو وروسته د لاری د ستړیا له امله ټول خپلو کوټو ته لاړل موږ دری واړه خویندی په یوی کوټه کی ویده کیدلو دا می د مور غوښتنه وه. ځکه پلار می په دی باور وه چی په دی کار زموږ ترمنځ مینه ډیریږي. سوسن هم زموږ د کوټی میلمنه وه

کله یی خپل د ځان په اړه ویل او کله هم په بهر کی له ژوند کولو په اړه کیسی کول، هیله چی تر اوسه غلی ناسته وه او خبرو ته یی غوږ نیولی وه له دېوال نه یی تکیه جلا کړه او په هغه حال کی چی یو لاس یی خپل د ناستی په موخه تکیه کړی وو د پوښتنی په انداز یی سوسن ته وویل: ادیب ولی رانغی؟
سوسن په هغه حال کی چی اږمې ایسته ویې وویل: د لالا راتلل می له لندن څخه لږ ستونزمن وه د ډیپلوم دفاع یی لرله په همدی خاطر رانغی کنه مور می زموږ سفر د لالا له راتګ سره برابر کړی وه مګر د الله رضا نه وه...

څو ورځی د کاکا د کورنی د راتللو تیریدلی، بالاخره د ټاکنو ورځ راورسیده پلار می د ډیرو رایو د اخیستلو په خاطر د کابل منتخب وکیل شو هغه ورځ ټول ډیر خوشحاله ول.زموږ ژوند همغه رقم دوام لره د پلار څوکی او مقام می زموږ په ژوند کی هیڅ تاثیر نه وه راوستلی ځکه پلار می مخکی له وکیل کیدو هم د مقام او منزلت څښتن وه یواځینی تغییر د پلار د کار ډیریدل ول چی دا لامل شوی وه چی له کورنی سره کمرنګه رابطه ولری......

تقریبا دوه میاشتی وروسته د کاکا کورنی می بیرته له وطن نه لاړل مګر اړیکه می له سوسن سره ښه وه ځینی وخت مو له یو بل سره خبری کولی بالاخره د منی موسم راورسیده، ټاکل شوی وه چی د کانکور د ازموینې پایلی معلومی شی.
هغه ورځ عجیبه ویره رانغښتې وم، زړه می لکه چوغکې په شان په سینه کی ټوپونه وهل ځکه خپل غټ ارمان ته د رسیدو په اندیښنه وم هر څو دقی وروسته هیلی زه د خپل انتخاب په سر رشخند کوم مګر په ځان می باور وه چی همغه ناشونی ارمان ته رسیږم نارون د کمپیوټر شاته ناسته وه او زموږ ایډې یی لټولی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلا د ولاړېدو توان می نه وه. یوځلی د نارون غږ پورته شو

نارون- حرم.......حرم.......

په راوتلو سترګو یی ماته کتل او بار بار یی زما نوم تکراروه

په حیرانتیا می وویل: نارووو هیله کوم مه می ډاروه نه چی زه......

لا می خبره نه وه خلاصه چی په خوشحالی یی زه غیږ کی ونیولم.

نارون- حرم تبریک دی شی خپل لومړی انتخاب ته بریالی شوی یی، یعنی طب ته..!

د نارون خبرو اوریدلو سره هیڅ په ځان پوی نشوم سترګو می توره پرده خوره شوه ....

ـــحرم ویښه شه حرم لوري!!

مور آواز می وه...

د دوا بوې مې پوزي ته راغلو او پوهه شوم چې کور کې بستري شوي یم. سترګي مې خلاصي کړې او څلور خوا مي وکتل ټول رانه راچاپیر وه ....

مور مي ژوره ساه واخیسته او ویې ویل: اه لوري دا څه حالت دی زما ځان وژني قصد دي کړي؟

یوازي می ورته وخندل بس

مسیح خپل ځایه راټوپ کړو او زما څنګ کي کیناست او ویې ویل: اووو حرم ډاکټری فکر کوم عقلي عصبي داکتره شې نو ډیر به ښه وي! څکه هیله تداوي ته اړتیا لري، بیا یې ټول ته وکتل او ویې ویل: مګر دروغ ووایم؟؟؟

دی خبري سره په شیطنت زما خواته سترګک ووهله، اوس نو نمبر د هیلۍ وو چې د ځنګلي پیشو پشان چغي ووهې او مسیح باندی حمله وکړې کله ورنه ویښتان شکول کله سوګانو په سینه ورکول..

په بی حاله غږ مې په کراره وویل: تاسو ټول لیونۍ یاست، هغه هم ځنزېرې لیونۍ ..

زما په خبري، ټول په کرس وخندل .....

زه طب رشتي ته کامیاب شوي وم، هیله او مسیح دواړه اقتصاد ته..

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلاخره نن می پوهنتون ته د تګ لومړی ورځ وه، پوهنتون ته په ننوتلو د مستقل اوسیدوچ احساس مې کوه، لومړی ورځ ځانته می ملګري پیدا کړه، لومړۍ یوه جنۍ په نوم د مینه! برابر قد،تک تور ویښتان لکه کارغه پشان، شنی سترګي لکه ځنګل، نری شوندی، په قوم پښتنه وه البته دوه رګه، خوش اخلاقه جلۍ وه، تقریبآ د څو میاشتو تېرېدو وروسته کرار کرار د پوهنتون د ماحول سره عادت شوم !
خپل وخت مې په درس ویلو تېره وه، کور څخه پوهنتون او درسبیا پوهنتون څخه کور او بیا درس..

یوه ورځ غرمی بوډۍ مو خوړله چې مور تهزنګ می راغی خبرو وخت کې غږ پورته شوو حیرانه پاتی وه ټولو ورته کتل څه شوي، مور مي بنده ژبه وویل: ستاسو کاااا... کاکا مړشوی.

ګوله بوډۍ مي مرۍ کې بنده شوه ساه می اخستلی نشوه خپل پلار مرګ می یادته راغی، زحمت کاکا باندی د زړه حمله راغلی وه تقریبآ دوه ورځي جدي مراقبت لاندي وه مګر خدای څه خپل بنده عمر تاکلی وه هغه نور تداوي باندی زیاتیدلی نه شې د کاکا رحمت عمر همدومره وو. د پلار په غوښتنه می جنازه به کابل کي خاورو ته سپارل کېدل، د خبر د اوریدو وروسته کرار، کرار زموږ ټول خپلوان تسلیت ویلو لپاره زموږ کور ته راتلل ،دوه ورځي وروسته جنازه کابل ته راوړل شوه کورني هم ورسره راغلی وه ډیری سختی غم ورځي وي زغملی ټولوته ستونزمن کار وه..

زه زیاته سوسن ته خفه وم، د هغې درد بغیر زما څخه بل چا ښه نشو درک کولې! څنګه امکان لري پلار پشان حمایت کوونکي،د امن غیره د سر سایه، د ځان څخه ګران و خاورو ته وسپاري؟؟ میرمین نور ماه نوره مات شوي وه لکه ماته ونه چې نور د طوفانونه سره د مقابلې توان نه وو پکې پاتې، د ټولو حالت یو د بل څخخ بدتره وه حتا د کورني مشر زوی ادیب ..

که څه هم د لومړۍ ځل لپاره دا ښاغلي مې د نږدې څخه لېده حتا باوری وم چې ادیب به زه پېژندلې هم ونه اوسیږم، خو بیا هم زړه مې وربانديې سوځېده، د پلار غم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ غم نه وي. څو ورځي کيدل چې د پوهنتون درسونو څخه لري وم، خو د مينې په مرسته مې خپل د غير حاضرانو جبران کاوه او نوټونه مې ورڅخه اخيستل. نيمه شپه وه زړه مې يو پياله ګرم چاي غوښت د همغه لپاره پخلنځلی ته لاړم، ټول کور په يوه ژوره خاموشي کې وو، زياته وېرېدم احساس مې کاوه شاته مې پيري راروان دي...

ژر،ژر د چاي په دم کولو باندې لګيا شوم چې د شا لخوا مې غږ واوريده.......
د غږ په اورېدو يو دم وينه می بدن کی وچه شوه، غږ د رحمت کاکا د غږ پشان وو. هغه شېبه احساس مې کاوه د کاکا روح د مرګ وروسته لا ما په ارامه نه پرېږدي!
شاته ليدلو جرعت می ندرلوده، خو کوم نوم چې واخيستل شو هغه حيرانه کړم.
– مرجان ماته هم يوه پياله چاي راکړه.
مرررجان! مګر زه مرجانه يم ؟؟
شاته می وکتل او نظر مې په اديب ولګېده چې خپل په تندي لاس نيولې وو او غوښتل يې پر څوکۍ کينې، د دې په ليدلو چې د کاکا روح نه وه او اديب وو زړه که می سل زره کنځلې ورته وکړې..

– بيعقل انسان په دې نيمه شپه يې مرګ راغلې وو، لکه چې اراده يې وه زما جنازه خپل د پلار د هفتي سره يوځاې وکړې؟ شونده می وچيچله د چايو پياله مې د ميز پر سر کيښودل او بغير له دې چې ورته وګورم خپل د کوټې پخوا روانه شوم ځان می خپل کټ ته ورسوه او خوب ويوړم..

سهار د نورو ورځو پر خلاف وختي پاسيدم ځان مې تيار کړو، هيله او نارون ته پتمه وم، مسيح خوو معلومداره وه چې د پلار په نوم يې عيش کاوه د وکيل زوي وو پوهنتون ته تګ څه معنا ورته درلود؟ ټولو ورته مفته نمري ورکول.څو شيبې ورويته نارون زما څنګ ته راغله د شونډې لاندې هيله ته خبري کولای په غوسه يې ويل:
پخدای دوي خپل د حد څخه اوړېدلې دې، پوهنتون ته تګ تاسو ته ملنډې ښکارې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ورځ ځې، بله ورځ بهانه کوې، بله ورځ نه ځې دا پوهنتون دې څه ریشخند نه دې.

سر یې را پورته کړو چې نظر یې زما په څېر نظر خښ پاتې شو، داسې حال کې چې خپل د موبایل پسې ګرځېده وې ویل: حرم هیله کوم چې خپله خوله خلاصه نکړې،کنه د هغوي قصد ستا څخه اخلم.

ما خپل اوږې پورته واچول او په کراره مې وویل: زما ګناه څه ده هاا؟
په تند نظر چې راوکتل ما خپل خوله بنده کړه او داسې حال کې چې خپل لاس مې دکشک بند کولو پشان خپل په خوله کش کاوه ومې ویل: سمده دغه دې چوپه شوم خوشحاله شوی؟

هیله دي ورځو کي بدلون کړي وه، مطلب مې د غم بدلون نه وو چې د کاکا پسې ماتم ونیسې نه! بلکي سترګو کې یو خاص نور په عجیبه شان ځلیدي ..
زه او نارون موټر ته پورته شو پوهنتون او د پوهنتون په مقصد رواني شو، نارون ځکه چې په شخصي پوهنتون کي درس ویلو نو په نیمه لاره کي رانه جلا شوه، څو شیبې وروسته زه هم کابل پوهنتون ته ورسیدم، همدا چې پوهنتون ته ورننوتم آرامه احساس می کاوه ژوره ساه می واخسته منفي سوچونه می ذهنه لرې کړل، خپل شاوخوا مې وکتل. چې ناڅاپه په تېزی سره زما لاس شاته کش شو او یو چا په ورخطا غږ وویل: اخ جان! شکر چې راغلې.

د غږ په اوریدلو پوهه شوم چې مینه ده، ژر مې د شالخوا خپل د ځان څخه جلا کړه، دومره ډاربدلې وم چې آواز مې د کنټرول خارج شو ورته می وویل: آه یخ وهلي ماره ، مګر مرګ وهلي یی زما څلور خوا تاویږي، څو ځلي می تاته وویل چې د دې کارونو څخه مې کرکه راځی.

مینه حیرانه حیرانه راته کتل، ما خپل شاوخوا وکتل ټولو موږ ته راکتل، لږ شرمنده غوندې شوم، سترګي مې وتړلی او خلاصی کړل غاښونه مې وچیچل ترڅو آرامتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختیاره کړم او ومې ویل: اهګ مینی سا له لاسه وګوره څه کار وشو!
مینه څهره بدلون وموند پرته له کوم څه ویلو د څنګ څخه مې روانه شوه، پوهه شوم چې رانه خفه شوه. وریسی صنف ته ورغلم ، خپل پرځای ناسته وه تندي تروش نیولی وه همدا چې نظر یې پرما ولګیده ژر قلم راوخسته په لیکلو پیل وکه...
څنګ ته یې په څوکي کیناستم مظلومه څهره مې ځانته ونیول او ورو مې وویل: بخښنه غوارم نووو، پوهیږم زما کار صحیح نه وو،خو حق راکړه ستا کار هم غلط وو.

زما د خبري په اوریدلو میني په کلک میز په سوک وواهه او تقریبا چغه یې کړل: حررررررم...
کله چې زما نوم یې کش کړو پوهه شوم غوسه یې د حد وتلې، نو د وضعیت د کنټرول لپاره مې ژر وویل: جان حــــــــــرم! زه خپله خبره بیرته اخلم سمده، مګر مینی باور وکړه دي ورځو کي زما حالت چندان ښه نه دی، پرون ماښام نږدي وو مړه شم، نو ځکه د داسې ناڅاپه حرکت څخه ډار مې په زړه کې پیدا شوی.

مینه- ستا هغه کار او خبري به په هېڅ ډول هیر نکړم، خو دا راته ووایه کوم د خدای نیک او صالح بنده غوښتل ستا شر زموږ له سره کم کړې او مړه دې کړې؟ هوم؟ ولې پرون ماښام د مرګ پر حال وې؟
د هغې په خبرو پوسخند مې وواهه او ومې ویل: وو یو دانه بلکل ستا پشان.
د دې خبرې سره سم زموږ دواړو خندا په صنف کي خپره شوه،،،
ټول ټولګي وال مو په صنف کي حاضره وه، مینی شاخوا وکتل بیا وویل: هی حرم، حرررم..
— اوووففف آورم مینې څه کښه خو نه یم چې داسې پرلپسي ناري وهې.
مینه- وګوره تاته څه وایم دا څو ورځي چې ته نه وي احمد به هروخت ستا احوال رانه اخسسته حتا ستا شمیره یې هم راڅخه وغوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مينې خبره مې نيمه ک  ورپريکړه په جدي توګه مې ورته وويل: يوازې دا مه وایه چې زما شميرې دې ورکړې؟

مینه- تخو ما بسم الله، الله اکبر تخو پرېږده! او هو ياد مې دې ستا هغه زبردست ګواښ چې تاکيد دې کړې وو ستا شميره چاته ورنکړم او ځان سره وساتم.

د مينې په دې خبره د هغې دواړه غمبورې مې کش کړې او په خوشحالۍ مې: وويل: زه ستا څخه صدقه شم هوښيار انجلۍ.

مينه- وګوره، وګوره حرم څنګه درته ګوري احمد!

شاته مې وکتل چې نظر مې په دوه سترګو کې خښ پاتې شو ژر مې سترګي ورڅخه واړول مينې ته مې سل زره کنځلې زره کي وکړې، او ومې ويل: اه يخ وهلي ماره زړه دې غواړې ويښتان درته وشکوم لېونۍ جنۍ؟

مينې زما لاس راته چونډې کړو او ويې ويل: ورته وګوره څنګه سترګي ستا په لېدوځليږي وااای...

سترګي مي تنګي کړې او يوځل بيا مې نيم نظر ورواچو او په پوسخند مې د مينې خبره تکرار کړل او ومې وويل:" وګوره سترګې څنګه ځليږي" ته يوازې يوځل بيا د دې خبرو د کولو جرعت وکړه مينې، بيا چې هر بلا دې په سر راغله خپله به ملامته يې.

مينې خپل مخ وګرځوو او ويې ويل: پوهيږم ستا سره ټټوکي کول حرام دې، حرم! ستا پر ټوکو سر نه خلاصيږي.

څه مې ونه ويل او فکر مې د احمد خواته شو،احمد زموږ د ټولګيوالو څخه دی، ښايسته جذابه هلک دی او صنف نماينده هم دې، که حق خبره وکړم نو په ټول ټولګي کې يو خاص جذابيت لري! خپل په جذابيت باندې ټول ځانته جذب کړې وه بغېر زما څخه! ما د هغه ښکلا او جذابيت ته زره اندازه هم اهميت نه ورکو ...

رڼا خپل ځای د شپې تيارې ته ورکړو، د ډېر موډې وروسته نن ماښام پلار مې غوښته د يو مهمې موضوع په اړه زموږ ټولو سره خبرې وکړې،البته شايد مقصد يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا وو چې مورې دوه کورنۍ يوځای سره کينوي.
په سترېيا باندې د چای پتنوس می راوخيست او خپل د کوټې په خوا روانه شوم،
همدا چې ورننوتم کوټې ته په نارون مې نظر ولګېده چې په ورخطايې د کوټې
الماری کې د يو شئ په لټه وه، او زما راتګ ته يې بيخې پام نشو..

ټوله کوټه می د نظر لاندې تيره کړه ځنګه ګډوده ده! پوهه شوم مهمه شي ورنه ورک
دی، نارون په غوسه ناکه څهرې ځان سره ويل: اوووف مه خو هملته ايښي وه لکه
چې ځمکې خوله وازه کړې او خورلي دی؟
ما ديواا ته ډاډ و وهل يو غړپ چای مې وڅښه او په کررر مې وويل: امهم کوم مهم
شئ پسې ګرځې؟
زما په غږ نارون راوکتل او ويې ويل: ناا يعنې اه ...
ورته مې ومتل او په خندا مې وويل: اوس نو بيخې يقين لرم چې حالت دې ښه نـ ..

خبره می پوره شوي نه وه چې نارون چيغه کړه او ويې ويل: ای جان، پيدا مې کړو
....
د نارون په ناڅاپه چيغه چاي مې مرۍ کې بند شوو.
— اه نارووو ليونۍ شوی يې، فکر کوم تاسو ټول يو لاس شوي ياست او زما د مړه
کولو پلان مو جوړ کړې که ځنګه؟ ښه ته اوس دا راښکاره کړه چې دا څه شئ دي
چې تا دومره ورته چغې وهل؟ ماته وښايه شابه ..

نارون کتاب زما د سترګو وړاندې ونيو او په موسکا يې وويل: وګوره، دا هم ستا د
خوښې کتاب.
د ليکوال د نوم په ليدو مې سترګې وځلېدې
په لوړ غږ مې وويل: هاکان منکوچ!
نارون- هو سم دې ولوست دا مې نن درته واخيست.
په شوق مې وويل: زه د دې ليکوال مينواله يم! ګران هاکان..
زما د دې حالت په لېدو نارون له خندا څخه شنه شوه، يو شيطاني فکر مې په ذهن
کې راغی ټوپ مې وواهه او د هغې ترڅنګ کېناستم، او د هغې په خېټه مې د ګوتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خوځولو د هغې د تخنه ولو کوښښ وکړو او په خندا مې وویل: اه زه صدقه د دې خور شم.

نارون داسې حال کې چې خپل د خلاصون هڅه یې کول ویې ویل: حرم، پرې مې ږده، خیر دې حرمممممم..
بغیر له دې چې د نارون خبرو ته غوږ شم د زړه له خلاصه په بیحد شوق مې د شونډي لاندی د ځان سره وویل: هاکان، ګران هاکان، زه دې مینواله یم.
زما په دی خبرو او کارونو د نارون او هم زما خندا په ټوله کوټه کې خپره شوي وه، نارون داسې حال کې چې هڅه کوله خپله خندا کنټرول کړې، ویې ویل: حرم، باور وکړه، ته همغه ماشومه یې، هېڅکله به لویه نشې! وګوره حتی اوښکې مې هم له سترګو روانې شوې د ډیر خندا څخه، نور مې خوشې کړه.

په همدې شېبه کې مې مور کوټې ته راغله او ویې ویل: انجونو دا څه حال مو جوړ کړی؟ خبر نه یاستې چې پلار مو تاسو ټول لاندې غوښتې یاست؟ شابه مخکې له دې چې په تاسو غوسه شي، باید سالون ته لاړشې.
په بیړه مې وویل: ګوره مور جانې، دا د نارون ګناه ده ما..
خبره مې لا نه وه بشپړه کړې چې نارون راباندې بالښت وغورځاوه، او بیا راباندې حمله وکړه.
مور مې په قهر او په ټینګار وویل چې باید ژر لاندې ورشو..

د هغې انځور زما په ذهن کې پرون په څیر تازه دی هغه ورځې یادوم چې څومره خوشحاله وو او یو بل تر څنګ وو،که څه هم د ټولو په نظر زه د دې کورنۍ لپاره پردۍ وم، خو زما لپاره دا کورنۍ د خدای یو ځانګړی ډالۍ وه مګر کله ناکله مې زړه کېږي چې کاش د حافظې له منځه وړونکی (الزایمر) ناروغه واې، ترڅو دا هر څه مې، حتی دا خپل ځان مې لا هېر کړې واې!

هغه شپه ټول یو بل ترڅنګ په سالون کې ناست وو، کله چې سالون  ته ننوتم سترګې مې په ادیب ولګېدې چې د مېرمن نورماه تر څنګ داسې په کبر او تکبر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناست وو، لکه په ټوله نړۍ کې نور هېڅوک نه وي بغیر لده؟! د هغه په لیدو مې د هغه شپې پېښه یاد شوه، او دا چې پر ما یې د مرجان" زمونږ خدمتګاري" ګمان کړې وو.د میرمن نورماه نظر د همغه لومړۍ ورځې پشان په منحوس او کرکجن توګه پر ما خښ وو.حتی که د هغی په لاس کې واې خپل د میره د وژلو لامل به یې هم زه بللم!

پرته له دې چې د دوی په اره اندیښنه وکړم، او یا حتا ورت کوم خاص توجه وکړمه د پلار تر څنګ د هغوي د سترګو په وړاندې په څوکۍ کې کېناستم،زما په دې کار سره د ادیب سترګې له حیرت د کاسې څخه راوتې، دا چې څنګه یو خدمتکاره د خپل رئیس تر څنګ کیني! د هغه په نظر زه مرجان وم نو ځکه داسې حیرت یې کړې وو.پلار مې د تل په څیر په مهربانۍ سره خپل خواته کش کړم اوپه سر باندې یې ښکل کړم

اه، په هغه شېبه کې مې یوازې وزرونه کم درلود، چې الوتنه مې کړې وای، زړه مې وځلېده د داسې محبت په لیدو، چې ځانګړې توګه د میرمن نورماه او د هغې د مغرور زوی په وړاندې.بې‌شکه، د میرمن نورماه حالت ګډوډ شوی و.ادیب خوا ته مې په ځېر وکتل ترڅو وګورم د دغه بن بشر په وجود کې څه شی شته چې ځان له نورو جلا ګڼي؟ او دومره کبرجن دې؟د هغه غنم رنګه پوستکی چې د سپوږمۍ په څېر یې ښکلا نندارې ته وړاندې کوله، له حق څخه تېره نشم په رښتیا چې دغه بشر د نورو سره د پرتله کولو وړ نه وو زه د هغه د لوړ قد په ښایسته والې کې ډوبه شوی وم چې د خپل پلار په غږ سره مې له فکرونو راوتم .

پلار- حرم لورې، فکر دې چېرته دی؟
شاوخوا مې وکتل چې ټول ماته ځیر شوې وو،ژر مې سترګې نظر له هغه واخیست او ومې ویل: هغه ما..... اوبخښنه پلار جانه دی ورځو کې مې درسونه زیات شوې، اصلاً مې فکر په ځای نه دی.
پلار- ته د یو وکیل لور یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهه شوم چې د پلار مې مطلب څه وو غوښتل چې زه هم د نورو په څېر د خپل کورنۍ شهرت او نوم وکاروم ترڅو خپلې ستونزې حل کړم، یعنې واسطه بازی د پلار په نوم وکړم لکه د مسیح پشان.

نه مې غوښتل چې پلار مې خبره پوره کړې، په کلکه مې وویل: پلاره، زه غواړم په خپله ورټیا مخکې لاړه شم داسې نه چې ته په ما باور نه لرئ؟
پلار مې وویل: له ټولو ډېر په تا باور لرم، زما ګرانې.

د خوړو بوی په ټول سالون کې خپور شوې وو، او نور هېڅا ته د خبرو کولو اجازه پاتې نه شوه، هغه شپه موږ ټولو د شپې ډوډۍ یوځای وخوړه د ډوډۍ له ختمېدو وروسته، پلار مې د وصیت لیک چې کاکا مې وکیل ته سپارلی و، ټولو ته ولوسته د کاکا د غوښتنې له مخې، د ټولو چارو او کاروبار مسوولیت له دې وروسته د ادیب پر غاړه وو خو زما د پلار تر وکالت لاندې. پلار مې غوښتل چې له دې وروسته دواړه کورنۍ په ګډه ژوند وکړي، خو دی خبره سره میرمن نورماه مخالفت وکړو او ویې ویل چې غواړې بیا وطن پرېږدي او بیرته هند ته ستانه شي.

د میرمن نورماه د دې پرېکړې په اورېدو مې یو راحته او آرام ساه بهر کړه، مګر د دې ښځې د نفرت او کرکې په شتون کې راحته او ارامه ژوند کیدای شي؟ هېڅکله هم نه، شکر چې روانه ده، د هغې نه شتون ماته د آرامتیا احساس راکوي،په خپل ځان سره په جنګ وم چې د موبایل پیغام غږ مې واورېد، کله مې چې د مینې نوم د موبایل پر سکرین ولید، بې له ځنډه مې پیغام خلاص کړ.هغې د احمد د پیغامونو یو سکرین شاټ را لېږلی وو

د راستول شوي سکرین شاټ د پیغامونو په لیدو نه پوهېږم چې ځنګه مې په لوړ غږ خندا وکړه، داسې خندا چې د ټولو د سترګو نظر ما خپل ځانته راړولی وو، په بیړه مې هڅه وکړه چې خپله خندا مخه ونیسم، خو غشی له کمان څخه وتلی وو، له ټولو ډېر د ادیب ځورونکی نظر زما په لوري وو، او کله چې مې حالت جدیت مې ولید، نو تېښته مې غوره وګڼله او خپل کوټې ته لاړم، په داسې حال کې چې په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوټه کې په اوږدو قدمونو کله ښي خواته او کله چپ خواته ګرځېدم او په دوامداره توګه په خپل ځان مې لعنت ویلو.

— اه، حرم احمقې انجلۍ که یوه ورځ دې خپله خوله بنده کړې وای څه کېده؟
ما همداسې ځانته بد رد ویل چې مور مې په قهرجنه څېره زما کوټې ته راننوته، د هغې په راتګ خبرې مې په خوله کې وچې شوې

مور- لورې دا څنګه کار و چې تا وکړ؟ اوس دې زړه یخ شو؟ وګوره چې دی ښځې په مخ کې زما پالنه دې په دوه روپو کړ.
د خپلې خولې اوبه تېرولو سره غوښتل مې چې د خپل دې کار لپاره کوم لامل پیدا کړم، خو د مور خبرې مې خوله رابنده کړه.
مور- کله کله مې شرم راځي له دې چې ستا په شان یوه لور لرم کاش چې د خپل پلار او ورور سره ته هم...

هغې خپله خبره نیمه کې پرېښوده او نور څه یې ونه ویل، چې ما په ټیټ اواز وویل: چې زه هم مړه شوې وم، خبره مې درته بشپړه کړه همداسې ده کنه؟؟
د دې خبرې په اورېدو مې غوږونو کې انګازې شوه د هغې خبره واقعاً زما لپاره ډېره درنه وه. شرم؟ ولې؟د کوم لامل لپاره؟ حتی زما په نه شتون باندې دا راضي وه؟
بغیر د څه ویلو په دردناک مسکا باندې د هغې له څنګ څخه تېره شوم.

} ... ادیب ... {

د نن شپې آسمان هم زما د زړه په څېر خفه او ډک وه خوب مې د سترګو څخه تختیدلې وو، لس شپې کېدل چې د آرام خوب پسې هلاک وم. دا لس شپې سترګې مې د یو راحته او ارام خوب غوښتنه کول، خو ذهن مې دومره د فکرونو څخه ډک

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو چې خوب ته یې نه پریخودم.
لس شپې کېدل چې دردناکو فکرونو زما ذهن نیولی و.
لس شپې کېدل دماغ مې ارام نه درلوده.
لس شپې کېدل چې ذهن مې هیڅ سکون نه و موندلې، زما د ذهن هره برخه په فریاد وه، او زه په سختۍ، یا که ووایم په بې رحمۍ، د دې ټولو په مقابله کې ولاړ وم.

لس ورځې و شوې چې د خپل پلار په پوره نه شتون ژوند تېرېږي، لا اوس هم د هغه نشتون باور نه کوم داسې احساس کوم چې دا یو خوب دی کاش دا یو خوب وای او له خوب څخه د راوېښېدو وروسته مې خپل پلار بیا په غېږ کې نیولې وای، پلار مې زما یواځینې ملګري او د ژوند پناه، د پلار د تګ څخه زیات خپل د مور غمجنې څهره او د سوسن مړاوي څېرې زه تباه کولم.

نن شپه زما کاکا زما د پلار وصیت لیک د ټولو لپاره واضحه کړې چې یوه عجیبه پېښه وشوه هغه انجلۍ چې زما مور یې د دې ماڼۍ خدمتګاره معرفي کړې وه، هماغه انجلۍ وه چې زما د پلار او د کاکا تر منځ یې څو ځله شخړې راوستې وه تر دې دمه ما هغه هیڅکله نه وه لیدلې، خو نن شپه، په داسې حال کې خندل چې زما پلار وصیت لوستل کېده، هغې خپل په دې کار ثابته کړه چې بد ذات هیڅکله نه اصلاح کېږي پوه شوم چې زما پلار پر حق و، چې د هغې څخه یې بد راتلل.

کاکا مې څنګه وکولې شو دغه انجلۍ زموږ کورنۍ سره ونښلوي؟ د ځان د ارام کولو لپاره مې سیګرټ را واخیست، غوښتل مې لوګی کړم دغه ورځو کې ماته دغه سیګریټ ارام راکولې شو، څو شیبې لا نه وه تېر شوې چې هیله زما کوټې ته راننوته زه د دې انجلۍ له دې کړنو څخه کرکه لرم څو ځله مې ورته ویلي دي چې مخکې له دې چې راشي باید دروازه وټکوي، خو دې زما یوه خبره هم پر غوږ نه نیول.

په بیړه مې سیګرټ د خپلو ګوتو منځ کې شاته پټ کړو، ځکه زما کاکا یواځې یو شرط پر ما ایښی دی چې په ژوند کې له سیګرټو لرې اوسېږم زه منم چې دا یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقت او ښرګنده خبره ده چې سیګرټ د نورو زیانمنو موادو لپاره لاره برابروي، خو دغه ورځې له دې لرې اوسېدل نه کیدل. د نازک او نرم آواز سره چې اصلاً زما نه خوښېده ویې ویل: پلار مې تاسو خپل د کار کوټې ته غوښتي یاست.

یوازې می خپل سر وخوځاوه، او د هیلۍ د تلو وروسته په بې حوصلې او زړه نا زړه توګه د کاکا د کار کوټې پخوا روان شوم.

}...حرم ...{

نن شپه ژوند یو ځل بیا زما د زړه پرانیستې زخم د خپلو اوسپنیزو ګوتو تر منځ کې کلک کړ،کاش په هغه ورځ د خپل ورور سره یوځای زه هم مړه شوې وای. تر څو دغه بدبخت ژوند د داسې سخت او ناخوالو سره نه وای اشنا کړې، دا بدبخته ژوند تر نن ورځې پورې ماته یوازې نه زغمونکې دردونه اوکړاونه راکړې مګم هېڅکله هیچاه زه نه وم ځورولې لکه زما مور چې زه څومره ماته کرم نن شپه، هغې زه خپل او د دې کورنۍ په تندې داغ حساب کړم.

دا چې د هغې په یاد راځې چې هغې مخکې له دې ژوند څخه یو خاوند درلود؟ مګر زما مور زما په پلار مینه نه وه؟ نو نن ولې زما د پلار مینه هغې ته ننګ او زه ورته د ننګ داغ شوم؟ لعنت دې وې پر دې مینه،زه له دې بې معنا ټکې څخه کرکه لرم.
ما باید خپل پلار لیدلی وای،د هغه دلیدولو تږې وم، مګر هغه چیرته دې؟؟
د شپې د ملاقات وخت کې باید د هغه د کار په کوټه کې واې، په بیړه مې د دویم پوړ په لور حرکت وکړ، دزینو ګامونه مې په یوه،یوه ووهل تر څو چې د کار کوټې مخې ته ورسېدم،په دوه ځله د دروازه د ټکولو سره سم دستي کوټه ته دننه شوم.

"زما سترګې د ژړا له وجې پړسېدلی وې،کوټه تیاره وه، یوازې یو څراغ وه د مطالعه چې کمزورې رڼا د مېز په سر باندې خپره کړې وه. د کوټې بشپړ چوپتیا د دې سبب شوې وه چې د کمپیوټر د کیبورډ غږ په واضح ډول واوریدل شم، پوه شوم چې پلار مې په کار بوخت دی.دا لومړی ځل و چې پلار مې زما په وړاندی بې پرواه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښخوا سره له دې چې په خپل کار بوخت و،زما شتون يې د ځان سره خوښه وی. هغه خوشبو بوې چې زه يی تل کاروم هغه احساس کاوه او ماته يې فکر کېدو. خو نن!

سترګی می د اوښکو وډکي ښوي ، او پر بارخوګانو مې توې شول.د ژړا او سلګي حال کې مې ويل: زه پوهيږم چې نن شپه مې هيڅ ښه کار نه دی کړی.باور وکړه،ما دا کار په قصده ونکړو، ته پوهيږې چې دا زما يو بده عادت دې چې هيڅ خپل پر حرکاتو کنټرول نلرم.مور مې ريښتيا وايي، زه هيڅ يوه ښه لور نه يم، کاشکې په هغه ورځ زه هم خپل د پلار او ورور سره يوځاې ره شوی وايې، تر څو تاسو ټول زما له شره خلاص شوي وای.زما کوچنيوالی په درد فقر او په يوازيتوب کې تېر شو،خو اوس زما د ژوند هره شيبه خوشحالي اوخوشحالې ده.

تاسو زما لپاره پلار شوئ، حتی خپل نوم دی ماته راکړو" تذکره کې د حاجی صبور لور ياد کيږی" خو زه تل ستاسو د شرم سبب شوم. بخښنه غوارم. تاسو زما لپاره لکه يو اتل ياست، زما افسانوي اتل!!

او بيا مې د ژړا غږ پورته شو، په داسې حال کې چې سترګې مې د ځمکې په فرش کې خښ وې،

چې د کوټې د څپه لرونکي څراغ له رڼا سره پلار مې مخې ته راښکاره شو،د پلار په ليدلو لاس او پښي می ورک کړل لځايه پورته شوم حيرانه پاتی شوم دا څنګه وضعيت دی که پلار مې کوټې کي نه وو بيا دا څوک کوټې کې پکار لګيا وو؟ په تلوار مې شاته مخ واړه وو چې اديب د پلار د کار له څوکۍ څخه ولاړ شو او ماته مخامخ و دربده، د هغه په لېدو حک حيرانه شوم، خدايه! يعنې ما دا يو ساعت و دې وحشي سره خبرې کولي؟؟ اووف، حرم اووف! ډيره غوسه وم زړه مې غوښت همدا اوس لکه پيشو پشان ورباندي حمله واچوم او خپل زړه ورباندي يخ کړم ... ځان سره په جنګ وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار په ګنګس انداز زمونږ دوارو خواته راکتل، د څو شېبو وروسته په جدیت یئ
وویل : دلته څه روان دی؟
خبرې مې په ستونې کی وچی شوی،زما ترمخه، ادیب په هوشیارتیا اوکنټرول سره
وویل:هیلۍ، ویل چی تاسو زما سره کار لرې؟مهمه خبره ده کاکا جانه؟
پلار مې دهغه خبروته پام ونکړو او ماته په راکتلو یې وویل: حرم! لورې تا ژړلې دې؟
کوم چا درته څه ویلي دي؟؟
په شرم سره مې وویل: بخښه غوارم، پلاره. رښتیا هم د نن شپې کار مې د بخښلو
وړ نه دی، خو باور وکړې په قصدا ...

لا مې خبره نه وه پوره کړې چې هغه زما خبرې پرې کړې، په داسې حال کې چې، زما
مخ یی په خپلو لاسونو کې ونیوه په نرمه لهجه یې وویل: د پلار ګرانې! ته زما لور
یې، له ما پرته بل څوک تا ښه نه پېژني، نو ارامه اوسه ما هېڅ بد ګمان نه دې کړې.

د پلار د دومره مهربانې په لیدولو سره کله کله ځان سره وایم"کاش مور مې زما سره
دومره مینه لرلې" هغه مور چې د هغې د پوست او وینې څخه دې لعنتي نړۍ ته
راغلی وم، همغه مور پر ما لعنت وایي، خو هغه څوک چې هیڅ خپلوي ورسره نه لرم،
زما سره ترخپل ځآن هم زیات مینه لری.د پلار د خبرو په اوریدوم مې زړه په ارامه
شو، د ښه شپي پر ویلو سره د هغه ځاي څخه ولاړم خپل د کوټې په طرف..
کوټې ته د ننوتلو سره می پام نارون او هیلۍ ته شو، چې ویده وي.

دا هم زماله بخته!
لږ تر لږه د هیلۍ سره می د بحث کولو حوصله نلرل، په اوږدو ګامونو خپل د بستر
خواته لاړم او څملېدم.نن شپه واقعاً ځان مې یوازی احساساوه، عادت مې وو چې
کله کله داسې خفه کېدم.خدای (ج) ته به مې لیک لیکه.

جالبه ده کنه؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو په دې کار سره به مې احساس کاوه چې هېڅکله به د خدای (ج) له یاده ونه وځم. نن شپه مې هم لیک ولیکه!

ای زما لویه ربه!!

زه پوهېږم ته ما تر ټولو ښه او بهتره وینې، ګوري څومره زما سره بې مهرې کېږي، هسې نه دوې ما په داسې یوه ګناه محکمه کوي چې زه پخپله هم خبره نه یم ورڅخه؟ په دې وروستیو کې د خلکو د بې رحمۍ په وړاندې هیڅ خبره نه لرم، چوپتیا د هرڅه په وړاندې اختیاروم.لکه ګونګې شوي چې یم،یا هم ړنده شوی، یاهم کڼه! نور د وضاحت ورکولو توان نلرم او نه هم حوصله، پوهیږې.؟؟
ناوخته پوهه شوم چې د دی خلکو د فکر کولو او قضاوت کولو مسؤلیت زما په غاړه نه دې.پریږده چی هر څوک هرڅه وایې و دې وایي، زه پخپل بند او قفس کې راحته یم.

هلته کولای سم بی له کومې اندیښنی ژوند وکړم، خوښیږې مې د ماهې په شان اوسم، ماهیان نه خفه کېږي، نه هم ژاړې او نه هم ګیله کوی. یوازی کله چی زړه یې ونیول شې اویوازې شی سمندر پرېږدې اوبرعکس د سند تر پایه پورې لامبو وهي، نور زما لپاره هم دا ژوند د یو سیند په څېر دی.داخلې هغه پریږدم اولامبو وهم. ته شاهد اوسه زماخدایه.!!

د خپل کتابچې اوله پاڼه مې وتړل، زړه مې بیخې سپک شو نه پوهېږم څه وخت خوب راغې او زه یې لځان سره د غفلت نړۍ ته ویوړم.

دلمر رڼا ټول ځایونه نیولې وه، رڼا یې مستقیمه توګه د نرمو وریښمینو پردو تر شا راوتې وه او زما پرمخ لګیدل. سترګې مې د خوبه ډکې وی ژوره ساه مې واخیستل اوحمام ته لاړم، شاور مې خلاص کړو او خپل سر مې د اوبو لاندی ونیوی، تر څو زما د مغز د اورلګېدو تودخه لږ څه ارامه شي.نن د جمعې ورځ وه معمولآ د روخصتي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځو کې ټوله کورنۍ یوزاي راټولېدو او وخت مو تېره وو. غوښتل مې چې لږ خپل ځان سم کړم د ارایش او ځان جوړولو سره مې مینه درلوده.

هغه کالۍ چې سوسن راته ډالۍ کې راوړې وه هغه مې انتخاب کړل ،کالو رنګ یې سور یاقوت پشان لکه تور رنګه انار داني وي زه په دې رنګ باندی مینه یم. خپل ویښتیان مې خلاص پریښودل او ټیکرې مې پر اوږو واچوي، غوښتل مې چې یو ځل پخلنځي ته ورشم. دهلیز مې په کراره قدمونو تېر کړ، چې ناڅاپه د مېنې زنګ راغې.

وای، چې د هغې نوم په لیدو مې د تېر ماښام کیسه رایاده شوه.په هماغه شپېه چې ځواب مې ورکړ، خوله مې خلاصه کړه او هر څه، ښه او بد، چی وه ورته می وویل" خیرنې، جوګي، بیعقلې یخ مارۍ" د مینې د خنداګانو غږ د تلیفون تر شا اورېدل کېدو چی لا یې زما اعصاب خرابول.
په غوسه مې وویل: خپل پر مرګ باندي خندا کوې؟
مینې په خندا وویل: نه ګرانې دا خو ستا د واده خندا ده، احمد جوو دې د کور ادرس غواړې، در روان دې ترڅو تا خپل ناوي کړې.

د دې خبرې په اورېدو سره سترګې مې له ځایه راووتلې په همغه غوسه او حیرت مې وویل: دا هلک څومره بې شرمه دی، ولا!
مینې په کنایه سره وویل: د بې شرمه څخه خو خبر نه یم، خو عاشق ضرور دې.
– مینې پخداي قسم یوځل بیا دا خبره وکړې هغه وخت بیا خپله ښه پوهیږې، چې څه کار کوم.
مینې په خندا وویل: زما یې ستا پر واده څه؟ نور نه وایم... ښه، اوس ووایه، ولې دومره غوسه یې؟

په غوسه مې وویل: هېڅ مه پوښتۀ، یو وحشي دی، ژوند یې را حرام کړی دی، البته هغه زما د پلار وراره دی، چې له ما سره هېڅ تړاو نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما خبره لا مکمله شوی نه وه چې پام مې خپل د ولاړې ځاي ته شو چې مخامخ د اديب د کوټې په وړاندې ولاړه وم! د هغه د کوټې د نيمه خلاصې دروازې په ليدلو پوهه شوم چې بيا مې هم خپل ځان مصيبت کې واچوه، په لاس مې تندي ووهلو خپل مبايل مې بند کړو غوښتل مې ژر تر ژره وتښتم، خو بدبختانه له شا يې راباندې غږ وکړ.

اديب- سمه پېژندګلوي دې وکړه، کليوالې جينۍ! ته زموږ له کورنۍ سره هېڅ تړاو نه لرې. يوه فرصت طلبه يې چې د کاکا د خواخوږۍ له برکته مې دلته پاتې شوې يې.
د هغه د دې خبرو په اورېدو مې د ننه اور واخيست، لکه وچ لرګي چې سوځي. آن د سوځېدو لمبې مې په غوږونو کې دروند غږ جوړاوه.
په تروو تندي  مې وويل:ته پوهېږې، ښاغلی اديب؟ ته، پلار دې، او ټوله کورنۍ دې يوازې زما د پلار له برکته تر دې ځايه رارسېدلي ياست! آه، هير مې شو درته ووايم! هېڅ راته مهمه نه ده چې ته زما په اړه څه فکر کوې!

که وغواړې يا نه، زما نوم د پلار له نوم سره يو ځای يادېږي—هغه مشهور سوداګر او د خلکو محبوب وکيل، حاجي صبور برسام. ټول ما د هغه لور ګڼي، دکاکازو!

دکاکا د زوی لفظ مې ښه کش کړو چې د اديب مخ سور شو زما خبره داسی وه لکه ناڅاپه چې يی پر زړه مرمی ولګيده، پداسې حال کې چې د هغه په شونډو باندې يوه رشخندی مسکا وه، په مضريت يې وويل: له ما سره لوبې مه کوه کليوالی جينۍ، که نه، ستا ژوند به درته حرام کړم! شايد ته په دا خپل ناز، دوکه او چلبازۍ خبرو سره کاکا ته مې چل ورکړې شئ خو ماته هېڅکله نه!"

غوښتل مې يو غاښ ماتونکي ځواب ورکړم چې حميده ترور راغله او د تل پشان زما په ليدو يې ماته جان او قربان کړ، او ويې ويل: ای ماشاء الله، زما ښکلې لور، ان شاءالله چې تل خوشاله او کاميابه اوسی.
زما په شونډو کې يوه خوږه مسکا راغله، او د خپلو لاسونو په واسطه مې ورته مچکه واستول او روانه شوم ورسره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوکیۍپه شاته کشولو سره مې ځان د مېز ترځنګ ځای پر ځای کړ. مورمی د مېز په تیارولو بوخته وه. خپل د مور هلو ځلو ته ځېر شوم، څنګه کولی شي دومره ارام او بېپروا عمل وکړي؟ زه نه پوهېږم!!!"

یعنې زه واقعاً هیڅ یم؟ حتی یو ځل هم خپلو خبرو لپاره خپه نه شوه؟ کله چی ټول د میز ترځنګ سره راټول شول ټولو په ارامی ډوډی خوړل چی پلا می په لوړ غږ وویل: سبا ته ټول د پلار باغ تخاری ته ځو غواړم چی دا غم هیر کړي نور باید ټول له دې غم سره ځان عادت کړي. ماشومانو تاسو خپل د درس لپاره مه راځې یوازې نارون کولی شي راشي.

ادیب پداسې حال کې چې د پنجی په مرسته یی د پنیر ټوټه خولې ته واچوله، په درنشت سره یی وویل:ما وبخښئ، زه نه شم کولی ستاسو سره راشم. ما په کافي اندازه وخت تېر کړی دی.زه غواړم چې ژر تر ژره کارونه وشی. سربېره پر دې، نن شپه زما نږدې ملګری پلان لری چی وطن ته بیرته راشی، باید کابل کې واوسم.

ما له ځان سره وویل هدیري ته لاړ شه! چا پر تا باندې ست کړي خیرن وحشي. پداسې حال کې چې له ځانه سره په زړه کې مې خبري کول او په کش مکش وم چې د پلار غږ مې واوریده: حرم لورکۍ، له ځان سره خبرې کول دې له کومه وخته پیل کړي؟

خپل شونډه مې وچیچل، لکه چې خبري مې یوځه پورته کول چې دوی هم متوجه شول؟په دې ورځو کې واقعاً لیونۍ شوې وم، عجیبه کارونه می کول. بې له دې چې څه ووایم، خپلې سترګې می ښکته واچولې او د چای پیاله مې په لاس کې ونیوله.

}... ادیب ...{

نن شپه مې هیڅ خوب ونشو کړی، تل د حرم د خبرو په فکر کې وم. د هغه خبره مې یوه شیبه هم له سترګو نه لرې کېده، داسې احساس مې کاوه لکه چې د هغه انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په سترګو کې نقش شوی وي.عجیبه ده! تر نن پورې ما له هیچا سره دومره ژوره همدردي نه وه احساس کړې، کله مې چې د هغی هره خبره واورېده، نو کاکا مې په حق وباله، چې هغې ته خپل لور ووایې.

سهار وختي، د لمر د رڼا په ځلېدو لګیا وم خپل د ماشومتوب تر ټولو نږدې دوست سام سره  مې خبرې کولې. سام ویل غواړی د یوې مهمې موضوع اړوند راسره خبرې وکړی،ما غوښتل چې دکوټی دروازه وتړم تر څو خبرې یې محرمې پاتې شي. چی د حرم په لیدلو سره مې حیرت وکړ. داسي حال کې چې شنه جوړه جامې اچولې وه خلاص ویښتیانو یې پر اوږو سیورې غوړولې وو، د عطر ښکلی بوي یې د سهار نرۍ شمال او ښکلی ورېمې په لوبه نیولې وو.

تر نن پورې ډېرې نجونې له ما سره ملګرې وې، خو هیڅ یوه یې د حرم په اندازه ښکلی نه وه.په داسې حال کې چې هغه دهلیز ته په آرامه ګامونو روانه وه او په خپل موبایل کی خبرې کولې، ما ځان شا ته کړ. کله مې چې خبرې یې واورېدې، پوه شوم چې هغه هومره معصومه نه ده لکه څنګه چې ځان ښکاره کوي؛ بلکې شاته یې د شیطان په څېر بله څېره پټه ده.په خپلو خبرو سره یې زما اعصاب داسې نیولي وو، لکه خپلو د ګوتو ترمنځ چی ټینګ فشار ورکوي، دا کلیواله انجلۍ! زما ټول فکرونه راخراب کړل.

ما غوښتل چې نن هوټل وګورم، ځکه چې د کاکا د کاروبار شریک وم، پلار مې یوه پخوانۍ ارمان درلود چې د وطن نه بهر هوټلونه جوړ کړي ،ما د هغه دا ارمان د پوره کولو لپاره سخت کوښښ کاوه، خو اوس می پلار خاورو لاندي تللی و.

}... هیله ...{

له هغه وخت څخه چې دې نړۍ ته راغلی یم او ځان مې پېژندلې، ما د ادیب سره مینه درلوده.هر وخت می په خپلو فکرونو کې له هغه سره د خیالونو نړۍ جوړوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

حتا زما کاکا ښځه چې چندان ښه ښځه نه وه هروخت به يې زما د مور سره جنجالونه کول، مګر اديب د لاسته راوړلو لپاره بهترينه لاره د نورماه ميرمن راضي کول وه.

زه خوشحاله وم چې اديب له دې وروسته په وطن کې ژوند کوي، د يوه معشوق لپاره، آيا خپل د عاشق سره هره ورځ ليدلو څخه بل کوم شی تر دې غوره کيدلې شي؟ د اديب په مقابل کې زه ډېر بخيله وم. حتی که چا د اديب ستاينه هم کړې وايې زما بخيلی کېدل.

په هغه هېنداره کې چې يې ځان ته کتل د هغه هينداری سره مې لا بخيلي کېده! ان د سايې سره يې چې تل به ورسره وه بخيله وم! هغه يوازې زما و! زما سترګې يې هېنداره وې....
خو د هغه سره او بې خوند رفتار زه لکه يخ پشان اوبه کولم.
نن ددې دپاره چې زموږ ټاټوبې ته ولاړ نه او د سفر څخه يې انکار وکړو بېحد حړ خوشاله شوم، نور مې د هغه  د بيلتون توان نه درلود.

}... حرم ...{

هغه ورځ ټول د يوه اونۍ په سفر تخار ته روان شول. ما خپل کتاب په نوم د "درد هميشه راه را نشان ميدهد" راواخيست او حويلي ته لاړم، ټول د سرو ګلوونو څنګ ته ناست وه، يو ځای مې غوره کړ او په مطالعې باندې لګيا وم چې يو شناخته اواز مې تر غوږ شو..
— ښه نو خپل د خوښې وړ ليکوال کتاب دې پيدا کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابراهیم و زما د پلار ساتونکي څو کاله کیږي چې زما د پلار سره همکار دې تقریباً ۲۹ کاله عمر لري. تورو سترګو او ښکلي اندام یې اصلي عمر پټ کړی و .
په خیر یې راته کتل!!
په حیرت مې وویل: ته نه وې تللی؟

ابراهیم- نا، وکیل صیب وغوښتل چې د ښاغلي ادیب سره پاتې شم.
په مسکه خوله او سر ښوربېده مې بسنه وکړه.
د ابراهیم په تلو هیلې په مکر وویل: تالې منده یې، ګوره هر یو په خاصه توجه تاته ګوري. ان ساتونکي!
د کتاب څخه مې نظر واخیست او هیلې ته مې وکتل او ومې ویل: فکر نکوم چې دا به د ابراهیم لومړی ځل وي چې زما سره غږېږي؟!
هیله- نه ګرانې پوهېږم داسې څه نه دي خو زه د عادت څخه مجبوره یم، څه وکړم تل منفي سوچونه کوم.

اوږې مې پورته کړې په سړه سینه مې وویل: چا درته ویلي چې زما په اړه فکر وکړې؟ بهتره داده چې خپل کار ته دې پام وي.
نارون چې په حوصلې زموږ دعوو ته غوږ نیولی وو په تروش تندي یې موږ په دې چې پلار مو ددې موضوع نه خبر کړي وډارولو.
نارون- زه ستاسې د همدې کارونو دپاره دلته پاتې شوم ددې دپاره چې د یوې اونۍ سفر مې ستاسو د ساتنې لپاره پرېښود بس دی!! قسم دی که یو وار بل د پیشو او موږک په شان یوبل سره ونښتئ پلار مې خبروم هغه وخت تاسې پوهېږئ او کار مو.

کتاب مې راواخیست او خپل د کوټې خوا ته روانه شوم. پر زینو راپورته شوم اد د دریم پوړ دهلیز ته راورسېدم د ادیب د کوټې تر مخ تر تېرېدو یو شیطاني فکر مې سر ته راغی ، څلورو خواو ته مې وکتل په غټو او کړارو قدمونو کوټې ته ننوتلم په تلوار مې هغه الماری چې یې ضروري سامان پراته وه لارم، دده پر کار مې شک درلود باید مې څه تر لاسه کړي وای په تلوار مې الماری ولټل خو غیر له جامو بل څه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه.اووف اووف دا څنګه کېدای شي، په همدې شېبه مې سترګې د مېز پر سر ولګېدې، په جینګه خوله مې وویل: ړوند د خدایه یوه سترګه غوښته خو تالې ته ګوره! کمپیوټر کې د مېز پر سر نیم خلاص پورت و.

د کمپیوټر پاڼه روښانه وه تالې ته مې ګوره، د کمپیوټر پر صفحه یې خپل عکس چې فکر کوم هوټل کې یې اخیستی وو ایښی و، یوه شېبه هغه عکس ته ځیر شوم پر شونډو مې مسکا راغله! خپل د جینګې خولې په راتولو سره چې خپل د ځان سره په جنګ وم ومې ویل: اه بیعقلې حرم دا ستا وینو ته تږی دی او ته ورته خاندې. د ټولو فایلو په چک کولو مې یو څو عکسونه پیدا کړه چې په لېدو یې جام پاتې شوم. کرار مې ځان سره وویل: وا ښاغلې ادیب خان تر دې حد نو فکر مې نه وو کړې درته.

یو نجلۍ چې شنې سترګې او طلایي ویښته یې درلوده د ادیب په غېږ کې په داسې حال کې چې پر مخ یې ښکولوی ولیده، معلومېده چې سلفي یې د یادګاری دپاره اخیستې وه. په پوسخند باندې داسې حال کې چې هغه عکسونه مې مبایل کې کاپي کول کرار مې ځان سره وویل: وا ادیب خان صیب تاسو خو خارج کې پوره باغونو ته اوبه ورکړې!
په همدې فکرونو مې بیرته هر څه منظم کړه او لکه د برق غوندې د کوټې نه لارم خو شېبه نه وه تېره شوې چې د شالخوا یو اواز ځای په ځای میخ کړم ..
— دا دومره تلوار د څه د پاره؟ د کاکا لورې؟
د ادیب د اواز په اورېدو مې وینه بدن کې وچه شوه، وای داسې نه چې لیدلې یې اوسېږم؟ نه نه امکان نه لري ..

د هغه خبرې ته مې پام ونکړ او قدمونه مې لا چټک کړه غوښتل مې د هغه ځای نه لاړه شم چې په غوسه ناکه لهجه یې وویل: په کوم جرئت زما اواز نا اورېدلی نیسې؟

شا ته مې وکتل زما مخ ته ولاړ و او په قهر او غوسه یې راته کتل، د هغه د داسې کتلو توان مې نه درلود نیوهېږم دا کوم حس وو کله چې به هغه ماته ځیر کتل زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس او پښه کېدم نه دا چې زړه کې مې وېره درلوده ...نه!! هیڅکله خو پوهېږم چې ما لیونۍ کوي.په کرارو قدمونو زما خوا ته نږدې کېدی خو زه یو قدم شا ته تلم تر دې چې د دیوال سره ټکر شوم..په داسې حال کې چې لکه باز وزرونه زما پر سر تاو کړي وه، په تیز نظر او معناداره مسکا یې وویل: ته په څه دومره مغروره یې کلیوالې نجلۍ؟

یوازې مې په تروش تندي او غوسې ورته کتل.
بیا یې په مکارۍ وویل: څه شوي ولې داسې راته ګورې؟
په هغه غوسه ناکه نظر مې ورته وکتل او په تیزه لهجه مې وویل: یو ځل مې درته وویل، او اوس د اخر ځل دپاره درته اخطار درکوم دلته لندن ندی چې ته پکې لوی شوی یې او زه د هغه نجونو په رقم نه یم چې ستا په شاوخوا کې لکه پتنګ ګرځېدې ښه ده چې دې وروسته دې خپل کړنو ته پام ولرې. د افغانستان دې او دلته غیرت او ناموس شته، حلال او حرام شته، نو خپل کړنو ته غور کوه ادیب خان.

په دسې حال کې چې په شیطان خندا یې زما د ځورولو کوښښ کاوه په شرارت یې وویل: نه چې فکر کوې چې زه دې په سترګو او ورېځو مین یم؟!

لاسونه یې د دیوال نه لرې کړل او په لاس یې پر مخ تېر کړ او په خندا یې وویل: بده نه یې، خو په دې حد کې هم نه یې چې د حسن ښاپیري درته ووایم کلیوالې نجلۍ.

بغیر د نور څه ویلو زما د څنګ څخه تېر شو، د هغه تر تېرېدو وروسته مې یو اوږده ساه وایسته او پر دیوال مې تکیه وکړه، د ژبي لاندې مې وویل: وحشی ځناور ، بد ذات ..

او په تیزو قدمونو مې ځان خپلې کوټې ته ورسوه بیا مې هغه عکسونه چې اخیستې وه یو یو وکتل د ادیب عکس مې نږدې کړ او ځان سره مې وویل: ولې تل د هغه په لېدو لاس او پښه کېږم؟ ! زړه مې درزېده! ولې یې نظر ما خاموشه کوي؟! زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ژوند مې د الله په لاس کې دی او د چا کیسه کې نه یم ولې دده په مقابل کې
بې واکه کېږم ؟؟؟
ولې؟؟
ولې؟؟

وضعیت مې ګډوډ وو د دې ولې په ځواب پسې ګرځېدم، اسمان کې تیاره خپره
شوه، ستورو خپل د روښنایي څادر پر اسمان خپور کړی و، د لیوانو اوازونه چې
زیاتره یې د محافظت دپاره وه څلورو خواو ته اورېدل کېده، لا مې هم زړه تنګ و،
پر کټ څملېدلې وم او په سوچونو کې ډوبه وم. د دروازې ټک ټک د فکر د نړۍ نه
راوایستم په نه زړه مې وویل: دننه راشه!
د هغه په لیدو مې ځان سم کړ او سمه په ځای کې کښېنستلم، چای یې لاس کې وه
او کرار زما څنګ ته کښېناسته ...

په مهربانۍ یې وویل: درته په اندېښنه وم مریضه خو به نه یې؟
په جبر مې وخندل او ومې ویل: همم لږ مریضه وم خو ستاسې راتګ سره او (اشاره
مې چایو ته وکړه ) دې سره ښه شوم.
ویې ویل: بیا دې مور سره جنګ کړی؟

د چایو نه مې غړپ وکړ ومې ویل: تاسې هم فکر کوئ زه بده یم؟ او کاش چې
ژوندې نه وای هاا؟!
تندی یې تروش کړ او ویې ویل: چا ویل ! ته پوهېږې چې راته ګرانه یې زه کوم اولاد
نه لرم خو خدای ته ماته راکړې پوهېږې ته مې د لور غوندې یې.
په داسې حال کې سترګو کې مې اوښکې ډنډ شوې ومې ویل: نو مور مې ولې دومره
ظالمه ده؟ ایا د هغې سینه کې زړه نشته ډبره ده؟!
خپل سر مې د هغې پر زنګنو کېښود او ومې ویل: حمیدې ترور زړه مې هېڅ ارام
ندی تاسې ووایاست چې په ما څه شوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسې حال کې چې زما پر ویښتیانو یې د مینې لاس تېراوه مسکه شوه ویې
ویل: حرم د مینانو غوندې خبرې کوې!
د سر په پورته کولو مې په کټ کټ وخندل او ومې ویل: وای حمیدې ترور ژوندۍ
خو اوسئ ګورئ څنګه مو زه وخندولم. ښه اوس نو راپورته شئ چې زړه مې کیک ته
تللی هغه هم ستاسې د لاسونو هله نو پخلنځي ته لاړ شو.

د هغې د خبرو په یادولو مې بیا وخندل او پخلنځي ته لاړو.

سبا ته په خوښۍ پوهنتون ته د تلو د پاره تیاره شوم یوازینۍ ځای چې زه یې
خوشاله کوم پوهنتون و او د هغه یوازینۍ دلیل هم زموږ زندان مانند کور و. د
میني سره یوځای ټولګي ته ننوتلو زموږ ځینې ښوونکي خارجي وه یو د هند نه و
چې موږ ته یې تدریس کاوه یو جذاب لوړ قد لرونکی شخص و او نظرد نورو
ښوونکو ته یې ښه رویه کوله.مینې لاسونه د زنې لاندې کېښودل او په افسوس او
حسرت ناکه لهجه یې وویل: د دې کس جذابیت ته ګوره حرم! که د دین او مذهب
خبره نه وای اوس به دې دغه اوخښی وای.

پر اوږه مې ووهله او ومې ویل: خیال پلو برېږده او انسان غوندې ځای کې دې
کښېنه.

مینې خپل اوږه باندې لاس تېر کړ او په مکارۍ یې وویل: اې خدایه دا ټول ظلمونه
دې یوازې ما باندې پیرزو دي کاش چې څوک ماته هم وګوري هممم؟؟
د مینې ددې خبرو نه ستړې وم ..
– که پوهه شم چې دغه هندو د بت او غوا عبادت نه کوي نکاح مو زه درترم.
خبره مې لا خوله کې وه چې مینې لوړه چیغه کړه په ځای کې و لړزېدم او په حیران
نظر مې ورته کتل، مینې پر مخ کلک ښکل کړم او ویې ویل: اې په خوله دې برکت
حرم جانې، خدای دې ستا په خوله آمین کړي چې دا کافر مسلمان شي، ګوره ګوره
اندام ته یې، قد ته یې وای. وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

— بیشرفې، خیرنې ته انسانه کېږې نه ها؟؟ یو وار په خلاصو سترګو ورته وګوره رنګ یې تک تور دی او ته بیا د هغه حسرت خورې او مینه یې وربانديې؟
مینې په جینګه خوله وویل: ناحقه یې ندي ویلي چې د مین سترګې ړندې دي.
د هغې په خبره لوړ اواز مې وخندل او په شیطنت مې ورته سترګه ووهله او و مې ویل: چا ویل مین ړوند دې؟ و ګوره ګنجې هم دی د استاد سر ته وګوره!

د ښونکي په نژدې راتلو مینې خپل اواز کښته کړ او ویې ویل: حرم دا راج کمار"شهزاده" خو هیڅ راباندې خبر هم ندی څه وایې چې خپله لاس په کار شم او اختطاف یې کړم کنه همم؟
د خندا د لاسه مې لاس خپل پر مخ ونیوه ځان مې نشو کنټرولولای مینې تل په ټوکو کې ورته راج کمار ویل د خندا د لاسه په هوا وم همغه خندا، خندا کې مې وویل: ته او خدا مینې بس کړه نور.
مینې په مکارۍ وویل: ولې بس کړم نه ګورې چې غوارم دا راج کمار بندی کړم کرار او په کش یې وویل: د راج کمار تښته ول.

نور مې د خندا کنترول د لاسه ووت په کټ کټ مې وخندل مینې هم خندل داسې چې د سترګو یې اوښکې راتلې مینې ته مې وویل: خدا دې ووهه مینې مړه دې کړم د خندا.

مینې په غم او حسرت وویل: هوو زه ددې راج کمار په غم او درد کې مرم او ته د خندا د لاسه مړه شه شرم وکړه حرم دغه ستا دوستي ده چې د ملګري په حال خاندې؟؟!!
په کنایې مې خبره ځیني تکرار کړه: شرم وکړه.
د تل په رقم درسي ساعتونه یو په بل پسې تېرېدل د مینې سره د پوهنتون کفتریا کې وم چې یو شناخته اواز مې تر غوږ شو ..
— سلامونه ملګرو..
احمد و سر مې مینې ته نژدې کړ او مې ویل: یو همدا کم و .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه بغېر له دې چې زما خبرو ته کومه توجه وکړې هغه زمونږ سره ناستې ته دعوت کړې، د هغه د کتلو مې هېڅ ښه نه راتلل، بانې پسې ګرځېدم تر څو د دوی د منځه پورته شم، مبایل ته مې زنګ راغی نارون وه ژر مې ځواب ورکړ او مې ویل: سمه ده دستې راغلم.

د برق په شان مې خپل شیان راواخیستل او مینې ته مې وویل: هله نو چې ځو شپه خو نه کوې دلته؟

د مینې نه مخکې احمد پورته شو او ویې ویل: زه موټر لرم تاسې به ورسوم.،!

ددې انسان دومره شلګۍ او سریش توب ته حیرانه وم، مینې سر راته نژدې کړ او ویې ویل: حرم جانې اوس څه کوې؟

په اوږه مې چنګارې کړه او مې ویل: ضرورت نشته فکر کوم مونږ هم موټر لرو؟

د مینې لاس مې ونیوه او په تیزۍ د هغه ځایه لاړو په داسې حال چې په چټکو قدمونو د پوهنتون څه وتلو مینې وویل: اه حرم دا هلک رشتیا هم په تا مین دی او هو زما خو ډېر خوښ شو ښایسته، جذابه او لوکس دی.

خبره یې پوره شوې نه وه چې غاښونه مې وچیچل او په غوسه مې وویل: مینې خوله دې بندوې که یې زه درته بنده کړم؟ ها!!!

ورځې یو په بل پسې تېرېدې ټوله کورنۍ د سفر څخه راغلې وه. د سوسن او مسیح په اوسیدلو سره د کور فضا بیخی بل ډول شوې وه. تل د دوی په ښه اخلاق او شوخی سره د کور صمیمیت ډېرېده خو دا ورځې ادیب او پلار مې لږ زمونږ منځ ته راتلل، میرمن نورماه پریکړه وکړه چې درې ورځې وروسته به بیرته خپل کور ته سفر وکړي. په دې وخت کې مې پلار او ادیب سالون ته راننوتل لومړی ځل و چې ادیب افغانی جامې یې اغوستې وې یو شیبه مې ستر تر پښو ورته وکتل تورې جامې چې د هغه غنمرنګۍ ته یې ښکلا ورکړې وه  مخ ته مې ځیر ځیر وکتل سترګې مې د هغه په سترګو کې غرقې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې د هغه په هر وار ليدلو زه خپل عقل د لاسه ورکوم؟! ټول فکر مې دده خواته ځي د سوسن په اواز مې فکر شو ..
سوسن- حرم د چوپتيا دې هو وګڼم؟
په حيرانۍ مې وويل: يعنی څه سوسن د هو؟
شاوخوا مې وکتل بغير له سوسن څخه هيڅوک هم نه وه ..

يعني ما دومره ژور هغه ته کتل چی په تګ يی لا پوهه نشوم؟ د هغه خبرو په تحليل مصروفه وم چي ذهن يي راته ګډوډ کړي وو.
سوسن- ما تر اوسه د چا سره خبري کول حرم؟
خپل شونډه می د غاښ په کونج وچيچله او په ناقراره څهره می وويل: وبخښه سوسن! باور وکه نن ښه ورځ نه وه ، حال می هيڅ ښه نه دی وروسته به بيا خبری وکړو.

او ژر له ځايه ولاړه شوم او خپل د کوټی خواته ولاړم. څو قدمه د دهليز څخه لری شوي وم چی يو غږ زه يی خپل خواته کش کړم.
ــ چا درته اجازه درکړي ها؟ چا؟
د اديب اواز وو چی په غوسه او تروش تندی په لوړ اواز يی خبری کول. پوهه شوم چی هرو مرو يوه مهمه پيښه شوي چی د هغه په مزاج ښه نه ده لګيدلي. په لوړ قدمو او کرار کرار د ګوتو په نوک باندی دروازی ته نږدی شوم. خپل ملا می ښکته کړه او غوږونه می هم ښه تيز کړه چی د دوي دوو خبري واورم. په کامله توګه دروازی کی نښليدلې وم چی ناڅاپه دروازه شاته خلاصه شوه او زه د هغه سينی ته ولاړم.

د ډيره شرمه د يخ په شان د ويلې کيدو په حال وم او د دننه لکه لرګی سوځيدم. داسي په دروند نظر يي راته کتل چی احساس می وکړ روح می له بدن څخه وځی. خپل سترګي يي تنګې کړې او په شک منده لحجه يي وپوښتل: څه کوي؟ ته صبر ته زما جاسوسي کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسی حال کی مې چې هغه کول د ده مخې ته د دریدو توان پیدا کړم ، په کنترول شوي غږ مي وویل: څه وايي ته، نه چي خپل عقل دي د لاسه ورکړي؟

پوهه شوم چی ځان مې مصیب کې واچو، آه بی عقلی حرم څنګه دي داسي کار وکړ؟خپل په زړه کي د ځان د سپکاوي په حال کي وم چي زما د لاس بند یی ونیول او په کلکه یی اتاق کي واچولم او د دروازی د تړلو سره ، د ځمکی نه وپریدم. اوس مي هم لاس د هغه په غبځ او نارینه لاسونو کي و، هر څومره چي مي هڅه کول خپل لاس وژغورم او د هغه د لاسونو نه يي وباسم خو هغه نور هم په غوسه زما لاس کلک نیو په ناڅاپه حرکت کې زما لاس زما تر شا کړو او یې خپل غیږی خواته کش کړم! او اوس په کامله توګه د هغه په غیږ کي وم. زړه می بی واره درزیدي. ویره ، وحشت او د زړه درزا مي ټول بدن لرزول د دي په فکر کي وم چي زما د زړه غږ به ما د ده مخکی نور هم ناتوانه او بیچاره کړی.

خپل غاښونه یی پر یو بل وچیچل او په غضب یي وویل: ته څوک یي چي زما سره لوبی کوي هوم؟ خپل ځان دي څه شی فکر کړي؟

هغه خبری کول خو زه د هغه د قهر او غوسې ډک سترګو کی ډوبه وم ، هر کتل یی زما ساه په ستونی کی نیول. زما ټول فکرونه يي خپل تر واکمنی لاندی نیولی وه ، احساس می ده ته د ټولو سره توپیر درلود او بل رقم وو ؛ نه پوهیږم دا احساس به په ما څه وکړي؟بیا یی زه خپل خواته کش کړم او زما لاس یی نور هم ټینګ ونیوي چي آخر طاقت می ونه شو او غږ مي پورته شو: فکر کوم غوږونه دي درنه دي؟ ومي ویل هیڅ کار مي نه درلود اوس مي هم پریږده.

یو خاص او غولوونکي مسکا یی وکړل او خپل د وریځو د پورته کیدو سره يي وویل: اوو د کلی نجلۍ د اور سره لوبی مه کوه که نه پخپله به وسوځیږی.

زما لاس یی ایله کړ او زه هم په تلوار د دروازی خواته روانه شوم چي اوږه می د یو چا سره ټکر شوه ، چی پورته مي وکتل سترګی می د نورماه په غضبناکه او قهرناکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظر ولګيدل. نور می د جنجال حوصله نه درلود په بيره او لرزانده بدن د هغی د ځنګ څخه تيره شوم.

{ ... اديب ... }

د سام سره می خبری کول ، نن شپه سام ميلمستيا نيولي وه او زه يی هم بللي وم، خو دومره کارونه می ډير وه چي بيخی د تګ حوصله می نه درلود خو د سام د ډير ټينګښت له امله می پريکړه وکړه چي لاړ شم. غوښتل می د کوټې نه ووځم چی حرم سره می ټکر وکړ او پوه شوم چي د دروازی شاته زموږ خبرو ته يی غوږ نيولي وو. عجيبه نجلی وه تر اوسه می داسی نجلی نه وه ليدلی. زړوره، سرکښ. کله ناکله تر ټولو تازه او خوشاله او يو وار داسی غمجنه او ډوبه چي ويل دي ټول آسمان د دي پر سر وليدلی. د دی داسي رفتار سره کله کله می احساس کاوه چی زما د مغز د توازن رشتې يې خپل په ګوتو کي نيولي او زما د قهر او غوسه اور ته نور هم لرګی اچوی.

همدا چی د لاس بند می ورڅخه ونيو او خان خواته مې راکش کړل زما سينی ته نږدی شوه او کرار آخ يی وويل او څهره يی د درد له امله تريپه شوه. اوس د هغې مخ پر مخ او نفس په نفس يي ولاړ وم. نفس نفس يي واهه لکه چی ډير حد يی منډه وهلي وي. سترګی يی هغه کندې وی چی انسان يی ډوبول. تر اوسه داسی زړوره نجلی می مخی ته نه وه راغلی. دا تر نورو نجونو ډيره زړوره او سرکښ وه نوری نجونی ژر ماته خوړل خو دی مقابله کول. پر تندی يی خولې بهيدل. غوښتل می ماته يی کړم او مجبوره يي کړم چی راته زاری وکړي خو نه ، دي خپل د هم هغه وحشی سترګو سره زما سترګو ته کتل.

بيا چی می خپلی خواته کش کړه د هغی د بدن يو نرم او په زړه پوره بوی مي په پزی ولګيد. داسی په زړه پوری چی زما ټول فکر او دماغی سيستم يی خراب کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بی له دی چی زه خپله وغوارم یو ژوره ساه می واخیستله داسی ژر بوی زما سږو ته دننه شو چی د تنفس سیستم یي هم راته خراب کړ.او خدایه دا نو څنګه په زړه پوری بوی وو؟ د لاس بند می نور هم ور ټینګ کړ چی په لوړ غږ یي آخ وویل. د ځان څخه می لری کړه په رښتیا هم بد قسمته وه ځکه اوس می مور...
پوهیدم چی زما د مور د نظره پټه نه ده

نورماه- زویه دا نجلی ستا په کوټه کی....؟
ادیب- موری هیله کوم.
نورماه- پوهیږم چی په لندن کی دي څه ګلانو ته اوبه ورکړی، خو دلته خپل پام نیسه، او بل بیا دا نجلی هم د هم هغی مور شیدی رودلې" خوړلې" کومی چی ستا کاکا لکه یو ماشوم خپل په منګولو کې نیولې او لوبوي ورباندې کوي، زه هم ښځه وم ولې ما ستا پلار کنترول نشو کړې؟ چې یوه ورځ زموږ سره ښه رفتار وکړی؟ خو دوي شیطانان بل رقم ستا کاکا یی راټینګ کړی. ګوره پام دی وي ...

ادیب- موری بس دي نو غوارم ویده شم ، ښه شپه.

مور می چی د کوټی ووته خپل پر تخت پریوتم. یو کار چی ډیر پکی ښه، ماهر او تکړه وم ، هغه نقاشی وه. ژر پاڅیدم ، قلم او کاغذ می راواخیست تر څو هغه څه چی زما په ذهن کي دی ، په کاغذ یی وباسم خو د هغی د څهری په لیدو حیران شوم نه دا امکان نلري. د حرم څهره پر کاغذ ښکاریده ...!

سترګې یی د یو تور معبد په شان ځلیدل، پیاوړې او زړوره، ویښتان یی لکه د سمندر د څپو په شان د مخ پر دوو خوا راخواره وه. څو شیبي ورته په کتو شوم که وغوارم رښتیا ووایم نه پوهیږم څومره وخت می د دي څهرې ته کتل چی خوب یوړم.
شپه خپل تیاره د سهار روښنایي ته ورکړي وه. د لومړي الله اکبر په زړه پوری آواز سره پاڅیدم او اودس مي وکړ او وروسته د الله فرض می تر سره کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

}... حرم ...{

نن می غوښتل چي د مقالې لیکنی سیالی کې چې د یو انجمن د خوا په پوهنتون کي ترسره کیدل ، ګډون وکړم. ومی غوښتل د ځان سره یو تمرین وکړم نو لیکنو ته می پیل وکړ او څو خطه می ولیکل. د لمر ځانګې په خپریدو ول چې د لیکنی څخه مې لا واخیست او ولاړه شوم، ځان می تیاره کړل او د آشپزخانې خواته ولاړم خاله حمیده د تل په شان د غرمې ډوډی تیاری یی نیول. د هغې په لیدو می یو شیطانی فکر سر ته راغي. د شا لخوا کرار کرار ورته نږدی شوم او خپل مخ می د هغی پر کومې (باړخو) پریښود او په داسی حال کی چی هغه می ښکلول په لوړ غږ می وویل: سهار پخیر زما سلطان بانو.

د خاله حمیده د وېرې څخه اوږې وپرېدی او زه په لوړ غږ په خندا شوم

حمیده- حرم لوری په دی عمر د دی کارو زغم لرم؟یوه ورځ مي زړه ودریږي!

د میز پر کنج می تکیه وکړه او په شوخه لحجه می وویل: نه نه ، زه دا خبره په ټینګه ردوم احساس کوم چی تر اوسه قانونی سن دی هم پوره کړې نه دی ټول هلکان ستا د یو تار ویښته پسی مړه دی.

حمیده- بیا دی فلسفی شروع کړې؟

سترګکه می ووهل او ومی ویل: مګر درواغ وایم؟ ښه دا ووایه چي څه پخوي؟

حمیده- ساسچ ، هګی ، پنیر و زیتون ، وطنی قیماق چی د تخار نه یی راوړی.

خپل سر می یو خواته کړ او سترګی می تنګي کړې او ومی ویل: یو می هم په زړه نه دی همممممم زردکې لرو؟

حمیده- هو ، خو په دی سهار کی زردکی څه کوي؟

حرم- صبر اول یي جوړ کړم بیا به یی وګوری.

حمیده- هر څه چي دي خوښه ده ماته ووایه.

بیا می ټینګار وکړ: نه هیڅ امکان نلری پوهیږی چی آشپزی می خوښیږی نو زه خپله یی تیاروم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زردکې می د خاله حمیده د لاسه واخیستل او لومړی می پریمینځل ، وروسته په پوست کولو یی مصروفه شوم او بیا مې پخولو ته شروع کړل. د نرمیدو وروسته یو دیګ می پر منقل پریښود یو څه ژړ غوړی مې هم واچول او زردکې او خامه می هم ور واچول. وروسته د شل دقو د دیګ د سر خلاصولو سره یو ښه بوی په ټول آشپزخانه کی خپور شو.

خاله حمیده د هغه خوند د لیدو وروسته یې په شوق وویل: خپل لور تر لاسو وګرځم چی په آشپزی کی تر ما هم مخته شوی ده.
ومی خندل ، لاسونه می پر ځیګر پریښود او سر می هم یو څه ښکته کړ او په خوشاله او کرار لحجه می وویل: ما مه شرموه زما سلطان بانو.
اوس خاله حمیده وه چی لاس یې پر خولی ایښی وو او په خوشالی یی خندل حمیده- ژوندي اوسی حرم خپل په دي کارو او خبرو دي په دی سهار ښه وخندولم.
د هغې غومبري مي خپل خواته کش کړه او ومی ویل: تل وخاندي خاله جانې اوس زه ځم د زردکی حلوا هم پر میز راوړې چې پلار می د زردکی حلوا شوق ډېر لری.

ټول پر میز ټول ول او د تل په شان مرجان د لوښو په ایښودلو مصروفه وه. خاله حمیده د زردکی حلوا یی هم پر میز پریښودل او ټول د خوړلو وروسته د خاله حمیدې د پخلي څخه تعریفونه شروع کړل. خاله حمیده چی د چاي سره سالون ته ننوتل تر ټولو د مخه د ادیب غږ پورته شو چی ویل یي: لاسونه دی درد ونه کړي خاله په دی خوندوره حلوا باندی.

خاله حمیدی چی چاي په پیالو کی اچول په سترګو یي ماته اشاره وکړل او ویي ویل: حلوا حرم پخه کړې وه نه ما!
ټولو ماته وکتل چې په آرامه غږ مي وویل: د ټولو دی نوش جان وي ، پلار می د زردکی حلوا ډېر خوښوي نو ځکه می وغوښتل چی تیار یي کړم.

د تل په شان خپل د پلار د مهربان او مینه ناکو خبرو سره مخ شوم چی دا د هیلی په مزاج هیڅ ښه نه لګیدل خو د ادیب سترګی چی ماته یی کتل زه یی د دننه ویلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولم. د نارون د غړ سره ولاړه شوم او پوهنتون ته د تګ د پاره تیاره شوم نن مي یو څه ځان ته ډېره رسیدګی وکړه. توره چپنه چی د بلوچو ښځو دست دوزه خامک یی لکه ستورې ړنا درلود ، لاجورد رنګه پوړني چی ابریشمی بافت یي درلود او ځلیدل او ډېر کم رنګه لب سرین مي هم ووهل. ځان چی می په هینداره کی ولیدل خپل په لیدو او ښایست سره مسکا شوم او د کوټي نه ووتلم.

د زینو څخه د ښکته کیدو په حال کی وم چی ادیب می ولید. سترګی می غټی شوی نه دا نو امکان نلری چی تصادف وشي زموږ د دواړو کالی هم رنګه وه هغه توره دریشی او لاجورد رنګه نیکټایي چي زما د پوړنی سره هم رنګه وه ، اغوستی وه. ده د لیدو سره می پرون شپه په یاد شوه او بیا هم هغه ویری او وحشت ونیولم. همدا چی د غوسی ډک نظر سره یي ماته وکتل ژر می ځان نجونو ته ورسول. نسبت و نورو ورځو ته نن ژر تره پوهنتون ته ورسیدلو ، تنها ځای چی ما د آرامتیا احساس کاوه.

د پوهنتون په سرای کي د احمد سره مخامخ شوم ، په دی وروستیو ورځو کي د ده څخه لری ګرځیدلم او نه می غوښتل چي ورسره مخ شم خو احمد هم د هغه محصلانو څخه وو چي غوښتل یي په دی سیالی کی ګډون وکړي. انجمن ته ننوتم او ومی لیدل چی ډیر لږ محصلین د نورو ډیپارتمنتونو نه راغلي. یوه څوکی می انتخاب کړه او کښیناستم چی د څنګ نفر ته می پام شو او د لیدو سره می په زور او جبر یو مسکا وکړل. یو څوک څنګه کولي شي تر دې حده بی شرم اوسیږی؟ خپل د ځان سره مي په زړه کی خبري کول چي احمد وویل: کم څه مو وویل حرم جانې؟

بلا و حرم جانې درد او حرم جانی. سخت می د دی لفظ څخه بد راتلل که می کولی شو نو یو ښه کلک سوک به می ستا په خوله درکړي وي ، احمقه.
بیا می وویل: زه عادت لرم کله کله ځان سره خبری کوم تاسو یي جدي مه نیسي د یو سړی د راتلو سره د دي خبرو نه مو لاس واخیست ، یو سړي وو تقریباً زما د پلار په عمر. خپل ځان یي د دي برنامې وړاندي کوونکي معرفی کړ. یو ورقه یی ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ورکړل او ویي ویل چي خپل مقاله په هر موضوع چی ستاسو خوښه وي لیکلي شي مورې ته ستاسو د احساساتو بیانول مهمه ده او د دي سیالی لومړي شخص د انجمن عضو کیږي. د وخت د پیلیدو سره ټول لیکلو ته پیل وکړ خو ما هک و حیرانه ټولو ته کتل لکه چي ټول کلمي ، جملی او عبارتونه می د ذهنه تښتیدلې وی!

سترګی می پټی کړی او هغه می کوله چی پر ځان مسلط اوسم، د لیکلو لپاره یواځینی شی چې زما ذهن ته راتله د پرونۍ پېښې او د ادیب ځیر او مرموز کتنې وې.داسی وم لکه د آلزایمر په ناروغی اخته اوسم. ولی هر څه له ما څخه تښتی ولی می له دی پرته نور هیڅ هم په ذهن کی نشته . سترګی می خلاصی کړی او یوه ژوره ساه می واخیسته. قلم می راواخیست او په لیکلو می پیل اوکړ .......

" دوه ورځی وروسته "

نن می حال ښه نه وه زما د پلار د مړینې ورځ وه هغه پلار چی کلونه مخکی می له لاسه ورکړی وو . هر کال پدی ورځ د پلار د روح د ارمتیا لپاره روژه نیسم او ځان په کوټه کی بندی کوم."دا کار یې یو دم خرافاتي او غیر اسلامي دی، اسلام دین کې د دری ورځو څخه زیات ماتم او غم نه دی بیان شوی حتا د مور او پلار لپاره." د کوټی د کړکی تر څنګ ولاړه وم او بیرون ته می کتل چی د شاه لخوا د اواز په اوریدو می فکر شو.

– حرم حاجی صیب تاسو سالون ته غوښتي یاست.
د مرجان غږ وه.
د سر په ښورولو د سالون په لور روانه شوم.
د سالون په ناستو کسانو می یو نظر تیر کړ ټولو ماته کتل شیبه غلی وم. څه شوی ولی ټول ماته ګوری؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار می په غمجنه څهره وویل: ته اوس دومره لویه شوی یی چی زما له اجازی پرته پریکړې کوی؟

د دی خبری په اوریدو می ژبه ګونګه شوه، په بند، بند لحجه مې وویل: څ...ه...څه مې ... کړی پلار جانه؟
پلار مې پخپل لاس کی نیول شوی لیک راپورته کړ او په مسکا سره یی وویل: رنګ دی لکه د ګچ پشان سپین شو، داسی لکه بلا چې دې لیدلې اوسیږی! په حقیقت کی می غوښتل چی ووایم دا لیک د ټولنی (انجمن) لخوا ده، مبارک دی شه لومړی مقام دی اخیستی. او همدارنګه د ټولنی (انجمن) غړی هم ټاکل شوئ یی.

ددی خبری په اوریدو می بی واکه چیغه له خولی ووته او ځان می د پلار غیږ کی ټینګ کړ.
— اه پلار جانه په رښتیا چې هم و ډاره کړم، فکر مې وکړو چی تاسو له ما څخه خپه شوی یاست؟
حاجی صبور- خو لوری ټولنی ته د تللو اجازه نه درکوم په دی خو پوهیږی چی امنیتی وضعیت ښه ندی نغوارم چی ستا د راتګ تر وخت پوری په اندیښنه کی اوسم.
ما هغه ازموینه د شوق ورکړی وه او دومره راته مهممه نه وه نو ځکه مې په خوشحالۍ وویل: په سترګو ...

پلار مې په مهربانۍ تندی راښکل کړو او زه ورڅخه جلا شوم، لا همغه خوشحال حالت کې وم خو میرمن نورماه تر ډیره پرینخودم او خپل پر غږ یې د هغه خوږ حالت څخه راوویستم.

نورماه- ښه نو حرم دا لیک ولوله وګورو چی څه دی لیکلی چې په دومره ګډونوالو کی دې لومړی مقام اخیستلې؟ لومړي مقام اخیستل خو دومره هم آسانه نده!
د هغې ورځ په یاد کی لاړم نه.نه که دا لیک ولوستل شی زه به رسوا شم، په ورخطایي مې وویل: وروسته به یی ولولم اوس څه ضرور ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سوسن او نارون په ډېر ټينګار او ضد سره اخر نارون په بيړه زما له لاسه کاغذ واخيست او خپل ستونی يی صاف کړ او په لوړ غږ يی د ليک په لوستلو پېل اوکړ:

د احساس څپه ..

مينه څه ده ؟؟؟؟

مينه په دردونو کی سر پورته کوی او مينه د دردونو ثمره ده!!

خوشې يی لنډ مهاله وي چې بدلېدلی شي، په پېښه بدله شي او له منځه لاړه شي.

مينه هغه ده چې پيل يې نيستي ده، دوام يې نيستي ده، او پای يې هم نيستي ده.

مينه په نيستۍ کې شتون مومي،هستي ته رسي، او د تلپاتې لارې ښه خپلوي.

مينه پيل لري، خو پای نه لري، او دا د يوې مينې يوه کيسه ده.

زما مينه هغه مينه ده چې زه خپله د هغې په اعتراف حيران يم.

ماسره څه پيښ شول ؟؟

پوهيږئ هغه څوک دی؟ زما تر ټولو نا اشنا اشنا دی.

نه پوهيږم له ماسره څه پيښ شول او يا پيښيږي؟

نه پوهيږم دې احساس ته څه نوم ورکړم؟ مينه، کرکه که ليونتوب آخر کوم يو؟

په دی ورځو کی زما د زړه د صبر کاسه په ډکيدو ده او تل ستا په لټه کی ده ..

تېره شپه مې وليدل چې څنګه دې په خپلو سرکشه او ياغي سترګو زما په وينه کې مستي راوسته..

ستا د پښو په غږ او ستا د اواز په اوريدو سره، زړه می د مرګ تر حده په سينه کی درزيږی په مثال د يو مرغه چی د الوتلو نيت په سر کی لری، ولې زما زړه همېشه ستا لپاره بې‌قراره ده؟

ستا په هر ځل کتلو سره زما زخمی زړه د مينی زمزمې کوی، دومره درته نژدې وم چی ستا د بدن خوشبويي می پرته له کومی فاصلي خپلو سږو ته ليږله څومره ښکلی وه کنه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما لپاره بلکل د جنت په شان وه کاش هغه شپه هیڅکله نه وو سهار شوی. وخت دربدلی او زه، ستا د سترګو په ښکلا کې لا ډیره ډوبه شوی وم ..
پوهیږم چی دا نظر تا لپاره نا آشنا ده ...
زه په یوه نا باورۍ حالت کې په دې سمندر کې ډوبه شوم، حتی د دې منل زما لپاره سخت دي!
خو دا زما په واک کې نه دی، احساس کوم چې قصاب زما په هډوکو باندی ساتور وهي؛ خو عجیبه ده زه دې درد ته هم خاندم ...

کله چی زما زړه د مینی په خوږ عذاب اخته شو نو پوهه شوم چی نور یوازی یم. ته به هغه وخت ماته رسیږی کله چی زما روح زما جسد که نه وی ځکه دی روح وخته خپل صاحب پریښی.
زه پوهیږم چې د دې بدبختۍ مینی پایله یوازې تباهي او زیان ده خو زه غواړم چې پای یې خپله ولیکم.

ترڅو الله تعالی پر ما رحم وکړی.
زه د الله پر مهربانۍ باور لرم ، ته څنګه؟
ته له ماسره اوسه ای زما ناپیژانده آشنا. یو له بل سره به خوشحاله ژوند ولرو.
زما هر لیکنه ستا لپاره ده کله چی وګورم ستا نوم پکی نشته نو احساس کوم چی ټول ژوند می نشته .

نور مې زغم نه درلود لیک مې د نارون د لاس څخه راکش کړو، په داسې حال کې چې سترګي مې د زیات شرم څخه لاندې نیولې وه په رپېدونکي غږ مې وویل: مورې ته وېل شوي وو چې متن باید عاشقانه وي نه پوهېږم چی څنګه دا مقاله انتخاب شوه؟ ما هسې واهې لیکنه کړې وه.

نور ماه- په رښتیا هم، زما باور په دې ټولنه (انجمن) کم شو اوس لا زیاته باوري یم چې ته د خپل پلار د پېژندنې له برکته هلته انتخاب شوې یې.
د نورماه خبرې په اورېدو سره مې سترګې د ځمکې له رنګینې قالینی راپورته کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل مې خبرې وکړم خو تر ما مخکې هیلۍ خپله خوله پرانیستله.
هیله- زه هم درسره موافقه یم دکاکا ښځی زه هم په دې حیرانه یم چې څنګه حرم باید لومړی مقام ترلاسه کړي؟

د دې دروغجنو خبرو په اورېدو حیرانه وم حال دا چې زما د پلار د مقام په اړه حتا زما نږدې ملګری مینه! چې زما لپاره تر هر چا زیاته راز داره او د خور پشان ده لا نه وه خبره نور خو لری ..

د پلار په غږ هغوي چوپ شول: د دی بېځایه خبرو څخهه لاس واخلې، آیا ما له انتخاباتو وړاندې هیڅ نوم او شهرت نه درلوده چې اوس می ترلاسه کړی اوسي؟
تر ټولو د ادیب دروندو نظر ډېر آزاره ولم.په داسی حال کی چی د تکبر څخه په ډک انداز ارام په څوکې ناست وه، دوه سترګی یی زما پر وجود ښخی کړی وی د شرم احساس زما ټول وجود نیولی وو حتی د دی ځاي د پرېښدو توان هم له ما څخه اخېستل شوی وه مګر له دی خای څخه د تیښتي  پرته بله لار هم وه؟

په ګړندي قدمونو می هغه ځای پرېښوده او یو په یو سره می زینی تېرولې تر څو خپل کوټې ته ورسیدم،که څه هم د سالون او زما د کوټی ترمنځ دومره فاصله نه وه خو د لارې پر تیریدو می پر تندي خولې (اوبه) روانی وی، ژوره ساه می واخیسته چی په لاس کی نیول شوی لیک ته می پام شو بی له ځنډه می لکه زخمی زمری پری حمله وکړه، له ځانه سره می وویل، لعنتي! دا یو معمولی کاغذ څنګه کولی شي ما تر دې درجې سپکه کړي؟ کم عقلی جینۍ اه لیونۍ تا خپل ځان په خپله دی حالت کی راوسته، کاش چي هغه نه وی پوهیدلې .... کاش. ..

د کوټی دروازه وټکیده او د هغې تر شا می ور غږ واورېد:
– دننه راشم حرم لوری؟
حمیده خاله وه،د هغی غږ په اورېدو سره په وارخطایی له ځایه پورته شوم او ومی ویل: هو... راشه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمیده خاله په ورین او خندانه څیره د خوږو پتنوس یی په لاس کی دننه شوه.
حمیده- ماښام کیدونکي ده لوری تا ته مې د روژه ماتې لپاره خواږه راوړل.

زما د ګډوډ حالت په لېدو او پر ځمکې د کاغذ د وړو ټوټو په کتلو سره یې پتنوس پر میز کیښود او په حیرانی سره یې وویل: حرم لورې دا څه حال دی ؟ ولی د حال خراب دی؟
حمیده خاله می یوازینی همرازه (همدم) وه،په ناڅاپه توګه می ستونی ژړا ونیوه او خپل ځان می د خاله حمیدی  غیږ ته واچوه په داسی حال کی چی د هغی کمیس ده خپل ګوتو منځ کی تاووه سلګی می هوا ته پورته شوی، هغې په نرمۍ سره زما مخ په لاس کی ونیوه او ویې ویل: څه شوی زما لوری،زما ګرانی ووایه راته.

و می ویل: حمیدی خاله زړه می اور اخلی پوهیږی زړه می سوزیږی.
حمیده خاله په داسی حال کی چی زما مخ یی په دواړه لاسونو کی نیولی وو په اندیښنی سره یی وویل:  دا څه وای حرم؟هغه څوک ده چی ته یی دی حال ته رسولی یی څوک دی؟
په بند، بند ژبه مې وویل: اد...ادیب ...

څو شېبې مې د هغی حیران سترګو ته وکتل، د څو شېبو وروسته د هغې غږ اوچت شو: عصاب دی خراب شوی؟ هاا؟ته نه پوهیږی چی دا فامیل تاسره څومره بد رفتار کوی ته څنګه داسی ساده کیدلی شی؟ نه پوهیږی چی ادیب د هیواد څخه بهر لوی شوی هغه په ټوله معنا یو بهرنی هلک دی!

د خبرو کولو توان مې نه درلوده، یو نامعلوم ډار او وحشت مې پر بدن سیوري غوړولې وو، ساه می ستونی کی بنده شوه د سترګو په ډکیدو سره یی بیا ځل په غیږ کی کلکه ونیولم. او ویې ویل: اه زما کم بختۍ لوری. تیریږی او هیرېږي، خدای مهربان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمیده خاله ښه پوهېده چې پر ما به څه بلا راځي،هغه پوهیدله چې زړه مې د چا لپاره بایللی دی، هغه یو ظالم او مغرور سړی وو، هغه سړی چې د وجود په کینې طرف کی د زړه په ځای تیره ګرځوي.نور زه لوټل شوی وم.
په ژړا مې وویل: نشم کولی، د هغه هېرولو توان په ما کی نشته،اوس هغه د سرطان د دانی په څېر زما په ټول وجود کې ریښی کړې دي. هغه زما ټول ژوند جوړ شوی.

حمیده خاله زه خپل د غېږې څخه جدا کړم زما د سترګو اوښکی پاکی کړې او ویې ویل: سمه ده حرم لوری د الله په فضل سره به هر څه ښه شی، مه ژاړه. هله نو ځان ته راشه لومړې باید روژه ماته کړې بیا زه وروسته ستا لیدو ته راځم.

د خاله حمیدی له تګ وروسته می د اودس آداب پر ځای کړل او خپل مولا ته په راز او نیاز بوخته شوم، شیبه هم می د سترګو اوښکی نه دریدی و می ویل:

یا الله ...!

دا څه ډول امتحان دی چی زما څخه یی اخلی؟مه پرېږده چی ستا د بنده ګانو د محبت محتاجه شم ما د دی سمندر تودو څپو او د ژوند له سختیو څخه په امان کې ولره، ما له حرامو څخه لیرې کړه او د دې مینی حلال وصال را په برخه کړه. که حلال لاره د دې میني نه وی نو یالله ته په هرڅه واکمن ذات یې ته دا مینه زما له زړه وباسه، یالله آیا ستا وعده دا نه دی چې د خپلو بندګانو تقدیر به د دعا په کولو بدله وم؟ نو زما قسمت له هغه چاسره چی مینه لرم یوازی کړه، د اذان په اوریدو سره می اوبه وڅښلې او روژه مې ماته کړل.

} ... ادیب ... {

نن عجیبه پیښه وشوه، د هغه لیک په اوریدو پوه شوم چی هر لفظ یی ما پوری تړاو درلوده؟ حتی د هغه شپی یادونه هم!په خپل فکرونو کی غرق وم سر می د شدید

(c) ketabton.com: The Digital Library

درد له امله لږ پاتی وه وچاودیږي، په نارامی سره له ځایه پورته شوم او د سردرد د درملو په لټه شوم د درمل له پیدا کیدو سره می سترګی، د حرم په رسم شوی مخ ولګیدېچ، انځور می راواخیست او پر شونډو می مسکا خوره شوه ځېر شوم ورته، په انځور کی لږ کمی وه په تلوار سره د قلم په لټه شوم قلم می را واخیست د انځور په ښي طرف دقیق د شونډی په سر می خال کیښود.

په آرام غږ می وویل: اوس پوره شو.
نن چی نارون لیک لوسته د حرم څیری ته می پام شو دومره ژور می د هغې څیری ته کتل چی د سترګو پر وړاندي می نقش شوه هغه شیبه کی د حرم د شونډې د سر خال ته مې فکر شو په ربښتیا چی د سپوږمۍ په شان څیری سره جوړ راته، اوس پوره باور لرم چی هغه مغروره او بی باکه انجلۍ حرم خپل زړه یی زما د جنون په ځنځیر کی بند کړی،تر نن ورځې پوری هر څه چی می غوښتلي هغه راکړل شوي که په زور وه که په رضا! حرم یوازینی انجلۍ وه چی غرور یی زما لپاره د زغم وړ نه وو. پر ځان یی ډیر باور درلوده دا غرور هغه وخت له منځه ځي چی په خپله ژبه خپل د لیونتوب اعتراف وکړی، او پر ما د مین کیدو خبره ومنې.

زه ادیب داسی څوک نه یم چی پر مینه باور ولرم، دا د هغې خپله ګناه ده نه زما، مینه یعنی حماقت، مینه یعني بدبختی، زه هیڅکله مینه نکوم خو د هغې غرور په دې مینه کې مات کوم. موبایل ته مې د زنګ په راتلو سره د راتین نوم پر صفحه ښکاره ښو له ځان سره می وویل افففف د دی انجلۍ له لاسه اوس چی په هیواد کی یم ښه ده چی د خارج لځایه د هیواد انجونو و ازمایم د هغې نوم مې په بلاک لیست کې واچو او په شیطانی خندا مې ځان سره وویل: د خدای په امان زما راتین ګلې ...

راتین یو عسیوي جلۍ وه د فرانسي هیواد څخه، څو کاله لندن کي ژوند کړی وه، عمر توپیر یې زیاد وه 10 کاله زما څخه مشره وه، خو مسته جلی وه، څلور میاشتي زما سره ملګری وه، زه د واده کولو کلک مخالف وم ، زما نیږدي ملګرو د قبولې لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتین پشان انجونو سره ودونونه کړي وه، خو ما داسی کار نه غوښت او اوس خو بیخی نغوارم چې داسی یوه اړیکه وپالم؟ زه اوس خپل د کورني سرپرست وم او د هغوي مسؤولیت زما پر غاړه وو نور خپل د کور سړی وم او دا کارونه راځخه پاتی وه.

} ... حرم ... {

شپی خپل ځای سهار ته ورکړي وه، انګړ د رنګارنګو ریحان او صنوبر پشان ګلانو د خوشبوي څخه معطره وه، انګړ کونج ځاې که شطرنج لوبه لپاره ځای وه،کله ناکله د پلار سره به می لوبه کوله،د هغه تختې د تیږو د شطرنج سره په څوکی ناسته وم، دا ځل لوبه زما د زړه او د عقل وه! شطرنج د کیش او مات لوبه ده د بایلې او ګټې.
زه لوبه کوم چې یا ذهن مې ګټونکې شي یا هم زړه مې!

د زړه غږ مې ورځ تر بلې زه لځان څخه لرې کولم، غوښتل مې ټول توان سره لوبه وکړم او خپل زړه ته ماته ورکړم، که هغه ماته د شطرنج د لوبې هم وي! لومړۍ دانه د شطرنج مې په حرکت راوسته دا زما د زړه حرکت وو! د شطرنج سپین دانو ته مې د عقل او تورو ته مې د زړه نشان ورکړې وو لومړۍ حرکت کې مې په عقل باندې زړه وواهه، خوشحاله شوم غوښتل مې لوبه تر اخیره همداسي مخکې ویسم او یو، یو د زړه دانۍ له میدانه وباسم او کیش ومات یې کړم، دویمي دانۍ ته مې لاس مخکې ویوړو چې د یو چا سیوري مې خپل پر سر احساس کړو، سترګي مې پورته کړي نظر مې په دوه تورو سترګو کې خښ پاتې شو یخ ووهلم، ادیب وه ....

بغیر د څه ویلو یې څوکۍ شاته کش کړه او کیناسته، بیا هم بغیر د څه ویلو یې د څو شیبو لپاره یې ځېر، ځېر د شطرنج دانو ته وکتل او تور دانۍ چې ما ورته د زړه نشان ورکړې وو هغه یې په حرکت راوستې، بغیر د خبرو غوښتل یې زما سره لوبه وکړې،هغه هم بغیر د اجازی اخیستو! څهري ته یې ځیر شوم، مخ یې د څوارلسمي سپوږمۍ پشان وه څو تاره ویښتان یی پر تندي پراته وه چې لا یې ښکلۍ ښکاره کوه ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې خاموشي زما زړه خوره، د تور سترګو پشان یې زما بخت هم تور کړې وو، ورته مې وویل: زما سره لوبه مکوه کنه ...
خبره مې مری کي تېره کړه، نه پوهیدم په څه یې وګواښه وم؟
هغه په حیرت خپل وریځي پورته کړې او خپل د لاس دانه یې هوا کې تاوه کړل او په ټوکو یې وویل: ته زما سره د لوبي کولو لیاقت هم نلري کلیوالي جلۍ.
په غوسه مې د شطرنج تختي ته وکتل او خپل دانه مې په حرکت راوسته ترڅو ماته ورکړم، خو هغه په خندایی وویل: غوسه او ژر احساساتي کېدل تل بربادۍ راوړي کلیوالي جنۍ دا هم ته کیش اومات.

د هغه په خبره مې په تلوار د شطرنج تختي ته وکتل خو په رښتیا هم ما لوبه بایللی وه ..
نور هلته پاتې کیدل روا نه وه، ژر لځایه پورته شوم همدا چې قدم مې واخیست د لاس په مړوند کې مې د درد احساس وکړو په تېزي سره شاته کش شوم، په تلوار مې شاوخوا وکتل چې د پلار نفر خو مې شتون نلري غوسه راغله، د خولې لاړې مې تیری کړی غاښونه مې یو پر بل وچیچل او په غوسه مې وویل:خپل ځان ته دې څه ګمان کړې ها؟؟

خبره مې لا پوره شوي نه وه چې هغه په خندا شو او همغسې خندا په خوله یې راته وویل:

ستا د پښو په غږ او ستا د اواز په اوریدو سره، زړه می د مرګ تر حده په سینه کی درزیږی په مثال د یو مرغه چی د الوتلو نیت په سر کی لری، ولې زما زړه همېشه ستا لپاره بې‌قراره ده؟

ستا په هر ځل کتلو سره زما زخمی زړه د مینی زمزمې کوی، دومره درته نژدې وم چی ستا د بدن خوشبویي می پرته له کومی فاصلي خپلو سږو ته لیږله څومره ښکلی وه کنه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما لپاره بلکل د جنت په شان وه کاش هغه شپه هیڅکله نه وو سهار شوی. وخت دربېدلی او زه، ستا د سترګو په ښکلا کې لا ډیره ډوبه شوی وم ..

لیک کېدي همداسي لیکلي وه کنه؟ باید دا خبره ومنم تا د هغه شپې ملاقات ډېر شاعرانه او رمانټیک بیان کړې وو.
ادیب غرېده او زه د شعمي پشان په خپلو سوچونه کي ډوبه وم، خبر شوی وه، په هرڅه باندې سر خلاص شوي وو، هغه پوی شوي وو چې ما هغه لیک د ده په یاد کې لیکلې وو، نور تیښتې ته حاجت نه وو د زړه راز څرګند شوي وو، هغه پوی شوي وو چې زه ورباندي مینه شوي یم هغه هم دومره ژر او دومره ناڅاپه!

هغه سترګک راته ووهل او خپل خوله یې زما غوږ ته رانیږدي کړل او ویې ویل: و منه چې زړه دی پر ما بایللي دې کلیوالي جلۍ!
خپل لاس مې ورڅخه کش کاوه زړه مې غوښت له دې ځایه لاړه شم، غوښتل مې هغه ته انکار وکړم او ووایم چې زه ستا پشان مغرور کس باندې هېڅکه نه مینه کېږم، غوښتل مې دا تازه سر راپورته کړې احساساتو مخه ونیسم، چې د شالخوا مې غږ واورید، په تلوار شاته مې وکتل او څو ګام د ادیب څخه لرې شوم.
ساه مې بنده، بنده کېدل لاسونه مې په رپیدو وه، خپل مې احساس کاوه چې د څهري رنګ مې الوتي دې.

هیلۍ په راوتلو سترګو له حیرت موږ دواړو ته راکتل اخر طاقت یې ونشو او ویې ویل: حرم دلته څه خبره ده؟
د هیلۍ په لیدلو زه د وحشت څخه ځای پرځای ودرېدم فکر مې کاوه نور ساه نشم اخیستي، هغې دا ځل په لوړ غږ چغه کړل او ویې ویل: یو نفر دې ماته توضیح راکړي دلته اخر څه روان دي؟
ادیب په چالاکي باندې د وضعیت د کنټرول کولو لپاره وویل: اه دومره چغي مه واهه، یوازي د حرم سره مې د شطرنج لوبه کوله چې هغه هم د تل پشان ګټونکي او بایلونکي د لومړۍ ښکاره وو، هسې مې وخت ورباندی ضایع کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیله چوپه شوه ادیب هم په پوسخند زما له څنګ تېر شو، خو د هیلۍ له نظر څخه زه پوهېدم چې دا موضوع دلته د هغې لپاره نه ده خلاصه شوې.

د هغه ورځې پر سبا میرمن نور ماه، سوسن او عمر هند ته د تلو په چمتوالي لګیا وه، د غرمي ډوډۍ خوړلو په وخت کله چې ټول کورنۍ د سرخان پر سر شتون درلود، میرمن نورماه لږ شانتي و ټوخیده، خپل ستوني صاف کړو او ویې ویل: نن زموږ د پرواز ورځ ده، زه غواړم زموږ د تلو وروسته ادیب په هوټل کې ژوند وکړي نه دلته. د هغې په دې خبره زما پلار کلک مخالفت وکړو خو هغې د دې خبري پر ویلو چې د ادیب پلار هم تل کابل ته د راتګ وخت کې په هوټل کې پاتې کېدو، نو زه غواړم ادیب هم هوټل ته لاړشي موضوع یې بنده کړل.

د ډوډۍ خوړلو وروسته مخکي له دې چې پوهنتون ته لاړه شم د سوسن سره مې خدای پامانی وکړل، هغې کلکه غېږه کې نیولی وم او ژړل یې، د هغې هیڅ زړه نغوښته چې بیرته هند ته لاړه شي خو دلته لومړۍ خبره او اخری پریکړه میرمن نورماه کول او بس،او د هغې پریکړه د تلو وه نو هیچا هېڅ نشو ویلې.

ورځی یو د بل پسې په تیریدو وي د پخوا پشان پوهنتون ته تللم درس مې ویلو خو هغه خوشحالۍ، خندا او آرامتیا مې نه درلود، د میني ټوکو او مسخرو ته به مې په یو پیکه او دروغجن مسکا خندل ..

ستړې، ستومانه د پوهنتون څخه د کور په لور روانه شوم، یوه اونۍ تېره شوي وه! یوه داسې اونۍ چې په عذاب کې سوځېدل وو، یوه اونۍ کېدل چې د بې خبري نړۍ کې غرقه وم، بې خبره د هغه کس څخه چې زړه مې ورپوري تړلې وو، یوه اونې کېدل چې په دې عذاب کې مې لاس او پښې وهل، د هغه په نه لیدو په درد کې ذره، ذره سوځېدم او ایرې کېدم، زړه مې د هغه د نیم نظر لېدو ارمان درلود، کاش یوازې یو ځل مې لیدلې وي یوازې یو ځل ....!

@shuhaboo

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاش هغه زما دا لیونتوب لېدلې وایې!
کاش هغه لېدلې وایې چې د هغه د یو دیدن پسې مرم.
کاش هغه زما د زړه درد لېدلې وایې او ورباندې ملحم کېخودلې وایې.
کاش هغه لېدلې وایې چې څنگه په ټوکو،ټوکو کې د هغه د مینې بندیوانه شوم!
د هغه نه شتون دا ځای ماته دوزخ گرځولې وو، د هغه د دوه سترگو نظر ما ته د جنت دروازې معلومېدې، کاش هغه زما دا پاکه مینه لېدلې وایې.

نن شپه پلار غوښته د نارون او میلاد لپاره یو کوچنې محفل ونیسې، البته یواځې خپلوان او ملگرې دعوت کړې وه کورنۍ جشن وو. د نارون په ډېر ټینگار درې سره د شهر نو یوه ډېر مشهوره سینگارتون ته لاړو، ما لومړۍ کې د اریشگارۍ غوړونه خلاص کړل او ورته مې وویل چې ماته به زیات میک اپ نکوې او ساده به مې جوړه وې. څه کم یو ساعت وروسته اریشگرې زما د میک اپ کولو څخه لاس واخیست او اجازه یې راکړه ترڅو هینداری ته وگورم، ما لا ځان سم په هینداره کې لیدلی نه وه چې آریشگرې زما تعریعونه پیل کړل.

اریشگره- وا، وا ماشالله ما ډېر انجونې تر نن سینگار کړې خو ستا پشان ښایسته او مینه ناک جنۍ مې تراوسه هېڅکله هم نه وه لېدلې.

هینداری ته مخامخ ودریدم او خپل ځان ته مې وکتل مخ مې بل رنگ اخیستی وو، اناري سرې جامې مې چې په تور رنگه مریو گنډل شوې وه یو خاص جذابیت کالو ته ورکړې وو، اوږده چین داره لستونې، او خلاص تونې شوې ویښتان ..
نارون او هیله هم زما څخه په کمې نه وه، هر چا یو خاص ساده سینگار کړې وه. او بېحد ښکلې ښکارېدې. مسیح د پلار د څو تنو بادیگاردانو سره زموږ پسې راغلل او موږ یې هوټل ته ورسره ولو.

د هوټل سالون د تازه گلانو څخه پوښل شوې وو او شاوخوا یې په دوه رنگ پوقانو ډیزاین شوې وو، لومړی مینو بوډۍ او هغه ښکلې سندرې هرڅه ډیر په زړه پورې گرځولې وه، ټولو یو سالون کې حضور درلودل ښځې او نارینه.لومړی نارون سالون

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته دننه شوه ورپسی زه او هیله داخل شوو، خو ګامه مې لا اخیستې نه وه چې سترګي مي پر ادیب ولګیدې، د هغه په لېدو ګامونه مې وچ شول ګام اخستلو توان می نه درلود، زړه مې د مرغي پشان په سینه کي درزیده، د هغه په لیدلو مې د ژوندي اوسیدو احساس وکړو، احساس مې کاوه وزرې می پیدا کړې او الوتنه کوم،څومره یې پر ځان زحمت ویستلې وو! څومره یې ځان ښکلی کړې وو.

په ځېر، ځېر مې ورته وکتل،تور رنګه جامې، زما د تور بخت پشان اچولې وه، اوږده غاړه چهارشانه اوږي، لوړ قد، غښتلې وجود، په یو خاص سټایل د دوه هلکانو په منځ کې ولاړ وه،څو تاره ویښتان یې پر تندي وه چې لا پسې ښایسته او زړه راښکونکي کړې وو. د ټولو څخه پناه ترینه څوکۍ مې د کیناستو لپاره غوره کړه، هلته کیناستم مور او هیله میلمانو سره مصروفه وې. دوه هلکان د ادیب ترڅنګ ولار وه، یو یې لوړ قد، چهارشانه، غنمرنګی ځلانه چهره لرونکي هلک وه لومړی ځل وو چې لېدې مې‌ګ، خو دویمي مې یو ځل مخکي هم لیدلې و، د ادیب د خاله زوی و شین سترګي، سپین پوستي، بیحد هم مردار نظر یې درلود اصلاً د هغه د کتلو څخه مې ښه نه راتلل.

ټولو د محفل څخه خوند اخیست او مصروفه وه خو ما یوازي ادیب ته دوه سترګي نیولې وه،هیلۍ څو ځل کوښښ وکړو چې هغه د رقص میدان ته را کش کړې، خو هغه هر ځل ورته په تروش تندی انکار کاوه ...

یو چا مې په ویښتیانو د محبت لاس کش کړو او ورسره سم د حلیمي ترور غږ مې واوریده چې په مهرباني وویل: حرم لوری ښه یې؟ غمجن راته معلومیږې!
د هغې په خبره ستوني مې د ژړا څخه را ډک شو او د ساه اخیستل یی راته ستونزمن کړل په لرزانده غږ می وویل: خاله حمیدی هیڅ ښه نه یم، څنګه دومره بی عقله شوم؟ څنګه ورباندي زړه مې وبایلو؟ ته می حال ته وګوره، دا زه یم؟ حرم؟!
هغې په داسی حال کی چی په مهربانی یی زما لاسونه نیولی وه په مخ یی ښکل کړم او ویې ویل: ښه ده چې ورته ووایی لوری، خدای مهربان دې د دې عذاب څخه به خلاصه شې، همدا نن شپه ورته ووایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترخه مسکا مې وکړل چې تریخوالی یې یوازې ماته ښکاره کیده، په داسې حال کې چې هغه مې کول خپل اوښکې کنترول کړم ومې ویل: څه ورته ووایم خاله؟ څه؟ فکر کوې چې هغه زما د احساس څخه نه دي خبر؟ هغه شپه د هغه لعنتی لیک د راتلو سره هغه په هر څه پوه شو او ده خپله اقرار وکړ چې زما په مینې پوه شوي پوهیږي هغه شپه څومره یې سپکه کړم.

اوښکو مې مخ لوند کړو په تلوار لځایه پاځیدم او د تشناب خواته روانه شوم تر څو خپل پر مخ اوبه واچوم چې د شالخوا یو چا نارې کړل.
— کیږي تاسو وپیژنم؟
حیرانه شاته مې وکتل چې ګورم هم هغه شین سترګی هلک دي. خدایه نور نشم زغملی دا څه حال دي؟ په داسې حال چې خپل ذهن کې په کش مکش بوخته وم مخ مې ورڅخه وګرځوی او څو قدمه مخته ولاړم. چې هغه په تلوار قدمونه زما پسې راوخیستل او زما مخې ته ودرید.
— زه به ځان در وپیژنم، زه ادریس یم د ادیب د خاله زوی.

بیا یې د خارجیانو پشان خپل لاس په مسکا باندې مخ ته راوړو ترڅو زه لاس ورکړم! پوهیدم چې د څه یو پست او شله سړې سره مخ شوې یم. خپل سترګی مې پر یو بل پریښودل او په داسې حال کې چې خپل ټول توان مې خپل د غوسې د کنټرول کولو لپاره په کار اچول په داسې یو ارامه غږ او لحجه چې زما د دننه د غوسې اور سره متضاد وو ومې ویل: پیژندلو ته هیڅ اړتیا نشته، زه تاسو پیژنم زما د کاکا په فاتحې کې یو بل مو لیدلی وه اوس ستاسو په اجازه!

ادریس- د هغه څه نه مې چې فکر کاوه بالاتره خودغرضه یې ، خوښ مې شو.
د خوښ مې شو لفظ یې اوږده وویل او سترګه یې ووهل،چې لکه زهرناکه چاړه زما پر زړه ولګیدل . په داسې حال کې چې ارام ارام د ژبې لاندې مې ( خوښ مې شو ) تکرارول دومره د غوسې اور مې زورور شو چې یو کلکه څپیړه مې پر مخ ووهل او ومې ویل: خیرن انسانه زه ستا د لاس ګوډی نه یم چې ستا خوښ شم او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

رزیله، حیوانه خپل مرداري سترګی بل خواته ونیسه ستا په څیر شغالانو په مذهب زه ښه پوهیږم اوس هم رنګ دی....

خبره مې لا نه وه پوره شوی چی یو درد می خپل په سر کی احساس کړ. ویښتان می د هغه حیوان په لاسونو کی وه زما لاس یی ونیول او د تشناب خواته یی کش کړم دومره په تلوار او غضب باندی چی ولویدلم او د لاس بند می د ساعت د ښیښې د ماتیدو سره په وینو شو. سر می دروند وو خو هڅه می کول چی خپل ځان کلکه او تیاره ونیسم چی بیا یی زما ویښتان ونیول او د ډیره درده د یوه شیبې د پاره په ځان پوهه نشوم او سترګې می د اوښکو ډکی شوی.

غوښتل چی ما پورته کړی. هر څومره چی می هڅه کول خپل ځان ځینی وژغورم خو نه کیدل ، توان می نه درلود. په بی وسې سره می چیغې کړې: ایله می کړه احمقه، پلار مې خبر شې ژوندي به دې پرینږدی.
زما په ګواښونو او چغو هغه ژر خپل لاس زما په خولی کیښودل او زه یی نور هم ناتوانه او بی وسه کړم. دومره د ده پست مخ زما مخ ته نږدی وو چی مرداره ساه ګانې یی ما خپل پر مخ احساسول. دا زما پای وو احساس می کول چی بس تباه شوې یم مګر د یوې نجلۍ لپاره د هغې تر عزت بل شي ارزښتناکه کېدي شي؟

خپل سترګی می پټی کړې چی سترګی می د ده هرموني پر مخ ونه لګیږي. ټول وجود می یخ او بی خوده وو.د دی بندې خانی دروازی د خلاصیدو سره می سترګی د یو چا د غوسې نه تک سور مخ باندی ولګید. خپله وو ، زما کلک زړه او بی رحمه لالي. خپل په ټول توان سره په هغه حیوان باندی حمله وکړه زما څخه یی لری کړ او په ښه کلک سوکانو د هغه په وهلو بوخت شو. په همدی حال کی هغه هلک چی ادیب ته نږدی وو راغی ، بدتر تر ما حیرانه وو خپل دواړه لاسونه یی د ادیب پر ملا تاو کړل او په ټول توان یی غوښتل چی ادیب د ادریس څخه لری کړی.

– بس دی ادیب پریږده یی ، لکه چی غواړی مړ یی کړی که څنګه؟
ادیب- سام زنګ ووهه ابراهیم(زما د پلار ساتونکي) ته او دلته یې را وغواړه، زما کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اوسه د ده رزیل سره نه دي خلاص شوي.
بیا یې د ادریس پخوا حمله کړل او په غوسه یې وویل: بی شرف ستا په نظر دا خارج دې چې جنۍ د تشناب خواته کش کوې او څوک نشته چې درته څه ووایې؟

ادریس د وینو ککړ مخ سره د تشناب پر ځمکه پروت وو ، دومره خپل په وینو کی ډوب وو چی ژوندي پاته کیدل یی ماته ناشونی معلومیدل. اوس د هغه کس څهره زما مخی ته وه چی ما یی د لیدو ارمان درلود. هغه سړي چې په سخت حالاتو کی زما ژغورونکي وو. ومی لیدل چی څنګه لکه پړانګ په هغه رزیل یی حمله وکړل خو کاش زه یی په داسی حال کی نه وی لیدلي او په داسی انداز یی راته نه وی کتلی ، غوښتل می چی ځمکه سوري شی او زه په کی ننوځم. سر می دروند شو او په سترګو می تیاره شوه.

څو ساعته مخکی....

} ... ادیب ... {

د هغه ورځی څخه چی خپل د کاکا د کوره راووتلم او خپل د مور په غوښتنی په هوټل کی اوسیدلم فکر می نارامه وو حرم به می په فکر کی ګرځیدل را ګرځیدل. د هغی غرور او خودغرضی زه لا د هغی خواته کشولم. نن شپه می ولیدل چی ویښتیان یی ډیر ښایسته جوړ کړی وه او کمیس یی لکه سپوږمې چی په تیاره کی ځلیږی ، ځلیده. څومره په دی اوه ورځو کی یی بدلون موندلی وو هیڅ هغه تکړه او فعاله نجلی نه وه هغه نجلی چی خندا یی د غرور نه بالاتره د مینی وړ وو.

ادریس تل د حرم په اړه پوښتنې کولي او د هغه ځایه چی ما پیژندي پوهیدم چی څه فکر په سر کي لری. د حرم د وتو سره ادریس یی شاته روان شو. څو شیبې وروسته غوښتل می دباندی لاړ شم چی د یو چیغی غږ چی د تشناب خوا څخه وو زه یی خپل خواته وبللم. د هغه حالت په لیدو سره می غوښتل چی ادریس خپل په لاسونو ټوټی،ټوټی کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حرم د هغه حال په لېدو ورخطا شوم نه پوهېدم څه وکړم؟ د ټولو څخه لومړۍ د دی پیښې څخه مې کاکا خبر کړو، هغه چې اوضاع ولېده زما پشان ورخطا شو خو ویې ویل دا خبره همدلته وساته او هېڅوک نه باید خبر شي چې ادریس حرم داسې یوازی راګیره کړې وه! زه هم د کاکا د خبرو سره موافق وم، دلته افغانستان وو او یوه خبره چې د یوزای څخه بل ځای ته تلل سل رقم کیفیت او رنګ یې بدله وو، ما کاکا ته وویل چې زه به حرم ځان سره هوټل ته ویسم! هغه هوټل کې چې زه اوسیږم هغه هم زما خبره ومنل. په لاره کی دوه سترګي مې د حرم بې هوښ ځان ته نیولې وه.

بیخې پر ځان نه پوهیده،رنګ یی تک سپین اوښتي وو شونډې یی سپینی شوې وی، او د نبض تکان یی هم کمزوری وو. د شا د لارې څخه هوټل ته ولاړو، دا لاره هر هوټل لری د خارجی میلمنو او دیپلوماتانو د پاره چی د هر ډول پیښی څخه په امان کی اوسی. د مخه می د منیجر سره خبری کړې وه چی د شا دروازه خلاصه کړی. حرم می دننه یوړه. تقریبا دوه ساعته بی هوشه پرته وه. سترګی می د هغی د لاس پر بند ولګیدل،لاس یی ډیر زخمي شوي وو ، لاس مي ورته وتړو. د لاس د نیولو سره بیا هم د هغې د وجود په زړه پوری بوی می په پزې ولګیدل یوه ژوره ساه می واخیستل لکه چی می غوښتل خپل د ځان سره یې وساتم.

مخ یی د خوشبویه او د څپو په شان ښایسته ویښتانو مینځ کی وو چی هر تار یی ماته د دار د رسی په شان وو دا څه روان دي؟ په ما څه شوی؟ ویښتان می د مخه لری کړل او اوس د هغې مخ لکه د څوارلسمې شپی د سپوږمۍ په شان راته ښکاره وو. ورته می وکتل او مسکې شوم چی د موبایل د زنګ غږ پورته شو ومی کتل ، کاکا می وو. د کوټې څخه ووتلم او ورته می وویل چی د حرم د خوا یی زړه جمع اوسیږي، کاکا یوځل بیا تینګار وکړو چی هیڅ څوک باید د حقیقی پیښی څخه خبر نه شی ټولو ته وایو چی حرم معده لږ خرابه شوی وه او اوس په شفاخانی کی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خبرو په حال کې وم چی د یو شي د ماتیدلو غږ می واوریدل په تلوار می اړیکه پری کړه او ځان می کوټې ته ورسول.حرم می ولیدل چی د ولاړیدو هڅه یی کول ، په رښتیا چی حالت یی ډیر خراب وو.

ادیب- حرم ته ښه یی؟ ولی خپل د ځایه پاځیدلی؟

هیڅ یی ونه ویل ته وا چې ګونګه شوی وه؟خو اوښکی یی لکه سیلاب پر مخ خواره شول او هڅه يي کول چی د کوټې نه بهر ووځی. نور می طاقت نه کیدل د اوږو څخه می ونیوله او په لوړ غږ می وویل: حرم بس دی نور دی دا لیونتوب بس کړه په کافی توګه خلکو ته وشرمیدلو نور نو بس دی.

په غوسه یی راته کتل. خپل ځان یی راڅخه لری کړه او په داسی حال کی چی هڅه يي کول خپل اوښکی کنترول کړی وی ویل: ما څخه څه غواړې؟هممم؟څه غواړې؟؟؟ مګر همدا دی نغوښتل چی زه ماته شم او خپل غرور د لاسه ورکړم؟ اوس وګوره ، وګوره ښاغلی ادیب زه ماته شوم ما وبایللل.

اوس ولاړشه او زما د ماتي جشن ولمانځه اقرار کوم چی په دی لعنتی ژوند کی، د لومړۍ ځل لپاره مئینه شوم او زړه می په داسی یو انسان وبایلو چی هیڅ زړه نلري ، پوهیږی ستا د وجود په دغه ځای ( زما د ځیګر چپ خواته یی اشاره وکړه) کی زړه نشته بلکې کاڼی لری ، کاڼی.

پر ځمکه کښیناستل او د ژړا په حال کی یی ځان ته ښیراوی کول. د دی حالت زغمل راته سخت وو. په همدی حال کی زه د دی غوسی او غضب ورِ وم ، زه وم چی د منلو او اقرار کولو زړه می نه درلود خو ولی؟ د دی پوښتنی ځواب ماته هم معلوم نه وو. د کوټې څخه ووتلم او دروازه می قلفه کړه ځکه پوهیدم چی دا نجلی بیخی لیونتوب ته رسیدلی ده. ټوله شپه می د هوټل په سرای کی تیره کړه او سام سره می اړیکه ونیول تر څو یو جوړه کالی واخلی او ځان سره یی ماته راوړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

{ ... سام ... }

څو کاله کېدل چې د اديب سره ملګري وم زموږ ملګرتيا د يو ساده ملګرتيا څخه پورته وه، موږ لکه دوه ورڼونه وو. دا ورځو کې بيخې بل رقم وو د يو نجلی نقاشی يی ايستل او په مسکا يی ورته کتل. زما پوښتنه به تل دا وه چې دا نجلی څوک ده؟ ده او هغه به تل ويل چې دا د اور ښاپيرۍ ده! زه د ده خبرو ته حيران وم پوهيدم چې دا نجلی د ده په زړه کي ښه پوره ځای نيولي خو ولی دي ورته د اور ښاپيرۍ وايی؟ تر دا چې هغه شپه ورسره مخامخ شوم حيرانه وم تر هغه څه می چې فکر کاوه لا زيات ښايسته وه. د رښتيا هم ښاپيری وه ...

مګر د هغه شپی د پيښی په ليدو حيران شوم لومړی ځل وه چې اديب می داسی په غوسی ليده که يوه شيبه می ناوخته کړی وای اوس به هغه رزيل ژوندی نه وه.

سهار وخت د اديب راکړل شوی فرمايش مې پر ځای کړو او د يو جوړه کالو سره هوتل ته ورسيدم، د هغه په لېدو مې وويل: سلام سهار پخير ..
زما په خبرې باندی يی سر ونه غوړوه او په سټريا يی وويل: را دی وړه؟
پلاستيک می ورته مخکی ونيوه سترګی می ميز ته پاتی شوی چې د قهوي نيمه پياله او د سګرټ نيم سوځېدلي پلټی يی تر څنګ ايښی وی.
پوه شوم چې ټوله شپه يی له قهوي او سګرټ سره سهار کړی دا يې پخوانی عادت وه. په سټرېا له ځايه پورته شو پلاستيک يی واخيست او د هوټل د دهليز په لور لاړ.

{ ... حرم ... }

نن می درک کړه چې نور بايد له دی حماقت لرونکې مينې څخه لاس واخلم، نور همدومره غرور ماتول بس ول له ځان نه می کرکه راتله له هر څه نه او له ټولو څخه ډير مې خپل له مور څخه! څکه خپل ددی حالت پړه می خپله مور بلله که زه يی دی منحوسی نړی ته نه وای راوړی دا هر څه به نه کيدل.سترې وم خپل د مور له دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینی څخه چی د مجبوریت په خاطر یی له ما سره لرله، خو ما چې تر نن پوري هر چاته می مینه او درناوی کړی وه د مجبوریت له مخي نه! بلکه زما د زړه له تله وه.

هره خبره چی می کړی وه ، هره درناوی می چی کړی وه ، هره مرسته مې چی کړی وه ټول یی بی نقابه ول ژور او ساده وو مګر دوی په خپلو څهرو نقابونه وهلی ول زما په مخکی هغه هم د پلار له ډار نه می، د کوټی دروازه خلاصه شوه
ادیب په غوصه ناکه څهره چی د غوسې څخه یې اور له سترګو وریده راننوته پلاستیک یی زما مخکی ته راواچوه او ویی ویل: کالی دی بدل کړه باید کور ته لاړ شو نغوارم له دی ډیره دلته پاتی شی.

له ځایه پورته شوم او څو ګام می واخیستل چی له کنټروله وتلې غړ باندی یی زه ځای په ځای ودریدم.
ادیب- لومړی باید دا لعنتی کالی بدل کړی مګر پوهه نشوې؟
حرم- نه یی کوم پوه شوی زه ستا اخیستل شوی وینزه نه یم چی راباندی امر وکړی زه له همدی کالیو سره ځم.
ادیب- که یوه شیبه نوره مې په دی کالیو کی مخکی ودریدې د مړ پلار پر روح می قسم چی دا کالی دی د ځان کفن درته جوړوم.

لاس یی ملا ته ویوړه او توفنچه یی راوویستله په کلک یې وویل: پلاستیک واخله.

له دی به نور څه غوره وه چې یو کس زما دی منحوس ژوند ته د پای ټکي کیږدي؟ مګر ما نه غوښت هغه کس دې ادیب اوسیږی!
نغوارم زما د مرګ حکم دې زما زړه راښکونکی یار صادره کړی مګر دا عدالت دی؟
د کوټی کنج کی تشناب وه، کالې مې واخیستل او حمام ته ننوتم، د اوبو شاور می خلاص کړ او سر می د اوبو لاندی ونیوه تر څو د ذهن له دی سوزناکو فکرونو خلاصه شم غوښتل می د هغی وحشت انځور پاک کړم..

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل مې د ژوند ټول ترخه یادونه پاک کړم ټولی هغه چغی چی اېکل کیدل ما له منځه یوسی، مګر افسوس چی ټول زما په لمنی رانغښتې ول کاش انسان کولای شوای خپل تقدیر خپله بدل کړی، کاش کولای یی شوای خپل ژوند خپله ولیکی شاید هغه وخت دا نړی او دا ژوند ګواګي بل رنګ درلود. سر می پورته کړ او هغه انځور چی په هینداره کی ښکاریده ورته ځیر شوم خپل د سترګو سور رنګ ته فکر یوړم چی د مینی سوزناکه درد ګواهي یی ورکوله چی زه یی تباه کړی وم د اوبو بخار هینداره کی زما انځور کمرنګه کړی وه.

لاس می یوړه او هینداره می پاکه کړه یوه شیبه خپلو پردیو سترګو ته ځیر شوم دا زه نه وم،ما چی مینه په حماقت معنا کوله له هوس نه ډیر څه راته نه ول هغه کلمه چی یواځی ما تری کرکه لرله نن د همغه کلمی سوالګره وم....
پلاستیک می خلاص کړ یو تور حجابی کمیس وه د کالیو بدلولو سره له حمام نه ووتلم ادیب په هغه حال کی چی خپل ویښتان یی په ګوتو کي کلک نیولی ول په هغه ټول سختی یی مګر هغه شیبه راته نه لیدونکي وه پوهه شوی وم چی که هغه هر څومره له ماسره بد رفتار وکړی زما یوه شیبه هم زړه نه کیږی په داسی حال یی وګورم که پر ما مین ندی او زما پر وړاندی کوم حس نلری نو دومره اندیښنه د څه لپاره؟

ولې دومره نارامي او اضطراب؟ سترګی می په ټولی کوټه کی وګرځولې نو تازه پوهه شوم چی زه چیرته یم! ټول ځای می له نظر نه تیر کړ ښکلی کوټه وه د ټولو تجهیزاتو سره سترګی می شاته واړولی او کړکی نه می بهر وکتل د هوټل حویلی ته په کتلو پوهه شوم د پلار هوټل می دی.
په کرا می وویل: کولای شو لاړ شو؟
زما په غږ هغه خپل سر له میز نه پورته کړ یوه معنا داره نظر یی راته وکړ، او بیا سر یی وښوروه او له میز نه پورته شو له هغی لاری چی ویلې وه پټه لاره ده د هوټل شاته ورسیدو ابراهیم او همغه هلک چی سام یی ورته غږ کوه ولاړ ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابراهیم مخکی راغی او په هغه حال کی چی زما موبایل یی راته راکووه ویی ویل: پرون شپه می د هوټل له دهلېز نه پیدا کړ پوه شوم ستا دی او هو یوه بی نومه شمیری درته څو پیغامونه استولي دی او ډیری اړیکی یی هم ونیولی نو ځکه اړ شوم موبایل خاموش کړم.

همدا چی غوښتل می خپل موبایل واخلم ادیب لاس ویوړ او د ابراهیم له لاسه یې موبایل کش کړو او په غوسه یی په هغه حال کی چی ماته کتل نورو ته وویل: زما دا خبره خپل په غوږونو کی ونیسي، دا خبره همدلته پاتی کیږی که دا خبره له دی ځایه بهر ووتله نو پوهه شې چې خپله مو خپل په لاسونو خپل قبرونه کینلې، اوس هم د موټر کیلي ماته راکړې زه خپل موټر چلوم تاسو هم زما شاته راشی.
هلته حاضر ټولو کسانو په دواړو سترګو وویل، ادیب ماته اشاره وکړه چې موټر ته پورته شم همدا چی د موټر سیټ کې کیناستم.

ادیب - د موبایل پسورد دی څه دی؟

خبره یی د حکم کولو په خیر وه له دی رقم خبرو کولو او رفتار کولو نه یی ګنګسه وم هغه هم د پسورد غوښتنه نه ، نه دا شونی نده، احمقی حرم اوس څه کوی پسورد! ما خپل د موبایل پاسورد د هغه ... د هغه نوم کیخودلې وو،د حل لاری پیدا کولو په لټه وه چی بیا یی په غوسی وویل: وا دی نه وریده چی څه می درته وویل؟ ددی لعنتی موبایل پسورد دې څه دې؟
د ژبی په بندیدو بندیدو می زه ، زه وکړه او ومی ویل: ه ... هغه ... پ.. پا... پسورد یی هغه..
ادیب- هله زر کوه.
سترګی می پر یو بل وتړلې او جدا جدا می وویل: A , d , I , b ..
بی له هیڅ خبری د پیغامونو په لټولو بوخت شو ، ژوره ساه می واخیسته حس می کړ چی په پسورد پوه نشو، ځکه کوم خاص ریکشن یې وه نه خودا!

(c) ketabton.com: The Digital Library

اديب- احمد څوک ده؟
حرم- پوهه نشوم.
اديب- ښه ندی چی پری پوهه نشي، وايم احمد څوک دی دا احمق څوک دی؟
چی له شلو ځلو یی ډېر درته زنګ وهلی او تر لسو یی ډېر پیغامونه درته پرېښودلی
هوووووم؟ ځواب راکړه؟
د هغه د خبرو په اوریدو یی جام پاتی وم له دی حرکاتو یی حیرانه وم! د دی لپاره نه چی أحمد ولی راته زنګ وهلی یا پیغامونه یی راته استولی؟ ځکه پوهیدم چی هغه راسره مینه لری خو د دی خبری هضم راته سخته وه چی کله چی ادیب زما پر وړاندی کوم حس نلری نو دومره اندیښنه او اضطراب د څه لپاره؟

په لړزانده غږ می وویل: ښه نو هر څوک چی ووسی اصلا تاته یی څه؟ او هسی هم ته په کوم حق خپل مغز زما نه په دومره پوښتنو په عذاب کوی؟
پوهه شوم چی کوم ځواب نلری د موټر د حرکت سره می سر د ښیښې خواته واړوه او وروسته له ډېر بیروبار د موټر پر دریدو می سترګی په همغه سمنټی دیوالونو ولویدې دومره له دی دیوالونو نه می زړه په تنګ وه چی فکر می کاوه زما په سینه ایښودل شوی.

حال می بدتر کیده،همدا چی حویلی ته ننوتلم نو سترګی می په خپله کورنی ولړیدی زما سترګو په زړه تنګون سره خپل پلار لټوه هغه انځور چی ما په خپل ذهن کی جوړ کړی وه د هغی په خلاف یی ماته مسکا کوله مګر زما مسکا له غم نه ډکه وه په همغه درد او غم می پری پری وویل: زه د دومره مینی لایقه نه یم،زه هغه لور چی تاسو پری ویاړ کوه نور نه یم ... پلاره..
د تل په څیر یی غېږ کی ونیولم او د ویښتو په سر یی ښکل کړم او په نرمی یی وویل: ته زما همغه نازکه او ضدي لور یی، وګورم یوی ناروغی ته داسی په ګونډو کړی اصلا می فکر نه کاوه، ته د دې خبرو څخه زیاته ځواکمن او غښتلې یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه د خبرو په اوریدو د ادیب وروستي خبرو ته می پام شو چی وویلی ول باید ووایو چی د خوړو له امله مې معده خرابه شوی وه او بستر وم! پلار د سترګو په اشاره د نورو شتون ته راته پام کړ پوهه شوم زما د ښیګڼی لپاره یی دا کار کړی آن مور می باور کړی وه چی زه مریضه شوی یم. لومړی می مور بیا ټولو زما د حال پوښتنه وکړه، په ستړیا خپلی کوټی ته لاړم سر می په بالښت کیښوده په فکرونو کی وم چی حمیدی ترور په غږ له خپلو فکرونو بهر شوم او نیمه له ځایه پورته شوم.

هغې وویل: ارامه اوسه لوری یواځی می غوښتل حالت دی وګورم.

حرم- زما په اندیښنه مه اوسی اوس ښه یم.

حمیده- ښه یی ؟؟ هووم وګورم دا څنګه ښه اوسیدل دی؟ که ښه یی نو دا دروغ د څه لپاره؟ په دومره کلونو کی هیڅوک تا له ما ښه نه پیژنی ټولو ته دوکه ورکولی شی آن مور ته دی مګر ماته نه، پوهیږم هغه شپه دی هیڅ هم ونخوړل وروستی ځل هم له ما سره وی ووایه وګورم دا حرم چی د زړه هر راز یی له ماسره وه نن رانه څه پټوی؟

ترور خبری کولی او ما ژړلې هغه کار چی په دی ورځو کی زه پری اخته شوی وم.

په نیولی غږ می وویل: ترورۍ پرون شپه په اصل کی......

خبره می نیمه کی پاتی شوه ستونی می وچ شو له ویلو یی، حمیده ترور په هغه حال کی چی زما بدن ځای ځای یی کته ګواکی زما د ټپونو په لټه کی وه؟بیا ځلی یی سترګی پورته کړی او په حیرانتیا یی راته وکتل او په همغه رقم کتلو یی په بند، بند ژبه وویل: حرررررم ... دا ...دا ...

زما غاړی ته یی اشاره وکړه چی د هغه وحشی انسان د نوکانو چاپ پری وه

بیا ځلی یی وویل: ادیب! زه پوهیدم دا هلک ...

خبری منځ کی یی ولویدم او ومی ویل:

نه ترورۍ که هغه نه وه نپوهیږم څه به شوی ول آن فکر کول د هغی شپی په اړه ما له منځه وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمیده- هیسسسسس لوری ارامه اوسه یواځی د یو بد خوب پشان ورته فکر وکړه او هیر یی کړه،له الله نه شکر چی ته یی بیا مورِ ته راکړی.
د موبایل د زنګ په غږ یی له غیږ نه جلا شوم
مینه وه د اوکی کولو سره سم مینی په غوسه وویل: وه اجلیۀ دا ته په کوم دوزخ کې یی؟ پوهیږی چی څوم ځل دی چی درته زنګ وهم؟ او پیغام پریږدم؟ اصلا ته.......
حرم- مینی !هیله کوم صبا پوهنتون کی ګورو.
مینه : اووو ته صبـ..
خبره می ورته په نیمه کی پریښوده او اړیکه می پری کړه،خپله کتابچه می د بالښت له لاندې نه راواخیسته او د زړه درد می پری ولیکه په دی ورځو کی څومره بی تفاوته شوی یم! د ژوند په تورتمونو کی ښکیله شوی یم،نپوهیږم دا تورتم به ما تر کومه ځایه یوسی؟

حس کوم په دی نړی کی بندی یم.
هر څه راته بی رنګ او خوند دی.

نه خوشحالی می حالت ښه کوی او نه هم غم می خپه کوی،نور راته اړینه نده چیری اوسم څه خورم ، څه اغوندم ، نه راته ساعت مهمه ده نه نیټه.دا ورځی کرا کرا په داسی یو انسان بدله شوی یم چی خپله می د پیژندلو نه یی عاجزه یم.ګواکی هغه ټول د ژوند شور رانه تللی دی.نور له هغه خوشحاله شیبو او بې باکه خنداوو خبر نشته،نور له هغه ځان جوړلو او لکه کوچنیو مستی او ساعتېري کولو خبر نشته زه ودریدم او لری شوم له هر څه هغه هم ډېره لری....

حس کوم زه ددی ځمکی له خلکو څخه نه یم ..
هر څه په ما کی غلط ول آن مینه او پیدایښت می.....
ټول زما د نابودی لپاره پورته شوی
دا یعنی تیره کیدل هغه هم سرِه تیره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستی خط می پر ورقی ولیکه او سر می کیښوده.

په صبا یی د هره ورځی په خیر پوهنتون ته روانه شوم همدا چی قدم می پوهنتون کی کیښود غوښتل می احمد پیدا کړم نور یی وخت رارسیدلي وه چی د هغه حساب د هغه په لاس کې ورکړم، او لیونتوب ته یې د پای ټکي کیږدم.د پوهنتون لری ترینه نقطه کی د ونی سیوری ته ناست وه،همدا چی زه یی ولیدم له خپل ځای نه پورته شو او مسکا یی پر شونډو خوره شوه ګواکی کوم بل فکر یی پر سر لره په اندیښنی سره یی وویل: حرم درته په اندیښنی وم ښه یی؟

یوه شیبه می د هغه پر ځای ځان ولید، زموږ دواړو حال یوشان وه،هغه پر ما زړه بایللی وه او ما په بل چا، ده زه غوښتم خو ما دې نه غوښت! او ما یوڅوک غوښت چې هغه بیا زه نغوښتم! خومره ریشخند تئوري ...
هغه خبری کولی او ما ورته کتل،کاش چی په پښو کی می د بل چا د مینی ځنځیرونه نه وای....
کاش دا لیونی زړه لاس له دی لیونتوب واخلی....

کاش کولای می شوای یو څوک د هغه پر ځای خپل ژوند ته راوړم، او خپل زړه ورکړم! شاید احمد ما ته مناسب وو؟
نه ... نه دا به بې انصافې اوسیږی زما زړه کې د ده لپاره کوم د میني احساس نشته، زه د بل چا د هیر کولو لپاره د ده څخه ګټه نشم اخیستې.
مګر نه...... نه کیږي!!!

ستونی می صاف کړ او خبری می پیل کړې: ګوره احمده ! ګواکی کوم ځای کی کومه غلطی شوی ده، تر دی مهاله ته ماته له یو ملګری او ورور ډیر څه نه وی، او کېږی هم نه نور دا.......
احمد- دا څه ها؟ حرم،د پوهنتون ټول انجوني ماته د حسرت په سترګه ګوري مګر زما سترګی تاته په حسرت ګوری، یواځی یو ځل یی ومنه، یو ځل اجازه راکړه خپل ځان درته ثابت کړم، باور وکړه ته به هم راباندی مینه شې، زما مینه دومره پاکه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرم- ومې ویل چی نه کیږی نه کیږی.
احمد- اخر په ما کی څه کمی ده؟
حرم- کمی په تا کی نه په ما کی ده،هغه زړه چی ته غواړی ما بایللی، ته ترڅو ښه ما درک کولې شې پوهه شه نشم کولې ..

احمد- حــــــرم!
دا ځل یی زما نوم په نیولی غږ وویل او یو څاڅکی اوښکه یی هم راتویی شوه، دا دویم ځل وه چی د یو سړی سترګو کی می اوښکی لیدلی! څوک وایی سړیان نه ژاړی؟

مګر سړی انسانان ندی؟
مګر زړه د درزا لپاره نلری؟
څومره دروغي قصی پدی اړه(د سړیانو ژړا) جوړی دی.
ګواکی دا د ښځو کار دی....
کله چی یو سړی ژاړی فکر کوم وخت او زمان دریږي.
د هغوي زړه ژاړی ...
یو لوی توپیر د ښځی او سړی په ژړا کی شتون لری..

ما د پلار په ژړا مصیبت وپیژنده هغه وخت ډېره کوچنی وم اووه کالو وم، هغه محال چې پلار می زما یواځینی کوچني ورور راته په خاورو کی خښوه، هغه وژړل او اوس دا......
د دی شیبی د لیدلو توان می نه درلوده......
هغه په چغو چغو ژړل او خپله اخری خبره یی په لړزانده غږ ویلې: دا ورځی تیریږی حرم مګر الله دی ستا له دی کار څخه تیر نشی ...

د دی شیبی د لیدلو توان می نه درلود، اوس پوهه شوی وه چی د ژوند د دومره ستونزو او بدبختیو لامل مې همغه د احمد ښیراوی وی.کاش خدای د هغه د ښیراوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ځنګ زما دعا وی هم اوریدلی وایې!پورته شوم او ځان می ټولګی ته ورسوه د مینی په لیدلو می د غوسی رګ د چویدو په حال کی وه.

حرم- بیعقلی نجلی خدای دی وواهه مګر تاته می نه وه ویلی چی زما شمیره ځان سره پټه وساته هاا؟
مینې حیران، حیرانه راته کتل او زه زه په ویلو یی وویل: حرم ما یواځې ...
حرم- تا یواځی څه ها؟ ته پوهیږی نن می څو واری د مړینی غوښتنه کړی هیڅ پوهیږی؟
مینه- حرم احمد هغه هلک دی چی ټول ورسره مینه لری ته بختوره یی چی هغه ته خوښه کړی یی نیت یی خیر دی آن......
حرم- غلی شه. غلی شه ... بل ځل داسی حماقت ونکړی.

مینه- اندیښنه مکوه حرم جانې نور هر څه کوی وکړه،ځکه زه نوره نه یم.
مینې د دې خبرې د ویلو وروسته له غوسې په ډکه څیره یې،څوکۍ،خوشې کړه او د ټولګي اخر څوکۍ ته لاړه، هغه ورځ می ټوله ورځ سترګی دروازی ته وی مګر احمد رانغی څه وشول ؟ داسی نه کوم کار وکړی؟یو زرو یو خبری می په فکر کی راتللی د زړه او ذهن ترمنځ ښکیله شوی وم حس می کوه اسمان می پر شا ایښی دی ګواکی ژوند زه د بدبختی په جامو کی رانغاړلی وم.

مینی په غوسه ناکه څیری ټولګی پریښود ورپسی ورغلم د کړکی تر ځنګ غلی ناسته وه څوکی می راکش کړه او ترځنګ یی کیناستم.سترګی می په یو بل کلکی کړی ژوره ساه می واخیسته او خبری می پیل کړی.
حرم- پښیمانه یم بښنه غوارم،پوهیږم تل دی خپه کوم خو ته ماته ډیر ارزښت لری کاش چی پوهیدلی اوس په څه حالت کی یم.
مینه- حرم په رښتیا هم نپوهیږم چی ستا په ژوند کی څه تیریږی؟ زه تا بیخې سمه نه پېژنم چې ته څوک یی؟ څه کوې؟ کولای شی ووایی؟؟ ولی باید هر څه ستا د ژوند پټ پاتی شی آخر ته څوک یی؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرم- اړینه نده چی په هر څه پوهه شی په همدی پوهه شی بسنه کوي چی.. چی زه په یو بل چا مینه یم هغه هم د لیونتوب تر حده نه احمد او نه غیر له هغی بل هیڅوک دی لیونی زړه ته لاره نشی موندلی همدا.....

او په همغه شیبه له ځایه پورته شوم......

په لاره کی له هیلۍ او مسیح سره یوځای شوم او د کور په لور روان شو په لاره کی د مسیح ټیلفون ته د نارون اړیکه راغله.په یوه شیبه کی د مسیح د څیری رنګ والوته او پری پری یی وویل: ان...ان.... انا جانه...... څنګه شونی ده؟

هغه ورځ نارون خپل د نیا د مړینی خبر راکړ او پلار می په همغه شیبه ټول کورنۍ ته ټکټ وکړ او تخار ته لاړل هر څومره چی زیاد می غوښتل په هغه ورځ له خپلی کورنی سره ووسم،خو دومره مې حالت خراب و چې د تلو وس مې نه و، هغه شپه مې پلار زما څخه په پټه د ادیب نه هیله کړې وه چې دلته زموږ کور ته راشي، ترڅو زه کور کې یوازې پاتې نشم.

د کړکۍ څنګ ته ولاړه وم د لمر د سترګې د ډوبېدو نداره مې کوله، د مرجان به اواز د سوچونو د نړۍ نه راووتلم...

مرجان- حرم حمیده ترور تاته غږ کوي!

سر مې د"سمده" په ښه وښوراوه او پسې روانه شوم..

حمیدې ترور چې په پام سره د چایو پیالې ډکولې وویل: حاجی صیب ادیب نه غوښتنه کړې چې د هغوی تر راتګ هغه دلته پاتې شي ترڅو دوی تاته په تشویش نه وي.

ددې په اورېدو مې سر کوږ کړ او ومې ویل: عجیبه ده لکه هغه ته چې زما ښه اوسېدل مهم هم وي؟! نه به راتلای..

حمیده ـ اوس خو راغلی او خپلې کوټې کې ناست دی او زما نه یې وغوښتل تاته غږ کړم مهم کار درسره لري..

یوه شوم حتمن د هغې منحوسې پېښې په اړه پوښتنه کوي نور به څه وي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمیده ترور- واخله دا د زعفرانو چای مې تیارې کړې درسره یې یوسه، پیالې مې راواخیستې او د ادیب د کوټې خواته راروانه شوم، همدا چې کوټې ته راورسېدم یوه اوږده ساه مې وایسته، منفي فکرونه مې د ځانه وشړل او دروازه مې وټکول، شېبه تېره نه وه په زړه راښکونکي اواز یې وویل: دننه راشه ..

همدا چې کوټې ته ننوتلم په لیدلو یې زما زړه بې واره په درزا شو، لاسونه مې د ډېر استرس نه د خولې لامده شوه، د کړکۍ څخه یې دباندی حویلي ته په ځیر کتل یو شېبه مې بخیلې وشوه، بهر فضا کې داسې څه وه چې دې ورته داسې ډول ګوری؟ اې کاش چې زه همغه فضا وای چې ده راته همداسې کتل..
را وګرځېده او په سترګو یې راته پر څوکۍ د کښېناستلو اشاره وکړه، پیالې مې خپل د لاسونو د لړزا په کنټرول سره پر مېز کېښودې، په هم هغه استرس مې د ستونې اوبه تېرې کړې او مې ویل: کار دې راسره درلود؟

په مبایل مصروف و یوازې د سر په ښورولو یې وویل: تر دې بدتره یې حق و د بې عقله.

بیا یې خپل د مبایل پاڼه زما مخ ته ونیوله او ویې ویل: همدومره بس دی که ادامه ورکړې؟

د سترګو وړاندې مې د وینو ډک او شین مخ انځورشو ادریس و! پوه شوم چې تراوسه یې بند کې ساتلی، څه دروغ ووایم زړه کې مې هیڅ رحم ورته رانغی..
حرم ـ دا چې دا مردارخور دې ودی حال ته رسولی مور دې خبره ده؟
زما په خبرې مسکا وکړه او همغه حال کې وویل: په داسې ناموسي خبرو کې دې لا زه نه یم پیژندلی کلیوالي نجلۍ، په دې وخت کې زه خپل د مور څه چې د هیچا خبره نه اورم.

حرم ـ کیږي ووایې زما سره دې څه کار و؟
د چایو پیاله یې واخیستل پر چوکۍ یې تکیه وکړه او د چایو غړپ یې تېر کړ، ویې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل: داسي معلومیږي چې تلو ته دې تلوار دی؟

حیرانه وم چې اوس دی زما څخه څه غواړي؟ دومره نخرې د څه دپاره؟ د زړه او مغز په منځ کې مې راګیره وم

زړه مې ویل: دا سړی درباندې مین دی خو د منلو یې انکار کوي.

مغز مې ویل: دا داسي سړی نه دی چې د مینې او محبت په نوم څه وپېژني.

د مبایل په غږ مې د فکر د نړۍ نه راووتلم، مینې زنګ وهلی و، یو فکر مې ذهن ته راغی ومې ویل: بلی احمده اورم؟

د مینې د اوازه څخه مې د هغې د حیرانې څهرې اټکل کولای شو ..

مینه ـ احمد؟ زه یم مینه ..!

حرم ـ ښه سمه ده سهار دې وینم.

مینه ـ حرم لیونۍ شوې یې؟

حرم ـ وروسته خبرې کوم اوس الله پامان.

د احمد د نوم په اخیستو د ادیب د تروشې څهرې په تماشه وم، لکه چې د احمد نوم چې کومه اسماني بلا وي د هغه په سر ..

په قهرجنه انداز یې وویل: دا بې عقل څوک دی؟ کاکا مې ستا ددې لیونتوب نه خبر دی؟؟

سترګو ته یې ځیر شوم او ومې ویل: په تا پورې هیڅ اړه نه لري ته څه حق لرې ها؟ بل وار دومره حق ځان ته مه ورکوه چې زما شخصي ژوند کې لاس وهنه وکړې ښاغلی ادیب.

د دې خبرو د ویلو وروسته په تیزو ګامونو د کوټې څخه راووتلم.

} ... ادیب ... {

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن مې د کاکا په ډېر زنګونو او درخواستونو چې غوښتل يې دلته راشم او کور کې اوسم، ترڅو حرم يوازې ونه اوسيږي راغلم، نه مې غوښتل چې حرم ووينم، خو نه پوهېږم ولې مې راوغوښته! ترکومه چې مې حرم پيژندل هغه داسې نجلۍ نه وه چې د هر چا سره واوسې خو دا احمد نوم ...
نپوهېږم ولې چې کله يې د هغه نوم يې اخيسته زغمل يې راته سخت و، او چې هغه ورځ مې د هغه عکس د واتساپ په پروفايل کې ولېده جذاب او ښکلی هلک وو، ويلای شم چې هره نجلۍ په ژوند کې دداسې هلک هيله او ارمان لري..

هغه شپه په بيحد فکرونو او کش مکش کې راباندې سبا شوه، کاکا مې همغه ورځ باندې بيرته کابل ته راغلی،سهار وختې ابراهيم د کاکا د راوستلو د پاره لاړ، سهارنۍ مو د حرمسره کاکا د په شتون کې وخوړه، د کاکا د خبرو مطابق ټوله کورنۍ يوه اونۍ وروسته د تخار نه راځي، او کاکا ژر د حرم لپاره راغلې وو ځکه چې يوازې وه!

{ ... حرم ... }

تقريباً دوه ورځې تېرې شوې او زه کور کې د پلار سره يوازې وم، د نارون سره زيات په اړيکه کې وم، په زړه يې درونند غم پروت و، لکه د مور د مرګ غم چې يې بيرته تازه شوی وي، يوه شپه پلار مې د ډوډۍ خوړلو لپاره بهر دعوت کړو تل داسې بلنې مې د پلار د خوا کېدلې خو دا ځل يوازې وم، او کورنۍ نه وه، هغه ورځ مې هېڅ زړه تګ ته نکېده زړه کې مې يو ډول بې کراری وه ، هرځومره چې د پلار څخه مې وغوښتل چې بل ځل به د کورنۍ سره لاړ شو خو د پلار په ډېر ويلو لاړو، پوهېدم دا هرڅه زما د حالت د ښه کولو دپاره دي،خو څه پوهېده چا چې زخم راکړی هغه مرحم هم راکوي!

هغه شپه يو شانداره هوټل ته لاړو، دننه هوټل ډېر ښکلی و او په ژوندۍ ښه موسيقي هم غږېده او ميلمانه هم ډېر وه، د ځينو د لهجو داسې ښکارېده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانان وي او ډېر وخت کيږي چې د هېواد نه بهر ژوند کوي. د پلار په غوښتنه مې ډېر خواړه د ميز په سر ترتيب شوه.. سوشي، د پوڅې سوپ، کباب او همداسې خواړه هم وه، ټول دې فضا کې خوشاله وه، دې خوشالۍ ډېر دوام ونکړ، د مرميو د ټکونو سره ټول هوټل ګډوډ شو،ټول وارخطا او وېرېدلي وه،څو مسلح کسان هوټل ته رانوتل، هوټل کې په فيرونو سره د هوټل ټوله فضا د ماتو ښيښو نه ډکه شوه، په تورو نقابونو سره يې د شيطانانو غوندې پر خلکو حمله وکړه،هغه ورځ د قيامت ورځ وه ټول خپل او خپل کورنيو د ژوند د ژغورلو دپاره کوشش کاوه..
خو انسان څنګه دومره بې رحمه کيداى شي؟؟

دهغې پيښې هضمول دومره راته ګران و چې ان اوس مې هم زړه ټوټه ټوټه کيږي.
که ووايم چې دوزخ مې د سترګو وړاندې و دروغ مې ندي ويلي....
پلار مې زه کلکه غېږ کې نيولې وم، ټول د تېښتي په حال کې وه فکر مې کاوه نور نو اخر ته رارسېدلي يم، يو وار مې ټول بدن سوړ شو فکر مې وکړ روح مې د بدن نه ووتل، هر څه مه د سترګو په وړاندې لکه روښنايي داسې ښکارېده.

اته ساعته وروسته.....

} ... اديب ... {

سبا مې يو مهم قرارداد لاس ته راوړو د سام سره مې خبرې وکړې ځينې ومې غوښتل دلته راشي، سام په حقوقو کې ماستري کړې وه نو ومې غوښتل په ځينو حقوقي کارونو کې رهنمايي راته وکړي...
مبايل ته مې زنګ راغی، ابراهيم و، همدا چې ځواب مې ورکړ اواز يې نيولې راغی ...
ـ حاجی صيب...
اديب ـ په کاکا مې څه شوي ابراهيم؟
ابراهيم ـ اوس روغتون ته روان يو هلته بيا خبرې کوو.
که څه هم واټن مو تر روغتون لږ و خو ماته لکه کلونه دومره شوه،همدا چې روغتون ته ورسېدم د ابراهيم په لټون شوم، د سام په اشارې چې د دهليز اخر ته يې وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې کتل ابراهيم په غمګينه مخ به دهليز کې ناست دی،  ژر مې ځان ورته ورسوه ..
اديب ـ ابراهيمه ته ښه يې ووايه وروره ته ولې....

خبره مې پوره نشوه چې سترکې مې پر کاکا ولګېدې چې پر تخت باندی لکه بې روح جسد پشان پروت وو او اکسيجن يې په خوله کې وو ...

په بيړی سره اطاق ته دننه شوم همدا چی اواز می پری وکړو سترګی يی پرانيستی، هغه وخت می فکر اوکړ چی وينه می بدن کی جريان ومنده ژوره ساه می واخيسته په بند ژبه می وويل: حا.....حال مو ښه دی؟؟
د سترګو په اشاره يی پوه کړم چی حال يی ښه ده. لاس يی خولې ته وړاندی کړ کوښښ يی کوه چی اکسيجن پورته کړی، بی له ځنډه ډاکتر راغی او لاس په کار شو اکسيجن يې لږ لرې کړو، کاکا ځو ټوخی وکړل او وی ويل: زويه حرم ...
د حرم د نوم په اخيستو سره می وينه بدن کی وچه شوه.
اديب_ په حرم څه شوی؟ نه چی هغه هم تاسو سره ...

خبره می ستونې کی وچه شوه او په بيړه له اطاق ووتم، ابراهيم له ډاکتر سره د خبرو په حال کی وه لکه د برق په څير می ځان ورسوه هغوی د پانويک (عصبي شوک) په اړه خبری کولی،يعنې حرم ته عصبي حمله راغلې وه. زه حيران پاتې وم.
د خولې اوبه مې تيرې کړې په سختی سره می  ډاکتر ته  وويل: ښه، حرم اوس چيرته ده؟
ډاکټر- ناروغ مو په عاجل خونه کی ده غوښتل می تاسو سره يوه مهمه موضوع شريکه کړم له ماسره راشئ.

د دهليز په اخر کی يی يو خونی ته اشاره وکړه، او زه هم د ډاکټر په قدمو پسی روان شوم.
ډاکټر- اديب صاحب مېرمن حرم له دې وړاندې هم دې حملې سره مخ شوې ده دا دوهم ځل دی د ناروغ حالت ښيي چې هغه له روحي پلوه په بدترين حالت کې ده حتی د زړه ګراف يې هم نورمال نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکتر خبرې کولې او زه د هغه په اورېدو ځاي پر ځای لکه بې روح جسد پشان ولاړ وم،ګوتی می پر ویښتو کی خښی کړی ، له ځان سره می وویل څنګه امکان لری چی زه دومره بی رحمه اوسم.اصلاً د انسان کلمه زما څخه په تېښته وه،په داسی حال کی چی پوهیدم هغه انجلی زما لپاره څه حس لری خو ما بیا هم نالیدلي ګڼه. دهغې دا حال زما له لاسه دي.

په ډېر تېنګار سره می وغوښتل چی یو ځل یی له نږدې یی وګورم.کله چې خونی ته داخل شومسترګې می د اطاق پر شاوخوا وګرځولی حرم د بې ځانه جسد په څېر د کوټې په منځ کټ کې پرته وه اکسیجن یې پر پوزه لګول شوی و،او بدن یې د زرګونو لینو په وسیله له لویو ماشینونو سره وصل وه،د هغی خواره واره ویښتانو یی د سپوږمی په شان مخ یی ور پټ کړی وه، پر ځان می لنعت وویل، د هغې د دی حالت مسؤل زه وم.نور مې توان نه درلود چې هغه په داسې حال کې ووینم له خونی بهر ووتلم.

د معایناتو له پای ته رسېدو وروسته زما په ډېر ټینګار کولو سره کاکا راضی شو چی کور ته لاړ شی.شپه خپل په همغه تیارو او وحشتونو مخ پر خلاصیدو وه، د لمر وړانګې د ځمکې پر مخ په خپره کېدو وه.نن شپه لکه د کال په څیر تیره شوه.
ټوله شپه له ځان سره په جنګ وم دا هغه موضوع وه چې زه یې ټول شپه ویښ وساتلم او د سګرټو په څکولو کې مې تېره کړه. نه پوهېږم چې څویم سګرټ مې څکولی و.

_لا هم د حرم څخه خبر نشته؟؟
د سام غږ و چې زه یې له ژورو خواشینونکو او غمجنو فکرونو راوویستم.
د سر په ښورولو او د سګرټ وروستی دود له خپل غمجنه سینه څخه په بهر کولو سره مې وویل: نه.پوهېږې، نه را یادېږي چې وروستی ځل مې کله دعا کړې وه او له خدا څخه مې څه غوښتي وو؟ خو دا ځل له الله څخه د حرم صحت غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سام- د ځمکې لوړی خدای هواروي زموږ کار یوازې د کوچنیو تیږو لرې کول دي نو بیا دومره ځان ولی ځوروی؟

دوه ګوتې مې د غوږ شاته ایښې وې او د سخت درد د کرارولو لپاره مې مساج کول داسې ښکاره کېده لکه مغز می له کاره لوېدلی وي.پورته شوم او د هغه خوني پخوا روان شوم چې حرم پکې بستري وه، لا مې څو قدمه نه وو پورته کړي چې ډاکټر په بیړه او بې ځنډه زما مخې ته ودرېد د داسې حالت په لیدو سره مې په بدن کې وینه یخه شوه.په یوه لحظه کې می د زړه درزا تیزه شوه.
و می ویل: کومه بده پیښه خو به نه وی شوی؟
په شونډې یی مسکا راغله او وی ویل: میرمن حرم په هوښ راغله، غوښتل می چی تاسو ته ووایم.

له خوشحالی نه پوهیدم څه وکړم په تیزو قدمونو سره خونی ته ننوتم د هوسی په شان سترګی یی چت ته نیولی وه،زما په لیدلو یی کوښښ کوه چی پورته شی
هغه لحظه نه پوهیدم چی څه احساس می درلوده هغی خبری کولی او ما یی مخ ته کتل په لرزانه غږ یی وویل: پلار، پلار می چیرته ده او څنګه ده؟
ځان مې راټول کړ د ارامېدو هڅه مې وکړه او و می ویل: دا اندېښنه پرېږده کاکا می روغ رمټ دی.

د ډاکټر په راتګ او په دې ویلو سره چې باید ضروري معاینات ترسره کړي له خونی څخه بهر شوم.حرم دوه ورځې نور هلته پاتې شوه او په دې دوه ورځو کې ما هېڅ جرئت ونه کړ چې دیدن ته یې ورشم سره له دې چې ټوله ورځ د روغتون د محوطي څخه و نه وتم خو یو ځل مې هم هغه ونه لیدله.په ما کې د هغی سره د مخامخ کېدو توان نه و.

په کوم حق به مې هغه لیده؟
زه وم چی د هغې د دی ټولو دردونو او کړاوونو لامل شوم ...
ځینې وختونه چې پرې فکر کوم له خپل ځان څخه می کرکه کیږی..

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن د حرم د رخصتېدو ورځ وه.
له ابراهیم سره مو د رخصتۍ کارونه خلاص کړل او د حرم د اخیستلو لپاره یې خونې ته لاړم. هلته یې له خپل ډاکټر سره خبرې کولې. همدا چې سترګې یې پر ما ولګېدې له ځایه راپورته شو او د دهلیز لور ته روان شو.

} ... حرم ... {

ژوند یو نه ختمیدونکی عذاب دی،لکه چی تل د مرګ او ژوند تر منځ بند پاتې شوی یم.نن پوهه شوم چی دی ژوند زما قسمت پر دردونو او کړاوونو پوری تړلی.کاش هغه بدبختی پیښی له ځان سره وړی وم.کاش د هغوی څخه یوه زه وم چی اوس د ابدیت په آرام خوب ویده دی.کاش د مینی په دی درد نه وای اخته. خو ژوند ماته را زده کړل چی! کله چې طوفان پای ته رسیږي، تاسو د طوفان کیفیت یاد ته نه راوړی چې څنګه راغلو او تاسو څنګه ژوندي پاتې شوئ؟ حتی ډاډه نه یاست چې آیا طوفان پای ته رسېدلی دی یا نه؟

خو یو شی څرګند دی کله چې د طوفان نه ووځئ تاسو هغه څوک نه یاست چې په طوفان کې داخل شوی وی. دا ټول د ژوند هغه طوفان په اړه دی چې تاسو یې تجربه کوئ. په دی دوه ورځو کی به می تل پلار سره خبری کولې.نه می غوښتل د دی پیښی په اړه کورنی ته ووایې څکه د نارون، هیلۍ، او مسیح د غم ټغر لا ښور وه.نن مې د تګ ورځ وه، که څه هم ډاکټر اجازه نه راکوله خو نور هلته پاتې کېدل می نه شو زغملای.په دې موده کې ډاکټر راته د ادیب په اړه خبرې کولې چې هغه یو لحظه هم له دې ځایه لیرې شوی نه و. خو ولی یو ځل هم زما د هوښ راتلو وروسته زما لیدو ته را نغی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې پوښتنې سره مې په خپل ځان يوه مسخره مسکا وکړه. ځان سره مې وويل آه ليونی حرم هسې نه چې ځان دې د هغه لپاره ارزښتمن ګڼلی وي؟مخ می کړکی ته واړه چی په يو آشنا غږ په ځان شوم.

اديب- چمتو يی؟

ورخطا شوم دا غږ هغه و چې شپه او ورځ مې د اورېدو ارمان کاوه. کلمی او جملی می له ذهنه په تېښته ول لکه د ګونګيانو په شان ولاړه وم.نيم نظر می پر سر او مخ وروړاچوه، نه دا اوس هغه اديب نه وه ، هغه مغرور او ځان غوښتونکي چی پر .....

اديب- حرم ...

دا ځل يی غږ ستړی او خپه وه دی غږ په اوريدو می د هډوکو مغز وسوزېد،د هغه خواره واره ويښتان او انديښمن حالت له ما څخه د خبرو توان واخيست.

هيڅ می ونه ويل او بې له ځنډه د دهليز په لور روانه شوم، څه شوی پر هغه؟ ولی يی هغه خوشحاله خيره کې خپګان ښکاری؟څو شيبې وروسته اديب زما څنګ ته راغی دواړه د روغتون د انګړ په لور روان شوو،ابراهيم د څو ساتونکو سره له څلورو خواوو ته اماده ولاړ ول په څو ثانيو کې يوه تور رنګه موټر زموږ مخې ته ودرېد.

د مخامخ شخص په ليدو سره می سترګو کی اوښکی راغلی.

ځان می د هغه په غيږ کی پټ کړ.

– پلار جانه.

پلار می چی پر سر او مخ ښکلولم په زرګونه شکرونه يی پر ژبه راتلل، له دې چې زه ژوندی وم شکرونه يې ويستل، د ابراهيم په غږ د خپل پلار له غېږې جلا شوم

ابراهيم- حاجي صاحب دلته چندان ښه امنيت نشته ښه به وي چې موټر ته دننه شئ.

د پلار له غيږ جلا کيدو سره د موټر په شاته سيټ کی کښېناستم.اديب په خپل موټر کی په موږ پسی روان شو.يو شيبه هم د پلار له غيږ بيله نشوم په نيول شوی غږ مې وويل: پلار جانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار- ووایه زما نازولی لوری.

— ه... هغه مو....ر

زما خبره لا پوره شوی نه وه چی پلار می د خبری منځ کی دننه شو او په جدي او قاطع ډول یی وویل: حرم جانې پوهېږم چی له ډیری مودی راهیسی ستا او ستا د مور ترمنځ اړیکي سمي ندی، خو په دی پوهه شه چې مور دی تاسره ډیره مینه لری، فکر اوکړه که مور دې پوهه شې چې پدی ورځو کی تاسره څه پیښ شوې او هغه خبره نده نو قیامت به راولې...

ما د هغه په غیږ کی نور هم ځان ټینګ کړ او ومی ویل: مهمه نده چې ورته ګرانه اوسم ماته بسنه کوی چې تاسو لرم.

حاجی صبور- آه زما لیونۍ لوری، ته زما لپاره ډیره مهمه او د قدر وړ یی، تر ننه می پر تاسو هیڅ قېد او شرط ندی ایښی او تل می ازاده پریښی یی خو د دی موضوع په اړه ستا او نارون څخه مي زړه ټول دی خو هیلې او مسیح ته اندیښمن یم.

پوهیږم ته او نارون له خپل عمر څخه ډېر هوښیار او پوه یاست او په ژوند کی پخوالي ته رسېدلی یې، ان شاءالله یو ورځ به ستا اړیکه دخپلی مور سره هم ښه شی.

د پلار د "پخوالي" کلمه مې په ناخوښ او ژور ډول په ذهن کی ځای ونیو. عجیبه ده، خلک تل وایي چې ځینې کسان له خپل عمر او کال څخه زیات پخېږي او هوښیار دي خو نه پوهېږي چی هغوی دردونه او کړاوونه ګاللي دي تر څو دې پخوالي ته رسېدلي وي.لکه څښتي چې په سوزونکی بټۍ کې ایښودل کېږي تر څو دې پخوالي ته ورسېږي.

په غمجن او خواشیني غږ مې وویل: که یوه ورځ له ما څخه تېروتنه وشي، نو څه به وشي؟

حاجی صبور- پوهېږم دومره هوښیاره یی چې داسی وخت به هیڅکله رانشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ورسېدو.
د ابراهیم په غږ سره مې د پلار له غېږ جلا شوم او د کور انګړ په لور روان شوو.
ابراهیم یو غټ پسه زموږ پخو ته حلال کړو په دې باور چې وینه تویونه د آفت د راتلو څخه مخه نیسی.څه یو بی معنی عقیده، د حیوان حلالول باید د الله خوښې لپاره وی نه د بنده ښپو ته، خو پوهیدم، پوهیدم که څه ووایم د تل په څیر به بی ګټې او بی مانا وی. د حمیدی ترور په ډیر ټینګار سره مجبوره شوم چی دری ځلی د هغه حیوان له سر څخه تیره شوم او دا ووایم: اه خدایه ما وبخښه. "دا چې د حیوان له سر دری ځله تیر شی دا بدعت او حتا کفر دی"

حمیدی ترور په ډیری مهربانۍ سره خپل غیږ راته خلاصه کړه، مرجان هم اوښکی تویولې مسکا مې وکړه او په شیطانی سره مې وویل: نه یم مړه مرووو جانې داسی مه ژاړه هله نژدی راشه.
زما چلند په کور کې له ټولو سره یو شان و خو د الله د رضا لپاره له حمیدی ترور او مرجان سره ډېر مهربان وم.نه مې غوښتل چې دوی داسې احساس وکړي لکه دوی چې زما په وړاندې خدمتګاران وي ځکه چې په یاد مي دی کله چی شپږ کلنه وم له خپلې مور سره د ګاونډي کور ته د کار لپاره لاړو په هغه ورځ مو ښه پیسې وګټلې که څه هم کار کول او حلال رزق ګټل خپله یوه عبادت ده خو د دوی په وړاندې غرور او کبر څخه کار اخیستل یوازې تکبر دی او خدای متکبر کسان نه خوښه وی.

خدای موږ ټول یوه شان او یو حقوق باندی پیدا کړی یو،خو دا چې امیر وي یا غریب دا بیا د خدای کارونه دی. ټول د سالون په لور روان شوو اه خدایه له دی ټولو نعمتونو مننه!ما د حمیدی ترور په لور وکتل او ومې ویل: ولا ریښتیا یې ویلې چې هیڅ ځای هم د انسان خپل کور ته نشې رسیدلی.

ترور په ریشخند او نرم آواز سره وویل: څه وشول هوووم دا کور خو ستا لپاره زندان وه.
ومی ویل: هممم ولا چی قدر یی را ته معلوم شو او په دی خو پوهیږی چې په هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه کی خیر پټ وي وګوره دا بهرنی فضا زما لپاره نده همدا چی ازاده فضا کی قدم کیږدم لکه د بم، خامخا یو افت راځی.
خوله می کږه کړه او ومی ویل: دا هم زموږ نصیب دی.

څو ورځې تیری وی خو د مینی هیڅ خبر نه و. پوهېدم که نن دلته وای د هغه حیوان پر ځای به یې زه حلال کړی وم...حق یی وه.ځینې وختونه د مینې د شتون لپاره له خدای شکر وباسم ځکه هغه ما ته ملګرې او همراز وه ،مخ مې د خاله حمیده خوا ته واړاوه. او ومې ویل: تروری کیږی چی موبایل مو ماته راکړئ، پوهیږی هغه لعنتی پیښی کی زما موبایل ....

حمیده خاله- بس ده لوری، نور د هغی پیښی یادونه مه کوه واخله دا...
خبره یی لا پوره نشوه چی په چالاکي سره می تری موبایل واخیست د ایمیل په دننه کولو سره می خپل انستاګرام پرانیست ، چی د مینی له زرګونو مسیجونو سره مخ شوم.
مینه: حرم ته چیرته یې؟
وژنم دې حرم ....
چیری یی جینی غواړی لیونی می کړی؟؟؟
ګوره چی مخ ته می رانشي ګنی وژژژژنم دی...
......... د پیغامونو شمیر یی ډیر وه نری مسکا می پر شونډو راغله له ځان سره می وویل: اه قربان شم له داسی ملګرې ..

څومره ښکلي ده، چې ستا په نشتون کې یو څوک تا یاد کړي. پیغام مې واستوه، او بیرته اف شوم.

} ... ادیب ... {

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حرم په رسولو او دا چې ښه ده زړه مې ټول شو، او د هوټل خوا ته راهی شوم.
درې شپې او ورځې کیږي چې خوب راباندې حرام شوي وو، ټول وجود مې درد کوه، همدا چې اتاق ته ورسېدم ویده شوم، د شپې تیارې د لمر رڼا خپل په تور څادر کې پټه کړې وه. چې ناڅاپه دروازه په شدت سره خلاصه شوه، په درونډ غږ یې له خوبه ویښ شوم او ژر مې توفانچې ته لاس کړ چې سام خپل لاسونه هوا ته پورته کړل د تسلیمي په شان او ژر یې وویل: زه یم، سام، په کراره.

په لیدو یې ژوره ساه مې واخیسته او ځان مې پر کوچ واچوه، او غاښونه مې وچیچل او په کنټرول شوي غږ مې وویل: څه وخت به زده کړي چې بې له دروازې ټکول اتاق ته رانشي؟ویلي مې وي چې یوه ورځ ستا په دې کارو عزرائیل دې کیږم احمق او مړ کوم دې.
سام په تنده ژبه وویل: که عالی جناب خپل تلفون ځواب کړي، نو زه به مجبور نشم چې بې له اجازې راشم! د خدای لپاره یوار دا لعنتی مبایل دې پر وخت ځواب کړې؟

مبایل ته مې وکتل چې اوس د میز په سر و، چې د شلو نه زیات زنګونه او اته ناځواب پیغامونه یې په صفحي ښکاریدل..
سترې ستومانه مې وویل: ښه اوس دې ولیده جوړ و روغ یم اوس کیدي شي ما یوازې پریږدې.
کرار زما تر څنګ کیناست او وویل: څه وخت ورته وایې؟
په یوې سترګه مې ورته وکتل او ومې ویل: د څه په اړه غږیږې؟ څه ووایم؟ او چا ته یې ووایم؟
سام- نور پټول د دې حقیقت ناممکنه ده، حداقل زما څخه خو یې مه پټوه، خپل په سترګو مې وکتل چې په دې څو ورځو کې څه حال دې و. هغه شپه چې کله ادریس غوښتل په حرم تیر.....

د هغه احمق د نوم په اوریدو وینه مې په جوش راغله اور مې واخیست ومې ویل: بس کړه احمق د هغه مردار انسان نوم زما مخ ته مه اخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سام- ښه هغه ورځ څه؟ هغه ورځ چې ابراهيم د حرم مبايل يې راوړ او د يو هلک په اړه ورسره وغږيده، ومې ليده چې څنګه دې په غوسې سره حرم ته دې کتل، اوس هم دا پېښه همدا چې پوه شوې چې حرم باندې څه کارونه شوي ليونی شوې.

اديب- د خدای لپاره بس کړه سام، حوصله مې نشته باور وکړه اصلا ستا دې دچټياټو وخت نلرم.
زما مخ يې په دواړو لاسو کې ونيو او ويې ويل: څه ها؟ زما کومه خبره ستا له نظره دروغ ده؟ وروره پوهيږې ته راته تر ځان هم مهم يې، ما چې ورور نه درلود پلار مې نه درلود خو ته راته تر ورور زياد وی پلار وي پوهيږې مور مې تر ما تاسره ډېره مينه لري، ستا د دې حالت د ليدو توان په ما کې نشته، دا ظلم پر ځان مکوه او ورته ووايه.

خبره يې په نيمايي کې مې کيښود او په ستومانی حالت پورته شوم او تشناب ته لاړم، د اوبو نل مې خلاص کړ او سر مې تر اوبو لاندې ونيوه د سام خبرې مې مدام لکه غږيز پيام زما غوږنو کې انګازی کولې.لاسو سره مې د ښيښې پر مخ بخار( تفت) پاک کړ او ځان ته مې وکتل، هغه سترګې چې په ساړه نظر هر يو يې د ځان څخه لرې کول.اوس څه وشول! څه وشو چې د يوې انجلۍ ګرم نظر ته پريشان او اړ دی؟ د تشناب څخه په وتلو فکر مې کول چې سام تللي خو خپل پر ځای وچ ناست و.
اديب- نه ځې؟
سام- نچ؛ تر څو خپل ځواب تر لاسه نکړم يو ګام هم د دې ځايه نه اخلم.

اديب- نو تر قيامته همداسې په کمين کې اوسه.
د ځايه پورته شو په داسې حال کې چې لاسونه يې سره قفل کړي وو، په جدی او کلکه يې وويل: نو د حرم د واده سره موافقت وکړه هغه وخت .....

غوږنو مې بندل شول د دې خبرو د اوريدو توان مې نه درلود،سترګې مې پټې کړې مدام مې حرم په سترګو کې وه هغه بې پروا او بې له ډار سترګې هغه څه وو، چې د نورو څخه يې بيلوه،څنګه مې کولای شو هغه د بل تر څنګ ووينم؟لاس مې موټی کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په ټول توان مې پر ميز ووهه چې ورسره د ميز شيانو تيت او خواره شول
سام- ارامه اوسه. ما يوازې وويل، ته فکر وکړه که کوم ورځ ...
اديب- د باندې ووځه.

سام بغير د نور څه ويلو روان شو، او زه پاتې شوم د يو نړۍ پوښتنو سره چې د ځان څخه مې بار بار کول بيا هم سکرټ زما تر ګوتو تر منځ ځای پيدا کړو،د نن پيښې مې تر ياد شو د حرم څېره مې پر سترګو کې ځای واخيست د هغې سترګې تر هغه ستومانه و چې نور وژاړي؛ د يوې تياره کندې په څير د ډار څخه ډکې خو نا ترس!!!په رښتيا هم چې کله ټول شيان تا ډاروي او پر سر دې راځي مګر بل څه هم د ډار لپاره پاتي کيږي؟خو اوس هم د هغې خندا د مخکې په څېر بې پروا او سرشاره و ....

کله چې يې خندا بېرته مخکينې حالت ته راتله او ځان يې نه پيژنده!!!
نرمه مسکاء مې پر شونډو راغله او ناپامه مې وويل: بلاخره يوې کيلوالۍ انجلۍ زما زړه تر لاسه کړو او زه! اديب خان يې پر ځان مين کړم! تلفون مې واخيست بې له دې چې ساعت ته وګورم زنګ مې و واهه د څو شيبو وروسته ځواب مې تر لاسه کړ
سام- عجيبه ده چې اوس دې خپل د کوټې څخه وشړلم او بيا راپسي زنګ واهه؟
هغه هم په دې نيمه شپه.
سات ته مې وکتل: دوه بجې وې،په شرميدلی غږ مې وويل: پام مې نه و سبا غږې .....
سام زما خبره پرې کړه او ژر يې وويل: نه نه خبره دې وکړه هسې هم په دې تشويش راباندې خوب حرام دی.

اديب - همممم کيږي چې سبا پوهنتون کې حرم تعقيب کړې؟
سام - واضع وغږيږه .
اديب - غواړم پوه شم چې حرم د چا سره ناسته او ولاړه کوي او په هر څه پوه شم او د دې خبرې نه نبايد کاکا مې او حرم پوه شي.
سام - پر دواړو سترګو ولې نه اخير ورينداره پر يواځينې ليور يې حق لری همداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده کنه؟
ادیب- سام خوله دې بنده کړه کنه خپله یې درته بندوم اوس هم ورځه ویده شه

} ... حرم ... {

د لمر رڼا ځمکه یې په خپل ځادر کې پوښلي و،په نیم ترلو سترګو باندې شاوخوا ته مې وکتل او له دې چې خپل په کور او خپل په کوټه کې وم شکر مې وویسته، داسې احساس مې درلوده چې نوې د موره پیدا شوي یم د لومړۍ ورځو په شان خوشحالۍ سره مې ځان د پوهنتون په تیارولو شوم،د مینه په لیدو حالت مې تغیر وکړو.اه څومره مې زړه د دې انجلۍ پسې خفه وو،که څه هم مینه غوصه وه خو هغه مهربانه او پاک زړه یې دومره غوسي او قهر ته نه پریخودل.

حرم- اه انجلۍ باور مې نه کیده چې یوه ورځ دومره به درپسې خفه شم.
مینه - حرم پوهیږې پرون شپې راهیسې راباندې خوب حرام شوي زر قسمه فکرونه مې مغزو ته راته، وګورم ته خو ښه یې کنه؟؟
حرم - بد بوټی بلا نه وهي زړه دې ټول ونیسه یخی مار.
مینه د مټو څخه چونګاری کړم او په غوصه یې وویل:  ته نه سمیږې؟
په وړوکی شوي سترګو مې ورته وویل: ستا په مقابل که نه .

زما په دې خبری دواړو په ګډه وخندل،او خپل شاخوا ته مو پام نه و، سترګې مې پر یو ناشنا اشنا باندې ولګیده هغه څېرې ته مې وکتل او حیرانې مې وویل: دا نو دلته څه کوي؟
مینه - څوک یادوي حرم؟؟
حرم - مینې وګوره هغه هلک چې د پوهنتون د دروازی تر شاه ولاړ ده.
مینه ـ ومې لیدو ومې لیدو، حرم جانې رښتیا هم چې خالق یې ښایسته دی وګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته، څومره ښایسته یې خلق کړې.
حرم ـ اه مینه نکیږي چې یوار د انسان په ځېر وغږیږي؟

هغه ورځ ما سام ولیده چې مونږ یې تر نظر لاندې نیولي و، کله چې زما نظر یې ولېد نو نږدې راغي،اه چې هغه وخت د مینې هغه لیونتیا خبری د سام د رانږدی کیدو په وخت کې زه له خندا مړه کړم،دا انجلۍ پر هر حال کې خپل ټوکي کوي د سام سره په خبرو وم چې بلا وهلي احمد زمونږ تر منځ راغی او و یې ویل:
احمد ـ حرم شکر چې جوړه او روغه دې وینم د شپی راته مینه وویل درته په تشویش وم.

د خبرو په کولو اندیښنه یې په څېرې کې ښکاریده د سترګو په اړولو یې خپل ځای ته یې فکر شو او لږ تر شا شو او بیا یې وویل: رښتیا ښه یې؟
د دې جملې په ویلو سره د پښو نه تر سره تر نظر لاندې یې وې نیولم،ډار مې په زړه و چې سام په دې خبره پوه نشي چې کاش ...
احمد ـ څو ځلی مې درته زنګ وکړ خو ځواب دې رانکړ.
حرم ـ هممم پوهیږې هغه شپه زمونږ ژغورل یوه معجزه وه څه ورسیږي چې تلفون واخلم.
احمد ـ اه وبخښه زما پوښتنه احمقانه وه کنه؟
ومې ویل کیدي شی چې وروسته کفتریا کې سره وغږیږو او خپل د ملګر.....
خبره مې نه وه پوره کړې چې وویل: حتما حتما وروسته بیا سره ګورو

سام ـ معلومیږي چې نژدې ملګری دې ده؟
د سام غږ و چې زه یې په خود راوړم،په بنده ژبه مې غوښتل اوضاع کنټرول کړم چې مینه وویل: ملګری څه دا هلک مین دی.
په ګواښ لرونکي انداز مې نوم ورځخه واخیست: میـــــــنې ..!
سام هک پک پاتي په حیرت وویل: مین؟
وخت د تښتیدې و مخکې له دې چې بله بلا راباندې راشي د مینې لاس مې کلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخیسته او ومې ویل: اوس باید لاړه شم بیا خبرې کووو.
د جګو ګامونو سره د څنګ څخه یې تیره شوم، او هر څه مې تر خولې راغله مینې ته مې وویل..

دویم سات د درسې که څه هم زړه مې نه غوښت خو له مجبورۍ کفتریا ته لاړم او د احمد سره خبرې مې کولې چې یو اشنا غږ مې تر غوږو شو،د هغه څېرې په کتو توان د دریدو نه وه داسې نه چې زه خوب وینم؟
په نرم اواز یې وویل: ګرانې اندیښنه مې وه درته.
څه؟ ما سم واوریدل؟ ګرانې وویل؟
شاوخوا مې وکتل شاید یو بل چاته یې ویلې اوسیږی؟ خو نه امکان نلرې ماته یې راکتل،په ذهن کې کومې خبرې راته هغه مې تحلیل کول چې بیا یې زه یې مخاطب کړم.

ـ حرم ګرانې ته ښه یې؟
د سترګو په پېټولو مې خپل لاس چونګاری کړو، ترڅو که خوب اوسیږی راویښه شم خو نه دا خوب نه وو حقیقت وو.
په حیران انداز په بند، بند ژبه مې وویل: ا ... د ... ی... ب ...ادیب ...
ګنګس او حیرانه دی حالته وم نه چې دا هلک لیونی شوې؟بیا مې وویل: ته دلته؟ خیرتې ده؟
ادیب ـ دا نو څنګه سوال شو؟ مګر نه شم کولای چې خپل د کوژدنې لیدو ته راشم!

د هغه په خبره خوله مې له حیرت خلاصه پاتې شوه، نږدی وو د ډیر حیرت څخه مې سترګې له کاسې را ووځې، لکه چې یا زه لیونۍ شوی یم، یا دا خوب دې؟ یا هم نو دا هلک واقعا خپل د حد نه تیر شو، بې له دې چې خپل شاخوا ته پام وکړم ټول مونږ ته حیران کتل حتی مینه او احمد، نژدې شوم او د تنده مې وویل: دا کارونه څه معنا لری؟ نور یې بس کړه دا حماقت دې دا پوهنتون دی نه لندن که نه .....
زما د لاسو په اخیستو په داسې حال کې چې زما سترګو ته یې کتل احمد او مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې مخاطب کړل او ويې ويل: که څه هم تاسو سره آشنايي نلرم خو د حرم ملګرې زما هم کيږي او که زمونږ د کوژدې شيرني غواړې نو زه مو په خدمت کې يم.

خپل د خبرې د خلاصيدو وروسته يې په دروند نظر احمد خواته چې هک حيران ولاړ و مخ کړو او ويې ويل: هرڅومره چې خارج ته تللې او روشن فکر اوسيږم، بيا هم زړه مې نغواړي يو سړی دې زما د کوژدني شاوخوا وګرځي او خبرې ورسره وکړي، د دې وروسته زما کوژدنۍ ته مزاحمت ونکړې، په اجازه مو ...

هر څومره چې مې غوښتل ځان ورنه خلاص کړم هغه نوره هم کلکه نيولم په داسې حال کې چې پسخند يې واهه احمد ته په اشاره کولو يې کرار وويل: که نغواړې د دې هلک ژوند د ادريس غوندې شي نو لکه انسان بچې پشان زما سره راشه.
د هغه د غوسې څخه سرو سترګو ډاره ولم او پوهېدم که په خبره يې ونکړم نو تر کوم حد به ليونتوب وکړي.
ورسره روانه شوم خو د غوسي څخه مې په ګواښ لرونکې انداز وويل: کله چې ابراهيم زما پسې پوهنتون ته راغلو او زه يې ونه موندم او پلار مې خبر شو هغه وخت په څه ځواب ورکړې خپل و دې کار ته ښاغلي اديب خان؟

هغه بغير د څه ويلو راکتل چې ما په همغه غوسه خپل بکسه راوخيستل او ورسره روانه شوم، د پوهنتون څخه په وتلو نظر مې په سام او ابراهيم ولګيدو، او هک حيرانه شوم!  خو وروسته پوهه شوم چې د مخکې نه پلان همدا و، نور نو حيرت مې له حد زيات شو اخير دا هلک څه غوښتل؟ اديب د ابراهيم څخه د موټر کلياني واخيسته او د موټر تر شا کيناست او زه هم مخکې سيټ کې کيناستم، زما د کښيناستلو سره سم موټر په حرکت شو په لاره کې زر رقم پوښتنې مې ذهن ته راغلل چې د ټولو ځوابونه  د اديب سره و.

دواړه خاموش وو، هيڅ خبره مو تر منځ ونه شوه پوهېدم که زر پوښتنې هم وکړم بيا هم بې ځوابه پاتې کيږي،دومره پريشانه وم چې د موټر په دريدو د شيشې نه مې باندې وکتل هماغه مخفی لاره هوټل ته چې ځې همغه وه،هغه شپه مې ياد شو، دا نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه حالت دی د دې حالت هضم راته سخته وه د ادیب غږ سره په خود راغلم.
ادیب ـ نه چې د دعوت کارت ته منتظره یې؟ را ښکته شه.
بیا هم زما د عقل او زړه تر منځ جنګ پیل شو.
ماغزه مې ویل: دا کار حماقت دی په یاد دې نده چې پلار دې په څومره باور ستا ستاینه یې وکړه؟

زړه ویل: لیونتوب پرېږده دا هلک بیګانه نه دې ادیب دې، دی تاته کوم زیان نه دررسوي.
زه مینه وم هغه هم د جنون ترحده، مګر هلته چې مینه وي زړه د عقل خبره مني؟
د زړه په فتوا د مینې لاره مې وټاکه که څه هم عقل راته دا لاره د خطر نه ډکه ښوده ....
کاش هغه ورځ عاقل وای خو مینه نه!!!!
د هماغی دروازې تر شا وم چې په بیحد خراب حالت ورته راغلې او تللې وم، ادیب د کوټې دروازه خلاصه کړه او دننه د تلو یې وویل،په اندیښنې دننه شوم د لاسو په قفل کولو په جګ اواز مې وویل:

حرم ـ کیدی شي راته د دې کار د کولو توضیح راکړي؟یعنې دا څه مطلب چې راشې زما پوهنتون ته او ما خپل کوژدنه معرفی کړی؟
ادیب ـ غږ دې ښکته کړه پوهیږې چې د کاکا په خبر مې مهربانه نه یم.

احساس مې کاوه چې زما د کمزورتیا تارونه یې خپل د ګوتو ترمنځ کلک نیولي دی، زړه مې بنده شو. دا سړی واقعاً نه پوهېږي چې له مېرمنو سره څنګه چلند وکړي.
نه! داسی باید ووایم چې له ما سره چلند نه‌شي کولای.زه هغه ښه پېژنم دا ادیب تل له نورو څخه متفاوت! او مغرور.په پوره بیغمې په کوچ کېناست او په خپلو دواړو سترګو یې ماته اشاره وکړه چې زه هم کښېنم.

حرم- وخت نه لرم چې کښېنم، خبرې دې وکړه!
ادیب- لکه د انسانانو په څېر خپل په ځای کینه کلیوالې نجلۍ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرم- کېناستم، وګوره، اوس کېناستم، ښه! اوس راته ووایه چې د دې ټولو کارونو دلیل دې څه دی؟

ادیب یوه شیطانه موسکا یې وکړه او ویې ویل: دلیل؟ ایا ته زما سره مینه نه کوی؟ ایا تا نه غوښتل چې...
حرم- یوه شېبه صبر وکړه! ته خو اصلاً له مینې څه پوهېږې او کنه صاحب؟ هوم؟؟ اوس دې عقل دې خبرې ته رسېږي؟
ادیب- هیسسس!! که بیا ... که یوځل بیا زما په وړاندې داسې بې ادبانه خبرې وکړې، نو خپله به د خپل بد حالت مسؤله اوسیږې، پوه شوې؟؟ وایم چې پوه شوې؟؟

دوهمه کلمه یې دومره جدي او له غضبه ډکه وویل چې زما په بدن کې وینه وچه شوه، ژبه مې هم بنده شوه، یوازې مې سر وخوځاوه او تسلیم شوم.هغه خپله تکیه له څوکۍ واخېسته او یو قوطي یې پر مېز کېښود.
ادیب- دا ستا دی، نه یې خلاصوې؟
په حیرانۍ مې ورته وکتل او په شک مې وپوښتل: دا څه شی دی؟
ادیب- خپله یې وګوره.
قوطی مې را واخېست او خلاص مې کړو یو د وروستي ماډل موبایل پکې ایښی و.

لا مې موبایل ته په ځیر ځیر کتل چې په پوره وقار او آرامۍ یې وویل: پرون دې وویل چې موبایل نه لرې، نو دا مې درته واخیست.

نه، دا بلکل یو خوب و!هغه سړی چې تر پرون پورې زما د وینې تږی و، اوس زما خیال ساتي؟ یوه کره موسکا مې وکړه او ومې ویل: ضرور نه ده چې زما لپاره اندېښنه وکړې، زه دا نشم منلی!

ادیب – چا له تا وپوښتل؟حوصله نه لرم چې له تا سره بحث وکړم، دا واخله.
بله دا چې، ما د تره سره خبرې کړي، اړتیا نشته چې نورو ته څه وضاحت ورکړې.
اوس پاڅه، ابراهیم به تا ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سړی نور واقعاً زما د ژوند او مرګ صاحب ځان حساب کولو! ایا ممکنه وه چې د داسې یو سړي مینه په زړه کې ونه لوېږي؟هغه په بشپړ ډول له نورو سړیو جلا و. هغه له دودیزو قوانینو سره سازګار نه و، هغه د خپلې نړۍ قوانین لرل. که څه هم داسی امرونو ته یې غوسه راغلې وه خو خوشحاله هم وم او بی اختیاره مې پرشونډو مسکا راتله.آرام له ځایه پاڅېدم، لا مې لا یو کوچنی واټن له دروازې سره لرلو چې له شا یې په کراره او شیزان غږ وویل:

ادیب- هاااا یاد مې شو د موبایل پاسورډ دې هماغه د مخکیني موبایل پاسورډ دی ا ... د ... ی ... ب ...

هغه کلمې ورو ورو او روښانه ادا کړې، او د همدې خبرې سره مې زړه په سینه کې سخت درزا پیل کړه. هغه په ما طعنه وهل؟ پوه شوی و چې د هغه نوم مې خپل د موبایل پاسورډ کیخودلی وو؟ نڅاپه، د هماغه ورځې صحنه راته ذهن ته راغله هغه ورځ چې ادیب غوسه او ستړی زما د موبایل پاسورډ وپوښت.

اه، احمقې نجلۍ! آخر دې خپل ځان رسوا کړ! وګوره، تا خو خپل په لاسونو ځان تورې کندې ته وغورځولې! په زړه کې مې سل او زر لعنتونه پر ځان ولګول. بې له ځنډه له خونې ووتلم، چې ناڅاپه مې سترګې پر ابراهیم ولګېدې.هغه د عسکرو په څېر د دهلیز یوې څنډې ته ولاړ و، لکه چې د تیارسی حال کې وي. قدمونه مې تېز کړل او نېغ ورته ورغلم. همدا چې غوښتل یې خپل کار توضیح کړي، خو ما پرینځود او په تند لهجه مې خپل زړه په ده خالي کړو او ومې ویل: دا کار ستا څخه لرې وو ابراهیم! ما تا ته خپل د ورور په څېر کتل، خو تا داسی یو کار زما حق کې وکړو؟

ابراهیم- حرم، باور وکړه زه په دی کارونو نه وم خبر، وګوره، دا ټول یو سوء تفاهم و،زه د ښاغلې ادیب سره وم چې د هغه یو ملګري مور ته خبر راکړ، او ویې ویل چې د پوهنتون د هلکانو څخه یو نفر تاته مزاحمت کوي، مور بغیر د وخت تیره ولو راغلو چې وګور چا جرئت کړې تاته مزاحمت وکړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه له توضیحاتو سره، زه پوه شوم چې اصلي ویره مې دا وه چې د احمد موضوع زما کورنۍ ته افشا نشي، خو دلته خبره اوږده شوه...
حرم- بس، بس! ډېر چاپلوسې مکوه، اوس کېدای شي لاړ شو؟ټاکل شوې چې نن مې مور دوي راشي، او اوس چې ستاسو د حماقت له برکت درس ته ولاړه نه‌شوم، نو ښه به وي چې لږ تر لږه خپل کور ته وختي ورسېږم.

ابراهیم- ښه، اوس ما بخښې او کنه؟
ما اوږې پورته وغورځولې، لکه چې اصلاً مهمه نه وي، او په بې‌پروايۍ مې وويل:
هممم، لا هم نه! یالله، زر شه، باید ژر کور ته ورسېږو.

نن راه بندي او ګڼه ګوڼې بیحد زیات وه، بلاخره له سختې ستړیا سره کور ته ورسېدم.غوښتل مې د شپې لپاره خپل ځان ته خواړه تیار کړم، یوازینی شی چې کولای مې شو خپل ذهن پرې ارام کړم.خاله حمیده په پخلنځي کې وه.کله چې یې زه ولیدم، د تل په څېر یې خپل تاوده غېږ را پرانیست.زه ورو ورنژدې شوم او په بیحد ټیټ اواز چې یوازې هغه واورې ومې ویل: خاله، باید نن شپه له تا سره خبرې وکړم. کولی شم ستا خونې ته راشم؟

هغې زما لاس کلک ونیو او د سر په ښورولو یې زما خبره ومنله.
مرجان چې موږ دواړه په بنګ، بنګ ولېدو په کنایه وويل: که ستاسې خبرې او اشاره بازۍ خلاصې شوې، نو کولای شو خپلو کارونو ته ادامه ورکړو؟
ما وخندل او ورته ومې ویل: اه، مرجان! ته خو تل د کباب هډوکي یې، هر کار کې کار لرې ګرانې!

او بیا درې واړه وخندل.

د پخلنځي ځانګړې چینه مې واچول او د پخلي کار ته مې ملا وتړله،ټاکل شوې وه چې نن شپه د هر چا لپاره د هغه خوښې خواړه تیار کړو،دلمه بادنجان رومي، ماکاروني له ساس سره، سبزي چلو، او د دارچین ادویې سره شیربرنج دا د مور مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ډېرو خوښې خوړه وه.د څو ساعتونو کار وروسته، د خاله حمیده او مرجان په مرسته، ټول خواړه تیار شول.همدا چې د نارون غږ مې واورېد، له کاره مې لاس واخیست، او ټول د ښه راغلاست ویلو لپاره راووتو.

زه د دوی ټولو سخت منتظره وم،که څه هم زما اړیکې له هیله او مور سره چندان ښه نه وې، خو بیا هم، نن، کله چې مې هر یو یې په غېږ کې ونیول، یو ډول ارام شوم.مسیح لا هم له خپل شوخ‌طبعي نه لاس نه‌اخیست، خو بیا هم، څو ورځې ټولو غمجن ښکاره کول، په ځانګړې ډول نارون.په دې څو ساعتونو کې، زحمت مې ایسته چې د نارون له خولې خبره راووباسم، خو بې‌فایده وه.هغه تل په خپلو سوچونو کې ډوبه وه،او دا چې نارون یو ډېر احساساتي نجلۍ وه، نو دا حالت یې چندان غیرطبیعي نه و.

کله چې پلار مې راغی، ټول د مېز شاوخوا راټول شو. مسیح هیڅ آرام نه‌و، تل یې له پلار سره خبرې کولې،خو ناڅاپه یې راته وکتل او په مسخره یې وویل: ښه، نو ته دا لس ورځې څه کول؟ ګورم، ستا حال زما له حاله هم خراب دی!
د هغه په خبره مې ډوبۍ په ستوني کې بند شو! ناڅاپه، د هغه هوټل پېښه مې ذهن ته راغله! ټول راته ځیر شوي وو! ژر مې د اوبو یو غړپ وڅښه، په زوره مې د یو مناسب ځواب موندلو هڅه کوله، چې پلار مې، د حالت د کنټرولولو لپاره، وویل: څه حال به ولري، تل یې د معدې له درد شکایت کاوه! حتی، ما فکر وکړ چې یو مناسب وخت ته به هند ته د ښه تداوۍ لپاره لاړه شي.

هیله، چې لا یې د دلمې ټوټه خولې ته وړله، د پلار خبره یې تکرار کړه: معده؟
او بیا یې په کنایه وویل: هسې نه، چې دا درد دې هم په همدې لسو ورځو کې پیدا شوی؟ د دې ښځه مخکې خو دی معده جوړه وه!
حاجي صبور- هیلۍ بچي دا نو څنګه خبره ده؟ ته غواړې و وایې چې خور دې د دروغو تمثیل کوې؟ او ناروغ نه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې د څه ویلو مخکې مور مې وویل: هیله سم وایي، حاجي صاحب! تاسو دا نجلۍ نازولې کړې ده، اوس یو کوچني درد هم د غټ مصیبت په څېر ښکاره کوي!

ما مور ته په ځېر، ځېز وکتل، د هغې خبرې مې سختې پر زړه ولګېدې.ځنګه ممکنه وه چې تر دې حده له ما خفه وي؟ایا دا دروغ نه و، چې ویل کېږي مور د اولاد پټ دردونه حس کولای شي؟ نو چېرته وه دا مورنی عاطفه؟ ولې یې هغه شپه زما حال درک نه کړ؟ولې یې و نه پوهېده، چې زه دا ټول وخت د مرګ او ژوند تر منځ ولاړه وم؟ ولې؟؟ ولې؟؟؟ځنګه ممکنه وه چې دومره زما د حال په اړه بې پروا اوسیږی؟ هغه شپه، د یوې مور او لور ترمنځ، تندې، قهرجنې سترګې مخامخ شوې.

داسې چې دواړو یو بل ته د جګړې د پیل سترګې ووهلې، خو جوت و چې نه زه او نه هم هغه د دې جګړې د پیل نیت درلود.زه پوهېدم که یوه کلمه هم ووایم، نو لوی جنګ او جنجال به جوړه شي!ما خپل نظر له مور واړاوه، سر مې ښکته کړ، او ځان مې د خوړو په خوړلو بوخت وښود.د ماښام له ډوډۍ وروسته، ټول د سترِیا له امله، خپلو خونې ته لاړل ما هم فرصت له لاسه ورنکړ او د خاله حمیده لیدو ته لاړم.

لکه تل پشان، هغه د لمونځ پر ځای ناسته وه او قرآن یې تلاوت کاوه. ورو یې ځنګ ته کښېناستم، کله چې ما ته متوجه شوه نو قرآن یې ښکل کړو او بند یې کړو.
حمیده- زه ستا د راتګ په تمه وم لورکۍ! راته ووایه، څه مهمه خبره ده؟
زه په خپلو خبرو کې زړه نا زړه وم، د خپلو ګوتو سره مې لوبې کولې. چې هغې بیا وویل: تر نن ورځې پورې، مور دواړه د یو بل ښه راز ساتونکي وو، نو اوس ولې چوپ یې؟

زه مجبور وم له یو چا سره خبرې وکړم، او څوک به تر خاله حمیده ښه وای؟ ما د نن ورځې ټولې پیښې ورته بیان کړې. له اورېدو سره، هغه حیرانه شوه، آن تر ما هم زیات!
په حیرت یې وویل: لورې! ته پوهیږې چې دا یوه لویه تېروتنه ده؟ ته نه پوهیږې چې هیله او مسیح هم له تا سره په یوه پوهنتون کې دي؟ د کوژدنۍ نوم تاته درکول

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ستا ملګرى خبر كول څه ماشومانه لوبه نه ده! هغه څنګه داسى كار وكړو؟
ما د هغې خبرې پرې كړې او ومې ويل: خو زما تېروتنه څه ده، خاله؟ ته پوهېږې چې دا سړى يو سرزوره او وحشي طبيعت لري، تل بايد لومړى خبره د ده له خولې ووځي. اوس زه څه وكړم؟

حميده: هغه حتماً د دې كار لپاره يو دليل لري، كنه؟
– آه، خاله! وايم، هسې نه دا سړى راباندې مين شوى وي؟ هوووم؟ كه نه، نو څنګه ممكنه ده چې د ټولو پر وړاندې ما ځان ته منسوب كړي؟ او ما خپل كوژدن وبلې؟
حميده- حرم! هوښيار شه، لورې! ته واقعاً ليونۍ شوې يې؟ زه هېڅ باور نشم كولى! ته هماغه حرم اوسېږى، ته چې يو وخت به دې د ليلا او مجنون د ميني په كيسو دى مسخرې كوله؟ اوس خپله ليلا شوې يې!

د خاله حميده له خبرو سره، د سترګو مرغلرې مې پر مخ وورېدې.په ژړا سره مې وويل: زه له كومه پوهېدم، خاله؟ چا ماته داسې خبرى كړې وه؟ كه ويلي هم وايې بيا به هم ما د دې پيچلو احساساتو درک نه وايې كړى؟ باور وكړه، خاله، زه ستړې يم!تر دې حده چې نور د دې طوفان زغم نه لرم. دا مينه مې ورانوي، خاله، مهرباني وكړه، يو څه وكړه! بې له ده ژوند نشم كولى!

ژړا مې كوله او نور هم د خاله حميده غېږ ته ورلنډه شوم او ځان مې پټاوه.
حميده- هغه ډبره چې د تيشې ضربې نشي زغملى، د مجسمې كېدو ارزښت نه لري! د سختيو پر وړاندې قوي اوسه، څو ستا شتون د تنديس او ارزښت وړ وي!
ما په همغه ژړا وويل: ايا دا ټول عذاب بس نه دى، خاله؟ زه د تنديس وړ نه يم؟ ما دومره بى محبتي لېدلې ايا لږ د محبت او ميني حق نلرم؟
حميده- لورې، مينه يوازې په خبرو نه ثابتيږي. مينه له كتاب نه اخيستل كيږي، ځكه چې د هر كتاب پاڼه د مينى يوه، يوه خبره ده، مينه له زړه څخه تر زړه اړيكه ده.
پوهېږې، مينه څلور برخي لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساس، اعتراف، غوښتنه، او صداقت.

دميني لومړنی برخه احساسات دي، چې له هر څه ښکلي دي! دوهم برخه، هغه وخت دی چې ته اعتراف کوې خپل د ميني.دريم برخه د غوښتلو هيله ده، يعنې کله چې ته د دې درد احساس کوې، هماغه شيبه دا ارمان کوې چې کاش خدای دا درد او غم تا ته درکړي، نه بل چاته.خو ټول څه پر يوه ټکی راټولېږي، او هغه صداقت دی! که صداقت نه وي، نو دا اړيکه نور ټينګه نه پاتې کېږي. تا دا څلور برخي په لوړ مقام سره تېر کړې، خو اديب څه؟ آيا اديب هم کولای شي دا سفر بشپړ کړي؟ايا هغه تيار دې ستا د ترلاسه کولو لپاره هر کار وکړې؟

د دې خبرو له اورېدو سره، حيرانه او غمژن شوم يوازې د دې خبرې تصور لا چې شايد اديب زما سره پاتې نشي، زه ليونۍ کولم.خو د دې پوښتنو ځوابونه زما سره نه و. د خاله حميده له غبرې را جلا شوم، او د خپلو اوښکو د پاکولو سره، مې يو زورکی موسکا وويل: زما لپاره انديښنه مه کوه، سلطان بانو! زه دومره ناپوهه نه يم چې حماقت وکړم او ځان د بربادۍ کندې ته واچومچ.

زه پوهېدم چې زما دا خبرو هغه قانع نکړه، ځکه چې هغې احساس کړی و چې زه په دې مينې کې له منځه تللې يم، خو چوپ پاتې شوه.ما د هغې مخ ونيوه او په همغه دروغجن انداز مې ورسره خدای پاماني وکړو او خپل کوټې ته لاړم. ګروپ مړ و، زما د بخت نه، هيله او نارون دواړه بيده وو. ورو ورو، بې له غږه، د خپل بستر خواته لاړم.خپل موبايل مې راواخيست او د ثبت شوو شمېرو ته مې پام شو. د ټولې کورنۍ شمېرې پکې وې.

يو نيمه موسکا مې وکړه او ځان سره مې وويل: آه، يعني دا مغرور انسان ځانته دومره زحمت ورکړی! د شمېرو په منځ کې، د هغه نوم مې هم وليد او ناڅاپه مې زړه په تيزۍ سره په درزيدو شو، داسې چې ته به وايې، هره ضربه يې د يو راز افشا کېدل و.د خپلې ګوتې سر مې د غاښونو تر منځ ونيوه، او د مينې او محبت له ډک

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مې د اديب د واتساپ پروفايل ته ځير شوم. د سترګو له کونجه، هغه ياغي او سرکشه نظر يې مستقيم کمرې ته نه و، بلکې د رازونو ډک يو نيم نظر يې پکې پټ و.

دوه ګوتې مې ورو د سکرين په منځ کش کړې، انځور مې رانږدې کړ، او نور هم د هغه نيم نظر په ژوروالي کې ډوبه شوم.دا نظر څه لري، چې زه يې لېونۍ کړې يم؟ ولې د دې نيم نظر اسيره شوې يم؟که زمان او مکان زما په اختيار کې وای، نو د نوح (ع) له طوفان نه لس کاله مخکې مې غوښت تاته زړه وبايلم. تر څو تا تر قيامته پورې ناز کولای، او ما د ی ناز اخيست.(ويل کېږي د نوح"ع" د طوفان وروسته د انسانانو عمرونه کم شول)

سل کاله به مې ستا د سترګو ستاينه کړې وای، درې زره کاله به مې ستا د وجود عبادت کړی وای، او بيا، د ژوند په وروستيو کې، به مې اجازه ترلاسه کړې وای چې ستا زړه ته ننوځم...

خو اوس، زما د زړه دروندوالی زما پر سترګو پرېوت.دا څه درد دی، چې د خپلې ټولې تريخوالي سره، بيا هم زما لپاره خواږه دی؟د اوښکو يوه څاڅکی مې پر غومبرو راولوېد، او د ژړا سره مې ارام، خو ناهيلي زمزمه وکړه:کېدای شي چې ته ما ومنې؟ کېدای شي چې ته زما مينه قبول کړې؟ آه، که ته ما ومنې...
خبره مې تر ستوني تېر نه شو، بلکې هلته بند پاتې شو.خو که نه، که ته زما نه يې نو دا دومره کارونه ..

سترګې مې له اوښکو ډکې شوې، او د اديب انځور مې د باراني شپو په شان تار وليد.ناڅاپه، زما ذهن ته د هغه بهرني نجلۍ سره د اديب عکسونه راغلل. د خشم له شدت نه مې لاسونه په لړزه شول.يوه شېبه مې ټليفوني سکرين ته کتل، بيا مې ټوله دنيا تته کړه، او موبايل مې بند کړ.خپل ځان مې د کمپل په پوښ کې پټ کړ، داسې لکه چې د حقيقت له درده د ځان پټولو يوازينۍ لار همدا وي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

{ ... اديب ... }

نن، د کاري ناستې له پای ته رسېدو وروسته، باید هوټل ته ستون شوی وای، خو د سام زنګ دا پلان بدل کړ. هغه راته وویل هلک(احمد) غواړي چې تر یوه ساعت پورې له حرم سره د یو مهم څه په اړه خبرې وکړي. شاید د دوستۍ وړاندیز وي! د دې خبرو له اورېدو سره، زما په رګونو کې وینه په جوش راغله حتی د دې تصور هم، چې یو بل کس حرم ته د دوستۍ وړاندیز وکړي، ما ته د زغملو نه و.ما او ابراهیم ژر ځانونه هلته ورسول. کله چې ورسېدم، ومې لیدل چې حرم له هغه هلک سره خبرې کوي.

هلک، رښتیا هم ښایسته او باوقاره و.هغه ډول ځېره، چې هره نجلۍ یې د ځان لپاره غواړي، په ځانګړې توګه د پوهنتون په چاپېریال کې، هلته چې دا ډول اړیکې ډېرې عامې دي. خو زه؟ زه تر بل هر وخت زیات غوسه شوم.زه هغه حالت ته ورسېدم، چې بله لاره راته پاتې نه وه، پرته له دې چې حرم د ټولو پر وړاندې ځان ته منسوب کړم.او خپل کوژدنه یې معرفي کړم.زه پوهېږم، چې دا کار مې هر څه نور هم پیچلي او ګډوډ کوي، خو په پای کې څه؟ حرم اول اخر زما ده!

پس، کومه ستونزه نشته، خو ولې؟ ولې کله چې زه د هغې مخې ته ورځم، زما ژبه بنده شي؟ولې د زړه خبرې نشم کولای؟ځینې خبرې چې موږ یې پر ژبه راوړلې نشو یو عصبي ناروغي ورځخه جوړېږي او هره ورځ مو د دننه څخه خوري.لکه زما د دې حال پشان.

{ ... حرم ... }

د لمر رڼا خپل وزرې د ځمکې په تیارو ښوره کړل او د شپې تور تم لمینځه لاړو، خزان راورسېد له ځان سره یې ښکلې رنګونه راوړل. زه د دې موسم او د پاڼو د نڅا مینه واله وم. دا فصل زما لپاره ډېر خوږ و، ارامي احساسوله. هوا ورو ورو یخېده...!!کرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کالي مې اغوستي وو، او خپل وېښته مې باد ته سپارلي وو، ترخو د پاڼو په څېر په نڅا راشي.د څو ورځو وروسته، بيا ټول يو ځای پوهنتون ته روان شوو. په لاره کې مينې څو زنګونه ووهل، خو ما پرېکړه وکړه چې ځواب ورنکړم ځکه چې زه مينه ښه پيږنم. هغې زما د کوژدی په اړه پلټنه کول.

په هماغه پخوانی ځای کې ناسته وه، پداسې حال کې چې له خپلو ګوتو سره لوبې کولې، خو چې زه يې وليدلم، ناڅاپه په بيړه راپاڅېد او را روان شو.
مينه په حيرانتيا وويل: اه، حرم! ته تل له ماجراو ډکه يې! راته وايه، ستا د نامزادي خبره ريښتيا ده که يوازې يوه اوازه ده؟ يالله، زر را ته ووايه، وجنيۍ!
حرم بالکل صحيح وايې! ايا دا امکان لري چې زه نامزاده شم او يوازينی نږدې ملګری مې له دې خبره بې‌خبره وي؟ هوووم؟

کله چې دا خبره يی واورېده، سترګې يې کلکې پټې کړې او يو ژور ساه يې واخيسته، لکه يو دروند بار چی يی له خپلو اوږو نه لرې کړی وي.
هغی زمابارخوګانو ونيولې او په هيجان سره يې وويل: اه، پوهېدم چې دا يوازې يوه شوخۍ ده... آيا ته د لومړي ليدنی په مينه باور لرې؟
په ګنکس ډول می وويل: نه خو دا خبره له کومه راغله؟
مينه- ځکه چې زه په اول نظر په هماغه سړی (اديب) مينۀ شوم، شکر چې ستا کوژدن نه دې اوس به زه ورباندی خپل فرصت استعمال کړم.

ځينې وختونه زه حيرانه کېږم چې دا انرژی چې مينه يی لري څنګه ممکنه ده،چې يو انسان تل خوشحاله وي او کولی شي نورو ته خوشحالي راوړي؟خندا مې نه بند کېدل په قهقه باندی مې خندل او همغه حال کې مې وويل: مينه، وای! له دې ليونی زړه نه چې ته لرې، څو ځله يوه ورځ کی عاشق او زړه بايلونکی پيدا کوي؟
مينه- و ګوره،وګوره سترګو ته دی، چې رڼاکوی او ځليږي، شايد دا هماغه...؟

د خبرو په نيمه کې می خبره پرې کړه او غمجن ژغ مې ويل: دا هماغه دی، هماغه چې ټوله خوشحالي يی را يرغمل کړی، زه يې وسوځولم او په خاورې يې بدل کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژړا مې ستونی راګیر کی، خبری مې بندې پاتې شوې.
مینه- که هغه درسره هیڅ مینه نه لري، نو په کوم حق یې ته خپل ځان ته منسوب کړی؟ او خپل کوژدن یې معرفی کړی؟
حرم- که ځواب راکړې نو پوهه به شم،احساس کوم لکه یوکاغذپران چې په هوا کې ځورند یم. نه مې نړدې پرېږدي، نه مې له ځانه لرې کوي. نه پوهېږم، واقعاً دا سړی څنګه انسان دی؟!

د سړې هوا له شدت مې لاسونه یو بل سره ټېنګ موښل، خو زړهٔ مې لکه اور چی اخیستی وی مینه، زما د لاسو په نیولو سره، په خندا خبرې پیل کړې.
مینه- حقیقي مینه بې پایانه او نه ستړې کېدونکې ده. هر څومره چې زیات ورکړې، هغومره زیات ترلاسه کوې،لکه څرنګه چې یوه څاهچ! هر څومره چې زیاتې اوبه ورڅخه واخیستل شي، نوهغومره جریان یې زیاتېږي، خفه مه اوسه، هرهغه څه چې ستا په خیر وي هغه کیږی. دا هم باید درته ووایم چې احمد تېره شپه ما ته زنګ وواهه، داسې ښکاري چې لېونی شوی دی ..

حرم- هیله کوم مینې خبرې مه کوه، دا هلک په نرمه لهجه نه پوهېږي.احساس کوم چې ادیب زه تر نظر لاندې نیولی یم، باید احتیاط وکړم.باور وکړه، نور د بل عذاب دزغملو تاب نلرم.
مینه- باور کوم، احمد ماته پرېږده، هغه تېره شپه ویل چې څو ورځې لپاره دوبۍ ته ځي، نو آرامه اوسې.
حرم- لاړ دې شي او د تل لپاره دې ورک شي.
ټوله ورځ د مینی سره وم او ورځ بیحد ژر راباندی تېره شوه او پوهه نشوم چې څنګه پای ته ورسیده.

د کتاب په لوستلو بوخت وم چې هیله په هیجان سره کوټی ته راغله، سترګې یې د اسمان دستورو په شان ځلېدې،تر کومه ځای چی هیله مې ښه پېژندله، دا لږ وخت پېښېدل چې داسې خوشحاله اوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما په حیرانتیا وپوښتل: خیرت خو دي! ولې دومره خوشحاله یې؟
هیلۍ وویل: ځانګړې دلیل نه لري، یواځې مې وغوښتل چې نن شپه لږ ځان ته توجه وکړم. دا بده خبره ده؟ هوم؟
حرم- نه، نه، ځکه چې ته ډېر کم خپل ځان داسې سینګاروې، نو دا راته عجیب ښکاره شو.

هیله- هممم، ځکه زه اړتیا نه لرم آرایش او سینګار ته او نه هم حوصله لرم، یوازې نن شپه مې زړه وغوښتل.
حرم- که ما ته نه پېژندلی، شاید باور مې کړی وای.
هیله- آوو بابا، زه د بېځایه خبرو کولو حوصله نه لرم، اوس مې پلار دوي راځي.
حرم- پلار دوي؟ یعنې څوک له پلار سره می راغلی دی؟
هیله- ښه، نو بل څوک راځي؟ ادیب دی نو.

د ادیب د نوم په اورېدلو سره زه په خپل ځای کې بې حرکته شوم، اوس که د احمد خبره دلته یاد کړي، نو څه به وشي؟ د هیله له غږ سره مې ځان ته فکرشو.
هیله- زه له تاسره خبرې کوم، حرم، فکر دې چېرته دی، جینۍ؟
حرم- بخښنه غوارم، ګرانی کوم څه دې وویل؟
هیله- ښه، پرېږده یې، راځه پورته شه، چې پلار دوی ته مې لاړشو.
حرم- ته لاړ شه، زه وروسته راځم.

همدا چې هیله لاړه، زه ژر تر ژره اشپزخانی ته ورغلم، خاله حمیده یوازې د چای په چمتو کولو بوخته وه.
ما په لړزان غږ وویل: خاله، پوهېږې چې اد...
خاله مې خبرې راپرې کړې او وویل: آرامه اوسه، حرم، زه پوهیږم چې ادیب راغلی، خو زړه دې ډاډه وسه. ادیب داسې څوک نه دی چې د احمد خبره افشا کړي. اوس پتنوس راواخله او ټولو ته چای یوسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خاله حمیده پسې روان شوم، پتنوس مې واخیستې او سالون ته داخل شوم.
مخکې تر دې چې سالون ته داخل شم، د هغه غږ مې تر غوږو شو.د زړه ضربان می له کنټروله ووته، لاړ مې ورکه کړل. خپل د کنټرول کولو لپاره مې ځان ته وویل: اه حرم، ځان کنټرول کړه، دلته باید کم رانه شې،ځان ته په تسلی ورکولو سره په ارامه سالون ته ورننوتم،هغه د پلار سره ناست و ،هر ځل چې مې هغه لیدی له مخکې نه می زیات مینه ورسره پیدا کیدل او هر ځل چې هغه گورم، زما لپاره لا زیات زړه راښکونکی او جذاب کیږي.

پتنوس مې مخکې کړې، او ټولو ته می چای ورکړل او دناروں څنگ ته می ځان ځای پر ځای کړو، او یوه لحظه می هم سترګې له هغې نه لیری نه کړی. خو برعکس، هغه شپه هغه بیخې زما طرف ته پام ونه کړ، داسې لکه چې زه هیڅ دلته شتون نه لرم! له یوې خوا د دې لپاره خوشحاله وم چې د احمد موضوع پټه پاتې وه. خو له دې چې وروسته له داسې ستړې خبرې دکولو یعنی (نامزادي) بې‌پروا ناست و، زړه مې ټوټه، ټوټه کېده. اخر دا سړی نور څومره بې‌احساسه او سخت‌زړی وه؟

شاید زما ځورول او عذاب راکول ورته لا خوندور وي! پلار مې د خبرو واک په لاس کې واخیستې، په لوړ غږ یې خبرې پیل کړې او په مستقیم نظر یې ما ته راوکتل.... حاجي صبور- نن شپه تاسو ټول حاضر یاست، نو غوښتل مې یوه موضوع له تاسو سره شریکه کړم. حاجی رسول چې زما نږدې ملګری دی، تاسو ټول یې ښه پېژنئ. هغه غواړي چې د خپل زوی لپاره د حرم مرکه وکړي. زوی یې په امریکا کې درس وایي، ښه هلک دی. ډېر وخت وشو چې حاجی رسول دا موضوع راته بیا، بیا یاده وی، نو ومې غوښتل چې نن، چې تاسو ټول حاضر یاست، دا خبره درسره شریکه کړم.

د دې خبرې په اورېدو سره حیرانه شوم، سمدلاسه مې ادیب ته وکتل، یوازې په حیرانۍ یې ما کی سترګې خښې کړې وې، هیله مې لرله چې یوڅه ووایي، اعتراض وکړي، چې ووایي "نه، دا ممکن نه ده!" خو هغه شپه، لکه چې ژبه یې بنده«ګونګې»

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې وه. هماغه شپه مې تر ټولو ستر درد وزغمه، د هغه په داسې خاموشي باندې بې‌اختیاره زما ژبه په حرکت راغله او ومې ویل: هر څه چې تاسو مناسب ګڼئ پلاره. حاجي صبور-نه، لورې، دا موضوع دومره هم ساده نه ده. لومړی فکر وکړه، بیا ځواب راکړه.

حرم-اوس هم همدا وایم، وروسته هم ستاسو خبره زما په ژوند کې لومړنۍ او وروستۍ پرېکړه ده، ستاسو خوښه زما خوښه ده. په اجازې مو.
سالون مې پرېښود، او په تلوار می ځان خپل کوټې او خپل بستری ته ورسه وو.څو ځله مېنی زنګونو ووهل، خو زه دومره ستړې وم چې د خبرو توان مې نه درلود.

سهار ډېر ژر له خوبه راویښه شوم.

پوهنتون ته په لاره وم چې د ادیب یو پیغام را ورسید، لیکلې وه: یو ساعت وروسته سام ستا پسې درځې، د هغه سره راشه.

دا ده پشیو او مورک د لوبې څخه بی حد ستړی شوی وم،هېڅ ځواب مې ورنه کړې. ټول یوځای دپوهنتون حویلی ته ننوتلو. ما له مینی سره خبرې کولې، چې ټیک یو ساعت وروسته، بل پیغام راته راورسېد.له مینه څخه جلا شوم او د پوهنتون څخه بهر شوم. سام دقیقاً په هماغه ځای کې و چې هغه بل ځل د ادیب سره له هغه ځایه تلې وو هوټل ته، زه دومره عصبي او ستړې وم چې هیڅ خبره مې ونه کړه،او په موټر کې مې ځان ځای پر ځای کې پوهیدم چې هغه بیا هم هماغه هوټل ته ځي، ځکه چې ادیب له ګڼې ګوڼې ځایونو څخه کرکه کاوه.

یو ساعت وروسته...

د موټر له کړکۍ څخه بهر ته په کتلو شوم، موټر و دربد او بیا هم له هماغې پټ لارې څخه هوټل ته ننوتلم، او په یوه شېبه کې مې ځان د اطاق شاته وموندی.یوه ژوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساه مې واخیست او له ځانه سره مې یو قول وکړې" نه، حرم! نن به نه تسلیم کېږې، ماتې به نخورې ته باید قوي او ثابت قدمه پاتې شې،منفي فکرونه مې لځان څخه لرې کړل او لاس مې اوږد کړو ترڅو دروازه خلاصه کړم، خو لا مې لاس دروازی ته نه وو رسیدلې چې ادیب دروازه را خلاصه کړه او زما نظر د هغه په غښتلې وجود ولګېده د هغه سترګو ته ځېر شوم.

د هغه له سترګو څخه غصه څرګندیده.کله چې د کوټې له دروازې شاته شو، د هغه بډ مردانه غږ مې واوریده: دننه راشه.
د هغه د غږ په اوریدو ځان سره کړې ټولې وعدې مې لیاده ووتې،په لوړ قدمونو کوټې ته ننوتلم خپل ځان مې کلک نیولې وو ترڅو فکر ونکړې د هغه په وړاندې مې ماتې خوړلې، خپل د خولې اوبه مې تېرې کړې او ومې ویل: وایه اورم د څه لپاره دې زه دلته راغوښتلې یم؟ هغه هم هغه وخت چې نن ماښام زما دسمال ورکول کېږي.

په خاص انداز داسې حال کې چې لاسونه یې خپل شاته تړلې وه او نظر یې د کړکۍ څخه بهر وو د کوژدې په لفظ یې مخ زما خواته را وګرځه وو زما خبره یې د ځان سره د ژبې لاندې تکرار کړه" دسمال؟ "بیا یې سترګې تنګې کړې او په مشکوک توګه یې وویل: دا څه مطلب؟ یعنې ته د رښتیا غواړې کوژده وکړې؟ ما فکر وکړو پرون ماښام تا زما له ضد او زما د سوځولو په خاطر"هو" کړل!

څو ګامه د هغه خواته نږدې شوم، داسې حال کې چې د هغه سترګو ته مې مخامخ کتل ومې ویل: ولې دی فکر وکړو چې زه ستا سره ټوکې لرم؟ زما د پرون خبره د ضد او ټوکو نه وه د رښتیا وه.

زما په خبرو ومې لیدو چې ساه اخیستل یې بند شول، د غوسې څخه یې د غاښونو چیچل مې ورڅخه ولېدل د سترګو څخه یې اور بادیده. خو ما یوه شیبه هم دهغه له سترګو څخه نظر وانخیست په ناباور انداز یې راکتل، په بند بند لهجه یې وویل: ته زما سر...

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره يې وخوړل او ما په زړه کې د ځان سره وويل" چې خير دې وواېه زه ستا سره مينه لرم، خير دې وواېه زما دا مينه يو طرفه نه ده او تا هغه ورځ د ميني له وجهې زه د ځان سره نسبت کړم، ما زړه کې همدا خبرى کول چې هغه په دروند غږ وويل:

اديب- يعنې په دومره اسانې؟ نه ته داسې کار نشې کولې،پوهه شوي نشې کولې، ته زما او خپل حق کې داسي ظلم نشې کولې ته دا حق نلرې.
په سر زورى مخ ته ورغلم او ومې ويل: د کوم حق خبرى کوى؟ ته څوک اوسيږى چې دا رقم ما ځانته راوغواړى او دا رقم حساب کتاب راسره وکړى؟ په کوم حق؟

ومې لېدو چې زما په خبرو اور يې واخيست په غوسه څو ګامه رانږدى شو خپل ويښتيانو کې ګوتي ننويستلې او په همغه خشم په لوړ غږ يې وويل: زه په تا مئين يم، پوهيږى بيعقلې جنى. زه ستا سره مينه لرم هغه هم تر جنون ترحد نور راته کم صبر او تحمل نه دې پاتې.

ده هر خبري کولو سره خپل ګوتى يى خپل په ويښتانو کى تيرول.هغه ورځ اديب په کامله توګه خپل د مينى اظهار راته وکړ، د هغه د هر خبرى اوريدلو سره مى اوښکى په بهيدو وه، زړه مى بى واره درزيدي ، لکه چى نرى راته بدله شوى وي. زما ليونى لالي د مينى اظهار يى راته وکړ او خپل د زړه دروازه يى زما په مخ خلاصه کړه کرار په ځنګون څنګ ته يى کښيناستلم خپل لاس مى د هغه په پياوړى لاسونو کى يوړل او هڅه مى وکړل چى د هغه ويښتان چى هر تار يى زما د ورانيدو توان يى درلود ، خوشى کړم. سر يى پورته کړ او په کرار غږ يى وويل: حرم زه درباندي مئين يم پوهيږى؟

د هر ځل اوريدلو سره ماته ځانګړى معنى يى پيدا کول ، ستونى مى د ژړا ډک وو او حرفونه او کلمى زما په ستونى کى بند پاته وه
حرم: تر ما بالاتره مئين نه يى که عبادت او لمانځنه بى له خدايه ګناه نه وي نو ما به ته لکه خداى لمانځني وي د زړه سيند مى ستا د سترګو په رپ سره سرغړونه کوي زه تا بى واره غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرۍ یی پورته ښکته کیده. بی کنټروله می د هغه مخ خپل په لاسونو کی ونیول. د هغه د مخ په لمسولو سره پوهه شوم هغه څه چی ما تل غوښتل نن می پیدا کړی دی. خپل لاسونه یی زما تر ملا راتاو کړل او ما ځان لکه یو بی وزله ماشوم د هغه په غیږ کی سره ټوله کړه.د ژړا ډک ستونی سره یی وویل: همدا نن می د کاکا سره خبری وکړه تر څو دا خپلوی له منځه یوسی ، نه همدا اوس زنګ ووهه او ووایه. یوه شیبه نور ستا او د هغه لعنتی .....

او خپل خبره یی نیمکله پریښودل.
د غیږ څخه یی لری شوم او په خندا می وویل: کمه خپلوی؟
د حیرانتیا څخه غټو سترګو سره یی راته وکتل او وی ویل: کمه خپلوی؟ همدا لعنتی مرکه یادوم.
حرم: د هغه په کیسه کي مه کیږه ، هغه شپه وروسته له دی چی ته ولاړی خپل د پلار سره مي خبری وکړل او ومی ویل چی تر واده پوری لا وخت ډیر پاته دي
ادیب: تا خو ...... وګورم ماته دی دوکه راکړه کلیوالې نجلۍ؟
د سترګی وهلو سره می وویل: دوکه نه جرئت مې درکړو ستا د زړه خبری د پاره، ترڅو بیان کړې.
ادیب: حرررررررررررم

حرم: قربان ، د حرم ژوند. پوهیږی تر دي چی زموږ اړیکه د دواړو د خوا شی زه څومره وزوریدلم؟ ستا د جلاوالی درد راته تر مرګ هم سخت تره وو خو یو خوږ عذاب وو
ادیب: هیسسسسسس ، ونه وینم چي یو وار بل لا د مرګ خبری وکړی ، صبر چی مور می راشی تا په حلاله نکاح د ځانه کوم .
د موبایل زنګ په اوریدو او د مینی نوم په لیدو سره می په اندیښنه خپل د شونډی کنج وچیچل او ومی ویل: پوهنتون می بیخی له یاده وتلي وو باید مخته له دی چی هیله و مسیح زما په نشتون پوه شی بیرته ځان پوهنتون ته ورسوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی خندل او په داسی حال کی چی خپل گوته یی خپل پر تندی پریښودل وی ویل:
اوس نو تازه کیسه شروع شوه.
حرم:څنگه؟
ادیب: دا پټ پټ لیدل یادوم.
حرم: همممم نو مجبوره یی ښاغلی .
ادیب: نه ، تیروتنه مه کوه زه هیڅ هم مجبور نه یم که وغواړم رښتیا ووایم هیڅ
بیره نلرم
د ده خبره می پری کړه او ومی ویل: پوهیږم ماشاءالله ډیر زیاد جرئت د نجونو د
ملاقاتونو په برخه کی لری خو دا د دواړو په خیر دي او هو دلته خارج نه دي

کنایه می هغه انځور ته وه چی مخته می لیدلي وو.
ادیب: وه د کلی نجلی لږ تر لږه نن خو راسره جنجال مه کوه ولاړه شه چی لاړشو.

مینه زما د پاره اندیښمنه وه هر دم یي پیغامونه رالیږل خو زه د هیلی سره وم ځکه
می نشو کولي چي ځواب ورکړم تر څو چی کورته راغلو په یوه شیبه کی می ځان د
حمیدې خاله کوټی ته ورسول او په خوشالي می ځان د هغی په غیږ کی واچول.
زما د دی حال په لیدو حیرانه وه. وی ویل: حرم څه شوی دی؟
حرم: نن یی اقرار وکړ خاله جانې اوس زما د خوشالیو وخت رارسیدلي دي.
هک و حیرانه یی راته کتل. سر می ښکته واچول او په شرم می وویل: ادیب نن
اقرار وکړ چی پر ما مئین دي حتي وی ویل چی خپل د مور راتگ ته ماتله دي او د
هغه ورسته ما سره نکاح کوی.

حمیده: وی لورکی ټوله کیسه راته وکړه چی څه وشول؟
حرم: وروسته درته وایم اوس باید د مینی سره خبری وکړم.
د هغی بارخو می ونیول او د زړه له کومی می ښکل کړه. په تلوار خپل د کوټی
خواته روانه شوم. مینی د لس څخه بالاتره پیغامونه یی رالیږلي وه او زنگونه یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهلی وه. په خوشالی ټوله کیسه می ورته وکړه او هغې هم خپل په خبرو زه یی وخندولم.

ورځی یو تر بل تیریدلی او اوس د هغه غمجن او خفه حرم څخه هیڅ ندی پاتي. ځینی ورځی ټول درسی ساعتونه می د ادیب سره تیرول ، د ژوند ټول امید می ادیب وو. د نارون واده ته لږ وخت پاته وو ټاکل شوی وه چی لس ورځی وروسته یی واده وشی دا چی د نارون ټول خسرخیل (خسرګڼي) د افغانستان نه بهر ژوند کول نو د واده ټول چمتوالی پر موږ وو.یو ورځ ټول خرید د پاره یوه غټې فروشګاه ته تللي وو ادیب هم زموږ سره وو ، د سره زرو دوکان ته ننوتلو هلته یوه ښایسته ګوتمې چی سپین غمي یی درلود او د لیرې هم ځلیدل زما نظر یی خپل خواته وګرځول غوښتل می خپل په لاس یی کړم چی د دوکان مالک راته وکتل او وی ویل: ناوې دا ګوتمې ډیر زموږ خارجی مشتریان خوښوی د نامزادي ګوتمی ده.

پوهه شوم چی پر ما یی د نارون خیال کړی ، مسکې شوم او ومی ویل: ښه ډیر ښه نو زه دا بیرته ایږدم ځکه زه اوس هم خپل د مجردی نړی کی یم ، یو بل ډیزاین راته ښکاره کړی.

ټول خپل خریدونه وکړل او ما هم د ادیب په خوښه ځان ته یو کمیس واخیست. هر کمیس چی می ټاکل هغه به خپل د سترګو په حرکت (نه) ویل او زما زړه به هم د هغه کمیس څخه تور شو تر دا چی یو کمیس ته یی اشاره وکړه او زه یی تازه په سلیقی پوهه شوم.یو څه خرید او ځیني مهم کارونه پاته وه چی مخ می د نارون خواته وګرځول او ومی ویل: نه کیږی چی نور کارونه د هیلی سره یوځای مخته یوسئ؟ هیڅ می حالت ښه نه دي زه د ابراهیم سره ځم کورته.
په همدی حال کی ادیب هم وویل: ماته هم یو کار پیدا شوی ابراهیم دی د دوی سره پاته شي تا زه رسوم.

د نارون ځواب ته په تمه نشوو او په تلوار د هغه ځایه ووتلو..

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هوا یخوالي ځورونکي وو. سر می د کړکی ښنګ ته وو او هیڅ خپل په شاوخوا خبره نه وم. د موټر د دریدو سره د توری کړکی څخه می دباندی وکتل بیا هم هغه هوټل او ....... هم هغه لاره. هر کله چی غوښتل یی ما سره دلته وګوری نو دا پټه لاره به یی ټاکل ځکه غوښتل یی چی د امنیتي کمرو څخه پناه واوسو.مخ می د ادیب خواته وګرځول او ومی ویل: ما خو درته وویل چی ښه نه یم ځم کورته.
د سترګه وهلو سره یي وویل: یوازی د یو ساعت د پاره وروسته د هغه هر ځای چی دی غوښتل ووایه زه دی رسوم.

دومره په ، په زړه پوری ډول یی خبری کول چی (نه) ویل یی راته ناشونی کړی وو. زما لاس یی ونیول او دواړه د هوټل په لور روان شوو. د باران ځاځکی لا هوا یخه کړې وه.همدا چی دهلیز کی دننه شوو یو ګارسون د یو کوټی څخه ووتي او د هغه شاته هم سام.
سام په مسکا موږ دواړو ته وویل: نن زه ستاسو د پاره جبرئیل شوم لکه هغه وخت چی ابراهیم یی د اور او یوسف یی د ځاه څخه وژغورل په هم هغه تلوار.
په خبرو یی سمه پوهه نشوم ، په خندا می ورته وویل: سام لکه چی سر دی خوږ شوي دی خپله ځان ته مقام ورکوي؟
په مسکا یی راته وکتل: بخښنه غواړم خو هیڅ می ستا څخه دا تمه نه درلود وریندارې

د وریندارې لفظ یی اوږد وویل.
په هم هغه مسکا په کنایی سره می تکرار کړل : وریندارې؟
ادیب: دا خبری پریږده بی عقله که نی مور ته وایم اوس تللی شی.
سام خپل دوه ګوتې یی یو بل تر ښنګ پریښودل او خپل د خولی کنج ته یی کش کړل او ولاړی.په فکر کی می یوازی همدا وه چی څه کیسه ده او دوی څه کړی دی؟
د ادیب پسی کوټی ته ننوتلم او ټوله کوټه می د نظره تیر کړل. سترګی می د ډیر حیرته خلاص پاته شوی وه. کوټه د تازه ګلانو ډکه وه او هغه ښایستې شمعې چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرۍ رسي يي لکه ما د دننه سوځېدل او شاوخوا یی روښانه کول. د کوټی په کنج کی هم یو میز د یو کیک سره ایښودل شوی وو.

په حیرانتیا می وویل: لکه چی دی نن د زیږېدنې ورځ ده؟
ادیب په مسکا زما لاسونه ونیول او کلمی یی زما د زړه د خوشالیدو د پاره یو بل تر څنګ پریښودل.
ادیب: نه نن ستا کلېزه ده.
زما ټول ماشومتوب د دردونو او بدبختیانو سره وو د همدی امله مور می هیڅ زما د زیږیدني ورځ په یاد نه وه ویلي شم زه داسي نجلی یم چی په جنتری کی هیڅه ورځ نلرم.

حرم: مخته می ویلي وه چې زما د پاره داسی ورځ نشته.
ادیب: له دی وروسته شته. نن ورځ ټاکو او د نن وروسته ته نوی دی نرۍ ته راغلی یې.

کله کله به شکمنه شوم چی داسی نشی دا ټول خوب وی؟ سترګی می پټی کړل، په زړه کی می د یو څه غوښتنه وکړه او د شمع د خاموشولو سره ما هم د اول ځل د پاره دا احساس وکړ چی زه هم زیږیدلې یم او په جنتری کې یوه ورځ هم زما ده.
په شیطنت می وویل: ښه ښه نو هره کلیزه د ځانه ډالی هم لری زما ډالی کمه ده؟
د څو شیبو د پاره یی راته وکتل او بیا یی یوګ قوطي زما مخته ونیول. د لیدو سره می حیرانتیا لا زیاته شوه. هم هغه ګوتمې وه چی ما څو ساعته مخکی خوښه کړې وه. د ډیره حیرانتیا څخه کلمې رانه هیری شوی.
حرم: دا...... دا

ادیب: نن کله چی زرګر وویل دا د نامزادي ګوتمی ده او تا د دی د ویلو سره چی زه اوس هم خپل په مجردی نړۍ کی یم بیرته دی پر ځای کیښودل، هیڅ په ما ښه ونه لګیدل او باید ستا په یاد وی چی ته په پوهنتون کی یوه واده شوی نجلی یی دا می مخته هم ویلی وه. زړه راښکونکي خبری یی کول او ما په اوریدو یی اوښکی تویول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادیب: نن ته زما په نږۍ کی پیدا شوی حرم ، له دی وروسته دا ورځ هر کال د یو بل سره لمانځو.

کاش هغه ورځ وخت دریدلي واې ، لمر خپل ځانګې نه وي خپری کړي ، سپوږمۍ د تیاری ناوی نه وي شوئ ، ستوری نه وي ځلیدلي او سیند څپې نه وی وهلی . د اوریدو سره می د زړه درزا زیاته شوه نور په ځان نه پوهیدم هغه څرګې چي زما په زړه کی ښخ شوي وو غوښتل می خپل د زړه څخه یي وباسم او ځان مې تباه کړه. مخ ته یی ودریدم او په ځیر ځیر می د هغه خاکستري رنګه سترګو ته وکتل او دا کلمې چی می ویل زما د خولی څخه نه ، زما د زړه څخه راتلل.
حرم: ستا سترګی لکه د خدای د یوازیتوب په شان ښایسته دی، پوهیږی؟ ستا سترګی زما د وژنو د پاره بس دی. زړه می کیږی ښکل دی کړم ، دومره دی ښکل کړم چی تږی توب می خلاص شي.

په آرامه لحجه یی وویل: دا خبری ستا څخه لری دی. لکه چی محرمیت دی هیر کړی؟
کرار ورته نږدی شوم. لاسونه می زړه نازړه د هغه مخ خواته ولاړل او ومی نیول په داسی حال کی چی خپل په سترګو یی زه بیخی له دی نړۍ ایستلم خپل مخ می د هغه خواته یوړ او ژور می ښکل کړ.
حرم: هغه عمل چی د انسان په اختیار کی نه وی ګناه نه ده ، مګر دا سوځیدل زما په اختیار کی دي؟

نارینه لاسونه یی زما پر ملا تاو شول او ما هم ځان د هغه سینی ته نږدی کړه.
زما په ویښتانو کی یی ګوتی وهل. خو زما فکر بل ځای وو، هر کله به چی موږ یو ځای وو هغه انځورونه به می په یاد شوه. هغه ژر ویښتانه نجلی چی ادیب یی په مخ ښکل کړي وو په شک منده لحجه می پوښتنه وکړه: که یوه پوښتنه وکړم رښتیا راته وایی؟
په مسکا او ډاډمن لحجه یی وویل: ما کله تاته درواغ ویلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرم: هممم هغه اولو ورځو کی چی تاسی زموږ کور ته راغلی واست تصادفی می ځو انځورونه ستا په کمپیوتر کی ولیدل چی د یو نجلی سره ډیر نږدی وی حتي کاپی می هم اخیستي وه خو موبایل می په هغه پیښه کی له مینځه ولاړ. هغه نجلی .....

زما خبره یی پری کړه ، په لوړ غږ په خندا شو او کلمې یی ځان سره تکرار کړل
ادیب:تصادفی هممم؟
او د هر وار تکرارولو سره به یي خندا نور هم لوړه شوه، د ډیر اندیښنې څخه می سر په چاودیدو وو.
ومی ویل: نه چی هغه نجلی ډیره درته مهمه ده او ارزښت لری؟
آرام شو او د څو شیبو د پاره خپل د اندیښمن نظر سره يي زما مخ ته وکتل او نظر یی زما په سترګو کي ودرید. بیا یی په مینه وویل: صبر چی یو څه درته وښیم د الماری خواته ولاړی او یو کاغذ یی راواخیستي. هغه ته په کتو سره یی وخندل او وی ویل: هغه وخت چی تا د هغه نجلی په اړه فکر کول زما ټول فکر د دې نجلی سره وو

په منډه د هغه خواته ولاړم او په لیدو می مخ لکه اور وګرځید. ژبه می بنده شوه نه پوهیدم چی د حیرانتیا دي که ده شرمه...... خو هر څه چی وو ماته ډیر خوږ وو.
په بنده ژبه می وویل: د......د.....دا.....ز.....زه.......زه یم؟
ادیب: لکه چی هغه ژر ویښتانه نجلی دی په یاد شوه؟
په ځیر ځیر می ورته وکتل. چی هغه وویل: د هغه ژر ویښتانې کیسه مفته ده دا می هغه وخت ایستلي وو چی یو نجلی خوب راباندی حرام کړي وو اول می دا حالت یوه بیره ګڼل اما د دی د ایستلو سره پوه شوم چی د مینی په زنځیرونو ګرفتار شوي یم

هغه خبری کول او زه یی د خبرو خواته داسی کشیدلم لکه اوسپنه چی د آهن ربا خواته.
ادیب: اقرار کوم حرم بخښنه غواړم د دی چی زما د پاره دومره جنجالونه او غمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دربانډی تیر شول.
حرم: ستا له خوا هر څه راته سپیڅلی او خوږ دي ، دا عذاب هم راته خوږ وو
ادیب: او څومره خوږ دي هغه مینه چې عذاب لري.

شپه وه ټوله سره ناست وو ، د ښه بخت څخه د هیله او نارون د راتګ مخکې کور ته رسېدلی وم. د خاله حمیده د پخلي ښه بوی ټول یی په اشتها راوړی وه. غوښه می په پنجې ټوټې کول چې هیله په کنایه لرونکی لحجه وویل: حرم دا هم هغه ګوتمی نه ده چې په دوکان کې مو ولیدل؟ ته خو د اخیستلو څخه یی منصرفه شوی نو اوس.....

ما ویل: پوهیږی چې ډیر خراب عادت لرم هغه هم دا دي چي کله یو شي می خوښ شي تر څو یی وانخلم نه کیږي بیا ولاړم ځان ته می واخیستل
د لاس په ښورولو د نارون خواته می وکتل او په ټوکو می وویل: خو راسره ښه ښکاری همداسی نه ده ګرانی ناوی؟

نارون: بې له شک زما له خور سره هر څه ښه ښکاری نازولی می.
ځینی وخت د هیلې او نارون د اړیکی په حیرت کی به وم،دا دواړه څنګه له یو بل سره مقایسه کیدلی شوای؟له هغه ځایه چې پلار می متین او مهربانه انسان وه او اغلی مهر ماه هم نو هیلې دا کینه له چا په ارث وړی؟د ادیب د مور او پلار په فکر کی شوم یوه مسکا می وکړه او له ځان سره می وویل: شک نلرم چې دا نجلۍ له سوسن سره بدله شوی ده.......

صبا پوهنتون ته د تللو لپاره بیقراره وم غوښتل می ټولی خبری له مینی سره شریکی کړم مینه او حمیده ترور می یواځینی د راز کسان ول،ځینی وخت څومره ښکلی ده چې ژوند کی داسی څوک ولری چې د ژوند هره خواږه او ترخه دی ورته ویلی شی.
د تل په خیر د چنار د ونی لاندی په یو فرش کیناستم خپل له ګوتمی سره په لوبو وم پام می هغه لاس ته ورواوښت چې له لری راته ښوریده د مینی په لیدو می په ډکه خوله خندا وکړه او غیږ کی می ونیوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومی ویل: نجلی په کوم تنور کی وی دلته دی له یخنی ووژلم.
په کنایی ډول یی وویل: علیکم حرم جانی مننه کوم زه ښه یم.

په مېه می ورته چنګالی ولګولي او ومی ویل : وبخښه یخی ماره ! پوهیږي چی تل تاته د نوی شیانو د ویلو لیوالتیا لرم.
مینه : ښه بیا هغه مغرور او بی مینی سړی څه کړی؟
حرم : مـــیـــنی ...
مینه : سمده غلی شوم قصه وکه.
حرم : دغه ګوتمی سمه وګوره.
لاس یی په خولی کیښوده او په حیرانتیا یی وویل: داسی نه چی دا ادیب اخیستی؟
حرم : دقیقاً له هوښیار نفر نه قربان ادیب اخیستی پرون رسما کوژدن می شو او زما کلیزه هم وه.

مینه : کلیزه ؟ ته خو....
حرم : هو ادیب پرون د دی ګوتمی په راکولو راته وویل ته زما نړی کی نوی وزیږیدی له دی وروسته دا نیټه ثبت کوو ستا د کلیزې په نوم.
مینه : حرم نپوهیږی څومره درته خوشحاله یم.
ورته می وویل : پوهیږم ته می یواځینی ملګری یی ربښتیا په همدی شپو کی محفل دی باید راشی او له. غوږو دی وباسم چی ټولګی چی نور څوک خبر نشي نغوارم، څوک پوه شی زما پلار وکیل دی او ماته د سر درد جوړ شی.

لاس یی په خولی کش کړ ( د قفل کولو په معنا) کرا یی وویل: دا بیشرفی زما په حد کی نده.
دواړه ټولګي ته لاړو د احمد عجیبو کتلو زه له دننه نه خوړلم درک کوه می یوه طرفه مینه عذاب لرونکی وی.کاش د هغه چا مینه چی ستا قسمت کی نده په زړه کی دی ځای ونه ونیسی.ټاکل شوی وه چی د نارون له واده یوه ورځ مخکی میرمن نورماه سره له اولادونو هیواد ته راستون شی یوه ډیره عجیبه اندیښنه مي لرله ځکه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهیدم چی نورماه له مانه څومره کرکه کوی مګر نپوهیدلم چی خپله خپل په لاس مې ورته تبر ورکړو چی ریښه می ووهی.......

ټولی تیاری په ښه ډول شوی وی له هغه ځایه چی د زوم ټوله کورنی له هیواد نه بهر ول نو د پلار په خوښه می ناوی بیرته موږ کره راتلله ځکه چی بیا یوه اونی وروسته نارون له هغوی سره یوځای تلله د منی د آزموینې وخت هم وه یوه ورځ په منځ کی باید پوهنتون ته هم تللی.له یوی خوا د نارون تلل او له بلی خوا د هیلی خرابه چلند له ما سره ، له پخوا نه بدتره وه تل به یی په کنجکاو ډول د ګوتمی په اړه پوښتنه کوله حس می کوه چی دا ګمانونه یی زموږ ترمنځ اړیکه نوره هم خرابه کړی.

نن شپه ټول سره راټول شوی وو میرمن نورماه، مصطفی، سوسن ټول راغلی وه.
سوسن یوه شیبه هم زما له څنګ نه لری کېدل.د تل په څیر یی ټولو ته ډالی راوړې وی ټولو ته د ډالی په ورکولو سره یی سترګی تنګی کړې او د ژبی څنډه یی تر غاښ لاندی کړې او په کلکه یی وویل: حرم جانی ستا ډالی په خونه کې ده کولای شی له ماسره راشی؟
غوښتل می چی مخالفت وښایم چی د سترګو په اشاره یی پوهه کړم په یوی مسکا یی شاته روانه شوم همدا چی څو ګامه پاتی ول زما د لاس بند یی ټینګ په خپل لاس کی ونیوه او په بیړه خونی ته ننوتله.حیرانه او ګنګسه وم له دی حالت یی غوښتل می څه ووایم چی مخکی راغله او زه یی غیږ کی ونیولم.

سوسن : د خدای شکر چی ته یی زما د لالا نصیب کړې یی پوهیږې څومره خوشحاله یم؟
په خوشحالی یی خبری کولی
حرم : په دی خبری ته څنګه....
سوسن : هیسسسسس ته فکر کوی چی لالا می دا خبره زما څخه پټوي؟
حرم : نه ، نه غلطه پوهه شوی هغه زه..
سوسن : هغه ته څه ووایه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کرس یی وخندل او بیاځلی یی وویل: توبه ستا له لاسه حرم رنګ دی لکه ګچ سپین تښتیدلی له تاسره می ټوکی کولای،او هو رښتیا زره دی ټول اوسه لالا می یواځی ماسره د زړه راز کړی هغه هم پرون شپه.

حرم : هممم نو ته په ډرامه ډکولو کی دی له لالا نه کمه نه یی نور ووایه لالا دی څه غیبت وکړ هوم؟
سترګک یی وواهه او ویی ویل: دا نو د خور او ورور ترمنځ راز دی، وګوره نږدی مې له یاده وتلی وه دا می لالا درته خوښ کړی.
تقریبا غټه خلطه وه په حیرانتیا می وپوښتل: دا څه دی سوسن؟
سوسن: خپله دی وګوره ټول زما د لالا انتخاب او سلیقه ده بیا وروسته یی له خپله پوښتنه وکړه.

خلطه می په بیړه خلاصه کړه سور ساړی دامن کمیس وه چی توری مری پکی کار شوی وی د کالیو تور جالی لسټونی ځان ته ښکلا لرله د ساده اوسیدلو سره سره ډیر عصری ول دوه رنګه بنګړی ، او د سپینو زرو سیټ ټول سره یو رنګه ایښودل شوی ول ددی له لیدلو خوشحاله شوم او ومی ویل: په رښتیا ښکلی دی مګر دا نشم منلی.
سوسن: ښه نو هغه ولی؟
حرم: ځکه له پخوا می کالی اخیستی که هیلې یی وګوری بیا خپه کیږی.
سوسن: که هیله خپه هم نشی مګر ددی ډالی په نه اخیستلو می لالا هرومرو خپه کیږی او هسی هم ټولو ته می ډالی راوړی دا هم تاته.

په نه زړه می کالی غیږ کی واخیستل او خونی په لور روانه شوم،د تیاریو د سترګیا له امله ټول ویده شوی ول سر می په بالښت کیښوده چی د ادیب پیغام راغی:
ادیب- صبا شپه په هغه جامو کی د محفل ښکلی نجلی ته کیږی له همدا اوس نه می د بخیلی حس وکړ.

د شونډو په سر می مسکا راغله او ځان سره می وویل هر څه چی وشی صبا شپه یواځی خپل د محبوب لپاره ځان جوړوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په صبا یی نارون هیلی او سوسن د شهرنو یو سینګارتون ته لاړل ځکه محفل کوچنی وه له دی چی د نکریزو پروګرام په کور کی د څو کورنیو تر منځ وه نو ومی غوښتل چی خپل ځان خپله سینګار کړم لاس می په سینګار کولو کی ښه ګرځیده.اسمان د لمر اخری وړانګي پټولی د سندرو غږ کرا کرا زما غوږونو ته راورسیده د الماری خواته لاړم کالی می راواخستل او د هینداري مخی ته ودریدم او یوه خبره می په یاد شوه یو وخت نارون تل ځان سینګار کوه او ویل به یی دا می د جانان لپاره ما به ورته خندل او ویل به می جانان که جانان وی نو باید زما د ساده څهره سره مینه ولری.

بیا می هم مسکا پر شونډو راغله او ومی ویل نن شپه خپل د جانان لپاره ځان جوړوم.په شرم می مخ په لاسونه کی پټ کړ.ومی نغوښتل چی د ډیر سینګار سره د ټولو په منځ کی راشم نو ځکه می یواځی رانجه او لب سرین ووهل د بنګړو او سپین زرو د سیټ په اغوستلو می ویښته اوتو کړل او د هینداري پر وړاندی ودریدم څومره د ناوی په څیر شوی وم. شیطانی فکر می ذهن ته راغی او په بیړه می موبایل راواخیست. یو سلفی انځور می واخیست هغه هم د مخ په پټولو سره او ادیب ته می ولیږه په یوه ثانیه کی د لیدو علامه ښکاره شوه غوښتل می افلاین شم چی د ټکو پورته او ښکته کیدلو په نښان چی یعنی د لیکلو په حالت کی ده پاتی شوم وروسته له څو ثانیو پیغام راغی.

ادیب- ما دی د ښکلی مخ د لیدو میلمه کړه.
په خندا مې ځواب کې ورته ولیکل: لږ صبر به وکړی.
ژر یې ځواب راکړو: نه چی زه دی له حضرت ایوب سره په غلطي نیولی یم ؟؟ کلیوالې نجلۍ؟

غوښتل می بی ځوابه افلاین شم چی د شا غږ می زه ځان خواته راکش کړم.
ادیب: زه دی کم لاس نیولی وم!!
په تلوار مې وویل: ادیب! ته دلته څه کوی که میرمن نورماه دی وګوری قیامت جوړویو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اديب: نچ مګم زما مور دی څه فکر کړی چی له خپلې انګور سره جګړه وکړی؟
غوښتل می ودی ګورم مګم ګناه ده عه؟
حرم: ګناه او ثواب باندی یی نه یم خبره مګر باید لاړ شی.

کرا وراندی راغی او په ارامه غږ یی وویل: پوهیږی سترګی دی د ماهره ښکار کوونکی په څیر دی بسنه کوی چی ښکار ورته برابر شی چی د سترګو په یو رپ سره ځان د توری کوهی په منځ کی وینی چی پوهیږی ځان به چیرته له لاسه ورکړی ته د هغه هوسۍ په څیر یی چی زمری په دام کی اچوی دا د سترګو غشی دی غشی دی زما په زړه.

په درنښت او هوښیاري یی خبری کولی او ما د هغی د کلماتو په سیند کی غوټی وهلی......
په شیطنت می وویل : ته یو لیونی یی او زه درباندی مینه.......
اديب: لیونی ؟؟
حرم: همممه هغه هم په پوره توګه!!!!
اديب: زه لیونی نه یم.
حرم: ما خو درته وویل زه درسره مینه لرم لیونیه تا یواځی د لیونی کلمه واوریده دا د لیونی انسانانو یوه نښه ده.

اديب: نو ما دی په خپل زندان کی بندي کړه تر څو ونه تښتم څکه لیونیان تل په تیښته کی وی.
حرم: په ټول وجود می ته ددی ځای حاکم ( زړه ته می اشاره وکړه) کړی یی که وغواړی هم نشي تښتیدلی، اوس کولای شی له دی ځایه لاړ شي ګواکی نجونی راشی.
اديب: یواځی همدا څل صبر یو څل دا محفل خلاص شی له مور سره می خبری کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای دی وکړی میرمن نورماه ددی خبری په اوریدو روغه او جوړه پاتی شی ځان سره په خبرو وم چی ادیب ستونی صاف کړ
ادیب: له غوږو دی وباسم چی کله چی سالون ته راغلی ځان ته دی پام کوه نغواړم هغه هلکان تا داسی وګوری.
په بی حوصلګی می وویل: مګر شونی ده چی سالون ته رانشم او هسی هم زما سترګی یواځی تا ګوری نو زړه دی مه خوره.
ادیب: که غواړې د هغه هلکانو د یو، یو قاتل شم کوم چې تاته ګوری نو راشه.

د دې خبري به ویلو په تلوار له کوټې ووت او دروازه یی په کلکه بنده کړی، چی زما اوږی له وېرې وپریدی،د سندری په غږ ناروں او خاوند یی په فخر او جګه غاړه راننوتل اه چی د سپوږمی په څیر ځلیدله.د سالون په یو کونج کی د حمیدی ترور له شا نه کله ښي او کله چپ لوری نه می کتله غوښتل می څنګ ته یی لاړه شم او ټینګه یی په غیږ کی ونیسم ادیب ته می وکتل چی له مسیح او مصطفي سره په خبرو بوخت وه په غوسی می هر هغه کنځلې چی زړه کی وی ورته وکړې.

- لعنتی ، احمقه خدای دی درته سزا درکړی د یاغی اوسیدلو له امله دی اوس نشم کولای آن خپله خور غیږ کی ونیسم په خبرو کی وم چی پام می د پلار په لور شو چی د ناروں ترڅنګ ولاړ وو. ناروں یې غیږ کی ونیوله او په تندی یی ښکل کړه ددی شیبی په لیدو می له سترګو اوښکې راغلی یوه شیبه می ځان د ناروں پر ځای ولیده له هر څه نه زړه صبر کولې شې مګر له پلار نه می څنګه؟

په همدی شیبه کی می پلار په یوی اشاري خپل خواته وبللم.نور می نشو کولای ځان له دی ډیر لری ونیسم ویښتان می په ټکرې کی پټ کړل او د ټکری بله څنډه می له غاړې تاو کړه.سترګی می ځمکی ته نیولی وی او د پلار ترڅنګ می ځان ورساوه.
زما د هغه حال په لیدو یی په کرس وخندل او ویی ویل: ښایسته لوری وینم چی د ناروں د ژړا برخه هم ته کوی.پریږده لومړی واده شی بیا وژاړه..

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پلار د خبرو په اوریدو مې د ژړا غږ پورته شو او ځان می د پلار په غیږ کی پټ کړ په نیولی غږ می وویل: که واده هم وکړم همدلته اوسم تاسو سره.
نجونی راټولي شوی او نځا پیل شوه زړه راښکونکی شپه وه د ادیب په غوښتنه هلکان ټول په بڼ کی کېناستل نور ټول سالون پاتی وه موږ انجونو ته.......
د هغی ورځی په صبا ټول یوځای سینګارتون ته روان شولو محفل د کابل په یو ښکلی هوټل کی ترسره کیده،ټاکل شوی وه چی د دولت غړی هم پکی ګډون وکړی امنیتی تدابیر نیول شوی ول.

سینګار کوونکی یوه مهربانه او ښه ښځه وه زما په خوښه یی ساده سینګار راته وکړ د سینګار په خلاصیدو یی یو سترګک وواهه او ویی ویل: ماشاءالله رښا دي له مخ څخه ځلیږي په دی ښکلا ډاډه اوسه نن شپه به داسی کس نه وی چی په تا زړه ونه بایلی.
مسکا می وکړه او ډیره ورو داسی چې یواځی یی خپله واوری ورته می وویل: که له پخوا یی زړه بایللی وی بیا؟

د هینداري مخی ته ودریدم ګنډ افغانی جامی له غټې لمن او پخوانی پارچو سره یخن یی د شرق د ښځینه اوسیدونکو د لاس کمال وه او لسټونی یی په مری او مرغلرو کار شوی ول چی د کمیس ښایست یی څو چنده کاوه.....
د اوږو د سر څونډې د سپینو زرو غاړکی او پیزوان سره یو رنګه شوی ول په رښتیا چی ښکلی ول یو نظر می سینګار کوونکی په لور واچو او ومې ویل: که څو داني خالونه راته په زنه او مخ کیږدی ځنګه به وی؟

په ځیر یی وکتل او بیا یی وویل : بده به نه وی.
څو نجونی له ګنډ افغانی جامو سره ..... هر یو له بلی په ښایست کی لوړوالی درلوده.

ابراهیم او څو ګاردان چی د دروازی په خوله کی ولاړ ول موږ یی هوټل ته بوتللو" په بسم الله قدم راواخله ښایسته ناوکی" سندری په پیل کیدو نارون مخکی او ټولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجونی ورپسی شوی ټاکل شوی وه څو هلکان زوم سره ووسی، او وروسته ټول سره یوځای نڅا وکړی.......

د نڅا خلاصیدو وروسته سوسن نیږدي راغله او وئې ویل: حرم لالا مې سخت په غوسه دي هلته وګوره څنګه درته ګوري.

د سوسن نظر مې تعقیب کړو او نظر مې د ادیب په غوسه ناک نظر ختم شو.توری جامي پر ځان کړي وه بیحد ښایسته او زړه راښونکې ښکارېده خو هغه قهرجن نظر او تروش تندي چې موږ ډوارو خواته راکتل د هغه د کتلو څخه منع کولم
حرم- هی هی سوسن جانې نن شپه هر څومره کولای شې خوند واخله، ځکه دروند طوفان راتلونکي دي.

د دي خبري سره سم ډواره په خندا شو، چې موبایل ته مې زنګ راغې،ورته مې وکتل د مبایل پر سکرین د مینې نوم ځرګند شو په لاس می کلک خپل تندي ووهلو...
افففف بیخې مې لیاده ووت، مینه ځکه چې د واده دعوت کارت نلري حتما کومه ستونزه ورته پیښ شوي مبایل زنګ ته می ځواب ورکه سالون کي سندري آوازونه دومره جګ وه ، هیڅ خبرو پوی نشوم،ژر سالون څخه باندی ووتم ابراهیم ته می زنګ وواهه ترڅو ستونزه حل کړي او خپل دهلیز کي د میي ده راتګ پتمه ودریدم چې د شالخوا غږ می واوریده...

- د دومره بیعقلې تمه مې ستا څخه نه درلوده.
زر مې شاته مخ وګرځاوه او د ادیب په لیدو می ژبه بنده سوه، په بنده، بنده ژبه مې وویل: هغه زه ، هغه زه ، مینه راغلی کارت نلري... کومه ستونزه ورته پیښ شوي!
په غوسه باندې خپل غاښونه وچیچل او ویئ ویل: مګر تاته ما نه وو ویلې چې میک آپ حالت سره دي څوک ونګورې ها؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادیب په غوسه غړیده او زه د تښتي پلټه کي وم، ترڅو څنګه ځان ورنه خلاص کړم چې د تل پشان مینه زما ژغورنکې شوه، مینی د لري څخه غږ کاوه او لاسونه یې راته ښورول، د هغې په لېدو ادیب ته په خندا شوم او ورته مې وویل: آه وګوره مینه راغله،نن شپه تاسو دواړو پیژندګلوي کوم وروسته به وغږیږو اوس مینه راروانه ده. خواهش لږ مسکې شه زما پشان

او خپل خوله مې ورته جینګ کړل چې هغه بد،بد راوکتل، څو ورځي کیدل چې مینه مې لیدلی نه وه ډیره ورپسی خفه وم همدا چې رانږدې شوه کلکه مې غیږ کې ونیوله ...

مینه- وجلیٰ باور کوې دومره درپسي خفه شوی وم.
حرم- همممم زه هم ډیره درپسي خفه وم یخي وهلي ماره ...
د هغې څخه جلا شوم او ومې ویل: ښه تاسو پیژندګلوی کوم .
دا ادیب خواته مې سترګک ووهل او مینې ته مې په خندا وویل: دا ادیب دې! تل چې په اړه درته کیسې کوم، او دا هم زما همرازه او نیږدې ملګري مینه ده حتا ویل شم زما د بدن ټوټه ده ...
مینه- ښاغلی ادیب سره می پیژندګلوي شوی وه حرم جانې هغه ورځ پوهنتون کافتریا کي چې د کوژدۍ اعلان یې وکړو.

ادیب به ډېره آرامه یوازې یو سلام وویلو او روان شو.
حرم- هې مینې دعا راته کوه سباته حلوا خوړلو لپاره دعوت یی ..
مینه- د څشي حلوا؟
حرم- زما د جنازی حلوا، بیعقلې مګر و دې نه لېدو جناب وړی بخیل څنګه بد بد راکتل، زما په یو میک اپ یې تندی راته تروش نیولې.

مینه- حرم جانې ډېر د خبرو پسي ګرځي دا هسې د ناز ګواښونه دې،او هو ته باید خوشحاله اوسیږې چې داسی غیرتي انسان دې ژوند ته راغلي او درنه حمایت کوي، یا ستا په سر بخیلې کوی. خدای دې ماته هم همداسی، غیرتي، بخیل کوونکي هلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قسمت کړي پخدای ټول عمر نقاب اچوم او ګرځم.
مینه غرېدله او ما ورته حیران، حیران کتل ..
حرم- مینې کولای شي راته ووایي چې ته له کوم خاوري څخه جوړه شوی یې ؟
مینه- دا هم پوښتنه شوه چې ته کوی عه ؟ معلومداره ده آدم(ع) خاوري څخه جوړه شوي یم.

حرم- نچ زه احساس کوم خدای لکه چې ته له کوم بلي خاوري څخه جوړه کړي اوسي ځکه هروخت حاضر جوابه یی ....
مینې سترګي راته تنګي کړي او ویې ویل: وجلۍ ته باید زما څخه مفته درس زده کړي کنه زما خبري په پیسو دې په بیسو، زه هر چاته مشوره نه ورکوم ..

په کرس مې وخندل او مینه مې له اوږې څخه ونیول او سالون ته دننه شوه، محفل آخر ساعتونه پوري ادیب څخه کومه خبره ونشوه او نور د ښځو سالون ته هیڅ رانغی، د محفل په پوره خوشحالۍ پاي ته ورسیدو، کور ته په رسیدو خلاصیدو دومره ستړي وم چې احساس می کاوه دومره غټ آسمان زما پرسر دي هر او چېرته ځان سره ورم پر تخت می ځان واچوه او ویده شوم .....

د خلکو په ګڼه ګوڼه کې خپل د پلار پسي ګرځیدم،ټولو په سپک نظر سترګي یو کس ته نیولې وه د خلکو لمینځه په حیرانتیا تیره شوم خلکو خپلو مینځ کي غریدل او کنځلې هغه کس ته کولي او هغه کس خیره په څادر کي پټه وه، وېري او وهم مې ټول وجود نیولی وه په رپیدلی ګامونو ورو ، ورو هغه کس ته ورنیږدي شوم، زما د نږدی تلو سره د هغه کس له مخ څخه څادر لږ لري شو او د هغه لېواله او غمجن نظر په ما ولګېده چې له ما څخه د مرستې غوښتنه کوله. هغه خبرې نکولی خو غوښتل یې چې له دې ګڼې ګوڼې وژغورم د هغه سترګو نظر دومره دروند وه چې هرڅومره ورڅخه لري کیدم هغومره د هغه نظر پر ما دېرېدو او هغومره یې څهره واضح کېدل هغه زما پلار  وو؟ زما په لری تلو هغه ناری راته وهل ویل ما د دې ځای څخه وژغوره ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو دم په وحشت او ډار له خوبه پاسیدم زړه مې لکه چوغکي پشان په سینه کي ټوپونه وهل، خپل په زړه می لاس کیښود، د خولې لارې مې تیری کړی سترګي مي پټي کړې ټول خوب مې د سترګو وړاندی تیر شو زړه می ذره ذره شوو، ډیر بد خوب وه د پلار لیدل هغه هم په هغه خراب حالت کې زما ټول وجود د وېرې لړزه وو، سترګي مې خلاصي کړې خدایه ته خیر راپېښ کړې دا نو څنګه عجیب او بد خوب وو؟! د خدایه خیر په ویلو لځایه پورته شوم، دیوال ساعته می ورکتل وای دولس بجې دي یعنی غرمه شوي..

ای وای زه تراوسه ویده پاتی وم؟ ژر حمام خواته لارم مخ لاسونه می پرېمنځل او ځان می تیار کړو سالون ته لارم چې لومړي نظر مې په میرمین نور ماه ولګېده چې یوازي ناسته وه د هغې په لیدلو مې یو فکر ذهنته راغلی ژر پخلنځلی خوا ته لاړم دوه پیالی چای می تیار کړل، ځان سره مې وویل که یو بل سره کینو او چای وڅکوو شاید زړه یخ مو اوبه شي دا خوابدي به لمینځه لاره شي، چای پتنوس مې راواخسته او د  سالون په خوا روانه شوم، په ډیره خوشحالۍ چای پیاله مي مخ ته ورته کیښود، او ومې ویل: یوازي می ولیدلې نو چای می تیار کړو ترڅو یوځای وڅښوو میرمین نورماه ..!

نور ماه- که څه هم زړه مې چاي نغوښت خو وایې نه غوښتل شوي چای راوړل ښه شګون لرې نو راکړه یو پیاله چای حرم جانې.
په خوشحالۍ مې پیاله چاي ورته ډک کړل د چای اخیستلو حال کې هغې وویل: رښتیا حرم جانې ما غوښتل د یو موضوع په اړه درسره خبري وکړم ښه وو چې راغلې ...

په بې کرار انداز ورته غوږ وم چې ویې ویل: نارون خو له خیر واده شوه او ولاړه خپل د بخت کور ته، اوس ستا او د هیلۍ نوبت دي، اصل خبره داده چې پرون شپه هوټل کي زموږ خپلوانو ستا په اړه زما څخه پوښتني کول، لکه چې ته یې خوښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي وي! او تر کوم ځایه چې زه خبره یم او معلومات لرم ښه خلک دي، نو ما غوښتل دغه موضوع تاسره شریکه کړم.

د دی خبرو په اوریدلو چاي مې مرۍ کې والوته او په ټوخیدو شوم، پوهیدم دا ښځه له قصد دا خبري کوي ترڅو ما غوسه کړي....
حرم- د کاکا ښځې ارتیا نشته ما ته مرکې پیدا کړې، زه د اوس لپاره غواړم درس ووایم...
نورماه- حرم جانې لوري دا ډېر ښه چانس دې، هغوي ډېر ښه او مالداره خلک دي پرېږده د حاجي صاحب سره موضوع شریکه کړم د هغه پریکړه به هم واورو.

نورماه غړیدله او ما خپله غوسه کنټروله، که دا میرمین نورماه د ادیب مور نه وایې ما به ورته داسي سبق ورکړې وایې چې ټول عمر یې لیاده نه وایې ویستلې.
حرم- درته وایم د کاکا ښځي ارتیا نشته خپل چاي وڅښي ترڅو نیک شګون ستاسو د زړه آرمان پوره کړي.
نورماه- الهی آمین زما د زړه آرمان خو خپل زوی جان ته واده کول او ناوي راوستل دې لوري جانی.

په غمجني څهري سره د سالون څخه ووتم...
ورځی تیریدی نارون هم تللی وه، د نارون نشتون کور خالي ښکاره کیدو ډېره ورپسی خفه کیږدم که څه هم ټوله ورځ مو پر موبایل یو دبل سره خبري کول خو بیا هم ورپسی خفه کیږدم ......
یوه ورځ ادیب راته میسج وکه راته لیکلي وه نن مور سره خبري کوم، زه د زیات خوشحالۍ څخه کالیو کي نځایدم، یو ساعت وروسته ادیب کور ته راغلو او مخامخ لاړو خپل کوټې ته او اغلی نورماه یې هم وغوښته.

هرڅومره وخت چې تېرېدو هغومره زما زړه درزا زیاتېده، زړه مې ناقراره وو، د کوټې د دیخوا څخه هغه بلخوا تلم او بیرته راتلم یوه شېبه هم په آرامه نشوم کښېناستلې، خاله حمیده چې زما د دې خراب حالت لېدونکي وه ویې ویل: بس که و

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلۍ په دا رقم زما زړه هم بې قراره کوي، ته صبر زه یوه پیاله چای تیار کړم د چای په بهانه ځم د ادیب کوټې ته د نورماه حالت به وګورم چې آیا ادیب ورسره غږیدلی یا کنه؟

دواړه پخلنځلی پر لور رواني شوه ، یوه ثانیه کي چای تیار شو او خاله حمیده پتنوس لاس کې واخسته او پورته روانه شوه ما ورته د زینو د لاندې څخه کتل، همدا چې کوټي ته دننه شوه یوه ثانیه لا تیره نه وه چې ژر بیرته راووتل، په تلوار یې خواته ورغلم او ومې پوښتل: خاله څه شوي؟ څه په اړه غږیدل؟
حمیده- نپوهېږم څه په اړه غږیدل، خو د اغلې نورماه څهره د خوشحالۍ څخه پړقېده! معلومداره خبره ده ادیب تراوسه مرکۍ موضوع په اړه غږیدلی ندی، کنه اوس به ... ..

هغې خبره نیمه کي پریښوده چې ما په غمجني لهجې وویل: کنه اوس به قیامت جوړ وه، کور به پر بل مخ اړول شوي وو.
حمیده خاله د ډاډ ګیرنې او دلداري په انداز وویل: خدای مهربانه دی اندیښنه مکوه.

دواړه نامیده بیرته خپلې کوټې خواته لاړو، لا څو شیبې تیرې نه وې چې د چغو او بغارو غږونه د پورته منزل څخه زموږ تر غوږ شوي! دواړه په بېړه له کوټې ووتو.
مرجان مې ولېده چې په بیړه پورته منزل خواته روانه وه.
حرم-  څه شوي مرجان؟
مرجان- هغه هیل.....هیله بېهوښه شوی اصلا حالت یې ښه ندی!!

مرجان د دې خبرو پر ویلو په تلوار پورته ولاړه، ما هم ژر ځان آشپزخاني ته ورسه وو او یوه پیاله مې د اوبو څخه ډکه کړه ترڅو هیلۍ ته یې یوسم، کله چې پورته منزل ته ورسیدم نو هیله مې د بې هوښې حالت کې لکه یو نانځکې پشان د ادیب غیږه کې ولېده! ژر یې خواته ورغلم ادیب زما د لاس څخه اوبه واخیستل او څو لپې د هیلۍ په څیري ورواچولې ترڅو هیله په هوښ راشي، هیلۍحالت ډیر خرابه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اديب هيله په غيږه کې پورته کړه، او زموږ د کوټې خواته يې ويوړه، ټول د هغې شاوخوا راټول شوي وو او د هغې د په هوښ راتلو په تمه وو تقريبا يو ساعت وروسته هيلۍ سترگي خلاص کړې،رنگ يې د گچ پشان سپين اوښتي وه، شونډې يې د ډيره خپگانه پټوکی نيولی وه لومړي ځل وو چې هيله مې په داسې يو بد وضعيت کې ليده، همدا چې سترگي خلاصې کړې د اديب خواته په ليدلو شوه او شيبه کې سترگي د اوښکو ډکي شوي او څو څاڅکی اوښکي يې پرغمبورو وغورځيدی....

نه پوهېږم ولې خو هغه ورځ د هيلۍ هغه څو څاڅکې اوښکي زما په زړه لکه د خنجر وار ولگېده او زړه مې په درد شو! يوه پوښتنه مې بار بار ذهن کې گرځېدل، ولې هيلۍ د اديب په لېدو وژړل؟

ولی؟

ولې؟

ولې؟

ذهن ته مې سل رقم پوښتني راتلې، چې ځوابونو يې زما زړه کې وېره او وحشت اچوه،ځانه څخه مې منفي سوچونه لري کړل او مخته ورغلم غوښتل مې د هيلۍ د صحت پوښتنه ورڅخه وکړم، خو هغې چې زه وليدم نو ټولو ته يې وويل: سر مې درد کوی غوارم يوازي اوسم ...

دومره جدي وغيږدله چې نور ارتيا نه وه هلته پاتې شم !!!

ټوله ورځ د هيلۍ څخه لري وم خو ورته انديښمنه وم څو ځلي مې د مور څخه د هيلۍ د حال پوښتنه وکړل او هغې وويل ښه ده، خوشحاله شوم له دې چې ښه وه.

شپې خپله توره تياره او آرامتيا سلطنت پيل کړو، زما زړه ډير ناقراره وه د هيلۍ څخه زيات زما حالت بد وه، دا چې زما او د هيلۍ کوټه شريکه وه بغير د څه ويلو کوټې ته داخله شوم، هيلۍ په تروش تندي راکتل، کالي می بدل کړل غوښتل می ويده شم چې هيلۍ په کنايه توگه راته وويل: حرم دا لاس گوتمۍ دي ډيره ښايسته ده چيرته که زه درنه وغوارم ايا ماته راکوي؟؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خندا می ورته وویل: ګورم چې حالت دی هیڅ ښه ندی! تا به هغه شیانو ته چې خلکو به یوازي نیم نظر ورته کتلي وایې نظر نه اچو! خو اوس دا ګوتمۍ چې یوه میاشت کېږي زما لاس کیده غوارې؟؟؟

په حیرت مې د هیلي دې کارونو ته کتل، پخدای عجبیه ده هېڅ د باور وړ نه وو، که یوه ورځ چا راته ویلې وایې چې داسي ورځ به راشي چې هیله دا رقم غوښتنه وکړي هیڅکله می باور نه کوه .....

هیله- مګر تا هم لیاده وتې حرم جانې، هروخت چې یو چا ستا څخه شخصي شیان غوښتنه کړې وایې نو تا به د زړه له خلاصه په ډوارو لاسونو ورته هغه شې ډالی کوه اوس ولی ماته نه راکوي ؟

ځان سره می وویل څکه دا یوازې ساده ګوتمۍ نده، دا زما لپاره د ژوند په معنا ده، ما خپل روح په دې کې بند کړې دا ګوتمۍ یعنی زما ټول ژوند، ځان سره په جنګ وم چې هغې بیا غږ وکړو:
هیله- څشی ته فکر کوې؟ ایا ګوتمۍ راکوې کنه؟
حرم- هیلۍ جانې ګرانی خوری دا ګوتمۍ پسې دومره مه شله کیږه، هسې ساده ګوتمې ده، اوس هم ښه شپه ولرې زه غوارم ویده شم، څکه سبا ته وختې پوهنتون ته باید لاړشو.

د دې خبرې په ویلو سر می پرېالښت کیښود او کمپل مې په سر کش کړو او ځان مې په خوب واچوه ...

سبا ته د ملا په اذان راویښه شوم لځایه پاسیدم حمام پر لور راوانه شوم اودس او لمونځ می وکړو، هیلۍ ته می وکتل چې په ژور خوب ویده وه، خپل د بالیښت لاندې می لاس تیر کړو غوښتل می دا څو ورځو په اړه خپل خاطراتو کتابچه کې ولیکم، خو کتابچه د بالښت لاندی نه وه! امکان نلرې زما یاد کېده چې همدلته مې کیخودل، نو بیا څه شوه؟ یا الله زما کتابچه څه شوه؟ ژر می بالښت لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغورځوه پر تخت مې لاس کشش کړو نه وه، په تلوار الماری خواته لاړم کالۍ مې دانه دانه ولټول خو نه وه ځان سره مې وویل شاید پوهنتون کي رانه هیره شوي اوسي یا شاید مینه ځان سره وړي اوسي!

ځان سره په جنګ وم چې هیلۍ غږ راپورته شو.
هیله- اه حرم ستا له لاسه تل زما خوب حرام شوي دا څه حال دی جوړ کړی؟
بنده ژبه مې ورته وویل: هیل... هیله زما کتابچه نشته خوری تا نده لیدلی ؟!
زما په خبری هیله په تلوار خپل پرځای کیناسته ماته مخ را وګرځاوه وو او د څو شیبو چوپتیا وروسته یې وویل: نیوهېږم څشي په اړه خبري کوي؟ یوازي مې پریده غوارېم ویده شم هسي هم نن پوهنتون ته نځم مزاحمت مکوه راته ...

ژر مې ځان تیار کړو، نن مې غوښتل وختي پوهنتون ته لاړه شم او که کتابچه مې هلته وه د ټولو څخه مخکې زه راواخلم، مینه ته مې مسج پریښود، موټر تیار وه کیناستم همدا چې پوهنتون ته ورسیدم ژر صنف ته لاړم ټول ځایونه مې ولټول خو نه وه دا لعنتي کتابچه نه وه ...

څو شیبې وروسته مینه هم راغله ما ټول موضوع ورته بیان کړه.
مینه- ښه حرم جانې یوه کتابچه چې دومره اندیښنه نه لري هسې نه چې د هغې پاڼې الماس وې؟
کله کله د دې بې‌پروا توب څخه غوصه کېدم خو ایا امکان لري چې یو انسان تل په یوه حالت کې پاتې شي؟ احساس مې کاوه د هغې هر خبره زما پر اعصابو ځې رائې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سترې او لوړ اواز مې وویل: هو الماس و ان تر الماس هم ارزښتمن.

زما په لوړ غږ د میني سترګي له حیرت راووتي شاته مې وکتل څو ټولګیوالو په حیرانۍ راکتل.د سترګو په پېټولو مې دا ځل د ترلو غاښونو له منځه په لوړ غږ وویل: آه مینۍ ته نه پوهېږې ما په هغه کتابچه کې ټولې پېښې چې له ادیب سره مې درلودې لیکلې دې زما ټول دردونه له هماغه لومړیو ورځو راهیسې چې خنګه پرې مین شوم.که دا د کورنۍ د کوم غړي لاس ته ولوېږي، پوه شه چې خپل قبر مې کنلی دعا وکړه چې د هیله لاس ته ورنه شي که نه....

خبر مې تیره کړه ...

مینه ـ ارامه اوسه په ارام ذهن فکر وکړه چې چیرته دې ایښی وه؟

حرمـ باور لرم تل مې د بالښت لاندې ایښود خو نه و.

پوه نه شوم چې ورځ څنګه تېره شوه کله چې کور ته ستنه شوم ژر خپل اطاق ته لاړم.همدا چې قدم مې واخیست د هیلی له سخت قهر او غوسه ناکې څیرې سره مخ شوم،یو لاس یې شاته نیولي وه هغې ته مې په ځیرځیر وکتل مخکې له دېنه چې زه څه ووایم هیلی مسخره خندا وکړه.او په....زوزه....آواز سره یې وویل: راځه، پخیر راغلی زما ګرانی خورې سترګې په لار وم تاته.

د هغې خبرو ته هیرانه او بې حرکته ولاړه وم.لاس یې مخکې کړ او په لوړ غږ یې وویل: له شپې څخه د دې په لټه کې وه که نه؟؟

د کتابچې په لیدو سره هک هیرانه شوم اصلاً مې دا فکر نکوه چې تر دې حده به رزیله وی.په بیړې سره مې غوښتل چې کتابچه ترې واخلم خو د لاس په ټېله کولو او په بې اختیاره اواز سره یې وویل: بې شرمې جینۍ پوهیدم چې د ډرامو ښه لوبغاړې یې زموږ مخې ته د ادیب څخه د کرکې تمثیل کوې خو زموږ تر شاه مو حتی نامزادی هم کړې.که پلار پوه شي نو څه به وشي؟ هووووم چې یوازینۍ لور یې څه کار کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور یی په خبرو زما عصاب خرابول، نو په جدی انداز می وویل: هیلی ارامه اوسه، راځه د دوه خویندو په څېر خبری...
هیله_ بنده کړه خوله دی احمقی د څه خور ها د څه خور؟ستا پلار بل څوک دی، ټول درباندې اعتماد لری خو نه پوهېږي چې ته څه ډول نجلۍ یې. دا خواخوږي او مهرباني هم یوازې د دې لپاره ده چې ته یتیمه یې!

د دې ټولې کینې او نفرت په لیدو زه حیرانه شوم. پوهېدم چې زه له هیله سره چنداني ښه نه یم خو تر نن پورې مې هغه د نارون او مسیح په څېر خوښېده .
په ژرغونی غږ می وویل: خو زما دا خوښول تا سره څه تړاو لري؟
په قهقهه یې وخندل او ورو یې وویل:وایي تا سره څه تړاو لری؟ زه د ادیب سره مینه لرم پوهېږې؟ د کلونو راهیسې مې هغه خوښ دی! حتی کاکا مې د کاکا مېرمن او پلار مې له وړاندې زموږ د نامزدۍ په اړه خبرې کړې دي زه د ادیب په نوم شوی یم پوهه شوی زه د هغه نامزاده یم.

چې د 'نامزاده' کلیمه یې وویل، سا مې په ستوني کې بنده شوه. ژبه مې د خبرو کولو وس نه درلود او سترګو مې د درنو الفاظو باران پیل کړ. په ګونګه ژبه مې وویل: د دا دروغجني خبری له ځان سره وساته.
هیله- که ته فکر کوی چی دروغ دی نو لاړه شه له پلار څخه می پوښتنه وکړه یا هم د نارون څخه. څو کاله وړاندی کله چی کاکا می او د هغی میرمن دلته راغلی وو نو دا چی نارون نامزاد وه زه یی د ادیب په نوم کړم.په هغه وخت کې مې په خپلو غوږونو واورېدل. مور مې او نارون هم په هغه مجلس کی حاضر ول که کاکا مې ژوندی وای، نو اوس زموږ کوژده شوی وای.

او هوو باید اعتراف وکړم چې ته یو ماهره ښکارچی یې.پوهیدم چی مینه شوی یی خو دا چی هغه شخص به ادیب وی، هیڅکله می هم دا فکر نه کاوه.خو هغه ورځ می چی دا ګوتمه ستا په لاس ولیده شک می وکړ ځکه په هغه ورځ ته له ادیب سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهر تللی وې او حتی کور ته یوزای راغلی تر دی چی ستا کتابچه می غلا کړه او نن می ستا په غیاب کی ټول ولوست.

حرم- نو تا هر څه ولوستل؟؟ شاید په دی پوه شوی اوسی چی ادیب هم له ماسره مینه لری، هغه هم بیحددد، آن تر دی چی له دی دروغجن تراؤ څخه هم خبر نه دی.
ادیب له ماسره او زه ادیب سره مینه لرم نو دا به ښه وی چې له یوارڅیزې مینې لاس واخلې ځکه چې تا ته یکی هیڅ ګټه نشته.
هیله- بس کړه احمقی بس کړه که مړه هم شم اجازه نه درکوم چې ادیب ستا شي حتی که دا زما د ژوند په بیه هم وي.

کتابچه یی پر ځمکه وویشته او زما له څنګ څخه د یو دښمن په شان تیر شوه زما سر له درده نژدې وه چی و چاودي.
غوښتل می ادیب ته پیغام پریږدم خو زړه مې ونشو لومړی باید پلار سره می خبری وکړم.ورو ورو شپه راورسیده هغه شپه د تلویزیوني شبکو تود بحث د یوه وزیر استیضاح وه پلار مې د خلکو د استازي په توګه باید په څو بحثونو کې ګډون کړی وو باید ناوخته کور ته راغلی وای.

پوهیدم چې پلار مې یو فرمانبردار او پوه کس دی. همدا چې پلار مې راغی ژر یې خپل کاري خونې ته لاړ ماهم چاي تیار کړو او خواته یی لاړم.خپل ټول جرعت می راټول کړ ټوله موضوع می ورته بیان کړه په پیل کی خپه، شو د هیلی نامزادی موضوع هم ربښتیا وه.خو کله چې پوه شو چې ادیب ما سره مینه لري هڅه یې وکړه چې دا ومني.ډیره خوشحاله شوم پلار می غیږ کې ونیوه او له خوښۍ می په هوا کی وزری وهلې.

لا زما د خوښیو یوه شیبه نه وه تیره شوې چې ناڅاپه د سوسن د چیغو او شورماشور غږ ټول وارخطا کړل. په تلوار خونی ته دننه شوو د هغه صحنې په لیدلو سره می وینه په رګونو کی وچه شوه.ټوله خونه ګډوډه وه د خونې فرش د شیشو په ټوټو پوښل شوی وه هیله د یو جسد په شان د شیشیو په ټوټو پرته وه له دوارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسونو یی وینه بهیده.د هغی شپې هضمول راته سخت او زغم وړ نه وو.ابراهیم هیله په غیږ کی ونیوله او ژړ یی بهر وایسته، د پلار په یو زنګ سره هېله د ښار تر ټولو غوره روغتون ته انتقال شوه.ډیره وینه یی به لاسه ورکړی وه.

ما خپل پلار ته وکتل چې له ابراهیم سره یې خبرې کولې هغه په دوامداره توګه ویل چې دا پېښه پټه وساتئ موضوع باید رسنیو ته و نوځي. یوه له هغو مسایلو څخه چې ډېر پام یې ځان ته اړوه د سیاستمدارانو او نامتو شخصیتونو د اولادونو شخصي ژوند و.تر نن ورځې پورې زما پلار زموږ ژوند د جلا قوانینو پر بنسټ ساتلی او تل یې ټینګار کاوه چې زموږ ژوند پټ پاتې شي.زه پوهېږم چې هغه دا د خیر او صلاح لپاره ګڼله او تل یې دا خبره کوله. چې خپل ژوند جوړکړی او زما په نوم ژوند مخ ته مه وړی باید هر یو له تاسو خپل شخصیت ولری نه دا چی زما له شخصیت څخه ځان ته پیژندنه تر لاسه کړئ.

همدا دلیل و چې په پوهنتون کې موږ د یوه بریالي تاجر د اولاد په توګه یادیږو نه د خلکو د استازي د اولاد په توګه!ډاکټر وویل چی د هیلی روحی حالت ښه نه دی. او امکان لري چې وروسته په دې حالت کې ځان ته بل ډول زیان ورسوي.دی موضوع موږ ټول اندېښمن کړو. دا لومړی ځل وه چی ما خپل پلار دومره کمزورې او بی وسه ولید. د خپل خوب په فکر کی شوم پوره هماغسې لکه څنګه چې مې پلار په خوب کې له زاریو ډکو سترګو زه ځان ته غوښتم، ما ته یې کتل.له دردہ ذرہ ذرہ کیدم، که په هیلی څه شوی وای نو څه؟ که د لاس پر ځای د ستوني رګ وای نو څه؟ ځان سره  په خبرو بوخته وم چی یو ګرم لاس می پر لاس کېښودل شو سترګې می وروارولی د هغی د مهربانو سترګو په لیدو می اوښکی له سترګو روانې شوي.

پلار مې په دې شپه له ټولو غوښتنه وکړه چې دې موضوع ته بل رنګ ورکړې او د (آپاندیس) په ویلو سره مو دی موضوع ته د پای ټکی کیښود.د تقدیر له مخې هماغه شپه نورماه، سوسن، مصطفی له ادیب سره د شپې ډوډۍ ته بهر تللي وو او همدا نه موجودیت یې لامل شو چې د اصلي پېښې څخه خبر نشي.حتی تر نن ورځې پورې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیله په هوش راغلی وه خو پلار می دهغی د لیدلو هیڅ لیوالتیا نه درلوده. د ډاکټر په اجازې سره مې دیوائې لیدو اجازه ترلاسه کړه.د هیلی رنګ لکه د زعفرانو په شان وه فکر مې کاوه ښایې له دی کار لږ څه پښیمانه وي.

همدا چی ما ته یی وکتل ټولی خبری یی لکه د ټوپک مرمي زما په لور حواله کړي، هغې لکه لیونیانو په شان چیغې وهلی،په بیره له کوټې بهر شوم زما زړه لکه د مرغۍ په شان په سینې کې درزیده.پلار می له ابراهیم وغوښتل چې روغتون کی پاتی شی موږ ټول کور ته راغلو ...هغه شپه له پېښو ډکه وه، سبا سهار د پلار په ډېر ټینګار مو هیله کور ته راوستله له هغه وروسته نور توان نه و چې له هیله سره په یوه کوټه کې پاتې شم نو موږ جلا کوټې انتخاب کړی.د هیلې حالت ورځ تر بلې خرابېده حتې ټول هغه توکي چې لږ زیان یې رسولی شوای له کوټې څخه مو وایستل مور می تل له هغې ساتنه کوله ترڅو ځان ته زیان ونه رسوي.

یو له هغو ورځو څخه که حمیده ترور لږ ناوخته تللی وای نو هیلی به درمل په خوړلو ځان وژنه کړی وه.له حمیدی ترور سره په پخلنځي کې وم چې مرجان وویل: حرم جانی حاجي صاحب تاته غږ کوي.

لکه د معمول په شأن په خپله کاري کوټه کې و زما زړه ته یو عجیب اضطراب راغلی و، له داخلېدو مخکې مې منفي انرژي له ځانه لرې کړه یو ژوره ساه مې واخیسته او دروازه په دوه ځله ټکولو سره د پلار مهربان غږ مې واورېد چې ویل یې: دننه راشه.

کوټې ته ننوتلم.
پلار می تسبیح په لاس د جاینماز پر سر ناست و.په آرامی یې تر څنګ کیناستم سترګی می د تسبیح په دانو کی خښې کړی وی هغه د یاصبوُر....یاصبوُر په ویلو سره دانی د ګوتو به مینځ څخه تېرولې.په داسی حال کی چی دهغه آرام غږ می اوریده په ورو می وویل:دا حقیقت دی چې هغه نوم چې د یوه شخص پر سر کیږی د هغه شخصیت باندې ډېر اثر لري مثلاً صبور (صبر کوونکی) تاسو چې د هرې ستونزې په وړاندې صابر وئ بې شکه د الله وعده حق ده نو بیا دا اندیښنه ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تسبیح آخرنی دانی د هغه د ګوتو ترمنځ ځای ونیوه او یو شېبه خاموش شو بیا یې وویل:

حاجی صبور- خو دا ځل زه د الله نه د ډېر صبر غوښتونکی یم ترڅو داسې کوم عمل له ما نه ترسره نشي چې ریښه یې د حضرت محمد د دورې د جاهلیت په وخت کې وه هغه مهال الله(ج) محمد (ص) د هغه قوم د ژغورلو لپاره واستوه.او دا ځل یې ته زما لپاره!!

په حیرانتیا سره می وویل: پوهه نشوم پلاره کیږی چی په واضح ډول خبری وکړئ؟ وی ویل: لوری، ته پوهېږې چې ته تل زما لپاره یوازینۍ لور یی زه پر تا دومره باور لرم او پوهېږم چې ته د دې ډول مقام او عظمت د ساتلو لامل یې ته زما لپاره د الماس په شان ارزښتناکه یې.خو مه پرېږده چې د پلار لاس دې د خپل اولاد په وینه ککړ شي مه پرېږده چې دا خلک ما یوازې د دې په نوم یاد کړي چې د ده لور ځان وژنه وکړه. زما زړه غواړي چې دا نجلۍ ژوندۍ په ځمکه کې ښخه کړم.کاش هغه شپه چې یې د ځان وژنې هڅه وکړه بېخي له منځه تللې وای خو وګوره لا هم ژوندۍ ده.

تر نن ورځی می خوله تویه کړی په زحمت می پیسی پیدا کړی او دی ځای ته رسیدلی یم الله شاهد ده چی یوه حرامه ګوله می تاسو ته نده درکړې. نو دا جلۍ زما د کوم عمل سزا ده؟خدای زه د خپلو دوو لوڼو ترمنځ په ازموینه کې ګېر کړی یم. زه بی وسی او خوار شوی یم.حرم، زما لاس ونیسه لورکۍ! پلار دې زارۍ درته کوي مه پرېږده چې زه رسوا او بې عزته شم مه پریږده لوری مه پ ...
"مه پرېږده" یې ورو ورو وویل احساس مې وکړ چې دا ساده کلمه هم ده ته درنه ښکاره شوه د هغه له مخه رنګ والوت او یو خوا ته راوغورځېد.څو ځل مې ږغ کړ خو پلار مې لکه بې ساه مړی پروت وو په چیغو مې ابراهیم ته غږ کړ هغوی پلار مې روغتون ته ورسوه ډاکترانو د معاینې وروسته وویل چې دا حالت د زړه حملې له امله و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو ساعته وروسته کله چې پلار مې هوش ته راغي هماغلته مې د شکرانې سجده وکړه.که څه هم ما ډېر اصرار درلود چې پلار مې ووینم خو اجازه نه وه.د ادیب په امر سره د روغتون شاوخوا جدی امنیت نیول شوی وو.مور مې له مسیح سره وه او زه د کاج تر زړې ونې لاندې د یو عالم غمونو سره ناسته وم. سترگو می د غم اوښکی تویولې ژوند می لکه تیاره شپه شوی وه.یو آشنا غږ می تر غوږ شو.
ادیب_ ستا دا حالت ما تباه کوی.
غوښتل می چی کلک یی غیږ کی ونیسم ټول هغه دردونه می چی زړه کی پټ ول په چیغو یی ورته ووایم غوښتل می چی زما د ټولو دردونو درمان شی خوو ددی لپاره چی کمه رانشم، چپ پاتی شوم.

خپل لاسونو ته می زور ورکړو دومره زور چې د څوکۍ مېخونه می لاس ژوبل کړ خو دا درد می د زړه درد په اندازه نه‌وو. آرامه می څنگ کی کېناست او وی ویل: د کاکا حال اوس ښه دی نو دا به ښه وی چی د مسیح او مور سره دی لاړه شی کور ته موږ به....
په جدی انداز می د ادیب په لور وکتل چی خبره یی پری شوه. دا ځل یی په درنښت او ارامی سره چی د وینا دا بڼه ورسره نه جوړېده وی ویل.
ادیب- پوهېږم چې غوصه شوې خو یو ځل ځان ته وگوره وگوره په کوم حالت کې دلته ناسته یې.

ما خپل حال ته وکتل....

د څو ساعتونو مخکې یاد کې ډوبه شوم، چې څومره په بېچارگۍ او مظلومیت د پلار اړخ ته کېناستم، نظر مې خپل پښو ته وکړو ان پښو کې مې څپلۍ هم نه وې او تر دې دمه زما ورته هېڅ پام هم نه و، که څه هم د نم ډکه او سړه ځمکه باندې روانه وم، په عادي حالت کې دا راته ناممکنه وه ....
سهار وختې و چې د روغتون سرطبیب د ادیب وغوښت، تر لنډو خبرو وروسته یې زه هم وغوښتلم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر ـ میرمن حرم وکیل صیب غواړې تاسې ووینې، یو څه باید درته په ګوته کړم چې دا حمله باید جدي ونیسو، ستاسې پلار باید د تشویش او استرس نه لېرې وساتل شي!
د سر په ښورولو سره په سر طبیب پسې شوم...
کوټې ته د اخلیدو مخکې راوګرځېده او د ګوتو په اشاره یې وویل: پنځه دقیقې پوه شوئ...

ژوره ساه مې واخیسته او په اطاق ننوتلم، لومړی ځل و هغه کس چې ما ته د زړورتیا مثال و، داسې بېوسه او خوار وینم، ریښتیا یې ویلي چې د نارینه سرمایه د هغه د عزت خوندي توب دی او د یو پلار تر ټولو لویه هیله د اولاد سرلوړي او کامیابي ده.د یو پلار او نارینه د له منځه وړولو دپاره؛ بسنه کوي چې د هغه عزت له منځه یوسې، او رسوا یې کړې چې په واقعیت سره دا کار هیلې وکړ.هر ګام چې مې پورته کاوه دا قسم مې کاوه، چې خپل د پلار د عزت د ساتلو دپاره به ځان قربان کړم خو نه پرېږدم چې د لور د ځان وژنې داغ یې پر مخ ولګوم.

پلار مې د ګوتو په اشاره زه د ځان څنګ ته وغوښتم، په لېدلو مې یې کوښښ وکړ چې خپل اوښکې کنټرول کړم...
په نیولي غږ مې وویل: د خدای شکر ادا کوم چې تاسې یې بیرته موږ ته راکړئ، د سترګو د کنج نه یې د اوښکو څاڅکی ولوېد چې لکه خنجر زما پر زړه چې ولګي په لرزېدلي غږ یې وویل:پوهېږم غوښتنې مې ډېرې دي خو ما ددې رسوایې نه وژغوره! مه پرېږده چې ټول ما ته د لور د ځان وژنې طعنې راکړي او مسخره مې کړي، ما وژغوره!

پلار مې په ژړا دا خبرې کولې، په یوه لویه دوه لارې کې پاتې وم،اصل کې خدای زه په یوې لوې ازموینې کې اچولې وم.یو خواته مې پلار چې خپل ځان مې ورته قربان کاوه! بله خوا ته مې هغه کس چې مینه مې ورسره درلودل او په مینه کې یې قربانې شوې وم،د پلار نوراني مخ مې خپل په دواړو لاسونو کې ونیوه، په سلګو مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل: ته زما ژوند وغواړه زه به يې تر تا قربان کړم! زه د اديب نه تېره شوم، پر تاسې مې دې قسم يي او خدای دې هم زما په دې خبرو شاهد وي چې نوره مې مينه زړه کې دفن شوه او دا خبره به زما او ستا تر منځ پاتې کيږي.
ترخه مسکا مې وکړه او دوام مې ورکړ: د پلار او لور منځ کې به راز يي کنه؟؟

هغه ورځ مور دواړو وژل ما خپل پر بدمرغی او پلار مې ددې دپاره چې زه يې د مجبوريت د بدمرغی خواته ټيله کړم،د اطاق نه په وتلو مې سترګې پر اديب ولګېدې ، زما په لېدلو په تلوار مخ ته راغی ..
اديب ـ کاکا مې څنګه دی؟؟
د اوښکو په پاکولو سره مې يوازې سر وښوراوه..
مسکې شو او ويې ويل: اوس نو بايد د مور سره دې ددې ځای نه لاړه شې هوا هم روښانه کيږي ستاسې اوسېدل دلته مناسب ندي.

د ستونې اوبه مې تېرې کړې، د هغه سرکښو او عاصی سترګو ته مې وکتل او ومې ويل: کيدای شي ته ما د ځان سره کور ته بوځې؟
.........................

سر مې د موټر د ښيښې تر څنګ ايښئ و، سترګې مې د دباندې په نظاره وې، د ښيښې پر مخ زما د نفسونو د بخار له وجې زما د سترګو او بهر تر منځ پرده جوړه کړې وه، په نري غږ مې وويل: که يو ورځ نه وم پوه شه چې زما زړه د هغه صدف په څېر دی چې ستا مينه يې يوازينۍ مرغلره ده.
زما په خبره اديب شا ته را وکتل او ويې ويل: ګورم چې ستا حالت هم تر کاکا ښه ندی، ډېرې خبرې مکوه، پرېږده کاکا مې ددې ځای نه رخصت شي زه خپله ورته ...هرڅه وايم

بغير د څه ويلو خاموش شوم خو زړه مې ويني وو، څو ورځې په همدې حالت کې تېرې شوی،سترګې مې د ډېرې ژړا د لاسه پرڅېدلې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ راغلم لورې

حمیده ترور د یخي د توټو سره راغله ، څنګ ته مې کښېنستل، په نرمۍ یې وویل:
سر دې زما په غیږ کې کېږده زه یې خپله درته اېږدم.
د سر په ایښودو مې سترګې پټې کړې، او په سترګو مې یخ د ټوټو پر اېښودلو په ناراضه غږ مې وویل: کاش چې د زړه اور مې هم په دې مړ کېده، ترورې زړه مې سوزي، د دننه نه د ډېوې په څیر چې اوبه کیږي، دا څه ډول ازموینه ده چې خدای زما نه واخیسته؟

حمیده ـ د مینې ازموینه!!! کلونه مخکې ددې ازموینې نه تېره شوې یم، هغه ورځ مې مینه دفن کړه نن ژوندۍ یم خو روح مې هغه ورځ دفن شوه، پوهېږې مینه یو جال دی کله چې ښکاره شي موږ یې یوازې نور وینو نه سایه ... خو کلونه به د هغه نور سره ژوند کوو خو سایه به یې د یو درونډ بار په ډول د ځان سره کشوو، تر څو دا درونډ بار موږ له منځه یوسي... ته د مینې په جال کې راګیره یې لورې..

حرم ـ کاشکې ژبه مې ګونګې او سترګې مې ړندې وای، ترڅو ددې مینې په اقرار مې نشوای کړی او سترګې مې د هغه دیدار اړې نه وای...
حمیده ـ سترګو ته دې ښېرې مکوه، مینه د هغه باد په څېر دی چې نه شو کولای هغه ووینو خو په ټول وجود یې حس کولای شو، نشو کولای هغه پر خوله راوړو خو درد یې په هرې ژبې کې د پوهېدو دی.
حرم ـ زړه مې تنګ دی د هرڅه او هر ځای نه.
حمیده ـ زړه دې تنګ دی؟؟
ـ ډېر، ډېـــررر زیـــــــاد ترورې.

ـ د ټولو زړه تنګېږي لورې، هغه زړه چې تنګ نه شي هغه زړه ندی، کیدای شي چې پلار دې دا پرېکړه ددې د پاره کړې وي چې هیله په کبیرې ګناه ځان وژنې لاس پورې نکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرم ـ پوهېږم ځان وژنه کبیره ګناه ته! خو دا هم غټه ګناه ده چې انسان خوش قسمته نه وي کنه ترورې؟؟

حمیده ـ لورې! مه هېروه چې تا قسم خوړلی.

حرم ـ قسم ها؟! ګوره په اورېدو يې ان خندا راځي، دا خو به دې اورېدلي چې بعد له خدایه د زړه خدای مې ته يې! زه ددې دپاره چې د زړه خدای مې هېر کړم قسم مې خوړلی څومره عجیبه! عجیبه لا دا چې هغه شپه چې هیلې د ځان وژنې کوښښ کړې و ادیب خپل مور زما او خپل د اړیکې لپاره راضي کړې وه، ددې د پوهېدو با وجود چې هیله د هغه په نوم ده.

غوښتل يې ما هغه وخت خبره کړې چې د پلار وضعیت مې ښه شي، زه حیرانه یم دا موضوع ته څنګه د پای ټکی کېږدم، خو ګوره تقدیر زما سره څنګه لوبه راواخیستل ... سبا شپه دوی مرکې ته راځي. ادیب خبر نه دی چې زما پلار او هیلې باندې څه شوي او ما څه قسم اخیستي، هغه راروان دي ترڅو خپل کړې ژمنه پوره کړي او ما خپل ناوې کړي.

زما د خبرو په اورېدو حمیدې ترور د حیرانتیا نه لاسونه پر خوله نیولي وه او په غونډېو سترګو يې راته کتل.

حمیده ـ حرم ته څه وایې لیونۍ شوې يې؟؟؟

حرم ـ کاشکې لیونۍ وای کاشکې .. سبا شپه به شاهیده اوسې بس.

لمر د ډوبېدو حال کې وو زه د چمن څنګ ته په سرای کې ناسته وم، سترګې مې لمر ته ښخې وې، زړه راښکونکې منظره ده کنه؟ادیب تل په دې څو ورځو کې مې د پلار پوښتنې ته راتلی.په ریښتیا هم د لمر ډوبېده ښکلی و خو نه تر ډېره ځکه د سبا لمر ډوبېده هغه د تل دپاره زما نه لېرې کوي!! سترګې مې د لمر اخرې وړانګې ته نیولې وېل او ځان سره مې وویل: هر څه به یو ورځ ډوبېږي او پای مومي مینه،عشق، ژوند هر څه ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې بیا د اسمان د رنګ بدلون ته وګورو، کله چې اسمان ببرته سور او ژېړ رنګ واخلي، ددې بیانونکی و چې په اقیانوس کې ژوند څه بد، څه ښه، څه ښکلی، څه بدرنګ یو ورځ به ډوبیږي ختمیږي به.هغه ورځ هم راځي چې اسمان خپل د ژوند رنګ ته بدلون ورکوي، او هغه وخت هم راځي چې خپل سترګې به د هغه د تورو او سرمه ای رنګونو سره عادت کړو، او باید د لمر د راختو وروسته د لمر د لوېدو شاهدان واوسو، دا د طبیعت او ژوند قانون دی.

زه په همغه حالتو او فکرونو کې وم چې ادیب حویلۍ ته را ووت زما څخه په لړ واټن و درېده او خندا په خوله یې سترګګ ووهله او ویې ویل: بې صبرانه د سبا د لمر لوېدو په تمه یم، که څه هم پوهېږم ستا ځواب څه دی، خو د ټولو مخ کې اورېدلو ته یې بې کراره یم، اوس ځم سبا راځم.

د ادیب د تلو وروسته زه پاتې شوم د نړۍ غم او درد سره.سبا د اغلی نورماه په غوښتنه میلمستیا ترتیب شوه، د ډوډۍ د خوړولو وروسته نورماه په ډېر احترام او دروندوالی سره په خبرو پیل وکړ ...

نورماه ـ حاجی صیب پوهېږئ چې نن شپه مې دا میلمستیا رسماً ددې دپاره ترتیب کړې چې یوه مهمه موضوع درسره شریکه کړم که څه هم دا ستاسې د مرحوم ورور هیله هم وه چې خپل د ورورولی اړیکه نوره هم ټینګه کړي، ډېره د موضوع نه لېرې کېږم نه، زه غواړم دلور حرم لاس مو خپل د زوی ادیب دپاره وغواړم.

د یو جسد غوندې په څوکۍ کې ناسته وم.....
پلار مې ټولو ته یو نظر وګتل او ویې ویل: دا موضوع حرم پورې اړه لري نو د حرم ځواب زما ځواب دی.
هڅه مې وکړه چې ځان کنټرول کړم ومې ویل: که اجازه مو وي نو زه غواړم د کاکا ښځې سره مې یوازې وغږېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جګ ګامونو د سالون څخه ووتلم او خپل کوټې ته لاړم.
نورماه ـ ښه شو چې دلته راغلې تر څو زه هم په ارامه زړه او بې له کومې حاشیې خبرې وکړم، پوهیږم چې تا زما زوی خپل په مکر او چل جال کې راګیر کړی او دا باندې هم باید پوه شي که ته اوس نه وای نو موږ د هیلۍ نه مرکه کول خو ناحق نه وایي چې د مېین سترګې ړاندې دي، او زه خپل د زوي له لاسه مجبور شوم ستا مرکي ته راشم.

د هغې د خبرو په اورېدو زړه مې غوښتل حمله پرې وکړم، ژبه ترې وباسم او په لاس یې ورکړم اخیر یوه ښځه څنګه کولای شو تر دې اندازې رزیل وي؟
حرم ـ د لومړۍ ځل لپاره تاسو سره هم غږې یم،تاسو د هیلۍ غوندې انجلۍ لایقه یاست ځکه دواړه یو رقم یاست او ضمناً ستاسو زوی دې تاسو ته مبارک وي زه اصلا هغه هلک چې مور یې تاسو اوسئ ورسره مینه نکوم کولای شي زما پر ځای د هیلۍ په اړه د پلار سره مې وغږیږئ زما څواب نه دی.

نورماه ـ پوهېدم چې ته زمونږ د کورنۍ لیاقت نه درلوده سمه ده چې دلته لویه شوې یې خو دا مه هېروه چې ته خرڅه شوې یې د ماماګانو له خوا دي،هیله مخکې هم زما د زوی په نوم و، د دې وروسته هم زما انږور کیږي.
حرم ـ ښه که ستاسو زوی نر وای زما پر ځای باید د خور څخه مې خاستګاري کړې وای ځکه هیله دومره کلونه ستاسو د زوی  په نوم ناسته وه.
نورماه ـ ګورم چې ستا په وجود کې د تربیه په نوم هېڅ شي نشته، دا چې هیله زما د زوی په نوم وه د حاجی صیب او ادیب پلار تر منځ فیصله شوې وه د دې موضوع نه زما زوی اصلا خبر نه وو نو دا شلیطه ګری دې زما څنګه مه کوه چې اصلا حوصله نلرم ستا سره جربحث وکړم خوشحاله شوم چې ستا غوندې بلا زمونږ د سره چپ شو د دې نیک کار لپاره خدای ته نذر کوم.

هغې دا خبرې وکړل او روانه شوه د تلو سره یې د کوټې ور دومره په کلکه پورې کړه چې یو قد خیز مې واچوه،ژر مې دروازه قلف کړه په هغه کنډواله کې چې په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسو مې ځان ته جوړ کړي و ځان مې قید کړ.د سترګو نه مې د اوښکې څاڅکې پر مخ مې راڅڅېدې د دې حس نه ستړې وم، څو ځلې ادیب زنګ یې وکړ.خو بې له دې چې ځواب ورکړم تلفون مې بند کړ. چیغې مې کړې ولې غواړې زما څخه واورې؟؟ زما پر ځای د الله نه وپوښته ....

د خدای لپاره یو ځلې د خپل رب څخه وپوښته چې د مینې درد دې څنګه پیدا کړې؟؟څنګه ناسور زخم دې زما په زړه راکړ، که زما په قسمت نه وې نو دا دومره امید د څه لپاره و؟ بې اختیاره مې دا ټپې د درد په خوله راغلې:

د زړه په رنځ اخته،د ښه کیدو نه یمه نور
لاس راکه پخپل زور د جیګیدو نه یمه نور

ته لاړې! داسې لاړې چې وژونکی غم دې پریښود
خراب یې کړم په خدای چې د لیدو نه یمه نور

ستا غېږه کې شوم مات لکه دانه دانه لونګ
او دومره مات چې بس د ماتیدو نه یمه نور

هیڅ مې لۀ وسه پوره نۀدي
لۀ ډکو سترګو به دې سترګې وارومه

هغه شپه مې دومره وژړل چې بې خوده شوې وم، کله چې مې سترګې خلاصې کړې چې د نیم سرې درد مې دومره شدید و چې احساس مې کوه دا کوټه راباندې څرخي.د ولاړیدو توان مې نه وه د پلار غږ مې اوریدل چې د ور تر شا ماته یې مکرر غږ کوه لاس مې ویښتیان ته ویوړل سم مې کړ دروازه مې خلاصوله چې سترګې مخامخ اینې کې پر ځان ولګیده.سترګې مې د ډېر ژړا نه پړسیدلي وې ټول مخ مې د نووګاری زخمونه و.نه مې غوښتل په دې حالت پلار مې ما وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوله هڅه مې وکړه تر څو خپل غږ سم کړم په جګ اواز مې وویل: پلاره اندیښنه مکوه زه جوړه یم غواړم د پوهنتون لپاره ځان تیار کړم.

نن مې باید مینه لیدلې وای یواځینې کس و چې زه یې درک کولم. ویښتیان مې خلاص کړل او د مخ دواړه خوا ته مې خوشې کړل تر څو زما د زخمونو په پټولو کې مرسته وکړي غټې د لمر ضد عینکونه مې داسې ورځ کې چې د اسمان زړه زما په څېر ډک وو په سترګو کړل په دې شکل زما د سترګو پړسیدل نه ښکاریده.
ابراهیم ته مې زنګ وکړ او ژر مې ځان پوهنتون ته ورسوه، د مینې په لیدو کلک مې غیږه کې ونیوله کله چې مینه د کیسې څخه خبره شوه نو زما څخه زیات مینې وژړل ...

مینه زما د ناسور درد درمل،ځینې وخت مې ویل څه ښه کار مې کړي چې الله راته داسې ملګرې راکړې چې زما لپاره یوه تکیه ګاه ده؟هغه ورځ مینه هڅه یې کوله چې ما په خندا کړي خو زه د یو بې روح جسد په څېر په څوکې ګنګه ناسته وم مینې په ډکو سترګو وویل: ومرم خو تا په دې حال ونه ګورم وګوره حرم قسم دی که اجازه راکړې د هغې انجلۍ زړه به د ژوند نه تور کړم، الله دې زما دښمن ته لا داسې خور ورنکړي، ملګرې خو لرې ...

حرم ـ د خدای لپاره مینه د خبرو حوصله نلرم څو ځلې درته ووایم ما د هیلۍ لپاره دا کار نه دی کړې، بلکې د پلار لپاره مې داسې وکړه ماته مې پلار مهم دی نه هیله ...
مینه ـ ښه نو اوس څه کیږي؟؟
حرم ـ نپوهېږم خو څنګه چې ادیب پیژنم تر څو زما سره خبرې ونکړي نه ارامه کیږي.
مینه ـ کاش ټول حقیقت باندې پوه شي.
حرم ـ هېڅکه دا اجازه نه ورکوم، دومره یې د ځان څخه لرې کوم چې زما له ضد نه د هیلۍ سره واده وکړي، خو اوس نه، دا چې د هغه سره مخامخ کیدو لپاره توان پیدا کړم باید څونې وخت ځان ورنه پټ کړم حداقل تر څو دا زخمونه مې ښه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو ورځې تيرې شوې دا چې د اديب سره مخامخ نه شم د واټساپ، انستاګرام او ټول مجازی فضا کې مې بلاک کړي و.يو ورځ چې پوهنتون کې وم ابراهيم له خوا يو پيغام راغي چې ليکلې وه" پلار باندې دې حمله راغلې اوس شفاخانې کې يو نيم سات وروسته درپسې درځم د باندې اوسه" د پيغام په لوستلو حيرانه شوم د ځان سره مې وويل سهار خو مې پلار ښه و يو دم ....
زنګ مې وکړ خو بند يې کړ. ژر د پوهنتون څخه ووتلم د مخامخ صحنې په ليدو حيرانه شوم.ابراهيم تر څنګ اديب ولاړ و،په تروش تندی يې ماته کتل، بې له دې چې ورته توجه وکړم موټر کې کيناستم ..

خو ابراهيم شاته بل موټر کې کيناست، اديب موټر ته راپورته شو او بغير د څه ويلو په همغه تروش تندی حرکت وکړو زړه مې ناکراره و اخير خبره څه ده، بلې لارې باندې لاړ، په ورخطايي مې وپوښتل: د شفاخانې لاره خو ښې لاسته نه و؟؟
زما خبرې ته يې توجه ونکړ او د موټر سرعت يې زيات کړ ابراهيم د دو نور محافظانو سره زمونږ تر شا موټر کې و، تر څو هغه لاره باندې لاړو چې زما لپاره تر دوزخ کمه نه وه
د هوټل پټه لاره ...
ومې ويل:پلار مې چيرته دی؟ بايد ما د پلار څنګ ته مې ويسه پوه شوې؟؟
پسخند يې ووهه او وويل: پلار دې جوړ تيار دی ښکته شه د موټر څخه.

ښکته شه يې کش دار وويل خو کله چې ولېدل زه نه ښکته کېږم نو د مټو څخه يې ونيولم او د حلال شوې ميږې په څېر يې ځان پسې کش کړم، ما کوښښ کوه ځان ورنه خلاص کړم خو زما کوښښ بې نتيجه وه.د کوټې منځ کې يې وغورځولم، او په لوړ غږ يې وويل: ليونۍ انجلۍ زما سره لوبه کوې ها؟
د ځايه پورته شوم بايد نن مې ځان د هغه سترګو اچولي واى، بايد د هغه زړه مې د ځان څخه تور کړی وايې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرم ـ څنګه لوبه؟؟؟

ادیب ـ هغه شپه دې زما مور ته دي څه وویل؟؟ یو دلیل یو دلیل راته د هغه بیشرم کار لپاره دې ووایه چې د دې ځای څخه ژوندي ووځي.

حرم ـ اصلا کې ستا مور یوه شیطانه ښځه ده د دې ښځې نه څه توقع ده!

خبره مې خلاصه شوي نه وه چې کلکه سپیړه یې ووهلم د هغه په شدت بېرته پر ځمکې وغورځیدم دومره د سپیړې شدت زیات و چې خوله کې مې د وینې مزه احساس کړل.

ادیب ـ که دویم ځل لپاره دې زما د مور په اړه دې داسې خبره وکړه نو تر دې بدتر درته نصیب کیږي.ووایه وګورم چې په کوم دلیل دې راته د رد ځواب راکړ؟؟ په دومره وخت کې دې زه د لوبو نانځکه جوړ کړي وم؟پوهیږې په څه ستونزه مې مور راضي کړه تر څو درسره واده وکړم؟

حرم ـ اصلا راته مهمه نده، هم ستا هم ستا د مور څخه کرکه لرم حتی د هغه مړ شوي پلار څخه دې په قبر کې هم کرکه لرم،پوهیږې ستاسو دا مردار سیوري زما د بدبختي لامل ده اصل کې باید ووایم دومره وخت چې تاسره وم موخه مې درلوده زه د احمد سره مینه لرم غوښتل مې داسې احمد په غوسه کړم خو ګورم چې تا دا خبره بیخي جدي نیولي وه.

تر ویښتیان یې ونیولم په ټول توان یې د ویښتیانو څخه کش کړلم تر دې چې د ځای څخه یې جګه کړم.

په ړډو سترګو ماته یې وکتل او په بنده ژبه یې وویل: یعني ..... ته ...

خبره یې په خوله کې وچه کړه لاندی و غورځلم په غوسه یې خپل ویښتیانو کې لاس ووهه او په زحمت یې وویل: داسې نه چې نن اپریل فول ده او زه خبره نه یم؟؟( اپریل فول مطلب یوه ورځ ده په نوم د جهانی دروغ! دې ورځ کې دروغ ویل روا دی هههههه)بېرته لاسونه تر غاړې تاو کړ او په هماغه انداز یې وویل: خبرې وکړه ولې خپل هغه شپږ متره ژبه دې خوړلي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خولې لاړې مې تيرې کړې او په پټو سترګو مې وويل: اديب وګوره دا ټول يو پلان و، زه نه پوهېدم چې دومره به غټ شي ښه به دا وي چې زما شا پرېږدې او د هيلۍ سره کوژده وکړې هغه انجلۍ ستا په نوم دا ځو کاله ناسته وه حتی ....
زما د خبرو تر منځ وپريده او وويل: داسې نه چې د هيلۍ لپاره دې د "نه" ځواب راکړو؟ چې هيله زما په نوم ده؟ زه تاسره مينه لرم اصلا هيله څه چې هېڅ احد زما لپاره مهم نه دی، و دې کوټې ته وګوره په دومره وخت کې دا اتاق زمونږ د هغه ورځو شاهد دی چې مونږ يو بل سره تيرې کړې،احساس کوم چې يو بد خوب دی ..

پسخند مې ووهه او ومې ويل: په هوش راشه ښاغلی اديب هېڅ داسې بد خوب نشته سترګې دې خلاصې کړه او حقيقت ته وګوره نر شه او خپل ننګ پر ځای کړه. غږ مې بې اختياره جګ شو هغه وخت هېڅ شی راته مهمه نه وه فقط مې غوښتل د هغه په نظر ځان بده وښايم تر څو رانه کرکه وکړي، د هغه سترګې سرې شوې په سترګو کې کرکه او غوسه مې ليده اصلا مې د سترګو نه نظر لرې نه کړ تر څو زما خبرې باندې يې باور راشي.

دويم سپيړه يې راکړ او په ډېر غوصه يې چيغې کړ: خبيثې غږ دې ښکته کړه که مې درسره مينه نه کوه داسې حال مې درباندې راوړ چې تا خپله ويل نر څه ته وايي.

بايد اخرين وار مې هم کړې وای ودرېدم د سترګو مقابل کې د زړه په درد که نن د دې درد دلاسه ټوټه ټوټه کيدم هم شايد د وخت په تيريدو زړه درد مې کميده.
حرم ـ ته يو نامرد يې او زه اصلا د نامردو سره مينه نه کوم وګوره درته څه وايم ډېر ژر زما د واده شاهد به اوسې!

دا ځلې د ويښتيانو څخه يې ونيولم او د يو بې ګناه ماشوم په څېر يې په ځمکې ووهلم او کلکه لغته يې په نس کې ووهلم دومره هغه لغته قوی وه چې د درد نه راټوله شوم،سترګو باندې مې توره پرده راغله او اخرين څه مې چې وليده د اديب د غوسې نه ډک څېره او سرې سترګې وې او دا غوسه د اور په څېر لمبه يې کوه او نور څه مې ونه ليدل ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاش دا دنیا زمونږ په خوښه راونه شي،څه ښایسته وایي فروغ خپل معشوقې ته: خو همدا بس و؛ همدا چې وجود مې ستا د وجود درد لري نه ستا د وجود میل. د مینې یوه برخه ده چې تر د زړه میل زیات ده.د وجود بند بند او زره زره د زړه روح دې هغه ته ارتیا لري او دا ده رښتینې مینه! نن د ادیب مینه زما لپاره ریښتینې وه هغه تر ما ریښتینې!! نن د دومره خبرو کولو سره مړه شوم،مګر انسان څو ځلې مرې او ژوندی کیږي؟؟؟زه د مینې په ازموینه کې څو ځلې مړه او ژوندي شوم.کله چې مې سترګې خلاصې کړې هماغسې د کوټې منځ کې پرته وم کوټې شاوخوا مې نظر تیر کړ ټول وسایل د کوټې تر منځ خواره ول او ادیب هم نه و.

لاس مې پر ځمکې کیښود او د ځایه ولاړه شوم خیټه باندې مې یو درد احساس کړ په جګ ګامونو د اتاق څخه ووتلم د ابراهیم په لیدو مې ژوره ساه واخیسته ومې ویل: بیا دې هم خپل کار وکړ ابراهیم ها؟

د هغه ځایه چې ابراهیم بې له مور او پلار زمونږ کورکې غټ شوي وو زما لپاره لکه ورور و.سر یې ښکته کړ او وویل: قسم دی چې ادیب وویل فقط خبرې کوم او دا چې ستاسو د خوشحاله ورځو هیله مې درلوده غوښتل مې مرسته وکړم تر څو دا خنډ ستاسو له منځ نه لرې شي او هر څه سم شي. تاسو دواړو یو دبل سره مینه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ویل: صحی ده، زه اصلآ حوصله نه لرم ستاسره دجنجال او بحث. باید کور ته ولاړه شم.

د ابراهیم په مرسته موټر ته پورته شوم.

حرم- ابراهیمه، د پلار حالت می ښه دی؟ ته باید نن د پلار ترخنګ می وایی؟

ابراهیم- حاجي صاحب بالکل ښه دی. ځکه چې ستا پلار ستا یوازینی د کمزورتیا ټکي دی، نو ادیب هم وغوښتل چې له همدې لارې مخکې لاړ شي.سربېره پردې، ستا پلار نن د یوه غیر رسمي سفر له لارې هرات ته ولاړې، هغه هم د یو شمېر وکیلانو او د کابینې د وزیرانو سره.

یوه ژوره ساه مې واخیستل او ومې ویل: آه، خدایه شکر! حداقل اړتیا نشته چې د ښه والي تمثیل وکړم.

هغه یوازینی کس وو چې زما روغتیا ورته مهمه ده، مینه او خاله حمیده هم شته، خو له دې دواړو ویره نه لرم.تقریباً دوی ورځې تېرې شوې، په دې دوه ورځو کې د ټولو چلند زما سره بدل شوی و، خاص د سوسن، چې په کنایه او سختو خبرو سره همېشه زما پر ضد ولاړه وه، له همدې امله مې ډېر وخت اطاق کې بندی وم. د دې لپاره چې ادیب زما څخه لاس واخلي، باید یو څه می کړی وایی.د مینی سره می اړیکه ونیول او د احمد شمېره مې ورڅخه وغوښتله.

اصلاً په خپل حال نه ووم.ځینې وختونه د ژوند په سختو شرایطو کې انسان داسې،کارونه کوي چې پخپله یې نه غواړي او نه هم پرې کنټرول لري. دا یوازې او یوازې د ژوند اړینې اړتیا وې او بې اختیاري دي.د احمد سره می اړیکه ونیول او په پوهنتون کې  مود لیدلو وخت وټاکی، سبا پوهنتون ته د احمد د لیدو په خاطر لاړم، د هغه له سترګو څخه اندیښنه او وېره له ورایه ښکاریده، دواړه په یو څوکۍ کښېناستلو بغیر د کوم اخوا دیخوا خبرو څخه و مخ ته یې ځېر شوم

او ومې ویل: پوهېږم، ته ډېرې غوښتونکي لرې په پوهنتون کې ډېرې انجونې شته چې غواړي له تا سره اړیکه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو په دا هم پوهیږي چې ته زماسره مینه لري او پر ما دي زړه بایللې، دا خبره تا پخپله څو څو ځله منلې ده. اوس غواړم له تا یو واضح ځواب واورم.
له شک او وارخطایې سره یې وویل: هر ډول ځواب چې وغواړې، له زړه څخه به یې درکړم.
حرم- ایا اوس هم زما سره مینه لرې؟ غواړې زما سره واده وکړې؟
حیران او ګنګس یې راته کتل. مخکنې خبرو ته می دوام ورکړم او ومې ویل:
پوهېږم چې ستا په ذهن کې ډېرې پوښتنې راګرځې، خو ...

د خبرو منځ ته مې راولویدی او خبره یې را پرې کړه او په جدي غږ یې وویل: هیڅ پوښتنه راته مهمه نه ده، حتی که دا یوه ملنډه او ټوکه هم وي، بیا هم دا به زما د ژوند تر ټولو ښکلی ټوکه وي.زه ستاسره مینه لرم او تر هغه وخته چې ژوندی یم، زه به ده خپل ټول وجود سره تا ته مینه درکوم.

حرم- ټوکي او ملنډه نه شته، که ته ما غواړې، نو باید زما سره په همدې هفته کې کوژده وکړې.
احمد- حرم، ایا دا ریښتیا دی که زه خوب ګورم؟!
حرم- ای کاش چې خوب وای، خو دا حقیقت دی.
بغیر له هېڅې پوښتنې او ځوابه احمد ومنله چې له ما سره کوژده وکړي.
همدا چې پلار مې له سفره راستون شو، درې ورځې وروسته احمد پوهنتون ته، راغلی او وویل چې سبا به یې کورنۍ زما د لیدو لپاره راشي.خاله حمیده او مور مې ډېر چمتووالی نیولې وه.

په دې منځ کې له ټولو زیات میرمن نورماه او هیله د خوښۍ او خوشالۍ احساس درلودې.هغوې احساس کوې چې د حرم په نوم بلا د هغوی دلارې لرې کیږې، کله ناکله د هغوی داسې خوشحالی زه خفه کولم.میلمانه راغلې وو او زه په هینداره کې خپل غمګین څیرې ته فکروړې وم. عجب ورځ وه او عجب مرکه وه! په ځان کې می ژوره کتنه وکړه، یوه نوې حرم مې د ځان په مقابل کې لیدله. مور مې څو ځله په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکرار سره زما نه غوښتنه وکړه چې د محفل جامو سره تیار شم او سینګار وکړم، خو زه پرته له دې چې د مور خبروته توجو وکرم ، یوه ساده پنجابي جامی می انتخاب کړېاو هېڅ لېوالتیا مې د سینګار لپاره نه درلوده.

خاله حمیده زما په لیدو سره صدقه او قربان شوه، او وی ویل: زموږ لور لکه سپوږمۍ داسی شوې ده.هغه څوک چې زړه یې الله پاک په ښکلا جوړ کړی وي، هغه د ځېرو ښکلا ته اړتیا نه لري. په اصل کې، ستا څېره لکه ستا زړه داسې ښکلی ده.

خو دا ځلېدل او سوځېدل د سپوږمۍ ژوره ټپ او داغ هم درلود هغه داغ همغه زما د زړه درد وو، دا سپوږمۍ چې ځلېده کله ناکله د تورو وریځو شاته غمجن، خفه، زړه ماتي او نامیده وه،دا سپوږمۍ دا تور د خښم ډکي ورځي نه غوښتي، دې سپوږمۍ صاف شین اسمان د ښکلو ځلېدونکو ستورو سره غوښت، خو نن ماښام نه د هغه صاف آسمان څخه کوم خبر وو او نه هم د هغه ځلېدونکي ستورو څخه، ټول ماحول تپه تیاره او په یخ فضا کې راچاپیر وو سم زما د بخت او قسمت پشان.

ورو مې خپل ګوته پورته کړه او مخامخ هینداری باندی مې کش کړه.ګوتی مې د سترګو مخې ته د عکس پر لور ونیولې او په ارامه مې تر شونډو لاندې وویل: څه وشول، حرم؟ هوووم، څه وشول؟ ستا سترګې ده غمه ډکې دې. ستا زړه درد لري. ته خپله تر هغو غمګینه او دردمنه یې. نور هغه ښکلي سترګې نه لرې. شاید لیونۍ شوې وم، چې له ځانه سره جنجال کووم... شاید!

ستا سترګې نور د پخوا په شان نه دي، بدل شوې دي، دقیقاً لکه تورو، ژورو او غمجنه کنده، لکه هغه ډارونکې تیاره  سورې، لکه یو تیاره زندان. ترخه موسکا مې وکړه، نه پوهېږم موسکا وه که نه... شاید! لاس مې تندي ته یووړې، ګوته مې ورو کش کړه، بیا مې ځان سره وویل: وګوره، ښه وګوره! دا د ژوند کربښې دې، دا درې کربښې له تا سره ترلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر مې ټيټ کړی، په شکايت سره مې وويل: 'ته له ځان سره څه وکړل، حرم؟ څه دې وکړل؟ ايا ته هغه نه وې چې شپې شپې دی خداې ته دهغه سره خپل يو ځای کېدو لپاره زارې وکړې؟ اوس بيا خپلو په لاسونو سره خپله تقدير د بل سرې سره ټاکې؟ژړا مې ستونی کی ورکه کړه،او تر شونډو لاندې مې وويل:حرم، په صد کی شه وګوره! د پلار د عزت او نوم موضوع په منځ کې ده.دا د پلار د مرګ او ژوند موضوع ده! که خدای مه کړه بيا حمله راشي... (خدای دې زما ژبه ګونګې کړي). پوزه مې کش کړه يو ناکامه هڅه خپل د اوښکو د کنټرول کولو پخاطر. پوړنې مې سم کړو د چای پتنوس مې واخيسته او صالون ته داخله شوم. درې مېرمنې ناستې وې.

يوه مېرمنه، چې ويښتان يې د سپينو زرو غوندې وو، بادامي او خړ رنګې سترګې يې لرلې، نری پوزه او ګرد مخ يې درلودې. له ليدو سره يې سمه پوه شوم چې دا د احمد مور ده.او څنګه چې څرګنده وه، احمد خپله ښکلا له خپلې مور څخه په ميراث اخيستې وه. په وقار او دروندوالۍ سره په چوکۍ ناست و. چې پرما يې سترګې ولګېدې، له ځايه پورته شو او د رسم رواج سره سم يې زما مخ ښکل کړو.د هغه ترخنګ دوه نورې مېرمنې هم ناستې وې. د دوی د ښکلا ستاينه ناشونې وه... خو په مهربانۍ او خوش‌رويۍ يې احوال‌پرسي وکړه.

وروسته پوه شوم چې يوه د احمد خور ده او بله د احمد د ورور مېرمن وه. سوسن او نورماه هم هلته وې. که څه هم د سوسن غمګينې او پوښتنې ډکې سترګې زما په زړه سری اوبه اچولی، خو د هيله او نورماه له سترګو خوشحالي او ځلا خپرېده! په چوکۍ کې می د مور ترخنګ ځای خوښ کړی، څو شېبې وروسته چې دې درې مېرمنو ته په غور کتل، د احمد مور په وقار او دروندوالې سره خبرې پيل کړې. او ويې ويل:

احمد مور- تاسو پوهېږئ، زموږ دلته راتګ يوه ځانګړې لامل لري، زموږ زوی او ستاسو لور يو بل سره پيژني. موږ د نوې زمانې خلک يو، زموږ د فکر طرز مختلف دی.اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زموږ اولادونه یو بل سره راضې شوي او یو بل سره مینه لري، نو زه ستاسو لور حرم د خپل زوی احمد لپاره غواړم.

د هغې په خبره پوهه شوم چې احمد خپل کورنې د دې په ویلو سره راضې کړې و چې موږ دواړه یو بل سره مینه لرو، او حقیقت یی پټ کړې وه.

د مور د مثبت ځواب او د پلار د تائید وروسته، د هغوی ترمنځ هوکړه وشوه، او هماغه شپه، د دود او رواج مطابق، د واده لپاره رسمي توګه د شیریني پتنوس ورکړل شوه.پوهیدم چې د نورماه له برکته، دا موضوع همدا نن شپه د ادیب تر غوږونو رسیږي.او د دې لپاره چې ما ته په غصه وه ، خامخا به د هیله سره د نکاح لپاره رضا شي. هماغه شپه پلار مې د لیدو لپاره راغی.د غمونو ډکه څېره یې درلوده، او سترګې یې له اوښکو ډکې وې. زه یې په غېږ کې ونیولم او، په ژړا سره، یې هرځلې بخښنه غوښتله...

په خپل کوټه کې د کتاب په لوستلو بوخته وم، چې سوسن له یوه پتنوس شیرینۍ سره راننوته، چې هغه مې ولیده، سیده کښېناستم او په خوشحالۍ مې وویل: واه، سوسن جانې! اه څومره عجبه ، راشه دلته کښېنه.
سوسن سرې سترګې را واړولې او په مکارۍ یې وویل:د ناستې نیت نه لرم، حرم جان! یوازې مې غوښتل چې تا ته شیریني راوړم.
په حیرانتیا مې وویل: مهرباني وکړه، خو شیریني د څه لپاره؟'

هغې وویل: د ورور دکوزدی شیرینې می ده.
د هغې خبرې اوریدو سره مې حیران، او د ژبې په بندیدو سره وویل: یعني څڅڅه؟ دخه شې شیریني؟
سوسن وویل: ستا خور او زما ورور په خیر اوخوشالۍ سره کوژدن شول، نو باید شیریني تقسیم کړو، کنه؟په هر صورت خوشحاله شوم چې هغه جینې چې د ورور لایقت مې لري، نصیب یې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نفس مې په ستونې کې بند شو، ژبه مې دخبرو په کولو وترل شوه،حس مې کاوه چې وینه مې په بدن کې وچه شوې ده، د هغې خبرې لکه یو زهرجن خنجر په زړه مې ولگېدلې. له دې چې په بې گناهۍ کې درته د کرکې نه په ډک نظرباندې گورې ، تردې لوی درد نسته!په ارامه غږ مې وویل: پوهیږم چې هره نجلۍ چې دې ورور سره واده وکړي، خوشبخته کېږي.

سوسن وویل: ای کاش هغه خوشبخته ته وې، چې وروړمې دا ټول عذاب نه وای لیدلې.

ومې ویل: تېر وخت تېر شو، ښه به وي که د هغه په یادولو سره د دې شیرینۍ خوند خراب نکړو.

لاس مې وړاندې کړې او یوه ټوټه شیریني مې په خوله کې واچوله.شاید د زهر خوړل زما لپاره د دې شیرینۍ ترخوړلو او هضم کولو څخه آسانه و.زما حالت ډېر یو مړي ته ورته وه چې د جنازې ورکولو مخکې خپل د قبر پر سر حلوا خوري. د خندا وړ ده کنه؟ مړي خو خپل د جنازې حلوا نشي خوړلی، خو ما خوړلې شوه! ځکه زه هم مړه وم،هغه انسان چې روح یې ترې واخیستل شي، آیا بیا ژوندی گڼل کېدای شي؟ د ادیب د مینې د دفن کولو سره ما خپله روح هم په خپل زړه کې دفن کړه!

دوه ورځې وروسته زما د شیرینۍ، نورماه ده پلار سره مې خبرې وکړې.او ویې ویل چې غواړي خپل د خاوند وعده پوره کړي، هیله یې ادیب ته وغوښتل. او د پلار د مثبت ځواب سره، ټولو ته شیرینۍ وویشل شوې.څومره زموږ حالت سره ورته و، دواړه د یو طرفه مینې په تله کې بند پاتې وو. احمد زما د ژوند د ټولو حقیقتونو څخه خبر و، خو بیا هم دومره په مینه یې زما سره چلند کول. چې ځینې وختونه د دې اړیکې له امله شرمېدلم او خجالت اوبه کیدم.یو له هغو ورځو څخه چې موږ دواړه په پوهنتون کې په یوه څوکې باندې ناست وو، هغه زما سترگو ته په دقت سره وکتل او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد- هیڅکله درڅخه تمه نه لرم چې ته زما په اندازه زما سره مینه ولرې. ځکه دا غوښتنه به غیر عادلانه وی خو قول درکوم دومره مینه به درکړم ترڅو ته هم ما وغوارې.زه به ستا په مینه کې تر وروستي دم پورې انتظار کوم. زه پوهیږم چې یوه ورځ به هتمن ته زما سره مینه وکړی.

ورته ومی خندل،خو د ځان سره په یو اختلاف کی شوم.څه یې وویل مینه درلودل؟ زما خندا غمجن رنګ واخیستې.هر کله چې د مینې او محبت کلمه په منځ کې راځي، د ادیب څهره او هر یو هغه شېبې چې موږ سره تېرې کړې وې، لکه د فلم یوه برخه زما له سترګو څخه تېرېږي.د احمد د کورنۍ غوښتنه وه چې یو لوی محفل جوړ شي، خو ما ویل یوازی د دوه کورنیو ترمنځ دی دا محفل اوسیږی،یواځینی کس چی زموږ لخوا دعوت شوی وه مینه وه.

ګواکی د ټولو له نظر نه دا یو محفل وه مګر زما له نظر څخه د جنازی مراسم وو! ساده کالی می واغوستل د مینی په ټینګار می لږ سینګار وکړ مینی په هغه حال کی چی زما ویښته چوټی کول په نه زړه یی وویل: حرم یوه موضوع ده چی څو ورځی کیږی زه یی په اندیښنی کړی یم وعده راکړه چی په اوریدو یی نه خپه کیږی؟
سر می پورته کړ څهره یی په هیندارې کی ښکاریده ترخه مسکا می ورته وکړه او ومی ویل: له هر چا نه هم که خپه شم ناشونی ده له تا خپه شم پوهیږی ته زما په دی بی کسه نړۍ کی یواځینی پشتوانه یی.
مینه: حرم د ګوتمی موضوع څنګه کیږی؟

د هغه په اوریدو سترګی می په هغه حلقه چی په لاس کی می وه ولړیدی د هماغه ورځی په فکر کی شوم چی ادیب دا راته په شوق او مینی په لاس کړه او هماغه ورځ یی زما کلیزه ونوموله.زما د چوپتیا په لیدو میني خاموشی غوره کړه ښه کار یی وکړ ځکه هغه پوهیده چی دا ګوتمی زما لپاره د ژوند مثله ده.د مینی د تصور پر خلاف می ګوتمی له ګوتی نه بهر کړه.په هغه حال کی چی په راوتلو سترګو یی زما په لور کتل ومی ویل: کله چی خپل ژوند نه مو یوه توره او ژوره کنده جوړه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نباید د دی تمه ولرو چی ګواکی په تل کی یی مینه او خوشحالی په نښا وی . دا ګوتمی د همدی مینی او خوشحالی په رقم زما په ګوته کی وه.

د هغی ګوتمی په پېتولو سره زه او مینه دواړه د صالون پخوا روان شولو د احمد ټوله کورنی په دې خوشحالی کی شتون درلود یو نظر می د احمد په لور واچوه الحق چی دی هلک د زومانو پشان نور ویستی وه.هر څو د ادیب سره د مقایسه وړ نه وه لا احمد تر ادیب ښکلی وه مګر زما زړه د ادیب په ډیمپل او بی باکه جادوګرو سترګو کی بند پاتی وه،هغه شپه محفل د نورو په ګډا او خوشحالی او زما په نه زړه توب ختم شو. په سټریا خپل د خونی په لور روانه شوم وروسته له جامو بدلولو نه می ټیلفون راواخیست او سام ته می پیغام پریښوده.شیبه نه وه تیره چی پیغام یی ولید او بیرته یی ماته پیغام راواستاوه د ادیب انځور یی رالیږلی وه.

په داسی حالت چی له څهرې یی غم له ورایه ښکارېده او په مخ کی یی د سګرټو د پلتو ډک قاب ایښي وه راولېږه د هغه په لیدلو می زړه ډک شو .
هغه ورځی چی له یو بل سره وو سګرټ څکول یی پریښودلی وه نو اوس ولی؟
په دواړو ګوتو می د موبایل سکرین غټ کړ اوس یی څهره واضح ښکاریده څومره مراوي شوی وه زما لیونی جانان.بی اختیاره می اوښکی راوپاریدلی.
په ګیلو می وویل: کاش چی اوس می ترخنګ وی تر څو هغه د قهر ډکه څهره می درته په ښکلولو ارامه کړی وای.کاش اوس می ترخنګ وای د سترګو په وړاندی می! نږدی دومره نږدی چی زما د ساه ایستلو هوا او د ویښتو نرمه خوشبو ستا دا قهر ارامه کړی وای......

کاش کیدلی زما غیږ ته دی پناه راوړی وای لکه یو ضدی ماشوم دی ځان راټول کړی وای زما په غیږ کی ........
تل یی ویل « هېڅ ځای د سړی خپل کور نه کیږی»
ستا کور دلته دی!!
زما غیږ!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهیږم ته د خپل له کور نه لرې نشې ارامه کیدلی،ستا مینه لکه یو خنجر تل به زما په زړه کی پاتی شی، که څه هم زما د تقدیر کرښو زما قسمت بل ډول ولیکو. کاش کیدلی دا د تقدیر خطونه می له منځه وړې واى.
په ګیلو می له خدایه وپوښتل: یعقوب چې ستا پیغمبر وو د محبوب څخه د جلا والې صبر نه درلود او ړوند شو، نو څه تمه زما څخه لرې؟ چې ایا زه به صابره اوسیږم د دی ازموینې په وړاندی؟؟

بیا مې د ادیب انځور ته وکتل او په ژړا مې وویل د دواړو جهانونو لعنت دی پر ما وی که ستا مینه په ټول جهان ورکړم،اوښکی می لکه سیل په ټول مخ روانی وی.... د هغی ورځی په صبا احمد زما پسی راغی تر څو پوهنتون ته می بوځی.د لار په منځ کی تل د محفل په اړه خبری کولی مګر زه دومره په خپل ځان کی غرقه وم چی د یوی کلمی ویلو حوصله او طاقت هم نه وه راپاتې.یواځی د سر په ښورولو می ورته خبری تأیید کولی آن له ځان سره می ویلی شکر د خدای چی د سر په ښورولو د خبری تأیید کیدلی شی دا ورځی می زړه په تنګ وه او حوصله می نه وه حالت می له پخوا نه بدتر وه.

ټول وخت می په ناندری او چیغو وهلو تېرېده خپله می له خپل ځان نه سترې وم. زړه می له خلکو او نړۍ نه نیولی وه.آن نن چی د هغه ورځو په یاد کی غورځم ژوره ساه اخلم د هغو ورځو څخه تېرېدل راته د صراط د پل نه د تیریدو په پرتله وه د ژوند په کمزوری خط وم په لړ ښورېدلو می ځان دوزخ کې لیده په هغه حال کی چی زما د وجود اور د دوزخ نه کم نه وه.پلار می د ډاکټر په مشوره باید د زړه د جراحی په موخه هند ته تللی وای په دې سفر کی ورسره مورمی مسیح او ابراهیم مل ول که هرخومره ما ډیر غوښتل چی لاړه شم ځکه نه می شو کولای لاس تر زنې د دوی خبر په تمه کینم مګر د پلار په غوښتنه می دلته پاتی شوم.

دوه ورځی د هغوی له تللو نه تیریدلی .......

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډیری اندیښنې د لاسه لیونتوب ته نږدې وم تل منفی فکرونه می ذهن ته راتلل دا حال یواځی په ما نه وه ټول می د پلار روغتیا ته اندیښمن ول یواځینی کس چی ددی اندیښنو نه خلاص او په خپله دنیا کی په مستی وه هغه هیله وه........
ځینی وخت په فکر کی تللم چی پلار می ددی په حق کی کومه داسی ګناه کړی چی دا داسی له کېنی نه ډکه ده؟ د هیلی دا حالت زه لا غوسه کولم که د نارون خبری نه وی نو اوس به زه د دې نجلی په وینه د قصاص په حکم کی وم.وروسته له یوی اونی د پلار عملیات می په بریالیتوب سره پای ته ورسیده او د الله په فضل یی حالت ښه وه.

هیله له نورماه سره بازار ته تللی وه؛ نږدی مازدیګر وه زړه می ډېر تنګ وه او هېڅ شی می حالت نشو ښه کولای یو عجیبه احساس د شاوخوا له یوازیتوب نه خبرولم او فکر می کوه چی دا احساس او یوازیتوب به نور تلپاتې وی!!یو عجیبه حس می په زړه کی وه په زینو کی پورته لاړم په فکرونو کی وم چی کله می پام شو نو د بام په سر وم،نرم باد می ویښتانو سره لوبې کولی یو اشنا بوی می تر پوزې رسیده چې د شا لخوا غږ زه په ځای ودرولم.

یوه شیبه می فکر وکه چی خیال می دی، مګر نه په رښتیا خپله وه!!
یوه ژوره کتنه می مخ او حالت ته ورته وکړه.ویښتیان یی ګډوډ او څهره یې ستړی وه د سترګو رګونه یی سره شوی ول؛ مګر تر اوسه یی هم یو امید په سترګو کی بریښېده.د زړه درزا می ډیره شوه لاسونه می موټی کړل او پر خپل ځان حاکمه شوم او د شونډو لاندې می کرا ځان سره وویل:حرم نه ، نباید وباېلی تا دی پلار سره وعده کړی نو د پلار عزت دی اړین او حیاتی دی.

مخ ته می ودریده او د زاریو ډک الفاظ یی له خولی بیرون ووتل.
ادیب: مخکی له دی چې عقل می له لاسه ورکړم بیرته راشه، یواځې راشه.
زړه می د هغه زاریو ته ټوټه ټوټه کېده مګر بله لاره می نه درلوده هغه ماته زاری کولی مګر زه څومره بیرحمه کیدلای شم؟هغه پر ما حق درلود د هغو خوږو شیبو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره چې له یو بل سره مو درلودلی حق یی لره او ما نشو کولای له هغی سترګی پټی کړم. کله چې هغه زما له چوپتیا سره مخ شو نو دوام یی ورکړ او ویې ویل:

ادیب- نپوهیږم دا زړه خنګه پوه کړم چې نور درسره مینه ونلری؟ خپل شونډو ته می څه وروښایم چې نور تا نشي ښکل کولې؟

د هغه خبری د خنجر پشان نه د مرمی پشان نه،بلکې د دار د رسی په څېر زما نفس بندوه د هرې خبری په اوریدو یی ما داسی حس کوه چې رسی می په ستونی راکش کوې تر دی چې ستونی می راډک شو، خپله د چله ګوتمی می پورته کړه و ومی ویل: له دی خوبونو څخه دی نور ویښ شه وګوره زه کوژده شوی یم هغه هم له هغه کس سره چې زه ورسره مینه لرم.

سر یی راپورته که په اوښکو ډکو سترګو یی پام زما ګوتمی ته شو او په تت غږ یی وویل: باور درباندی نکوم ته حرم نه یی مور می رښتیا ویل ته زموږ د کورنی له شرف سره لوبې کوی.
حرم- وګوره ما کوژده وکړه مګر ته دومره سړی هم نشوی چې همدا یوه ساده ګوتمی دی خپلی کوژدنی ته اخیستی وای او بیا خبره د شرف کوی؟
ټوله غوسه یی په هغه غږ چې له حنجری نه یی راوته راټول شو او په لوړ غږ یې وویل: داسی کار مکوه چې کرکه درنه وکړم مینه دی په کافی اندازه دردونکې ده.
حرم- نغوارم عذاب وګوری ښه دا ده چې د ژوند په رښتیا دی باور وکړی. ځکه ته می هیر کړی یی.......

ادیب- زما زړه د صداقت صندوق ندی چې ته پکی د مینی یوه سکه واچوی او بیا دی الله ته مغروره ووسی چې یو بی وزله دی خوشحاله کړی نو دا مهربانی او مینه دی خپل خاوند ته وساته، ډیرژر به زموږ د واده شاهده ووسی.
سلګی یی ستونی کی غوټه شوی وه او نه یی پریښوده چې پرته له هغه چغو چې ستونی کی یی خفک شوی وی څه راووځي.په لوړو ګامونو له زینو ښکته شو.زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتی شوم او یوه نرۍ ډکه له غم نه.څنګه تا هېر کړم!!! آن که وغواړم هم سترګی می نه قبلوي. مګر هیڅکله نپوهیږی چی په نشتون کی دی ما څه تیرل کړل!!!!!

پښو می سستی وکړه او په ځمکه ولویدم.بی واکه می غږ لوړ شو سر می د آسمان په لور ونیو او په ګیلو می چغی ووهلی.

ـ خدایه مګر بس نده، همدومره درد بس نده.

آیا زما غږ اوری؟؟؟؟ زاری درته کوم لاس مې ونیسه، مه پریږده چی د ژوند په دی ناورین کی بی لاری شم په چغو می ژړل، حمیده خاله په منډه راغله زر زر یی ساه اخیسته او په بنده ژبه یی وویل: حرم لوری حالت دی ښه دی؟ غږ دی تر ښکته راځی کوم څه شوي؟

لکه یو ماشوم ځان می د هغی په غیږ کی راټول کړ.ځینی وخت دې زړه غوټه کیږی له یو بل زړه سره داسی چې هیڅوک هغه غوټه نشی خلاصولی......

ځینی وخت دومره مست کیږی انسان د یو کس د غږ په اورېدو چې غواړی غږ یی ښکل کړې.....

ځینی وخت داسی یو نوم اخلی چې ګمان کوی چی مینه ناکه موسیقي ده .......

ځېنې وخت دومره بی واکه کیږی چی د اوښکو پر ځای سیل تویوی.

ځېنې وخت دومره دی زړه تنګیږی چې د جنون په دیوال دی سر وهی مګر هر عذاب یی تاته خوږ وی!!!!!!

حیرانوونکې ده کنه؟؟

خوږ عذاب!!!

ستا له خوا هر څه راته خواږه دی آن عذاب.....

دغه رنګ ده د مینی او زړه بایللو قصه او د ټولو غمونو او یواځېتوب پیل!!!!!!

حمیده ترور هڅه کوله ما له ځمکې پورته کړی په ژړا می ځان تر خونی راورسوه او سر می په بالښت کیښوده نپوهیږم کله خوب وړی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دومره وخت کی احمد تل زما پسې راته چی پوهنتون ته لاړ شو.نن هم راپسی راغلی وه ټاکل شوی وه له لارې نه مینه هم له ځان سره راوخلو دومره می په غمونو کی غرقه وم چی آن مېنه چی راته خورتوب یی کړې وه هم هېره کړې وه. مینه خپل د ترور زوی سره یی کوژده کړې وه د ترور زوی یی بهر له هیواد نه وه ددی لپاره چی د هغه ځای استوګنځیتوب لاس ته راوړې بل واده یی کړې وه چی د مینی او د هغی د اړیکی د بربادي لامل ګرځېدلی وه، وروسته له نیم ساعت نه مو مینه هم له ځان سره راواخیستله مګر هیڅ هغه رقم چی ما ګمان کوه نه وه.

د مینی څهره د هره ورځی په رقم ځلېدله او سترګو او شونډو یی مسکا کوله. بیخی له سر خفه نه وه چې کوژدن یې خارج کې د بل جنۍ سره د قبولي لپاره واده کړې! ځېنې وخت حیرانه کیدلم چی دا نو څنګه نجلی ده؟آیا زړه لری ؟ کوم حس یی په تن کی شته؟په رښتیا چی زړه یی درلوده د هغه زړونو نه چې د فولاد نه دی.تل سره له دردونو یی مسکا کوله.پوهنتون ته ننوتلو له احمد نه جلا شوو او له مینی سره یو ارامه ځای ته لاړو او دواړه په یو کونج کی کیناستلو . پوهېدم مینه د ښه اوسیدو تمثیل کوی لکه هغه ونه چی له دننه نه چینجیو خوړلې وی مګر له بهر نه لا پرځای ولاړه وی .

د مینه احساس او مینه می د هغی د کوژدن لپاره لیدلی وه.خپله بنده کړې ساه یی خوشی کړه او د لاس کتاب یی پرانیسته.ژور نظر یی د کتاب پر پاڼی واچوه او ویې ویل: څومره زما او ستا حال ددی کیسی په شان دی .
زما نظر د هغو الوتونکو په لور وه چې د خپلی ځالې په لټه کی ولی کرا می وویل:
ووایه تر څو زموږ په حال ټول پوه شی آن دا الوتونکی......
میني کرا کیسه ویل پیل کړل:

یوه ورځ څلور پتنګان له اور سره لېدنه وکړه غوښتل یی پوه شی اور څه دی؟
لومړی پتنګ اور ته نږدی شو او پوه شو چی اور ډېره زیاته رڼا لری خپلو ملګرو څنګ ته راستون شو او ویی ویل: اور هغه څه ده چی روښنايي ورکوی،دویم پتنګ دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومات کم وبلل او وغوښتل یی چې ډیر پوه شی، لږ نور اور ته نږدی شو او د ګرمی احساس یی وکړ.
راستون شو او ویی ویل: اور داسی یو څه هم ده چی کولای شی تاسو ګرم کړی ملګرو.
دریم پتنګ وغوښتل ډیر پوه شی نو لږ نور هم اور ته نږدی شو او احساس یی وکړ چی وزرې یی سوځی
راستون شو او ویی ویل: اور کولای شی وسوځوی هم.

وروستی پتنګ وغوښتل ډیر پوه شی نو له دی کبله اور ته ډیر ورنږدې شو لومړی یی رڼا ولیده، وروسته یی ګرمی حس کړه ، وروسته یی د سوځیدلو احساس وکړ او وروسته لږ نږدې شوه او وسوځیده. په رښتیا کی د اور څرنګوالی وروستی پتنګ درک کړی وه مګر ونشو یی کولای چی راستون شی او ووایی چی د اور څرنګوالی او حقیقت هغه کس درک کولای شی چی ترمنځ یی وی. لکه مینه!
له همدی کبله هغه کسانو چی ریښتینی مینه درک کړی وی نشی کولای بیان یی کړی.:" د هیڅ ــ لیدنه ــــ ناڅاپی ــــ نه ــــ ده. کتاب څخه"

لاس مې پر خولې کیښوده او مرغلرې اوښکی می په انګو راڅاځیدلی ومی ویل: پوهیږی ژمنه یی وکړه چی نکاح به ترې او واده به کوی هغه داسی کس دی چې هرومرو په خپلی ژمنې تا اخیر حد دریږي هغه واده کوی،زما حال لکه پتنګ دی لومړی می د هغه په مینه کی لاس او وزرې ووهلې روښنایي می ولیده په مینه کی می ورته د مینی ګرمی احساس کړه نږدی شوم زما وزرې یی وسوځولی او بیا یې زه په فنا لارم،کاش ژوند ته راستون کېدلی شوای کاش کیدلی ماتی وزرې می بیا راجوړې کړی او ښکلی یی کړی ترڅو بیا همغه ښکلی مرغه شم او ستا زړه ته پرواز وکړم.

کاش کیدلی چی د ژوند شپی می صبا کړی او د دی تیارو او غم ژغورونکی شی.
بغیر له تانه می د ژوند آسمان تیاره او بی سپوږمی او ستورو دی زه غېر له تا هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یم. کاش چی دی ژوند راته له تاسره د اوسېدلو اجازه راکړې وای. کاش زموږ د ګډ ژوند زیری یی راکړی وای مګر نشته چی نشته.......

د ژړا غږ می پورته شو کتاب یی بند که بلکل لکه زما او د ادیب د مینی او عذاب د صفحی بند کیدو.لاسونه می د ځان نه راچاپېره شول هغه لاسونه چی خپله یی درد درلوده مګر زما درمان شوی ول مینی زه ټینګه په غیږ کی ونیولم او په ژړغونې غږ یی وویل: قربان دی شم وژاړه د زړه درد دی خالی کړه مه پریږده چی زړه کي دی ناسور زخم شی وژاړه.

سر می د هغی له غیږ نه جلا کړ او ومی ویل:ته لکه چی تیږه یی هووووم؟ وګوره مینه دی نشته بیغیرته شو له بلی نجلی سره یی واده وکه ته نو له کومی خاوری جوړه شوی یی چي درد او غم دی پټوي ؟؟ ته هم وژاړه مه پریږده ناسور زخم درته جوړ شی.

یواځی په هغه سترګو چی د غمه ځپی تری څڅیدلی راته یی کتل بیاځلی می ځان د هغی غیږ کی راټول کړ ساه می د ډیری ژړا له امله پورته نه راتله احساس می کوه د زندی کیدو حال کی یم.

— خدایه که زما قسمت نه وه نو ولی دی دا مینه زما نصیب کی کړی وه؟
مینه- خدای مینه درته نصیب کړه مګر تا په خپلو لاسونو بل چاته مخکی کړه.
سر می راپورته کړ ژړلی یی ول سترګی یی سری شوی وی زما مخ یی په لاسونه کی ونیوه په او تونده لهجه یی وویل: بس کړه نور حررم وګوره په ځیر وګوره او خپل زړه ته یی اشاره وکړه زما زړه هم درد لری وینی تویوی زما حالت هم له تا نه بدتره دی مګر ددې غم څه ګټه؟باید په حال راشی تا دا مینه قربانی کړه د خور د ژوند او د پلار د عزت په خاطر دی.نور دی باید لکه پخوا خپل ژوند ته دوام ورکړی په حال راشه.

په دوه ګوتو یی زما تندی وواهه او ویی ویل: زموږ تقدیر پر دغه څلور خطونو کی نغښتی دی هرومرو به قسمت زموږ نه وه.نو ځکه باید هر څه د قسمت په پښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاص کړو.په هر حال غوارم نن چکر ته لاړ شو.اصلا ستا د بحث او نخرو حوصله نشته زر شه نو پورته شه او احمد سره اړیکه ونیسه چي راشی.

د خپلو اوښکو په پاکولو سره می یوه مسکا وکړه او له ځایه پورته شوم .
مخ یی نورانی شو سترگی یی بریښیدلی سترگک یی وواهه او په خوشحالی یی وویل: نن د اوښی د جیب د تشولو ورځ ده.
په کنایی ډول می وویل: خدای دی نن زموږ عاقبت پخیر کړی.
په کړس یی وخندل او ویی ویل : اندیښنه مکوه ستا واده ته پیسی پاتی کیږی.

مینی اصلا بدلون نه کوه زده کړی یی وه چی تل د خپلو دردونو پر وړاندی وخاندی خپل د وجود ماشوم یی ازاد پریښودلی وو.تر څو په اسانی وخاندی ونخیږی او خوشحالی وکړی.دا هغه ځانگړنې وی چی هغه یی له نورو څخه جلا کوله او زه د همدی ځانگړونو لپاره یی د هغی د تاثیر لاندی وم او نږدی کس وه راته د هغی په خبره چی ژوند ډیر لنډ دی نو ولی دومره غوسه او اندیښنه.په مینی ژوند وکړه او له مینی سره مړه شه.همدا رنگه یی زه تل دی ته اړ کوم چی په وجد ( جوش ، خوشحالی) راشم چی الله د داسي یو ملگری پېرزوینه راباندی کړی.چی کولای شم ژوند مي تری قربان کړم!!!!!

ورځی یو بل پسی تیریدلی. د پلار راستنېدل می نږدی شوې وو ځان می تر ډیر د پلار د خونی پر بدلولو بوخت کړی وه غوښتل می هر څه نوی ووسی زما ژوند کی رنگ نه وه مگر غوښتل می د پلار ژوند می له رنگونو ډک کړم،پلار می راغی د میلمنو او لوړ پوړو چارواکو تگ راتگ زموږ کور ته ډیر وه مگر له ادیب نه هیڅ خبر نه وه.یوه ورځ چی ټول سره راټول شوی وونورماه له پلار سره می د ادیب او هیله د نکاح په اړه خبری پیل کړی د نورماه د تللو سره سم می پلار مور ته مخ واړوه او په نیولی غږ یی وویل: هرڅه ته اړتیا وی ترسره یې کړه یواځی بسنه کوی دا نجلی می له کوره ورکه شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پلارمی او د هیلی اړیکه له ناورین سره مخ وه چی دا ناورین د هیلی کرکه زما لپاره نوره هم زیاته کړی وه آن همغه شپه د پلار د تګ نه ورسته هیلی مخ زما خواته کړ او په یو وار یی راباندی لعنت ویل،د مور په خوښه می د نکاح کارونه پیل شول. ټول د محفل د برابرولو په شیانو بوخت ول له ټولو ډیر نورماه او هیله چی له څهره نه یی خوښي څرګنده وه.مګر په دی ورځو کی د سوسن رویه بیخی بدله شوی وه تل یی زما په لیدو اوښکی تویولی مګر خبری یی نکولی.ورځی یو په بل پسی تیریدلی مګر زما لپاره وخت هماغه ځای کی ولاړ وه کوم ځای کی چی زه له ادیب نه جلا شوی وم!!!!!

د نکاح ورځ راورسیده،محفل په یو غټ او مجلله هوټل کی ونیول شو.یوازیني لاره چی می کولی شو د کرکې تخم خپل د لالي په زړه کی وکَرم او لا یې زړه لځان څخه د تل لپاره تور کړم همدا محفل وو. هیله و سوسن د نور ماه سره یوځای ارایشګاه ته تللی وه.زه د احمد سره بل صالون ته ولاړم. د دی صالون مالکه د مینی نږدی ملګری وه نو کله چی ولاړم ، مینه تر ما مخکي هلته ولاړه وه. هغه ښځه چی د دی صالون مالکه وه او قرار وو چی ما سینګار کړی ، ښه ښایسته او خوش اخلاقه ښځه وه. زما په لیدو سره یی نری مسکا وکړل او وی ویل: د سپوږمی په شان ښایستوب لری خو داسی راته معلومیږی چی زړه دی لکه لمر دی او همدا ستا په ښایستوب یی د غم سیوری اچولي!

په حیرانتیا می ورته وکتل. احساس می وکړ چی مینه ټول څه ویلی دی خو هغې خپل د لاس په ښورولو او اوږو پورته اچولو باندی ښکاره کړل چی بیګناهه ده او زما خوله یی د هر ډول اعتراض د پاره وتړل.
ارایشګری بیا په مسکا وویل: د دردمنو خلکو څخه هیڅکله خپل درد نشی پټولی او بیا د سترګی وهلو سره یی دوام ورکړ: دا درد چی ستا په زړه کې دي یوازی هغه خلک یی ستا د څهری څخه لیدلی شی چې په خپله یی دا حال تیر شوي وی ، ما هم دا حال تیر کړي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شونډو می مسکا وه خو د زړه څخه می وینې څڅیدل،څوکی ته یی اشاره وکړل زه هم کښیناستلم.د هینداریٖ څخه یی راته وکتل او په ډاډمنه لحجه یی وویل: تا هغه پریښود که هغه ته یی پریښودی؟

د اوښکو ډکی سترګو سره می وویل: ما هغه پریښودي.......

په کراره یی وخندل او وی ویل: د نن شپی د محفل سپوږمی ته یی ، زه دی خپل په زړه سینګاروم

همداسی چی زه یی سینګارولم ، خپل د زړه حال یی هم راته ویل: ستا په لیدو خپل شپاړلس کاله مخته می په یاد شو ، واده ته یی ولاړم ، ورقصیدم خو د زړه څخه می یو خدای خبر وو

په لټوونکی لحجه می وویل: د دومره مینی سره یی پریښودې؟

په ژور نظر یی راته وکتل او یو سوړ ساه یی وباسل او وی ویل: مګر تا د ډیر مینی سره هغه پرینښود؟

سر می ښکته واچول او د سترګو اوښکی می په مخ باندی په بهیدو شول رازیاته یی کړه: وبخښه، نه می غوښتل چی خفه دی کړم.

د یو ساعت د تیریدو وروسته می د مینی غږ واوریدل: ماشاءالله خدای دی د بدو سترګو وساته ، ته دا ښایستوب ته وګوره ، سخت می زړه په بیچاره زوم باندی سوځی څوک داسی مهربانه او ښایسته میرمن نغواړی؟ ته چیری او هغه بدبخته هیله چیری؟

حرم_ اووو مینی څومره خبری کوی!

مینه- ته یو وار ولاړه شه ځان په هینداریٖ کی وګوره بیا راشه ماته ووایه .

سر می پورته کړ او په هینداریٖ کی می ځان ولیدل. ډیر ساده او سنګینه سینګار یی راته کړی وو. ویښتیان می پر مخ خواره وه. تور رنګه کالی د نازک دوخت سره می اغوستی وه خو دا زما مات زړه په هیڅ شي نه خوشاله کیدي.یوه ترخه مسکا می په شونډو وه. د ارایشګريٖ سره مي خدای په امانی وکړه او د مینی سره یوځای او اوږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوږه د صالون څخه ووتلو. په موټر کی د احمد سره د هوټل په لور روانه وم ، احمد هیڅ نه ویل او موټر کی مطلقه چوپتیا واکمنه وه.

پوهیدلم چی د احمد د چوپتیا لامل څه دي ، دي هم مئین وو نو څوک تر ده بهتره د یو مئین په حال پوهیدي؟د مینی سره یوځای محفل ته ولاړو. محفل ښه په شان و شوکت وو هم هغسی چی ما او ادیب خپل د محفل د پاره پلان جوړ کړې وو. صالون د رنګارنګ ګلانو سره ، په هر میز شمع او یو دسته سره ګلان ایښودل شوی وه ، ډیر زړه وړونکې فضا وه.پوهه شوم چی دا ټول زما سره د ضد د پاره دې ، د ناوی د خور په حیث د ټولو سترګی په ما کی وه ما هم د مینی لاس ونیوي او په یو میز چی د ناوی او زوم ځای ته نږدی وو ، کښیناستلم. مینی ټینګار درلود چی یوځه لری او په یو کنج کی کښینو خو ما ونه منل دا وار یی ماته ډیر زور راکړې وو.

منلی می وه چی دا ټول زما د لاسه وه خو دا چی نن شپه دا ټوله خوشالی او نېکمرغي چی تل موږ یو بل ته د یو بل تر څنګ غوښتل نن شپه د بل چا سره وه ، دا راته د زغملو نه وه. څوکی می یو څه شاته کړه او کښیناستلم. د صالون څراغونه خاموشه شول او په دی حال کی د سره ګلانو او شمعونو ښایستوب زر برابره شو. د سندری آواز په ټول صالون کی پیچلي وو.

ـ په بسم الله قدم راواخله ښایسته ناوکی.
شاته می وکتل. هیله د افغانی کالو سره په داسی حال کی چی ګوتې یی زما د جانان د نارینه ګوتو مینځ کی وه د سندرې په ساز او د آرام قدمونو سره صالون ته ننوتل. آه چي لالي مي څومره ښایسته شوي وو. افغانی کمیس پرتوګ د لنګوټی سره ، په جګه غاړه او ډاډمن قدمونو سره صالون کی قدمونه اخیستل. د ده د لیدو سره می یوه خاطره په یاد شوه: (ما او ادیب تل به په جنجال وو ځکه د ده نه خوښیدل چی لنګوته وتړی خو ما غوښتل چی زموږ په کوژده کی دي لنګوټه ولري او ده به تل راته په شیطنت ویل که زما خبری ونه منی بیا هیڅ لنګوټه نه ترم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسی حال کی چی خپل ټوله هڅه می کول تر څو اوښکی توی نه کړم ، د ژړا په ډک ستونی سره می وویل: وګوره د ده هیڅ نه خوښیدل چی داسی کالي واغوندي خو نن شپه یی اغوستی.
مینی زما لاس د خواخوږی د پاره کلک ونیول او وی ویل: پوهیږم چی زغمل یی ډیر سخت دی خو بله لاره نلري.

دوی دواړه زما تر څنګ تیر شوه او ګروپونه بیرته روښانه شوه. اوس می د ادیب څهره په روښنایی کی لیدل. یوازی مو د یو بل سترګو ته کتل او د دی کتلو تر مینځ په زرګونه ګیلی او خبری پورته شکته شوی.دواړه د یو بل سترګو ته په کتو وو. په داسی حال کی چی مو هیڅ ونه ویل ، خو ډیری خبری مو ترمینځ تیری شوی.  په هر نظر کی یی زرګونه پوښتنی ښخ وی چی زه یی د ځوابه عاجزه وم.د هغه د هر نظر سره می داسی احساسول لکه یو زهرناکه چاړه چی څوک زما په زړه کی وهی. د ځایه ولاړه شوم او د رقص میدان ته ولاړم.

تر ټولو ډیر تره حمیده خاله او مینه په حیرانتیا راته کتل نو دوی څه خبر وه چی نن شپه زه بی د شراب د څښلو نشه وم؟هیڅ څوک نه پوهیدل چی پر ما څه تیریدل ، هیڅ څوک زما د کیسی څخه نه وه خبر.که نن شپه د ټول دنیا شیان د ترازو په یو پله کی او زما اوښکی په بل پله کی پریږدی په مولا قسم چی زما د اوښکو پله به درنه وی.  مینه هغه لفظ وو چې د مولانا زړه یی لا د ډیر درده سوری کړی وو نو زه څه یم چی دی درد ته تاب راوړم؟

وناځیدم ....... خپل د یار د غمه.ستا د مینی څخه داسی په شوق نڅا کوم لکه مولوی چی د شمس په لیدو وکړهنڅا کوم ستا د غمه ، داسی نڅا چی مولوی یی د شمس د بېلتون څخه په غم اخته کړ،نڅا کوم ستا د مینی ، د داسی سکرو په شان چی رودابه د عامر د غمه وسوځیده،دا مینه ستا د پاره خلاصه شوه خو ماته تازه پیل شوه د شمس په شان چی خپل په راتلو یی مولوی د مینی په زنځیرونو وتړل په دی مینی کی ته برلاسه شوی او زه هغه بی چاره سرباز وم چی هیڅ می د لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کیدل،ستا مینه زه یی د مینی په ریښتنی معنی پوهه کړم او خپل په تلو دی زما خوشالیو ته د پای ټکی پریښود ، لکه هغه د غم چوپتیا چی مولوی د شمس د تلو وروسته نیولي وو

ټولو فکر کول چی د دوی کیسه پای ته ورسیدل حتي د شمس یقین. آه زما شمسه آه زما د زړه مالکه، آه زما فرهاده،مګر دوی نه پوهیږی چی ته زما په شعرونو کی ژوندي یی؟ هم هغسی چی شهریار خپل لالې تل پاتی کړه ، زه هم تا ځان ته تل پاتی کوم ښایی د نورو د نظره د سندری ساز زه په نڅا راوړی وم خو زه وایم د ژوند ساز زه یی نڅا ته مجبوره کړم،سندره خلاصه شوه ټولو چک چکی کول چی سترګی می په ادیب ولګیدل. په غوسه یی راته کتل د ډیر غوسی څخه یی د مغزی رګونه شنه شوی وه ، مری یی یو شیبه هم آرامه نه وه. پوهه شوم چی د ده زړه بدتر زما د زړه څخه اور اخیستي.

ده فکر کول چي ما خپل په نڅا په ده د ملنډې وهلو هدف درلود. نور یی د نظر د زغملو توان نه وو په تلوار د صالون څخه ووتلم.څه پوهیږي چی زما په باور کی زه ،ستا یوه برخه یم، زه وخت او نه هم مرګ هیڅ یو زما ترې توب ستا د وجود او خیال څخه نشی لری کولی،ستا هر درد ماته خوږ عذاب دي او زه یی د زړه له کومی منم.وایی هر درد د یو بل درد درمل دي ، ستا د کرکې درد هم ستا د زړه د بی قراری درمل دي.هغه شپه می د ځان څخه کرکه کیدل ، د ټولو څخه می کرکه کیدل حتي ساعت او ځای راباندی بد لګیدل.

حالت می ډیر خراب وو ، دومره خراب چی پلار می مجبوره شو تر څو د احمد سره اړیکه ونیسی. د ابراهیم ، حمیده خاله او احمد سره بیرته کورته راغلو هیڅ می حالت سم نه وو.ژر د موټر څخه کښته شوم او په سرای ننوتلم. په تلوار می ځان خپل کوټې ته ورسول او دروازه می کلکه وتړل. د حمیدی خاله غږ راتي چی د دروازی د ټکولو سره د دروازی د خلاصیدو غوښتونکی وه.خپل ویښتان می په موټ کی ونیول او د کوټې کنج کی، په داسی حال کی چی د ډیر غوسی څخه خپل ګوتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

می په ویښتانو کی تیرول ، د غمجن سترګو سره چی د ژوند غمونو سیوری پر اچولی وو ، د داسی وجود سره چی د یخ د ټوټو په شان وو او زړه می چی لکه اور سوځیدي ،په تیاره کی کښیناستلم. د زړه څخه می وینی څڅیدل.

دومره می وژړل چی په عصبی حالت کی د کوټی شیان ماتولو ته می اقدام وکړ ، د اتاق پردې می هم همداسی پرینښودی ، هر څه چی می مخته راتلل هغه می کول چی خپل د زړه خفګان پری خالی کړم.څو شیبی وروسته پلار می چی د کوټی کیلی په لاس کی وه ، کوټی ته ننوتي. په غمجن نظر یی راته وکتل او ما د ژړا ډکو سترګو باندی د هغه خفګان او د ژړا ډک ستونی می ولید چی د ده د خوشالی وژونکي وو. د غمجن سترګو سره چی د غم د ایرو لاندی وو په لرزانده پښو زما څنګ ته کښیناستي او د ده غږ غمجن ترینه غږ وو چی ما په ټول عمر کی اوریدلي وو. یو څاڅکي اوښکه یی د سترګو توی شوه او په ږیره کی یی ورکه شوه.

په غمجن غږ یی وویل: پوهیږی نن د داسی شان و شوکت سره ډیر خلک ارمان لری چی زما پر ځای واوسئ خو زه خپل د اولادونو د مینی په کیسه کی بند پاته شوم، پوهیږم چی تاته می د پلارتوب حق ادا نکړ خپل د عزت او نوم د پاره می ستا مینه له مینځه یوړه. ډیر لویه ښېګڼه دی زما په حق کی وکړل خپل د بخښنی غوښتنه درڅخه نه کوم ځکه زما کار د بخښلو نه دی یوازی دا غواړم چی نور ځان ته عذاب مه ورکوه ستا هره اوښکه لکه مرمی زما په زړه کی لګیږي

خپل ځان می د هغه په غیږ کی د یو بی پناه ماشوم په شان سره ټوله کړه.
حرم- خدای ما نه بخښی که تاسو زما څخه خواشینی واوسئ ، ستا غیږه ماته د جنت په شان ده ، اوښکه دی لکه سیلاب چی کورونه له مینځه وړي ، ما ورانوي.
پوهیږی د کوچینوالی څخه می تل هڅه کول چی یو پیاوړی کس واوسم خو تاسو ویل چی حرم لوری خپل د زړه درد په ژړا د زړه څخه وباسه او زړه دی هوسا او راحته کړه وګوره اوس می زړه تش شو اوس هوسا شوم نور یی نه تکراروم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یی په ویښتانو ښکل کړم او د کوټې څخه ووتي. پوهه شوم د دی د پاره چی زه یی د ژړا څخه نور هم ناتوانه نشم د کوټی څخه ولاړی.غږ می د ډیر ژړا څخه نیولي وو ، د همغه نیولی غږ سره می د حمیدی خاله څخه د ویده کیدلو دوا غوښتنه وکړه. نن شپه می غوښتل چی بیده شم که نی می لاس حرام عمل (ځان وژنې) ته وهل. حمیده خاله د یو پیاله اوبو او ویده کیدلو دوا چی دی خپله هره شپه استعمالول کوټی ته راغله. همدا چی دوا می واخیستله سر می پورته کي تر څو یو غړپ اوبه وڅښم چی سترګه می په ماتی هینداری چی ټوټې یی د کوټې پر مخ پراته وه ولګیدل.

کله داسی شوی چی د هینداری څخه نظر واړوي او د ځان څخه وتښتي؟
ړوند، کوڼ او ګونګ شي؟خپل روح د نورو د خوشالیو د پاره په زنځیرونو وتړي او جسم دی سرو سرګردانه په یوه تاریکه پاڼه د (ژوند) په نامه بندی کړي؟داسی شوي ده چی د شپی په تیاره مئین وسی څو د شپی د تیرولو د پاره خپل ځان دربندي بار وګرځی؟د زړه وینی خوړلو په مینځ کی د یو آرامتیا ارمان دی په زړه کی پاته شي؟ آه زما سرکښ او لیوني جانانه! نه پوهیږی چی ستا د هېرولو د پاره څومره په ناتوانی او بی وسی د صبا په امید خوب ته پناه وړم........
نه پوهیږم چی پر ما به سبا شی که نه؟

خپل سترګی می د هینداري څخه واړول او اوبه می وڅښل.د حمیدی خاله په مرسته سر می په بالښت پریښود ، د ویده کیدلو دوا اغیزه لږ لږ ښکاره کیدل او په پای کی زه یی د خوب نړی ته یوړم.سهار د لمر ځانګې می په سترګو ولګیدل او زه یی د خوبه ویښه کړم. په سختی می خپل سترګی خلاصی کړی ، سر می د ډیر درده په چاودیدو وو. شاوخوا ته په کتو سره یو دم حیرانه شوم ، لکه چی په کوټې کی بم چاودیدلي وو. څو واره می خپل سترګی خلاصی پټی کړی.سر می ګنګس وو خپل ګوتی می په نالې کلکی کړی او خپل ملا می راسته کړه. نه په رښتیا دا زما کوټه ده؟ د دی ګډوډي په لیدو هک پک پاته وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دقیق توګه می شاوخوا تر نظر تیرول ، خپل حافظه می د څو شیبو د پاره د لاسه ورکړه.کاش دا پیښه د څو شیبو د پاره نه ، د ټول عمر د پاره پاته شوي وي او ما ټول شیان لکه یو خوب هیر کړي وي.د تیر شپی پیښی لکه یو انځوریز نندارتون زما د سترګو وړاندی تیر شو. خو په یوازینی ځای کی چی می مغز جام پاتیدي هغه د ادیب بیګانه توب وو. دي اوس د بل چا خاوند وو.ترخه مسکا می وکړل او هغه ورځ می په یاد شوه چی زه د ده وړاندي بخیله وم،زه د ټول هغه کلمو سره چی د ده د تعریفولو د پاره کارول کیدل ، بخیله وم د هغه پاڼي په وړاندی چی په قلم د ده څهره ایستل کیدل ، بخیله وم، د ده د ښکلي وحشي سترګو په وړاندی ، بخیله وم.

د ده د اوږده باڼوګانو په وړاندی چی لکه درختې په سترګو سیوری اچول ، بخیله وم د هوا په وړاندی چی د ده د وجود شاوخوا کی ګرځی ، بخیله وم،د هغه باد سره چی د ده د ویښتانو مینځ کی داخلیدي ، بخیله وم،د ده د سیوری په وړاندی چی بی له ما هم تل د ده سره ده ، بخیله وم،د ده د یو یو شتمنی سره حتی د ده په وړاندی بخیله وم مګر خدای د ده په خلق کیدو کی څومره زیار ایستلي وو؟زما حتي ستا د یوازیتوب سره لا بخیلی کیږی.بخیله یم د هغه باران په وړاندی چی ته په شوق ورته ګوری
خو نن........

د لمر څخه لا می کرکه کیږی چی خپل د راتلو سره یی زه بیا بخیله کړم.زما په پلار باندی ادیب بی حده ګران وو خو تر غوږ یی وهلی وو چی د نکاح وروسته دلته نشی اوسېدلي.د مخه یی ځان ته کور اخیستي وو.د موبایل د زنګ غږ پورته شو ، چی ومی کتل سام وو. دوه زړه وم چی ځواب ورکم که نه؟ په پای کی می پریکړه وکړه او ځواب می ورکړ د ملاقات د پاره یی ځای وټاکل او بی له دی چی ماتله شی تر څو زه ورته ځواب ورکړم ، اړیکه یی ختمه کړه،مینی ته می زنګ ووهل او وټاکل شوه چی په ګډه ولاړشوابراهیم موږ یی ټاکلی ځای ته ورسولو. سام زموږ مخ ته راغلي وو، هیڅ حالت یی ښه نه معلومیدي ، خفګان او بی کراري یی د لری څخه هم ښکاره وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسې حال کې چې د ډیر استرس د امله یو وار خپل د ګوتو سره او بیا خپل د ویښتانو سره د لوبې په حال کې وو ، پوښتنه مې وکړه: سام کیږې ووایې چې څه شوي؟ ولې دې زه دلته وغوښتلم؟
سام: خپله بهتره پوهیږې چې د څه شي په اړه خبرې کوم؟
حرم: نه ، زه نه پوهیږم مهرباني وکړې راته ووایست.
سام: حرم ولې ځان په ناپوهۍ وهې؟ هممم؟ ولې؟ مګر ته په ادیب مئینه نه وې؟
حرم: زه مناسبه نه بولم چې د دې موضوع په اړه خبرې وکړم ، ادیب اوس زما اوخښي د.

سام زما خبرې د اوریدو ورسته یې په طعنه لرونکې لحجه وویل: اوخښې؟ هممم؟ نو باید یو ځل خپل اوخښي وګورې.
په ځیر مې ورته وکتل او پوښتنه مې وکړه: پوهه نشوم ، واضح ووایه.
سام: وګوره ، ښه وګوره.
خپل موبایل یې راواخیست او یو انځور یې راته ښکاره کړ. په دوه ګوتو مې انځور نږدې کړ او د هغه کس په لیدو حیرانه شوم. یوه شیبه نږې مې په سر وګرځیدله. داسې احساس مې کول چې د یو سپک شي په شان په هوا کې اخوا دیخوا کیږم. ادیب لکه یو بیچاره او ناتوانه سړی په کوچ کې ولیدلي وو.

حرم: د.....دا.......دا د کم وخت انځور دی؟
سام: د پرون شپه ، ادیب د محفل وروسته ټوله شپه یې هوټل کې په سګرټ څکولو تیره کړه ستا د تیروتني د پاره ادیب دا خپلوی ومنل، دا انجلی( هیله) ده اوله هم راباندې ښه ونه لګیدله خو اوس ځینی کرکه لرم ځکه پوهیږم چې څه بد یې کړي که نې.......

د ده خبره مې پرې کړه او ومې ویل: بهتره ده چې خپل د خولې په اندازه خبرې وکړې ، د دې پر ځای چې ما سره خبرې وکړې ولاړ شه خپل ورور ته نصیحت وکړه چې خپل د ښځې څخه ولاړشي مګره نه پوهیږې چې د واده په شپه د زوم تښتیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومره عیب دي؟ هله ژر ، نور خپل وخت ما سره مه ضایع کوه.اوس هر چا ځان ته ژوند ټاکلي او زما ژوند هم یوازی احمد دي او بس.

د مینی لاس می ونیوي او د هغه ځای ځخه ووتلو.نه پوهیدم د دی ځخه چی ادیب تر اوسه په کامله توګه د هیلی نه دی شوي خوشاله وسم که خفه؟ خو زړه می یو څه یخ شو ځکه دا زجر چی زه وینم یو څه یی هیله هم باید ووییني او یو ناوی ته تر دی بدتر چی د واده په شپه یی میړه(خاوند) هغه پریدی او بل ځای ولاړشی ، بل څه هم شته؟خو تر ما مینه بالاتره خوشاله وه ، هر وار د (آه شکر خدایه چی دا ورځ می هم ولیدل) په ویلو یو مسکا می په خوله راتله. ښایی هغه شیبه زه تر ټولو بی رحمه انسان وم خو ما هم حق درلود مګر زه د اوسپنی ځخه جوړه شوی وم چی ټول دردونه وزغمم؟

زړه می د ادیب د حالت په لیدو اور واخیست تر وروستي ساه پوری ځان نشم بخښلی.کورته چی ولاړو خپل کوټی ته ننوتلم او تر شپی می ځان بندی کړه. لکه چی افسردګی نیولی وم زړه می هیڅ شي نه غوښتل او د یو شیبی د پاره هم د ادیب څهره می د سترګو وړاندی ځخه نه لری کیدل.آسمان تیارو نیولي وو. خپل سر می خپل په ځنګونو پریښود چی سر می دروند شو او خوب یوړم.د ملغلری په شان سپین کمیس می اغوستي وو او په لڅو پښو په چمن باندی ګرځیدلم. هر قدم چی می ایښودل هغه ځای به لکه چمن را شین شو. د لمر څانګې لکه الهی رڼا زما په مخ لګیده.

نا څاپه ناپاکی اوبه زما په کمیس ولګیدی سپینو جامو می تور داغ واخیست. نظر می پر ځمکه ولګید پښي می پورته کړی ټول هغه شین چمن په وچ شوی ازغیانو بدل شوی وو. د آسمان مخ تورو وریځو نیولی وه. ..................
زړه می ژړل او سترګې می حیرانې او بی حرکته وی.ټولو سترګې زما د کمیس داغ ته نیولې وې او له ما څخه په تېښته ول.سترګې می خلاصې کړې سر او مخ مې په خولو لوند وو.په زړه می لاس کیښود لکه د چوغکي په شان په سینه کی درزیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خولی اوبه می تیری کړې. د الله اکبر آرامونکی غږ می تر غوږه شو د یا الله خیر پیخ کړه په ویلو سره د تشناب په لور لاړم او اودس می ترسره کړو. د سهار لمونځ لپاره ودریدم، یوه شیبه هم زما د سترګو اوښکی نه دریدی دا ځل یو بل احساس زما په وجود کی ژوندی شوی وو. یو ریښتینی مینه می احساس کړه.سر می په سجدی کیښود او ومی ژړل فکر می کوه زه له خپل خدای څخه لری شوې وم کله می چی سر له سجده پورته کړ احساس می کوه چی زما زړه خپل سکون تر لاسه کړ.
زما په زړه کې هیڅ غم نه و پاتې داسی شوی وم لکه یو ماشوم چې تازه زیږیدلی وی.

هماغه ورځ مې پریکړه وکړه چې هغه محبوب نور زما محبوب نه دی.نور به د هغه لپاره بخیلی نکوم. زما قلم به د هغه د توصیف لپاره نور نڅا ونه کړي. د نوم ځای به یی تل زما په شعرونو کی خالی پاتی شي.هغه د بل چا د ژوند ملګری وه حتی د هغه په اړه فکر کول هم زما له پاره ګناه ده.ما هغه له خپلو یادونو سره یو ځای په خپل زړه کې ښخ کړ.هغه یادونه چې زما ژوند یې لوټ کړی و.دا خوب زما لپاره یو لاربشود و.خپله ورکه شوی لاره مې ومونده.د قرآن تلاوت سره می روح او ذهن آرام شو.لمر د کړکۍ له لارې زما پر مخ لګېده.

پورته شوم خپلې جامې مې بدل کړې او د پخلنځي خواته لاړم.خاله حمیده د تل په څیر له ټولو مخکی حاضره وه په مسکا سره می وویلی: د نړۍ تر ټولو مهربانې ښځې ته دی سهار پخیر وی.
هغی زما سترګو ته په حیرانتیا سره کتل، غوږونه یی زما خبرو ته بند ول او سترګی یی زما مخ ته پاتی وی، نشی ویل کیدی چی هغی زما خندا ته کومه خندا چی ما ډیر وخت له لاسه ورکړی وه کومه ځانګړې توجه ونکړې.
ومی ویل: غواړې نن زه ټولو ته صباناری تیار کړم؟ هممم؟خاله لا وخت شته او میلاد او مسیح هم نن کور کې دې څه فکر کوې کیک ورته تیار کړم او حیرانه یی کړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاله حمیده لکه د بت پشان دریدلې وه او د سر په خوځولو یی زما خبری تأیید کول. په ورو کی د هګۍ ماتولو په حال کی وم چی له شاه څخه د ژړا غږ می واورېد مخ می وارېوه د هغی ګردو سترګو ته می وکتل او پوښتنه می وکړه: ای وای دا څه دی؟ اوښکی؟ هوووم؟
په نیول شوی غږ یی وویل: د الله شکر چی ته می پدی ورځ ولیدې.ډېر وخت وشو چې ستا موسکا مې نه وه لیدلې احساس کوم نن وخت شاته تللی ته هماغه.....

د خبری منځ ته ورغلم و می ویل: پخوانی حرم بیرته راغله هغه چی بی پروا به یی خندل، هغه چی د خلکو خبری به یی دویښتانو په څېر د غوږ شاته کول هماغه حرم چی هېڅ څوک د هغی له هدفونو مهم نه وو بیرته را ستنه شوه.ستا له لاسه وګوره دا پاتې شو راځه مرسته وکړه چې دا تیار کړو.

په داسې حال کې چې یې د پزې اوبه پورته کشولې زما مخ یې په موسکا سره ښکل کړ.کیک مو تیار کړ.ټول د مېز شاوخوا راټول وو هر یو زما د دې حالت لیدو سره حیرانېدل. لومړی خاله حمیده، بیا مرجان، او اوس نوبت زما مور و.د څو کلونو له تېرېدو وروسته دا لومړی ځل و چې د مور د غېږې د مینې تودوخه مې نصیب شوه. ګواکي زما دا حالت ټولو ته یو اخترر و.کیک مو واخیست او ټول د مېز شاوخوا راټول شوو.پلار می چې له خوښۍ یې سترګې له اوښکو ډکې وې.

مسیح چې په شوخۍ یې لاس زما پر مخ ایښی و وویل: دا نجلۍ واقعیا ناروغه ده هسې نه چې پېریانو نیولې وي؟
له مسیح سره مې عکس واخیست او نارون ته مې واستاوه.
تر نن پورې مې احساس نه دی کړی چې مسیح او نارون زما ناسکه ورور او خور دي. حتی دوارې د هیلو سره دوه مخالف قطبونه ول.د ډوډۍ خوړلو وروسته زه خپلی خونی ته ستنه شوم.موبایل مې را واخیست او د ادیب ټول عکسونه او پیغامونه مې پاک کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل کتابچی په لټه شوم د کټ نالۍ می پورته کړه خو نه وه. په وروستی ځل چې دا کتابچه ورکه شوې وه یوه لویه بلا د هیلی په نوم زما ژوند ته راغله.د هغه کتابچې وروستی یاداشت یادولو سره.هغه ورځ ما خپل پلار ته قسم کړی وو چې ادیب به پرېږدم، اخری خط په هغه کتابچه کې همغ زما اقرار د بې وسۍ وو، له هغې وروسته می هیڅ د لیکلو حوصله نلرله. د کتابچې لټول می پریښودل او د پوهنتون د تللو لپاره تیار شوم.د کورنۍ له غړو څخه بدتر زما دوستان حیران وو. مینه چی یوه لحظه هم ارام نه درلود په هغه ورځ یی له ماسره تر شلو زیات عکسونه په بیلابیل ډولونو واخیستل. مدام به یی ویل نن لمر له غرب څخه راختلې دی.

احمد چی د مینی د عکاس رول یی درلوده په ځورېند مخ او بی حوصلګۍ سره یی وویل: هسې نه چې زما د ښځې له عکسونه څخه د ځان لپاره آرشیف جوړوی چې دومره اخلی؟

د هغه په خبره دری واړه په خندا شو. د احمد په بلنه د پوهنتون کفتریا ته لاړو. ډېر وخت شوی وه چی دا محیط می هیر کړی وو. موږ دواړو د چای دوه پیالې سفارش کړې. هغه ورځ می د لومړي ځل لپاره وغوښتل چې نه د مجبوریت له مخې بلکې د مینې له مخې احمد سره وخت تېر کړم.یوه اوونۍ تیره شوه پدې ورځې کی می له ادیب څخه هیڅ خبر نه درلود. کله کله به می سام سره اړیکه کې وم هر ځل به یی چی د ادیب نوم اخیست نو بحث به می بدل کړ او اړیکه به می قطع کړه. یو میاشت تیره شوه،

یو ورځ د سوسن زنګ راغی د هغې دی زنګ ته حیرانه وم. له نامزادی ورسته له ماسره په اړیکه کې نه وه. د ځواب په ورکولو سره مو پریکړه وکړه چی هغه شپه زموږ ملیمنه شی. د شپی ډوډۍ خوړلو ورسته یی په بهرنی بورس کی خپل بریالیتوب په اړه خبری اوکړی. موږ ټول خوشحاله وو اخر خپل هیلۍ ته رسیدلي وه پریکړه شوی وه چی دوه ورځی وروسته د فرانسی یو معتبره پوهنتون ته ولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. هغه شپه یی وغوښتل چې له ما سره پاتې شي.د خبرې کولو نه مخکې مې قهوه جوړه کړه یو څو ګیلاسونه مې واخیستل په زړه کې مې عجیبه اندېښنه وه. ویریدم چی د ادیب په اړه خبری ونکړی.

څنګه کولی شم خپل ځان کنترول کړم؟اصلاً څه ځواب باید ورکړم؟ منفي فکرونه مې له ځان لرې کړل او خونې ته ورننوتلم.د کړکۍ ترڅنګ ولاړه وه او بهر فضا ته یی کتل. زما په لیدلو یی ژوره ساه واخیسته د قهوی ګیلاس په اخیستلو سره یی په خبرو پیل وکړ.او ویې ویل: هغه ورځ چی زه دلته راغلی وم په یاد دی ده؟ پلار می ژوندی وه ستا په اړه می اوریدلی ول خو له تاسره می خبری نه وی شوې.په اصل کې ته زما په نظر یو بلا وې.د "بلا" کلمې په اورېدو مې قهوه په ستوني کې بنده شوه.حیران حیران مې ورته کتل په تعجب سره می وویل: "بلا"؟؟ خو ولې دی داسې فکر کوه؟

سوسن- زما د پلار او  مور له خبرو څخه هغوی به تل ویل: چی ته دی ماما ګانو پلورلی یې...
سوسن خبرې کولې او زه د قهر له شدت نه، لکه د اور له دننه څخه سوځېدم. خو یو انسان تر کومه حده پست او حقیر کېدای شي؟تر دې مخکې مې فکر کاوه چې د خپلې مور له وروڼو پرته په دې نړۍ کې داسې پست او حقیر انسانان نشته خو دا کسان له هغوی هم بدتر وو.خو ایا هغه وخت انتخاب زما په لاس کې و؟شپږ کلنه ماشومه چې حتی خپل ځان یې نه پېژنده، نو د ژوند او انتخاب په اړه به یی څه پوهه درلوده؟

سوسن- پدی هم پوهیدم چې هیله د ادیب په نوم وه نه یوازی دا بلکی پدی هم پوهیږم چی ته اوس هم زما د لالا سره مینه لریاو د هیلی د شوم هوس لپاره تا خپله مینه قربانی کړه.
د دې خبرو په اورېدو مې د قهوې پیاله له لاسه ولوېده او پر ځمکه پریوتله.ساه مې په ستوني کې بنده شوه. بیا هم د غمونو هماغه نړۍته راغلم، اه زما خدایه! دا څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پول ازموینه ده چې له ما یې اخلې؟ ایا زه ایوب یم چې ما دومره ازمېی؟هسې نه چې دا خبره دروغ وي! (صبر تریخ دی خو پایله‌یې خوږه ده؟) زه نور پدی خوږې پایلې باور نشم کولی.فکر کوم دا خوږه پایله زما لپاره خوږ عذاب ده!

زه له ځان سره په فکر کې وم چې ناڅاپه یو لاس زما پر اوږه کېښودل شو. له خپلو سوچونو څخه ځان ته راغلم سوسن وویل: حیران شوې؟
خبری را څخه په تېښته وی یوازی می ورته کتل.

خبره د نړۍ لرې ترینه کونج ته ورسیږی.
خو هغه ونغوښتل ما ته ورسیږی.

د دې څخه به لا لوی عذاب څه وي؟ چې ستا د سترګو وړاندې
هغه څوک چې ستا برخه وي، بل ته ورسیږی.

ته به څه کوې که هغه څوک چې ته یې د ټول عمر لپاره غوښتې
ناڅاپه یو بل ته ورسي؟

آیا پرېږدې چې لاړه شي، له زړه څخه یې جلا کړې، او هغه ته ورسي چې زیات یې خوښوي؟ آیا پرېږدې چې ولاړ شي، دوه مرغان شي، او د دوی د یو ځای کېدو خبر د نړۍ تر لرې لرې برخو ورسي؟

ګیله مه کوه، خپل ژړا پټه کړه، هسې نه چې ستا ژړا د دوی تر غوږونو ورسي.
خدای دې وکړي چې... نه، زه ښیرا نه کوم، هسې نه چې هغه ته، چې زه پری مین وم، زیان ورسي.

زما ژوند یوازې همدې خو کرښو شعر په شأن شوی و.

په حیرانونکي انداز باندی سوسن وویل: ته پوهیږی په لومړی ځل می چی ته ولیدی پوهه شوم چی ستا په اړه ویلی شوې خبرې ټول دروغ دی. ځکه چې زموږ کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر زړو خبرو او عقېدو ولاړه ده او بیحد خرافاتی شیان مني، هغوی تاته "بلا"ویل ځکه ستا د بدن وینه زموږ سره یوه نه وه! نو ځکه ستا اوسېدل په دی کور کې د دوی لپاره د شرم داغ و.

او دا چې هغه ورځ موږ د دوهم ځل لپاره دلته راغلو ما د خپل لالا په غوښتنه درته بدالی راوړې. ولې مې درته د هیله په اړه څه ونه ویل؟ ځکه چې زه پوهېدم لالا مې له دې خبرو اوربدو وروسته هېڅکله د دې واده رضایت نه ورکوي.او دا چې زه له هغه موضوع څخه څنګه خبره شوم په یو مناسب وخت کې به پوه شې. غواړم چې د ټولو هغو ورځو لپاره چې درسره مې بد چلند کړی او د پلار ټولې خبری می حق بللی بخښنه و غواړم .بخښه راته وکړه حرم.

ما هغه کلک غېږه کې ونیول او دواړو ژړا ته پیل ورکړو.

سوسن_ له ما څخه مه خپه کیږه .
– نه یم خپه، ما هماغه وخت ته ښئلی وې حق دې درلود ځکه هغه ورځ زه دومره مجبوره وم چې باید د ټولو په وړاندې مې ځان بد ثابت کړی وایې،نو حق دی درلود بد ګمان او کرکه راڅخه وکړې.

د هغه شپی په سهار سوسن هم لاړه.......

ټول د سوسن سره د خدای په امانی لپاره تللی ول میدان هوایي ته پرته له ما.
زه د ادیب څخه په تېښته کې وم پلار مې د دې لپاره چې هیله ونه ګوري له تګ څخه منصرف شو.په دې موده کې د ټولو په ژوند کې لوی لوی بدلونونه رامنځته شوي وو، یوه یې هم د میني د ژوند عجیب بدلون، هغې خپل د هغه خارج ته تللې کوژدن څخه طلاق واخیست او پر یو چا مینه شوه!

یوه ورځ مینی د یو هلک په اړه له ما سره خبرې وکړې چې له ډېر وخت څخه یو بل سره په اړیکه کې دي. په پیل کې غصه شوم څنګه یې کولای شو چې داسې یوه جدي موضوع له ما پټه کړي؟خو خوشحاله وم چې بالاخره یی بیا خپل ژوند ته یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوی رنګ ورکړ. خو کله چې د هلک نوم مې واورېد حیرانه شوم. په ځلېدونکو سترګو او شرمناکی څهرې سره یې نوم واخیست." سام"
د سام نوم اورېدو سره په حیرت کی شوم څنګه کېدای شي چې دوه مخالف قطبونه یو بل جذب کړي؟

په لوړ غږ مې وخندل او په پسخند سره می وویل: وګوره هیڅ ښه ټوکه نه وه.
زما په خبری میني خپل زیتونی سترګی تنګی کړی او په آرام غږ یی وویل: په الله قسم کوم دروغ نده حتی نن یی راته وویل چی غواړی ما خپل ځان ته په حلاله نکاح وغواړی.

په ګردو سترګو سره می ورته کتل، په ګیله من انداز می وویل : افرین دی پر تا وی جینۍ اوس ته هم ځان ته یوه ښه ملګری او خور ووایه، زه خو د بی بي سي پشان خپل د ژوند هره شیبه تاته بیانوم.

مینه- ګوره، مخکې چې ته او ادیب یو ځای وئ، ځینې وختونه زه هم درسره وم او سام له ادیب سره و. په اول کې موږ یوازې دوستان و، ته پخپله ښه پوهېږې، شاهد یې وې او لا یې هم یې. حتی کله ناکله به دې له ما سره ټوکې کولې، ویل به دې " همدغه هلک ته دی ورکوم او خپل د لیوره ښځه دی کوم" خو کله چې زموږ اړیکه له دوستۍ میني ته واوښته، هماغه وخت مې غوښتل چې له تاسو سره یې شریک کړم، خو د ژوند رنګ داسې واورېدې چې موږ اړ شو دا راز وساتو، ځکه موږ نه غوښتل چې تاسو خپه شئ، او موږ د خپلو خوښیو جشن ونیسو.

او له بلخوا زه هم ستا پشان د یو بل چا په نوم شوم نو دا مینه همدلته پاتی شوه خو اوس چی هغه تللې سام یوځل بیا رامخکې شوي، هغه د کورنۍ سره سفر ته روان دي خو غواړي له تګ د مخه نکاح وکړي، یوازې یو ساده کورنی محفل. وروسته چې زه ورسره ولاړ شم، بیا به بل محفل نیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میني خبري راته منطقي او پر ځای ښکاریدی هغې حق درلود چې خپل د ژوند په اړه تصمیم ونیسي. هغه وختونه مې یاد ته راغلل چې زه، سام، او ادیب یو ځای وو؟ ما به سام ته ویل، "ته ما ورینداره بولې، د همدې ښکلي نوم په بدل کې به درته یوه ښایسته نجلۍ پیدا کوم، او مینه مې درته ټاکلې!"

ځان سره مسکې شوم او زړه کې مې وویل" که څه هم زه او ادیب یو د بل نشو خو سام او مینه یو د بل شوه څنګه چې غوښتنه مې وه"

یوه اوونۍ وروسته، مینه او سام کوژده وکړل،درې ورځې پس یې د دواړو کورنیو ترمنځ یو ساده محفل جوړ شو. ما ته معلومه وه چې ادیب د سام رضاعي ورور دی، نو پوهېدم چې ضرور د کورنۍ سره به هلته وي، او همداسې وشول. زه هلته نه ولاړم، په کور پاتې شوم، که څه هم مینه راته خپه وه. خو ځینې وختونه، زمانه او قسمت د چا په خوښه نه ځي.

خو میني له هغه شېبې، چې دوی یو ځای ول، ماته یې ویډیوګانې او عکسونه راولېږل. د خوشحالۍ سره یې سترګې ځلیدلې، ما هم په شوق ژړل، دا لومړی ځل و چې زما له سترګو د خوشحالۍ اوښکې بهېدلې.

په همدې وختونو کې یو لوی بدلون په وطن باندی راتلونکي وو، د اخوا دیخوا څخه ناخوښه خبرونه رارسیدل، خلک په یو ډول خوف او وحشت کې وه، د اطرافو زیاتو خلکو کابل خوا ته مخه کړې وه او پایتخت ته راتلل، ټول د دې امید سره چې دا جګړه به یو ښه انجام ولري.خو ښارونه یو بل پسې سقوط کاوه. ښه مې یاد دې چې هماغه شپه چې د مزار شریف د سقوط خبر راغی، پلار مې فیصله وکړه چې موږ ټول باید له وطنه ووځو.

هماغه شپه یې راسره خبرې وکړې، او ویې ویل، چې باید د نکاح مراسم جوړ شی، ترڅو خبره رسمی او اسلامی شی.یوه ورځ وروسته، د دواړو کورنیو ترمنځ یو کوچنی مراسم جوړ شو، او دا فیصله وشوه چې زه به د احمد سره نکاح ترم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

..................

د هنداری مخې ته ولاړه وم، د ماشومتوب خوبونه مې راياد شول.ما تل غوښتل چې ناوې شم، د ماشومانو په لوبو کې به مې تل د هيلې سره د ناوې کېدو په سر جګړې کولې.خو نارون به د جګړې مخنيوی کاوه، يوه سکه به يې پورته غورځوله، او ويل به يې، "شير يا خط؟" او هر ځل به چانس د هيلې سره و.ما به له ځانه سره ويل، "کله چې زه لويه شم، د نړۍ تر ټولو ښايسته ناوې به شم." اوږده لمن داره سپينې جامې به واغوندم، د مرواريدو ډيزاين لرونکی تاج به پر سر کړم، سور شونډ رنګ به ووهوم، لوړې څپلې به واغوندم، او د ناوې شال به مې پر سر واچوم.

خو انسان هر څومره چې لوی شي، ماشومتوب يې بيا هم ژوندی وي.خو د ژوند په حقيقت کې، چانس بيا هم د هيلې سره مل وو.زه ونه توانېدم چې ناوې شم، نه هغه ښکلا راسره وه، نه هغه سپينه لمن داره جامې او نه هم هغه کريستالي تاج!
يو غږ زه له خيالونو څخه راوويستم: د مرجان او ابراهيم نکاح پای ته ورسېده، اوس ستا نوبت دی، ناوې صيبي.

حرم- مينې، اوس د ټوکو وخت نه دی، داسې شرايط دي چې هره لحظه يو ناورين رامنځته کېدای شي، ته د شوق او خوښۍ خبرې کوې؟
مينه- دا خبرې پرېږده، حتی مرجان هم ځان جوړ کړی او سينګار کړی وو خو ته!
حرم- زه همداسې ساده هم سينګار شوې معلومېږم، شايد نه بايد خلک زمونږ راتګ ته ډېر منتظر پاتې شي، زر کوه راځه.

درې مياشتې وړاندې، د مرجان پلار چې فلج وو وفات شو، مور يې څلور کاله مخکې له لاسه ورکړې وه.وروسته له دې، د هغې عمه غوښتل، چې مرجان يو زوړ سړي ته ورکړي، او په بدل کې د هغه د کورنۍ نجلۍ خپل زوی ته واده کړي. زه حيرانه وم، ولې تل انجونې د قربانۍ د وسيلې په توګه کارېږي؟ ولې هميشه دا ظلم يوازې د نجونو برخه وي؟ زه به هيڅکله هېر نکړم هغه وختونه چې مرجان څنګه ژړل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه غمجنه وه، زه حیران یم، ایا په ځینو خلکو کې د وجدان په نوم کوم شې شتون لری او کنه؟

مرجان یوازې ما ښه درک کولی شو، یوه یتیمه، بې سرپرسته نجلۍ چې د ژوند د برزخ په مینځ کې راګیره وه.کله چې مرجان دا کیسه زما پلار ته وکړه، او د خپل بدبختیو څخه یې شکایت وکړ،پلار مې پرېکړه وکړه چې مرجان او د هغې کوچني خویندې له هغه کړکجنه او غمجن ماحول څخه وژغوري.ابراهیم، چې د مینې، وفادارۍ، او صداقت سمبول و، د هغې د سرپرستۍ لپاره حاضر شو،او زما پلار، د مرجان د خوښې سره سم، د دوی د نکاح شاهد و.

په سالون کې ټول راټول شوي وو.زه له مینې سره یوځای هلته داخل شوم، زما په لیدو احمد خپل ځان له څوکۍ راپورته کړ، او زما خواته مسکې شو، بېحد ښکلې ښکاریده د خلکو خبره زوم رنګ ویستلی وو نور یې له مخ ځلېده، په کراره یې خواته روانه شوم زما هر ګام یې په مینه ناک نظر څاره، کله ناکله د هغه د دومره مینې په وړاندې نفس مې بند راځې او نه پوهیږم د هغه د دمره مینې ځواب څنګه ورکړم؟

خپل د پلار څنګ ته کښېناستلم چې مولوي صیب بې له ځنډ د نکاح ترلو مراسم پیل کړل او لومړۍ د احمد څخه درې ځله د قبولیت وپوښتل! او هغه هر ځل ما ته په کتلو په خوشحالۍ، مینې او بیحد شوق باندی هو وویل، د احمد څخه د پوښتلو وروسته مولا صیب زما خواته وکتل او په لوړ غږ یې وویل: حرم د صبور خان لور ایا دا اړیکه ستا قبوله ده؟

زما د(قبوله مې ده) په ویلو شورما شور او چکچکې شوې.اوس نو په ټوله معنا او رسماً، قانون او شرعاً زه د احمد میرمنه شوم .....
انسانان تل خپل په اراده او خبره باندې آزاد نه وي ځکه د هغوی تقدیر الله لیکي، نو هر هغه څه چې مونږ ته تعیین شوي هغه باید ومنو.
او دا هم زما تقدیر و ...!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ اړیکه یوازې په نکاح باندې ولاړه وه، د نکاح تړلو وروسته د څو وخت لپاره احمد خپل کور کې او زه خپل د پلار کور کې اوسیدم، تر څو چې پلار مې د وطن څخه د تلو نیت وکړ.بلاخره د هیواد نامنی پلار مې مجبور کړ چې مسافر شي. پلار مې د هوټل او شرکت ټول مسولیت ابراهیم ته وسپاره ځکه ادیب او کورنۍ یې هم د پلار سره مې په دې سفر کې و. عجیبه ورځ وه ....!

ابراهیم او حمیدې ترور د مرجان کورنۍ سره وطن کې پاتې شول هغه هم خپل په زړه، د خدای پاماني ورځ راورسیده یاد مې ده، کله چې مې رخصتي د وطن نه بهر تېروه د نورو پر خلاف زما لپاره ناخوښ و، زما کور همدا هیواد و، همدا دردېدلي هیواد، هغه هیواد چې کلونه پکې جکړه او په زرهاوو ځوانان شهید شوي وه، هغه وطن چې یو موټ خاوره یې د خلکو لپاره تر الماس پورته ده.

بکس مې وتړه، سترګې مې د وسایلو منځ کې پر هغه کالو او ګوتمې ولګېده چې ادیب راته اخیستي وه، ژوند د یادونو دفتر دی

یو د شپې په زړه کې ...
یو د خاورې په زړه کې ...
یو د خوشبختیو همدم ...
یو د سختیو همسفر ...

ځینې وخت د هغه یادو په لیدو لومړۍ خاندې وروسته زړه دې دومره درد کوي چې د ژوند ټولي خوشحالیاني دې له منځه ځي ....
نور هغه ترخه مسکاء هم درته نه پاتیږي،لاس مې په هغه کالو تېر کړ.دواړه مې په قیمتي شکل صندوق کې پریښوده.او بېرته مې الماري قفل کړ!! خپل د زړه په خېر!!! هغه ورځ راته د تدریجي مرګ په څېر و حتی هغه یادونه زما په یاد رانشي شاید هغه یو ساده ګوتمي وه خو زما لپاره د زړه یوه ټوټه چې د ژوند تر اخیرې سلګۍ راته د یو ناسور درد ته بدل شو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په شمول ټول د کور په په باغ کې وو،حمیدې ترور او مینه خو یوه شېبه لپاره هم آرام نه درلوده،اه چې دا خدای پاماني څومره سخته وه، د خپل خپلوانو او هغه ځای څخه چې ماشومتوب او پیغلتوب مې پکې تیر کړی و جدای ډېره سخته وه که څه هم یو وخت ماته دا ځای د زندان په ډول و، خو نن زما لپاره جنت ښکاریدو اصلا حاضره نه وم چې دا ځای پریږدم خو پلار مې ویلي و چې هېڅکله بې له ما ګام به وانخلي او د پلار لپاره مې دلته اوسېدل خیر کې نه و ....
د حمیدې ترور او مینې په غېږ کې نیولو سره سلګۍ مې پورته شوې.

د دوی څخه لریوالي سخته وه خو د حمیدې ترور لپاره مې اندېښنه نه وه ځکه مرجان او ابراهیم وو او حمیده ترور دوی ته داسې و لکه مور، او د مور په څېر ورته درناوې یې درلوده، مینه هم ډېر ژر مونږ سره یوځای کیده، نیت مو ترکې ته و.
ابراهیم زمونږ سره تر هوایي ډګر راغلو، او د هغه ځای نه د ادیب دوی سره تلوو پلار مې مخکې راته یې ویلي و چې د هیلې تیروتنه لپاره نه شي کولای خپل د ورور کورنۍ سره اړیکه پرې کړي.

نن هم وروسته له اوه میاشتو ادیب سره مخامخ کېدم،توری جامې چې زما د ژوند په څېر وه اغوستي وه، سرکشی سترګي یې د تورو عینکو شاته پټ کړي وو.
وېښتیانو یې د باد د وجې پر مخ نڅا کوله مبایل یې لاس کې و او ښکارېده چې د یو چا سره خبرې کوي، نرمه مسکا یې پر مخ خپره شوه، په مخ یې لاس تېر کړ، پوه شوم چې په مبایل کې غږېدونکی کس دروغ ورته وایي او دی د رښتیا څخه خبر دی!

دا یې عادت و کله به چې ما ورته د مجبوریت یو موضوع ورڅخه پټ کول او دی په هغه موضوع خبر وایې بیا داسې کول او په دې کار یې پوهولم چې د حقیقت څخه خبر دی،ځیني وخت مې ورته اعصاب خرابیدل چې کله خبر وي نو ولې دې ځان په ناپوهی واهه؟ د موټر نه ښکته شوم ....
د هر ګام په اخیستلو سره ساه مې په ستونی کې بندیده،بیا هم هغه احساس مې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه کې را پیدا شو،زړه کې مې خدای کول تر څو شاته ونه ګوري خو لکه چې ژوند ماته د درد راکولو څخه زړه نه یخ کېده،د مسیح په غږ یې مخ زموږ خواته را وړوه!!

کله چې مې درته لاس نه رسي ...
کله چې ستا نشتون زما ریښه د تبر پشان وهي ...
کله چې شا مې ستا په نشتون نرېدلې او ورانه ده ...
څه درته ووایم کله چې زړه تنګون له څهري څخه له ورایه ښکارې ...
دومره زړه تنګ چې په خوب کې نه ځایږي ...

کله چې نوم دې زما د شعرو په کتابچې کې خالې دی ...
نو ولې زما د خیالاتو نه لاس نه اخلې؟
کله چې بیلتون زمونږ کې منځ ته راغلي
نو دومره بې تابی د څه لپاره؟
ته چېرته زه چېرته؟
ته د دې مینې په رامنځته کیدو کې ..
زه د دې مینې په له منځه وړو کې ...
ته مېین په لمر ....

او زه مینه په سپوږمۍ ...
زمونږ د ژوند لاره د لمر او سپوږمۍ دلارو غوندې ...
آیا دوی دواړه یو بل ته ورسېدل؟
زه د دې ژوند د سکون لپاره طوفان ته اقیانوس شوم ..
او ته بوخت په خپل خیالاتو کی ...
زه ددې کیسي ګناهکاره ...
دومره مجرمه او ګناهکاره ...
چې د وجود اور مې تر اوم دوزخ هم سوځونکی دی .....

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې شېبې لپاره هغه راوګتل، خو بیرته نظر واخیست او بغیر له دی چې ماته کوم څه ووایې د ټولو سره روغبړ یې وکړ، د ابرهیم څخه جلا شو او ترمینال خوا ته مو حرکت وکړ.زما د بد قسمت څخه نن مې باید د هیلې او نورماه منحوسه څېرې هم باید لیدلی وای،پر هغوی مې خیال رانه ور او ګوښه یو ځای کې کیناستم او تلفون مې په لاس د مینې د پیغامو په ځواب ورکولو مصروفه شوم.

د هیلې اوښکې د مور په لیدو مې توی شوې او مور مې په غېږ ونیوله دومره وخت کې فقط مور مې او مسیح د هیلې کورته تګ راتګ کوه،او دا چې پلار مې ورته ارزښت نه ورکوه اعصاب یې خرابیده.څو ساعته وروسته شاوخوا مې نظر واوړوه د مخامخ صحنې په لیدو هکه پکه شوم! هیله په راوتلی خیټې په داسې حال کې ملا یې ښکته کړې و او په زحمت څوکۍ باندې کیناسته،سترګې مې د هغې په راوتلې خیټه وه، سر له دې چې د هغې شپې خوب نه وروسته ځان سره مې قسم کړې و چې نور به زړه ته مې غم نه پریږدم او غیر له د الله مینې بله مینه مې په زړه نه وي خو په هغې ورځ مې دا قسم مات کړ ....

د یو شېبې لپاره مې احساس وکړ چې اسمان په هغه لویوالی سره زما پر اوږو بار دی ......
یعنې ادیب پلار کیږي!!!؟؟؟
دا پوښتنه دومره راته سخته وه چې هغه ماشوم زما د روح قاتل شوو. د اوښکې څاڅکې مې د سترګو نه توی شوي،هغه په ټوله معنا د بل کس لپاره خاوند و، په زړه کې مې ځان ته ښیراوي وکړي،ښیرا مې وکړه د هغه ټول دردونو لپاره چې خپل په لاس مې ځان ته ورکړ.وایي انسان د الله الهی نعمت دی او امانت کې خیانت کول کفر دی، او ما خپل جسم او روح ته خیانت کړي وو.د دې لپاره چې زما درد او اوښکې څوک ونه ګوري خپل توري عینکې مې په سترګو کړې

سر له دې چې وجود مې زړه مې لړزیده او کرار مې نه درلوده خو ظاهر کې کراره پر څوکۍ ناسته وم،وروسته له دوه ساعته ترکي ته ورسېدو او د څو وخته لپاره ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوتل ته لاړو،د هیواد نه خبرې اورېدل کیده او هره ورځ د یو ښار د سقوط شاهد و د هیواد ناامنی ډېرې اندیښمن کړي و تر ډېرو د پلار مې صحی او جسمي حالت یې ښه نه و دا وضیعت زمونږ ډېرو لپاره د اندیښنې ځای و،او مونږ ډېر د ابراهیم کورنۍ په اندیښنه و،که څه هم د هغوي راوړل زمونږ لپاره سخته وه خو پلار مې قول یې راکړي و چې د هغوی تک ازبکستان ته جوړوي خو حمیدې ترور رضایت یې نه درلوده همداسې ابراهیم هم نه غوښتل خپل هیواد پریږدي.

ورځ تر بلې طالبان پرمختګ کوه،د جنګ او د خلکو بې کوره کېدل مونږ یې اندیښمن کړي و زمونږ کار و زندګي د خبرونو اورېدل و،د خلکو بې پناه کیدل او تر خیمې لاندې ژوند کول یې د تیرې زړه یې اوبه کول،تر څو چې یو اونې وروسته کابل ښار سقوط وکړ،په لومړیو کې طالبان زمونږ کورته تلي و او ابراهیم یې څوروه او هر وخت یې د پلار پوښتنه مې کوله او د دې چې د ابراهیم د خولې نه خبرې وباسي هغه یې تر شکنجې لاندې نیولي و او کله چې ایله شو څو واره مو وپوښتل خو هغه هر ځلې غوښتل دا خبره پټه کړي خو د څیرې نه هر څه ښکاریده.

چې دوې ورځې د دوه قرن پشان وراندې تیر شوي،تر ابرهیم زیات مې مرجان ته زړه سوځیده د اوښکو تویدو توان پکې نه و پاتي د زړو ښځو غوندې شوي وه، ښه مې یاد ده هغه ورځ چې ډېرل یو ځای و او د مرجان په لیدو ادیب په غوصې خپل ګوتې ویښتیانو کې تیرې کړې او په غوسې یې وویل: د کاکا کور دی ونیسي د دولت د ځمکي په نوم او دارای دی ورڅخه ظبط کړی خو دا څه معنا چې ابراهیم یی دوه ورځي نظر بند ساتلی او ورڅخه پوښتنی کوی؟ حیران یم دوی ته چې د اسلام نه غرېبري دا دوی اسلام ده؟ نو عدالت چېرته ده؟

د لیونیانو په څېر د زیات غوسې څخه یې چیغې وهل،وروسته له دوه ورځو ابراهیم د قید روغ رمټ خلاص شو، خو د طالبانو نوم لکه چې وحشت درلود کله چې راغی داسی مړاوی شوی وو لکه کلونه، کلونه چې زندان کې ساتلی وی. هر څه د یو بد خوب په څېر و.هېڅ وخت مې فکر نه کوه چې تاریخ بیا هم تکراریږي د دې هضم

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته سخته وه.نیت مو و سبا له دې ځای نه امریکا ته د تل لپاره لاړ شو،یوه شپه چې باران اورېده د کړکۍ سره ولاړه وم چې د شا له خوا مې یو اشنا غږ واورېده، غږ يې د باران د څاڅکو په شان خوږ و سترګې مې د هغه سیوري ته چې پر ښېښې ښکاریده ځېر وو.
آرام زما تر څنګ ودرېده او ویې ویل:

ادیب ـ ژوند مې د اسمان د دې ملغرو پشان راته ښکاري،د عرش نه فرش ته وغورځیدم خو دا ملغرو تر هغه وخته الهی رحمت دی تر څو چې ځمکې باندې لویدلی نه وي، کله وغورځېږی بیا نو یوازې بویناکې اوبه دی او بس.!!!

په کامل توجه سره مې خبرو ته يې غوږ وم، څو شېبو لپاره غلی شو بیا يې وویل: زمونږ د مینې پشان! تر هغه وخته دا مینه زما لپاره رحمت او ژوند و چې په هغه کې دروغ او چل نه و وروسته له هغه چې چل په منځ کې راپیدا شو زما لپاره د درواغو افسانه شو ....
سره له دې چې سترګې مې د باران سره ملتیا کوله ومې ویل: اوس درسره ښه نه وایي چې میرمنه دې امیدواره ده او ژر به دې ماشوم نړۍ ته راشي داسې چتیاټ...

خبره مې پوره شوې نه و چې پسخند دې ووهل او په کنایه يې وویل: چټیاټ؟ بیا هم درته وایم زمونږ ژوند دې د درواغو افسانه باندې بدل کړ اوس دا چټیاټ شو؟
حرم ـ زه پر احمد مینه یم دا کوم ځای يې درواغ دی؟
ادیب ـ بس کړه د خدای لپاره حداقل اوس انکار مکوه چې ته خپل د پستي خور سزا ګورې !!!

د دې خبرو په اورېدو غوږونو مې بند شو هکه حیرانه شوم، او په حیراني مې ورته وکتل د کومه پوه شو؟؟نظر مې خپل د خاطراتو کتابچې ته شو چې څو وخته ورکه وه او د سوسن خبرې مې یاد ته راغلې اوس مې د سوسن په خبرو سر خلاص شو کله چې ویې ویل یو مناسب وخت کې به پوهه شې چې زه څنګه خبره شوم!
په لړزېدلو لاسونو مې خپلل کتابچه ترې واخیسته او په بنده بنده ژبه مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ دا ....س..تا.... سره څه کوي؟

اديب ـ سوسن راته راوړه هغه هم هغه يوه ورځ مخکې خپل د تګ څخه، يوه اونۍ زموږ د واده څخه تېر شوي وه خو ما هغې ته کتل لا نه او هېڅ مشترکه اړيکه مو نه وه پيل کړې، خو د مور په قسم او د هيلې په کارونو ...

خپل خبره تېره کړه.طالع مې وکړه چې اديب خپل خاموش شو ګنې نو هغه ورځ به دده درنو خبرو زه د ځمکې سره سمه کړې وم.

اديب- سوسن دا کتابچه هغه وخت راکړه چې هيله د درو مياشتو اميدواره وه، باور وکړه که دا کتابچه مخکې راسره وای هيله به ....

د خبره مې ځيني پرې کړه ومې ويل: فکر دې نيسه چې دا خبره به په خوله نه راوړې، ما دا ټول درد د همدې دپاره تېر کړی ندی چې ته زما د پلار عزت تر خاورو لاندې کړې، اوس چې خبره رسوا شوې نو پوه شه چې هغه وخت هيلې غوښتل ځان وژنه وکړي

زما په خبره اديب په لوړ اواز چيغه کړل او ويې ويل: پرېښودلې به دې وای چې مړه وای نه دا چې څو ژوند خراب کړي، چې مړه وای ښه نه وه هاا؟ زه مړ وم چې تا دا ټولې خبرې له ما نه پټې کړې وې؟! اوس پوهېږې چې تر مرګ بدتره درد مې و زغمی.

د مرګ د کلمې په اورېدو لکه زړه باندې چې مرمۍ ولګيږي، سترګې مې تنګې کړې او خبرې مې پيل کړې ...

حرم ـ زما د پاره هيله هېڅ ګواښ نده! او نه هم راته مهمه وه چې مرې که پاتي کيږي، اصلی موضوع مې پلار وو د پلار عزت مې منځ کې و. ته پوهېږې چې د هغې په مرګ زما د پلار سر به ښکته شوی وای او داسې رسوای هغه له منځه ورو.

دا چې د پلار نوم به مې په هر ځای کې ددې دپاره اخيستل کيدی چې لور يې ځان وژنه کړې، هغه باندې به څه تېرېدل؟! مور دې ما ددې کورنۍ پر مخ تور او ننګ ګڼې، ان زما خپل مور هم ددې دپاره چې زما غوندې لور يې پيدا کړې شرميږي، خو دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرې زه د خپل سکه اولاد نه هم ډېره ونازولم، زما په حق کې يې پلارتوب وکړ، نو دا مينه څه چې په زرګونو مينې به ورنه ځار کړم، ستا د بيلتون په درد کې ژوند کولای سم خو د پلار په بې عزتۍ کې نه!

پوهېدم که تاته ووايم ته به ما وټاکې خو بيا هم پلار مې له منځه تلی، پوهېږې چې ما خپل د پلار ژوند خپل د له منځه تلو په بدل کې واخيست ... مه هېروه چې هيله د هغه اول نه هم ستا په نوم وه هېره دې ده؟ اوس نو زموږ ټولو تقدير بل ډول بدلون کړی، که څه په نه زړه، او نه غوښتلو سره خو بيا هم موږ د تقدير په لار روان يو، او دا چې زموږ مقصد به چېرته ليکل شوی يي نه پوهيږم ....؟

د يو ټيپي زمري غوندې د کړکۍ خواته لاړ،د غاړې شنه رګونه يې د دننه د اور ګواهي ورکوله، او ډېر پر دې غوسه و چې دداسې ماشوم پلار کېدونکی دی چې مور يې هيله ده. په پرېشانه حالت کې د کوټې نه ووت..کتابچه مې خلاصه کړه، د پاڼو شورېدلوالي ځخه پوهېدای شوم چې په وار وار ويل شوې ده، اخرنۍ پاڼه کې مې ځان د ناوې په جامو کې رسم کړی و سره د يو متن سره:

نه پوهېږم چې د زړه تنګونه مېينه يم يا د مېينتوب نه مې زړه تنګ دی! يوازې دومره پوهېږم چې زما په غېږ کې يې، سره له دې چې نه يې او تللی يې، بې تا نه ځمکه پېژنم نه هسک اسمان، رنځوره يم رنځوره ستا د سترګو، يو نظر مې ځمکې او بل اسمان ته دی، زما ژوند د همدې رنځ نه پيليږي، ته مې په باطن کې لکه اور داسې بليږې خو په ظاهر کې لکه اوبه ارامه يم، ستا مينه زما دپاره د حيات اوبه ده، زما د زړه د ټولو ناسورو زخمونو درمان کونکې ده، خو ستا د بيلتون درد راسره ملګری دی، او حق دا چې دا درد تر تا ډېر وفاداره دی، او ستا دې درد ته زه د زړه څخه هرکلی وايم، زما دپاره درد دی خو ډېر خوږ،زما لپاره عذاب دی خو ډېر خوږ تا خپل ژوند تريخ کړ ددې د پاره چې د بل چا ژوند جوړ او خوږ کړې، پوهېږې ته ماته تر هر چا ګران يې، ته ددې افسانې اتل وې، خوشاله يم چې دا عذاب لرم. خوږ عذاب ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخر کې داسې نښې ښکارېدې لکه متن چې په اوښکو پای ته رسیدلی وي.
رښتیا ده چې هغه مینه چې تل پاتې وي هغې کې وصال امکان نلری ....

{ د حرم څو خبري د ناول لوستونکو ته }

ژوند سراسر مینه ده، ترخې او سختې پېښې به دې په ژوند کله لوبې وکړي او کله به ته په ژوند لوبې وکړې...
بلکل زما د کیسې په بول چې اول ژوند زما سره لوبې وکړې او وروسته ما د ژوند سره.....
ډېرې پوښتنې مې پیدا کړې، زړه راښکونکې وې راته، د ځینو سره مې وخندل او دځینو سره مې وژړل...

خو نشو کولای د ژوند د حقیقت نه تیښته وکړو...
ستاسې د محبت نه ډېره مننه تر اوسه مې فکر کوی چې یوازې یم خو د تېرې شپې نه وروسته پوهه شوم چې ستاسې مینه او محبت راته بس دی. په ریښتیا هم نپوهېږم د کوم ځای نه یې پیل کړم، شاید د ډېرو په اند زما کار بېعقلتوب وي چې ولې مې دومره ښکلې مینه لکه د ادیب پشان له لاسه ورکړو؛ ایا زما دپاره اسانه وه؟! پوهېږم انسان کله کله په ژوند کې که وغواړي او که نه په دوه لارو کې پاتې کېږي، چې باید یوه یې وټاکي تر څو بله بقا وکړي.

زه ددې نه مخکې چې د چا مینه واوسم د یو چا لور وم، ما د خپل پلار او د هغه راتلونکی عزت وټاکی، او هیڅکله ددې پرېړه پر بل چا نه اچوم، پلار مې ماته د مخکې نه هم ګران دی. ټول وایي چې ولې دې داسې یوه پرېکړه وکړه؟زه ستاسې نه پوښتنه کوم چې ایا تاسې زما د هغې پرېکړې په اړه چې د ناول پشان مو ولوستل پوهېږئ؟! تاسو هغه بریکړه په دوه خطو کې ولوستل په یوه دقه کې خو ما هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریکړه په درېږ میاشتو کې وکړل! زه بیحد زیات د حل لارې پسې وګرځېدم، هره دروازه مې وټکوله خو وتړل شوه، که مې ادیب ته ویلي وای څه ګټه یې کوله؟!

پوهېدم ادیب خپله مینه د لاسه نه ورکوي، هغه هم لکه اوس چې تل پاتې مینه ده. خو هیله څه؟! د هیلې په مرګ به مې پلار له منځه تللی وای، زما دپاره مې د پلار ژوند ګواښ و نه د هیلې مرګ!!د پلار ژوند مې د هیلې په واده پورې تړلی و، دا پرېکړه زما د ژوند مجبوریت و.زه د راتلونکي نه خبره نه یم خو دومره پوهېږم چې زما او د ادیب یوځای کېدل په دې دنیا کې ممکن نه وه، او نه به هم وی. ځکه زه اوس د بل چا ښځه یم. ددې کیسې اتل زما له نظره احمد دی.

احمد ډېر بختور و ځکه خپل مینې ته ورسید. هېڅ جفا د احمد سره ونشوه ځکه احمد د ټول فکر سره دې نکاح ته حاضر شو، ورته ویلي مې دي چې زه به تر ابده ورسره د یو خاوند په حیث مینه کوم، درناوی یې کوم، د خاوندتوب هر حق به یې په ځای کوم خو هیڅکله به ورباندې میینه نه شم.درې شیان دی چې ژوند کې یو وار تکراریږي نه په وار وار....

یو وار به زېږېږي، یو وار به میین کېږي او یو وار به مري.
زه وزېږېدلم، میینه شوم او دا چې سفر به چېرته ختم شي نپوهېږم....

د هیلې نه خپه نه یم هغه مې خدای ته پرېښودلې ده خو څو ځله مې د هیلې او پلار د اړیکي د سمېدو کوشش کړی چې د پلار د سخت مخالفت سره مخ شوې یم. فکر کوم داسې ژوند به خپله د هیلې دپاره درد او عذاب وي چې دو نارینه پلار او خاوند تاته په بې ارزښتۍ وګوري، ډېرو د کیسې د حقیقتوب په اړه پوښتنه کړې، چی ایا دا رښتنینی کیسه ده او پوره حقیقت دی او کنه؟ باور کوئ او که نه خو زه پوره باور کوم ځکه ما یې هره شیبه لکه روښانه ورځې په ډېول تجربه کړې ده.

دردونه انسانان پخوي او زه خپل تر عمر ډېره پخه شوې یم زما دپاره ډېره سخته وه، زه انزوا ته تللې وم خو بېرته راپورته شوم، او بېرته راپورته کېدل مې د بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

زېږېدو غوندې وه څکه زما ژوند له منځه تللی و. هره هغه شېبه چې ما د ادیب سره تېره کړې وه ، زما د ژوند یوه نه تکرارېدونکې برخه وه، او اصلاً کوم عذاب نلرم.
ایا عشق/ مینه ګناه ده؟؟که مینه ګناه وي نو د مخلوق مینه خالق ته هم ګناه ده؟!
او د یو ملګری د تېرې شپې د متن په وینا چې راته لیکلې وه حرم او ادیب باید یو بل ته رسېدلي وای زه حیرانه کړم...

مینه یوازې رسېدل ندي، مینه د لېرې نه لیدل او ستایل دی!
مینه د حسرت او بیلتون زغمل دی!
مینه کله کله وایې چې معشوقه مې دې ساه اخلي همدا ماته بسنه کوي!
څنګه چې شهریار ساه اخیسته!
زه هغه وینم او ستایم یې!
هغه د خدایه وروسته زما د زړه خدای دی، کیږي چې خدای ونه ستایل شي؟!

او زما د کیسی د نورو کسانو په اړه به ووایم:نارون زما ګرانه خور اوس دوه ماشومان لري یو زوی او لور او زوی کټ کټ نارون غوندې دی. مینه د سام سره په مینې او.محبت خپل ژوند شروع کړ، مینه چې دادی مور کېدونکې ده خو بیا یې هم لاس خپل د کارونو څخه ندی اخیستی خو بیا هم ډېره راباندې ګرانه ده هغه یو لوی نعمت دی ماته. مرجان او ابراهیم، که څه هم ابراهیم په لومړیو کې د ډېرو خلکو د خوا ورټل شو خو اوس خپل د کورنۍ سره خوشاله ژوند لری او دا چې د دو یتیمو ماشومانو او حمیدې ترور سرپرستي کوي نو زما دپاره یو اتل دی.

زما د پلار ټول کارونه یې په غاړه اخیستي او پوره صداقت یې مخ ته وړي.پلار مې نه غوارم د هغه په اړه ډېرې خبرې وکړم خو بس دا وایم چې زما د وجود یوه ټوټه دی.سوسن کله کله راسره اړیکه نیسي د یو هلک سره مینه کوي او وروسته له ماستېرې نه ورسره کوژده کوی.احمد هغه سړی چې زه یې د ټولو نیمګړتیاو سره قبوله کړم.هغه زما دپاره یو زړه سواندی خاوند و، هره ورځ یې په سترګو کې د مینې رڼا ځلیږي، د هغه په مینه کتل ما د دننه څخه اوبه کوي ددې سره چې پوهېږې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د هر چا نه راته ګران دی او هيڅکله به وربانديٍ ميينه نشم، يوازې ددې په ويلو سره چې د هغه مينه مورِ دوارِو ته بس ده ما شرموي.

زما معرفي کيدل د ليکوال عندليب سره تاسې ته به د يو راز نه پرده پورته کړم، د ناول په اوله برخه کې (دا ناول د حرم د خولې خپل ملګرې ته ويل شوی) مو ياد ته راځی؟؟هغه کس عندليب وه، ښه مې ياد دي چې د ژمې په هغه سړه شپه په عندليب پسې د ډېرو ګرځېدلو وروسته مې پيدا کړه او خپل کيسه مې ورته وکړه زه ستاسې غوندې ددې داستان لوستونکې يم خو دا چې دا کيسه په څه ظرافت ليکل شوې تر ما ښه هيڅوک نه پوهېږي،عندليب مې د سپوږمۍ د اوښکې د ناول نه وروسته دلته وموندل او توله کيسه مې ورته وکړه دا چې هغې زه او خپل ځان څنګه دې داستان کې يو کړې يو دا نو د هغې کمال دی.

د هغې د مهربانۍ ډک زړه ماته تسلي وه د هغو ټولو شپو دپاره چې ما دا داستان دې ته په اوښکو بيانوی دا ماته د يو مهربانې فرښتې غوندې وه...!
د سترګو نه مې اوښکې وڅڅېدې..!
کتابچه مې بنده کړه!د هغه شپې نه وروسته اديب خپل د کورنۍ سره بل هوټل ته لاړل،د يوې مياشتې نه وروسته اديب د کورنۍ سره لندن او مورِ د تل دپاره امريکا ته مهاجر شو.

"پنځه مياشتې وروسته ... کاليفرنيا امريکا"

د اقليم په حکمرانی کې منی د رنګونو موسم و او د ځمکې پر مخ پاڼې په نڅا وې.
نيمه شپه وه خوب مې د سترګو تښتېدلی و، مبايل مې راواخيست مينې ته مې پيغام پرېښود ...
ـ ستړې يم ډېره ستړې يم..!
شېبه نه وه تېره شوې چې د مبايل پاڼې د ټايپ حالت راته ښکاره کاوه ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه- پوهېږم ډېره درته سخته او د نه زغم ده خو باید ددې سره د حق نه تېره نه شم چې د ماشوم سترګې تاته شوي.

د پیغام په ویلو حیرانه شوم چې مینه د څه په اړه خبرې کوي؟
ما خو د نوې کور د ټولولو د سترېا خبرې کولې خو دا ماشوم؟!
بیا مې پیغام پرېښود: (کوم ماشوم)؟!
د مینې خبر رانغی زړه مې ارام نوو نو زنګ مې ووهی ومې ویل:مینې تا څه ویل کوم ماشوم؟
مینه ـ حرم پرېږده یې مهمه نده.
حرم ـ مینې پوهېږې نیمګړې خبرې مې نه خوښېږي نو سمه خبره راته وکړه.
مینه ـ حرم ودې ویل سترې یم فکر مې وکړ هغه پوسټ چې یې خپل انستاګرام کې کړی کتلی دې دی او...

خبره مې نیمګړې پرېښتودل ځیني او اړیکه مې پرې کړه ژر د انستاګرام پاڼې ته لاړم د ادیب په نوم پسې ګرځېدم لاسونه مې لړزېدل تقریباً دوه ساعته مخکې یې پوسټ کړی و ادیب خپل انځو د هغه ماشوم سره چې غېږ کې یې نیولی و سره د یو متن سره پوسټ کړی و.

دوه ساعته مخکې یو پوست کړې وو،یو انځور وو! انځور کې د ادیب غېره کې یو کوچنی ماشوم وه او لاندې یو متن هم ورسره لیکلی شوی وو: زما ښکلې د هوسۍ پشان سترګو والا ښایسته لور څخه دی قربان شم ستا راتګ ماته د ژوند کولو امید راوبخښلو. ستا په راتګ ژوند مې معنا پیدا کړل، که چیرته کومه ورځ مینه شوي د سپوږمی او ستورو څخه درته پل جوړم ترڅو خپلي مینه ته ورسیږی.
زما نمیګړې مینی!!
زما حرم !!

آخري کلمه می څو ځلي تکرار کړه: زما حرم! یعنی خپل د لور نوم یی حرم کیخودلی؟لکه بت پشان مبایل ته حیرانه پاتی وم ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه میاشتي وروسته ....

نن ورځ ټولو شیانو یو خاص  رنګ ځانته اخستی وو، ډیره خوشحاله وم. یوځای احمد سره  ناسته وم، چای مو څښلو د احمد څیری ته ځیر  شوم او ورته می وویل: ما دي ټولو خبرو کارونو لپاره اوبخښه،زه درته هیڅکله ښه میرمنه کیدای نشوم زه هېڅکله ستا د دومره مینې او نیک اخلاق لیاقت نه لرم.
زما په خبرو هغه زما لاسونه خپل پهلاسونه کي ونیول،لومړی ځل و چې داسې بې باکه یې لاس راوړو، خو ما ورڅخه بد احساس نه درلود.

نرمه مسکاه وکړه او ویې ویل: زما مینه ډوارو ته بسنه کوي، زه دومره مینه درکوم چې ته هم مینه راسره پیدا کړې حرم. حرم ما ستا تېر وخت منلې او پوهیږم ادیب سره دي ډیره زیاته مینه درلوده حتا د مرګ تر حده، او کوم قربانې چې تا ورکړل هغه هرڅوک هم ورکولای نشي بغیر د رښتني مین څخه، ته یو رښتینې عزت ناکه لور او میرمنه یې. د ژوند په دي پړاو کې زما بخت او طالع د ادیب څخه ښایسته لیکل شوي وه، الله (ج) ته زما په نصیب کړې، داسی حال کې چې هغه یې د میني په درد وسوځه وو، خو تا خپل په راتګ زما تقدیر ښایسته کړو..

کله ناکله د احمد دومره پاک زړه او مهربانی ته حیرانه پاتیږیږم،یوه میاشت کیږي احمد کورني امریکا ته راغلي  نن ورځ مینی محفل وه ، مینه هم امریکا ته خپل خاوند څنګ ته راغلي وه یوازي دوه کورنو ترمینځ کوچني محفل مو نیولی وه ټول یوځای شوي وه حتا ادیب او نارون هم محفل ته راغلي وه، دا ځل ادیب د یو ماشوم پلار و او زه د بل سړي میرمنه وم! ادیب د سام په کورکي دا څو ورځي تیری کړې او موږ یو بل یوازي د محفل په ورځ ولیدل، هغه هم یوازی د یو سلام او ستړي مشي تر حد او نور هیڅ مو خبري ونکړې خو یو بل سترګو په لیدلو ډیری خبري مو سره وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږه میاشتي وروسته مو بیا یوځل ملاقات وشو، اصلا هغه مخکني نظر کي کوم توپیر نه وه راغلي، همغسې په مینه یې راکتل، یوازې کوم څه که چې توپیر راغلي وه هغه وخت او ځاي وو! وخت او زمان موږ یو د بل سره پردي کړي وه، اوس هغه د یو ماشوم پلار وو په نوم د حرم ...!

او زه د یو بل سړي ښځه وم په نوم د احمد ...!

خو دا مینه زموږ دواړو لپاره یوه افسانوي کیسه به پاتي شې د تل لپاره.

......................

کال د ژمی موسم وو ځنګلونو کي د لیوانو شور ماشور دا شپه ډېره زیاته 2023 وریدونکی کړي وه، د زیات یخ والې له لاسه ښېښنو یو سپین پوښ نیولي وو، بخاري کي اور لمبی مړه شوي وه او ایرې پرتې وی، بدن می یخ وهلي وه هیڅ می زړه نغوښته سبا ته دې لمر را پورته شې، په نیولې غږ مې وویل: عایشه! پوهیږي سبا ته کومه ورځ ده ؟

عایشې چې کوښښ کوه خپلو سترګو اوښکي پټي کړي په ژړغونې غږ وویل: ستا د کلیزه ورځ ده!

د دې خبرې سره سم خپل لځایه راپورته شوه په ژړا یې په غیږه کې ونیولم..

سبا ته هغه ورځ وه چې ادیب خپل په سلطنت کی زما لپاره د ژیږیدنی ورځ ټاکلی وه، هغه ورځ چې ما ته یې ګوتمۍ ډالی کړه، خو زما د دومره دعا با وجود سبا ته لمر د غرو له شا څخه را ښکاره شو، او دا یې یوځل بیا راته ثابته کړه چې نړۍ زموږ په غوښتنو نه چلیږي ....

د ناول د لیکوال عندلیب صیب څو خبرې:

اوس هم ادیب او هیله یوځای ژوند کوی او د هغږي د ژوند کولو یوازیني دلیل کوچني حرم ده، ادیب د هیلې څخه کرکه لرې او یوازی خپل د لور حرم لپاره هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کور کې د هیلۍ څنګ کې اوسېږي. حرم هم د ډاکټرۍ درسونه وايې او غواړي په راتلونکي کې د یو ډاکټري په حیث وطن ته راشې. او پاتي شوه ستاسو خبره چې ځینو کسانو کمینت کړي وو چې آیا دا ریښتیني کیسه ده یا تخیل او هندی فلم او ډرامه!

نو باید ووایم دا یو ریښتیني کیسه ده او هو فلمونه او ډرامي هم د دروغو څخه نه جوړېږي هغوي د واقعیت پر اثاث جوړېږي خو کله ناکله د مینوالو د جذبولو او لیواله کولو لپاره لږ دروغ د کیسی سره یوځاي کیږي، لکه همدا ناول چې شاید ما یې ځینو ځایونو کې اغراق کړی وې خو نور ټوله کیسه ریښتیا ده.

په مننې سره عندلیب.

د خورې عذاب ناول پای.
لیکوال: عندلیب.
ژباړونکي: خواجه زي خپروندویه اداره.

د داسي نور ښایسته ناولونو د ویلو لپاره زمونږ د ټلګرام چینل ته راشي دا هم زمونږ د چینل لینک: https://t.me/pashtoonovels0
دا هم زما شخصی ایډی: @shuhab09
او دا هم زمونږ د یوتیوب چینل لینک دلته غریز ناولونه نشر کو..
چینل لینک: http://www.youtube.com/@PashtooNovls09
دا هم د مدیر د جمیل آدرس:shuhabkhan795@gmail.com
دا هم د خواجه زي صیب د فسبوک ایډی:
https://www.facebook.com/profile.php?id=61572668542014
یا کولې شې سرچ کړې: خواجه_زي صیب
نو زما ایډی به تاسو ته راشې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**